



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | :: هوسۍ (ناول) |
| لیکوال | :: محمدا جان یار |
| خپرونکی | ::د پښتونخوا د پوهنې دېره ـ پېښور |
| چاپ شمېر | :: 1000 ټوکه |
| چاپ نېټه | :: 1385ل/2006م |
| چاپ وار | :: لومړی |
| چاپ زیار | :: عبدالبصیر بیدار |
| کمپوزر | :: ذبیح شفق |

## چاپ او کمپیوټر ځای

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه ـ پېښور


***Tel:+92-91-2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوسې

ناول

لیکوال:

محمدا جان یار

خپرندوی: د پښتونخوا د پوهنې دېره - پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یــا ر

# له یو بل ناول سره

پــه پــښتو داســتاني ادبیــاتو کــې د نــاول لیکنــې د تــاریخي بهیــر مطالعــه ځــو پــه زړه پــورې ټکــي د سرې مخـې تـه ږدي. لـومړنی ټکـی یـې دا دی، چـې د ژبـاړې او خپلـه د نـاول لیکنـې بهیـر سـره لـه دې چې اوږد تـاریخ لـري، خـو دغـه بهیـر لـه پیـل راوروسـته پـه سـمه پرلـه پسـې توګـه او پـه ټینګـار سـره دوام نـه دی پیـدا کـړی. ددغـه تـاریخي بهیـر لـه مطـالعې څخـه راوتلـی بـل ټکـی دا دی، چـې زمـوږ پـه ولـس کـې او د اولـس د ژونـد پـه بېلابېلـو اړخونـو کـې د پېـښو د ډېرښـت او د اتلانـو او څیـرو لـه ځلېـدو سـره سـره زمـوږ د نـاول لیکنـې بهیـر او زمـوږ نـاول کـښونکو لـه دې څخـه لازمـه ګټـه نـه ده اخیـستې. هغـومره چـې د اولـس ژونـد لـه سـترو پېـښو لـه سـترو اتلولیـو ډک دی او څېـرې او پېـښې پـه کـې ډېـرې پـه زړه پـورې دي. زمـوږ پـه نـاولونو کـې بـې لـه یـو څـو بېلګـو پرتـه لازمـه ځـلا نـه ده پیـدا کـړې.

پــه دې وروســتیو کلونــو کــې زمــوږ یــو شــمېر لیکــوال دې برخــې تــه هــم پــام رااړولــی دی. پــه دغــو کلونــو کــې یــو شــمېر پــه زړه پــورې ناولونــه او منځنــۍ کیــسې لیکــل شــوي دي. پــه دغــو کیــسو او نــاولونو کــې د اولــس د ژونــد بېلابېــل اړخونــه ځــای شــوي او داســتاني شــوي دي. دغــه هــڅې د ستاینې وړ دي، خو کافي نه دي.

ښاغلی لیکـوال او شـاعر محمـدا جـان یـار هـم پـه دغـو وروسـتیو څـو کلونـو کـې پـه دې برخـه کـې هلـې ځلـې کـړې دي. نومـوړی چـې تراوسـه یـې د شـعرونو او نظمونـو د کـښلو لـړۍ ګرمـه سـاتلې ده، په راوروسته کې یې داستاني لیکنیو ته پوره پاملرنه وراړولې ده.

ښـاغلي لیکـوال تراوسـه پـورې څـو داسـتاني ټـولګې او د نـاولونو او منځنـۍ کیـسې کـښلي دي. پـه دغـو داسـتان لیکنـو کـې د تېـرو دېرشـو اورنیـو او خونړیـو کلونـو پېـښو پـه ښـه توګـه ځـای مونـدلی دی.

ښـاغلي یـار دغـه نـوي نـاول هـم د همـدغو کلونـو یـوه پېـښه رااخلـې او داسـتاني بڼـه ورکـوي. مـا ددې نـاول لـومړنۍ کـښل شـوې نسـخه ولوسـتله او ګـران لیکـوال تـه مـې ددغـه اثـر پـه اړه خپـل نظـر او ځینـې مـشورې ورکـړې، چـې د چـاپ پـه وخـت کـې یـې پـه پـام کـې وسـاتي او بیـا ځلـې کتنـه پـرې وکـړي. هیلـه لـرم زمـوږ ځـوان لیکـوال دغـه پـه زړه پـورې ادبـي ډول تـه غـور وکـړي. دا هغـه داسـتاني ډول دی، چـې د یـو ملـت د ژونـد ټـولې لـوړې ژورې، ټـولې نـاخوالې، ټـول عظمـت، ټـولې مینـې او وینـې پکـې ځاېدای او ځلېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې برخې ته د لا زياتې پاملرنې په هيله. تاسو د ښاغلي يار د دغه ناول لوستلو ته رابولم.

په درنښت

**زريـن انځـور**

2005/8/22

جرمني، کولن ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ څپرکی

د کوټې کړکۍ او دروازه بيخي ډنګې ديوال پرته وه. د لمر وړانګې په کړکۍ کې راننوتلې وې. هوا دومره پاکه وه، چې زره ګرد هم د لمر په وړانګو کې نه ليدل کېده. ځان مې کړکۍ ته ښه ورنږدې کړ، د سيند شور او زوږ مې تر غوږ را ورسېد، سر مې له کړکۍ نه ښه بهر کړ، لاندې سيند په مستۍ بهېده. يخې يخې څپې له سينده راجګېدلې، د سيند په غاړه د "ولو" د ونو څانګې سيند کې ډوبې شوې وې. په دغه اوړي د غرو په سرونو پوره واوره پرته وه، نو ځکه خو سيند په مستۍ کې و، اوبه خو يې دومره يخې وې، چې هډو لاس په کې چا نشو ښکته کولی. ما به له معمول سره سم له همدغې کړکۍ نه د شاتوت د زړې ونې په دوه خوښې ښاخ کې د باجونکې ځالې ته پورته پام کاوه. د توري باجونکې ځاله خو له کلونو کلونو په همدغې ښاخ کې پرته وه. ما لا له ځالې نه سترګې نه وې اړولې، چې باجونکه د ځالې تر څنګه په يوه ډکې ناسته وه. پخپله مښوکه کې يې يو اوږد ډکی نيولی و. غوښتل يې چې ډکی پخپله ځاله کې سم کړي. بله باجونکه ورته په يوه بله څانګه ناسته وه، شپېلې يې وهل. دا ځاله د هغوی ډېره پخوانۍ مېنه وه.

رښتيا چې خپله ځاله، خپله مېنه او خپل کور څومره خوږ شی دی! په هر چا انسان دی که حيوان او که پرنده دی، خپل ټاټوبی پرې ګران دی. زه له کلي نه پخوا راوتی وم زيات وخت مې ښار کې تېرېده، يوازې به اخترونو کې کلي ته تلم.

زموږ کلی ډېر لوی نه و، خو د ښکليو منظرو په منځ کې پروت و. دوو خوا او ته يې جګ جګ غرونه ولاړ وو. دغه اسمان څوکي غرونه په شنو ځنګلونو پټ و، د څېړۍ او نښترو ونو د ګڼ والي لامله توره شپه جوړه کړې وه. اوړی ـ ژمی پر دغو غرونو واورې پرتې وي. ناوونه او خوړونه له رڼو او پاکو اوبو ډک بهېږي. په غرونو کې ځای ځای بانډې او کرونډې هم شته. ډېری خلک پکې اوسېږي، د غرو لمنو کې لوی او واړه کلي پراته دي، خو دا کلي د سيند په غاړه پروت دی. کله چې په سيند کې سېلاب راشي، ډېر کورونه او ځمکې له ځانه سره وړي. بس همدا غرونه او هواګانې دي، چې ددې سيمې د کليو خلک يې روغ رمټ ساتلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ښه یاد شي، چې د باندني هېوادونو ځینې سیلانیان زموږ په کلي تېرېدل او نورو درو ته به تلل. ددې ځای په خلکو کې ښه راشه درشه شته دی. په اخترونو او اشرونو کې له یو بل کره ځي راځي. هسې خو په ټول افغانستان کې همدا کولتور دی، خو په ځانګړي توګه ددې ځای په پښتنو کې د ېرې او حجرې په ټنګ ټکور تودې دي او بیا خو د ژمي په اوږدو شپو کې د کلي له حجرو نه د ټپو او یکه زار غږ پورته کېږي. سره له دومره غریبۍ هم ټول لکه د ورونېو په شان شپې ورځې تېروي. ادب، حیا د کشر او مشر خپل خپل ځای او درناوی پکې موجود دی. چل ول، ټګي برګي دا خلک نه پېژني، خو یو شوی چې ددې خلکو ژوند یې تباه کړی دی، هغه بې سوادي ده، چې قصور او ګناه یې د تېرو رژیمونو په غاړه ده. سره له بې سوادۍ هم، خلک یې په ادب ګڼېږي. ته به وایې، چې لوړې زده کړې لري.

زه ډېره موده پس کلي ته راغلی وم. په نورو کلیو کې هم وګرځېدم. په ټولو کلیو کې د خلکو ترمنځ سخت اتفاق او اتحاد موجود و ، ټول لکه ورونېه دا سې او سېدل. سره له دومره غریبۍ یو تر بله ځارېدل، دا نه وه چې ته څوک یې او زه څوک یم، لکه د یوه کاله د خلکو غوندې یې ژوند کاوه.

ما ته هغه ژوند خوند راکاوه، یوه میاشت په رخصتۍ راغلی وم، پوه نه شوم، چې دا یوه میاشت څنګه زر تېره شوه؟.

دې ښار ته چې راغلی یم، دا څومه شپه ده، چې هېڅ خوب نه راځي. زړه مې په کلي کې پاتې دی، هغه شنه باغونه، د کلي چنارونه، په دېرو او وستلونو کې د کلي د خلکو ناسته پاسته، د چېلمانو لخړې، د کلي د ټوکمارو ترمنځ ټوکې ټکالې، د پسرلي په موسم کې د شنو توتیانو اوازونه، د سپېرو تړو له پاسه د مستو زرکو چړچکې، په شنو فصلونو کې ګرځېدل، راګرځېدل، ګودرونو ته د کلیو د نجونو کتارونه، هر ماښام په شنو ونو کې د مرغیو شور او اوازونه، د چم ګاونډ ګنه ګونه، ودونه، اخترونه، ټالونه او سمنکونه یو شي، چې هېڅ له یاده مې نه وځي او هغه دا دی، چې:

د هغه بر کلي ترڅنګه به چې په لوړ ګړنګ کجیران ناستو او پاس به هوا کې د زانو کاړه واړه کتارونه تېرېدل، د ښکاریانو ساتل شویو زرکو به په پنجرو کې څنګه ښې او په زړه پورې چړچکې وهلې.

کرار کرار رانه د ښار مصروفیتونو د خپل کلي یادونه واخیستل. بوختیاوې مې زیاتې شوې، د کلي یادونه مې هېر شول، خو بیا هم سړی هر شی هېرولی شي ولې د خپل کور او کلي د خاپوړو کوڅې نه شي هېرولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـوږ پـه کلـي کـې ایلـه بېلـه درې ـ څلـور تنـه مـامورین او تنخـوا خـواره موجـود وو، نـورو ټولـو پخپلـه ځمکـه کـې لـه پخـوا نـه بزګـري کولـه. زه د معمـول سـره سـم خپلـې دنـدې تـه تلـم. د مـامورینو تنخواګـانې کمـې وې، ټولـو اقتـصادي سـتونزې درلـودلې، خـو چـا د هغـې وخـت د رژیم له ډاره څه نه شو ویلی.

بیـا هـم هـر چـا سـتونزو تـه غـاړه ایـښې وه. چېرتـه پـه میاشـت کـې بـه هـم کـوم مـامور غوښـه، ښـوروا نـه شـوه خـوړلی. د افغانـستان پـه بېلابېلـو ولایتونـو کـې د خلکـو د ژونـد بـېلا بېلـې طریقـې وې. پـه هېـواد کـې د اقتـصادي او اجتمـاعي پرمختیـا او خـو هـډو فکـر چـا سـره نـه و. یـوازې پـه ګـرد افغانـستان کـې ښـه امنیـت موجـود و. هېچـا سـره د سـر او مـال خطـره نـه وه. بېګانـه و خـو زمـوږ ملـک تـه کـاږه هـم نـشو کـتلای. د خوښـۍ او ارامـۍ فـضا خـوره وه. د هـر کلـي پـه جومات کې به د جمعې تر لمانځه وروسته دوعا کېده او ویل کېده به چې:

زمـوږ د پاچـا تخـت و بخـت دې خـدای برقـرار لـرې، تاسـو تـه ښـه معلومـه ده، چـې هېچـا بـه د پاچا په هکله بده خبره نه کوله، د هر چا په ژبه دا ویل کېدل:

الله دې زموږ د اسلام باچا ته ډېر عمر ورکړي.

دولتـي مـامورینو هـم پـه ښـکاره څـه نـشو ویلـی، ولـې زړونـه یـې د وخـت لـه نـاخوالو نـه پـه تنـګ راغلـي وو. مـامور سـهار بـه چې کلـه کلـي تـه راغـی، مـوږ تـه بـه یـې د ښـار کیـسې کـولې. ده ویـل نـوی مـامور شـوی وم، د ورځـپاڼې لپـاره بـه مـې هـره ورځ د خپرولـو وړ مـواد تیـارول، تـل بـه مـې د کار په ځای کې پخپل مېز سرتېټ کړی و، څه به مې لیکل.

یـوه ورځ د کـار پـه خونـه کـې سـخت مـصروف وم، چـې د دفتـر مـلازم راغـی، ویلـې مـامور صـاحب څـوک دې غـواړي. خولـه مـې لـه نـسوارو ډکـه وه، پـه لیکنـه بوخـت وم، سـر مـې راجـګ کـړو، چـې وړانـدې پـه دروازه کـې یـوه جینـۍ راننوتلـه. ښـکلې جینـۍ پـه ښـکلې دریـشۍ کـې راروانه وه.

زر مـې نـسوار تـو کـړل، لـه مېـز نـه ورپاڅېـدم او د هغـې مخـې تـه ورغلـم، چـې نـزدې راغلـه او سترګې مې پـرې ولګېـدې، ښـایست او ښـکلا تـه یـې هـک پـک پـاتې شـوم. حېـران شـوم، چـې دا ښـکلې او فېـشني پېغلـه او سـهاره تـه؟ زه د کلـي سـړی او دا د ښـار ښـاپېرۍ؟ مـا وې دا بْ څـوک وي؟ مخـامخ ور روان وم، ویلـې مـامور سـهار تاسـې یاسـت؟ مـا وی هـو بـې بـې زه یـم راځـه مهرباني وکړه راځه.

هغې راته سترګو ته کتل، وې ویل

منه سهار صاحب، ښه شو چې دا ستا کار ځای مې وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لا شکمن شوم، ما وې لکه چې کومه جاسوسه یې درپسې کړې ده، خدای دې خیر پېښ کړي، کومه ګناه خطا رانه شوې نه وي، نور څه خو نه وو، صرف ځیني لیکنې مې داسې کړې وې، چې پر نظام د انتقاد بوی ترې پورته کېده او هم مې په یوه نیمه لیکنه کې د وخت له ناخوالو نه سر ټکاوه. اګرچې ډېرو به د رژیم په خلاف ځینې مقالې او طنزیه لیکنې په اخبارونو کې خپرولې، خو په زړه کې مې ډېر څه تېرېدل. هغه زما د مېز ترڅنګه په څوکۍ کېښناسته، د سترګو لاندې مې وڅارله، ما وې که کومه خپلوانه او شناخته ده او که څنګه؟ د شعبې خدمتګار ته مې وویل:

والکه چنار ګله! هن دا پیسې واخله چای راوړه. له دوکانه درسره شیر پېره هم راوړه. زه خپل مېز ته کېښناستم، جینۍ ته مې په احتیاط او ادب سره مخ وروا ړاوه، ورته ومې ویل:

بخښنه غواړم که خپل ځان راته راوپېژنې؟

هغه موسکۍ شوه سرې نرۍ شونډې یې ببرته کړې، توري اوږدې سترګې یې راواړولې، وې ویل:

زما نوم هوسۍ دی. د ادبیاتو د پوهنځي د څلورم کال محصله یم. خپل وربل یې په چپ خوا وارتاوه کړه، سترګې یې مړې غوندې پورته واړولې، وې ویل:

له پخوا نه راسره دا هیله وه، چې له تاسې سره له نزدې نه وګورم. د ژوندون په مجله کې مې یوه ورځ ستا یوه مقاله لوستلې وه، ټولو پرې ښې تبصرې کولې. ستا راډیو داستانونه هر چا اوربدلي دي، ما هم د هرې جمعې په شپه ستا راډیویي داستانونه اوربدلي او تعقیب کړي دي، غوښتل مې چې یو ځل دې له نزدې نه وګورم. سهار صیب! له ډېره وخته راهیسې ستاسې راډیویي داستانونه د جمعې په شپه اورم، ستاسې لیکنې، لنډې کیسې او مقالې مې هم لوستي دي. څو واري مې له ځانه سره پرېکړه کړې ده، چې تاسې له نزدې نه ووینم، له ښه مرغه چې دا نن مې ستاسې سره د لیدو نصیب وشو، له ډېرو پوښتنو وروسته مې دلته پیدا کړې.

ما وې هو ولا څه وکړو وظیفه ده، سبا یې راځو، ټوله ورځ بس همدا کار دی، په دې مېز مې سر ټیټ وي ان چې مازدیګر شي بیا کور ته روان شم. په دې وخت کې د شعبې خدمتګار چای راوړ. ما د چای پیاله ډکه کړه او د هغې مخې ته مې پر مېز ورته کېښوده. د چای څښلو هیله مې ترې وکړه. ویل مننه. ما هم د چای پیاله ځانته ډکه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه کې مې په دا لړه شېبه کې ډېر څه تېر شول، حېران خو په دې وم چې دا ښکلې جینۍ او سهاره ته نسوار پک. بیا مې چې فکر وکاوه، ما وی خو خالي لیدو ته دې راغلې ده، نو ته اوس څه زړه ښکته پورته کوې. بیا مې زړه رالوی کړو او دا سې پوښتنه مې ترې وکړه:

بخښنه غواړم که تاسې ځان راته راوپېژنئ او هم راته ووایئ، چې اصلي مطلب دې څه دی؟

ویل یې:

مخکې مې درته وویل، چې زما نوم هوسۍ دی، د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي کې د څلورم کال محصله یم.

نور مې ترې د پوښتنې جرأت نه درلود، خو هغې وویل:

کور مې په وزیر اکبر خان مېنه کې دی اصلاً د جنوبي یو. زمونږ ټوله کورنۍ د جمعې په شپه خامخا ستاسې راډیو یي داستانونه اوري.

هغې د چای نه غړپ وکړو، زه ورته ښه په ځیر شوم، خدای راستي چې په غړۍ کې یې اوبه ښکارېدې. زه له ورکتوبه شرمېندوکی وم، ښځو ته مې نشو کتلای، خو بیا مې زړه رالوی کړو، په غټو او رونو مې وروکتل. هغې چې سترګې راواړولې، ما وې ګنې زړه یې رانه ووېست، څه بل شان ښاېست رب ورکړی و. په مرۍ کې مې لاړې وچې شوې، هغه هم رابانديې پوه شوه. ما چې بیا وروکتل، هغې زما په سترګو کې خپلې سترګې ښخې کړې. زه وشرمېدم د هغې د سترګو جنګ کې پاتې راغلم. یوه شېبه مونږه دواړه غلي پاتې شو، په زړه کې مې تېر شول ما وې هسې نه چې درباندې پوه شي او شکایت درنه وکړي. هغې وویل:

ښښنه غواړم چې له کاره دې ونه باسم. له خپلې پیالې یې ګوټ وکړ، په شعبه کې یې هرې الماری ته یو ځل وروکتل، بیا یې زما مېز او ماته په ځیر ځیر کاته.

ما غوښتل، چې دویمه پیاله چای ورواچوم، ویلې بس دی. سهار صاحب ډېره ډېره مننه اوس همدومره. لږ څه پېژند ګلوي مو سره وشوه. سبا ته به که وخت ولري کوم ځای به سره وعده کېږدو، غواړم پوره درسره وپېژنم څنګه؟ ډېره ښه ده بي بي سبا ته به زه په څلورو بجو درته لاندې د مطبعې مخې ته ولاړ یم. که دې غوښتل او وخت دې درلود سره وبه ګورو. ویل یې: سمه ده. اوس به ستا په اجازت سره درنه رخصت شم. ما وې ښه ده مهرباني وکړه.

زه ورسره ان تر دروازې لاړم، مخ یې راستون کړو وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس نور مه راځه ډېر تشکر، د مېلمه پالنې نه دې. ويې خندل د مينې ډکه خندا يې وکړه، ما هم ورسره خوله چينګه کړه. خداى په اماني مې ورسره وکړه او لاړه. بيرته چې راستون شوم، د سر و يښتان مې نېغ ودرېدل. دستي مې يوه ټونګه نسوار خولې ته وارتول. په فکر کې ډوب لاړم، ما وې ښه د کونډې زويه يو فقير ملنګ ليکوال په غير له دې ماموريته نور هېڅ نه لري، په کلي کې دې يو زوړ کور او زړه بوډۍ مور درپاتې ده، غريبي خوله وړوکتوبه د هر شي له جرئته وېستلى يې.

د خوارې کونډې زويه، خپلې روټې ژويه

په منډه له مېزه پورته شوم او په دېوال پورې ځوړندې هنداري ته ودرېدم. پخپلو ويښتانو مې ګوتې متې ووهلې، څه تمه مې ځانته پيدا شوه. زړه کې مې وويل:

سهاره له چا نه کم نه يې ! خو په جېب کې دې قيران جان (غيران) نه بود برې. بيا مې څو ګامه په کوټه کې واخيستل، سګرټ مې ولګاوه، هغه مې فکر ته راغله. نوم مې هوسۍ دى، د ادبياتو د پوهنځي محصله يم، چې دا د کافر لور څومره ښکلې ده؟ سرې نرۍ شونډې، سپين غاښونه، توري اوږدې سترګې، دنګه ونه، صراحي غاړه، توري اوږدې زلفې يا ربه چې څومره ښايست دې ورکړى دى. بيا مېز ته کښېناستم، له ځان سره مې ووې: د چونچنې زړه دې دى دا څه کوې؟ غريب سړى او برګ يې سپى، پردۍ جينۍ پسې دې زړه لاړ.

ما به هره غرمه د ډوډۍ په سر له خپلو همکارانو سره ټوکې ټکالې کولې، خو په دې غرمه مې سپږه مړه وه. انډيوالانو راته وويل:

سهاره نن غلى يې ټوکې نه کوې څنګه چرتي يې؟ ما ځان ترېنه تېر اوه. مازديګر چې کور ته لاړم د ډوډۍ تياري او ديګ ميګ مې له لاسه نه کېده. بس همدا به مې په فکر کې راکوزېدل. الکه سهاره دا جينۍ درسره څه لري؟ استخباراتو وظيفه ورکړې ده او که څنګه؟ نه نه.... کېداى شي خوارشې مينه درسره ولري. مينه نه بابا زما غريبي او له هغې سره مينه؟

په دې شپه خوب نه راتلو، سهار خپلې دندې ته لاړم. په دې فکر وم چې هغه په څلورو بجو راځي او ستا په جېب کې غيران نشته، له يوه مامور نه مې سل روپۍ پور کړې. ما وې نه ويل کېږي، چې د ضرورت په وخت کې ورته خجالت نه شم او په دې ورځ مې بايد نيمګړى داستان راډيو ته پوره کړى واى.

خو فکر او قلم مې ودرېدل، نور راکې د ليکلو توان نه و، په همدې ورځ په دا څو شېبو کې به زړه ته ډېر ډېر څه راغلل. کله به مې فکر ته راغله، چې کېداى شي دا جينۍ د کوم بل مطلب لپاره چا موظفه کړې وي، بيا به مې وويل سهاره ته نو څه کوم لوړ مقام لرې يا د حکومت ضد سړى يې ته څه شى يې؟ چې دا نه يې نو څه بدل فکرونه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي مینه درسره ولري. له ځان سره به مې وخندل. ما سره مینه؟

خو لنډه دا چې په همدې سوچونو او فکرونو کې ځلور بجې شوې، رخصتي شوه. زړه نازړه مې حاضري امضاء کړه، له نورو مامورینو نه وروستی شوم، په کرار کرار له مطبعې نه ووتلم. د خپل لین بس سرویس چلوونکي ته مې وویل: ما وې زه نن چېرې کار لرم، نن تاسې سره نشم تلای. ټول مامورین کورونو ته ولاړل. زه د مطبعې مخې ته یو ازې پاتې شوم. په سړک ورانډې لاړم او د هغې د رتلو انتظار مې کاوه. لږه شېبه پس یو تور ښکلی موټر مې مخې ته ودرېد، هغه له موټره راښکته شوه. په خندا یې وویل:

سهار صاحب لکه چې ډېر انتظار پاتې شوې. ښښنه غواړم له پوهنتون څخه په همدومره وخت کې سرې رارسېږي. هله راځه مهرباني وکړه. موټر ته به وخېږو.

زما په خوله کې لاړې وچې شوې وې، ځکه چې د پردۍ لور سره په داسې ګ موټر کې او بیا چېرته؟ زه لږ زړه نازړه وم، هغه وموسېده وې ویل:

تاسې مهرباني وکړئ په موټر کې به خبرې سره وکړو.

لومړی ځل مې و، چې په دغسې موټر کې کښېناستم. له حیا نه په وروسته سیټ کې کښېناستم، ما وی چې څوک مې ونه ویني. هغې بیا له نازه یو اوخکی کوږ کړو موسکۍ شوه، وې ویل:

سهار صاحب مخکې به ناست وای، ما وې خیر دی همدلته به کښېنم. هغې راته مخ راواړاوه، وې ویل:

سهار صاحب ستا په زړه کې څه تېر نشي داسې ځای ته به لاړ شو، چې دواړه سره ښه یو بل وپېژنو او نورې خبرې به هلته کوو. زړه دې مه ښکته پورته کوه. ما وې نه نه بې بې پروا نه لري ستا خوښه زما خوښه ده. هغې وویل:

ښه نو وو ایه، چې د کرغې ډنډ ته ولا شو او که کوم هوټل ته؟

په دویمه خبره مې نبغ ټوپ وکړو، ځکه چې زما جیب کې یوازې یو سل ګون پروت و. هغې زر خبره ونیوله ویلې د کرغې ډنډ ته به لاړ شو. ما وې ښه ده. موټر ته یې حرکت ورکړو. په لاره یې رانه دا پوښتنه وکړه:

سهار صاحب څو کلن یې؟

ما وې 25 کلن یم.

هغې وې:

بیخي ځوان ښکارې، ما وې مننه بې بې څه ځواني ده، خو بس تېرېږي.

د پولیتخنیک په مخه چې تېرېدلو وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

واده خو به دې کړې يې؟

ما وې: نه واده مې نه دی کړی. بې بې جان ما لا په سير کې پوهېږي. هم نه ده رېشلې. هغې په کړت کړت وخندل. ويلې هرڅه به خدای وکړي، دنيا په اميد خوړل کېږي. کرغې ته چې ورسګدو، ويلې د سپوږمۍ هوټل ته به ورشو، لومړی به يوه ناشته وکړو او بيا به د ډنډ په غاړه چکر ووهو. د سپوږمۍ د هوټل نوم مې له هغې د خولې نه واورېد. غرشی چې موټر يې د سپوږمۍ هوټل مخې ته ودرولو. موټر ودرېد او موږ دواړه هوټل ته ننوتلو.

هغه مخکې او زه ورپسې وم، د هوټل په ګوښه ځای کې په مېز سره کښېناستو. د رستورانټ کارګر راغی ويلې څه خورئ؟ هغې راته وويل:

سهار صاحب څه شی خورې؟ ما وې ته چې څه خورې هغه به زه هم وخورم. هغې لږ وخندل، وې ويل: ماهي به راوغواړو. د هوټل والا ته يې وويل: دوه خوراکه ماهي راړه. هغه ماته مخامخ کښېناسته، نزدې دمه مې هېڅ تمه نه وه او نه پوهېدمه، چې دا به ماته څه وايي او څه مطلب به لري؟ ما هېڅ هغې ته مخامخ نه ورکتل، ما وې چې په زړه کې يې څه ورونه ګرځي. ځان مې غلی نيولی و، د ماهي په خوند هم پوه نشوم. ولې چې جېب مې خالي و او د هغې د ښايست تر تاثير لاندې وم. هغه ډېره خوشاله ښکارېده، ډوډۍ يې خوړله او ماته به يې کتل، خو ما ورته مخامخ نه کتل. د هغې بېرون ته پام شو، له وخت نه مې په استفاده سره زر وروکتل، توري غټې اوږدې سترګې، سپين مخ، سرې نرۍ شونډې، جګه غړې، سپين غاښونه، د زنې د سر شين خال او تور کاکل خو يې نيمايي سپين مخ پټ کړی و.

هغې چې مخ راواړوه او سترګې يې راسره مخامخ وجنګولې، بس همدغه شېبه کې مې زړه بيخي بل ډول شو، ما وې ګنې زړه بې رانه بوټ ووېست. په ډوډۍ پسې يې سمدستي چای راوغوښت، بيا يې په يو خاص نزاکت سره وويل:

سهار صاحب! ته به حېران پاتې يې چې دې جينۍ تر دې ځای ځنګه او د څه مطلب لپاره راوستی يم؟ ما وروکتل هغه په داسې حال کې، چې سترګې يې په يوه ډډه کړې رااړولې وې، زلفو يې نيمايي مخ نيولی و. ما ورته په ځواب کې وويل:

نه بې بې خو ته راپسې راغلې او په موټر کې دې راوستم، نو هغې داسې وويل:

سهار صاحب! زه به اوس درسره د مطلب خبرې وکړم.

زه په څوکۍ کې راټول شوم، ما وې الله خير کړې څه مطلب به لري؟

هغه په مېز دواړه څنګلې ولګولې وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل ځان په باب درته وایم، چې ته داسې فکر ونه کړې، چې ګنې دا جینۍ کومه بدکاره ده، د خپلې ساعت تېرۍ لپاره یې زه راوستی یم. ما درته ستا په دفتر کې وویل، چې زه هوسۍ نومېږم، د پلار نوم مې سور ګل دی. د ظاهر په وخت کې رئیس و او د شاهي کورنۍ سره نږدې اړیکې لري. ددې داود خان په وخت کې یې تقاوت وکړو. مور مې هم تقریباً بوډۍ ده، ورونه نه لرم، دوه خوېندې مې واده شوي دي. یو کور مو په وزیر اکبر خان مېنه کې او بل کور مو په څلورمه کارته کې دی. پلار مې د ډېرو شتو او پیسو خاوند دی، یو تره مې د جرمنې تجارت کوي، د کاکا زامن مې په تحصیل بوخت دي، زه هم د ادبیاتو د پوهنځي د څلورم ټولګي محصله یم.

سهار صیب ستا راډیویي داستانونه مې له پخوا نه تعقیب کړي او اورېدلي دي. زه ستا له راډیویي داستانونو سره سخته علاقه لرم. زموږ کورنۍ هم ستا له جمعې د شپې راډیویي داستانونو سره خاصه علاقه لري. په یوه مجله کې مې ستا یوه مقاله ولوستله، ډېره مې خوښه شوه او هم مې پکې ستا عکس ولید. په همغه ساعت مې زړه کې تېر شول، چې ما وی کله به دې له نزدې نه وګورم او دا دی اوس چې مې ولیدې او له نزدې مې درسره ملاقات وشو، لا به دې ښه پسې نور هم وپېژنم. دا خو لومړۍ ورځ ده، که د دواړو سره ولګېده وروسته به بیا لا ښه پسې معرفي شو بیا به نورې خبرې کوو، څنګه خوښه دې ده؟ د هغې خبرو راته پوره جرأت راکړی و، ما وې ولې نه. په زړه کې مې تېره شوه، چې جینۍ دربانده ګرمه راغلې ده، بل کومه خبره نشته دی. ځه توکل په خدای دی، چې وړاندې څه کېږي؟

وې ویل: مهرباني وکړه که ته هم راته ځان پوره پوره را وپېژنې؟

ما ځان په چوکۍ کې رانېغ کړو او داسې مې ورته وویل:

نوم مې هارون، سهار مې تخلص دی. د پلار نوم مې حیدر خان دی، په قوم مومند یم. کله چې د خوشال خان لېسې نه فارغ شوم، په کانکور کې ادبیاتو پوهنځي ته کامیاب شوم. د ژورنالېزم له څانګې نه فارغ شوم او بیا په مطبعه کې مقرر شوم. پلار مې مړ دی، یوه وړوکې خور او یوه بوډۍ مور مې په کلي کې اوسېږي. خالي یوه کوټه لرو، مځکه مو لږه ده، د اقتصادي ستونزو سره مخامخ یو. کله کله په رخصتیو او د اختر په ورځو کې کلي ته د مور لیدو ته ځمه، بس همدا مې پېژندګلوي ده بي بي!

هغې لومړۍ نرۍ موسکا وکړه او وې ویل:

سهار صاحب غریبي پروا نه لري، د افغانستان ډېر خلک غریب دي، خدای به دې ټولې ستونزې هوارې کړي، هېڅ فکر مه کوه، په مخکې دې ډېر اوږد ژوند پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې هو سمه ده، دنیا په امید خوړل کېږي. هغې وویل: هو که نصیب دې ښه و، ډېر زر به دې ژوند جوړ شي. زړه کې وې په دې تنخوا به مې څه ژوند جوړ شي؟ توکل په خدای دی بي بي!

پرې پوه شوم، چې هغه درته ښه نیت لري او د راتلونکي ژوند په باب درسره مینه او یو ځای کېدل غواړي. هغې وخندل وې ویل: سهار صاحب کوژدن خو به دې نه وي کړې؟

ما ورته وویل: نه بي بي ما خو لا په سیر کې پونې هم نه ده ریشلې، تراوسه مې لا پنځه ویشتم کال روان دی.

هغې په خندا کې وویل: خدای دې ښکلي په نصیب کړه، په یوه ډډه یې راته د سترګو لاندې کتل ویل یې: راځه که دې خوښه وي یې په هوټل کې همدومره بس دي، بېرون به د اوبو د ډنډ په غاړه چکر ووهو. ما وې ښه ده. له مېزه راپاڅېدو او د پیسو دخل خوا ته روان شو. د پیسو د ورکولو ځای ته چې کله ورنږدې شو، زه مخکې شوم او د خوراک مصرف پیسې مې له جېبه راوایستلې. په دې وخت کې هغې راغږ کړو: پیسې به زه ورکوم ته به جېب ته لاس نه تېروې، ترڅو چې هغه تر دخل رارسېده، ما پیسې ورکړې وې. هغې راته یوازې دومره وویل: زه کله په تا پیسې ورکوم. له هوټله راووتلو، وړاندې د اوبو په غاړه د ګلونو او شنو منظرو په منځ کې دواړه روان شو.

په ټوله شاوخوا کې څوک نه ښکارېدل، هلته لیرې د اوبو په منځ کې په یوه وړوکې کښتۍ کې دوه کسان ناست وو، د اوبو غاړې ته د وتلو په حال کې و.

لمر په غړغړه و، د دوو ناجوګانو منځ کې په یوه شنه جلګه موږ دواړه سره کېښناستو، د هوسۍ دربېشي بیخي نوې او تنګه وه، ما خپله کورتۍ ووېستله او هیله مې ترې وکړه. ما وې بي بي مهرباني وکړه په دې کرتۍ کېښنه، چې دربېشي دې چټله نشي. هغې راته په یوه مهربانه او د مینې ډک نظر وکتل ویل یې: نه نه سهار صاحب داسې کارونه مه کوه، خپه کېږم.

د اوبو په غاړه په شین چمن کې کېښناستو، شاوخوا ته د ګلونو بېل بېل ډولونه لیدل کېدل. د ګلابو او نورو ګلونو خوشبویي په تېره بیا د سپنځلې د ونې نه ښکلې خوشبویي راتله. د لرې واټن په څنګ کې د یوه لوړ چینار په جګ ښاخ دوه ککوګان ناست وو، پورته مې چې ورپام کړ، کاکو کاکو ناري یې وهلې. هوسۍ ته وویل: بي بي جان ته ګوره پاس چینار ته. هغې چې چینار ته پورته ورپام کړ، بیا یې زر ما ته وویل: ولې موږ ګنې تر دوی کم یو څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کټ کټ ویې خندل. بیا یې د وربل ویښتان له سترګو واړول وې ویل: دا ټول او هرڅه ښکلي دي، له دې خبره سره یې زما د کرتۍ په جېب کې لاس ښکته کړو، خو ما پرې ځان پوه نه کړو (زړه کې مې وګرځېد، چې والکه ته خو غریب سړی یې دا جینۍ او ستا ورسره په داسې ځایونو کې ګرځېدل په ژور فکر کې ډوب شوم). هغې لاس رااوږد کړو، په اوږه یې راته کېښود څنګه په چورت کې لاړې؟ مخ مې ورواړاوه، سترګې یې زما په سترګو کې ښخې شوې، همدغه شېبه زموږ د دواړو د زړونو ورکولو شېبې وې. زما خو له وچه وچه کېده، د هوسۍ سترګې له توروالي نه سرې واوښتې. دواړه سره پوه شو، خو د ویلو څه مو په توان کې نه و. زه خو کلیوال سړی وم، ښځو ته مې سم نشو کتلای او هوسۍ هم څومره چې ښارۍ وه، خو په دغه شېبه یې څه نشو ویلې، غلې وه.

یوه شېبه وروسته مې ورته وویل: هوسۍ جانې یوه خبره درته کوم، چې زموږه جامعه وروسته پاتې ده، مطلب ته په موټر کې ماته مه راځه، زما مشوره دا ده چې په ټیلفون کې به یو ځای وعده کوو او سره ګورو به څنګه خوښه دې نه ده؟ ولې نه ته چې څنګه وایې همغسې به کوو. هغې خپل ساعت ته وکتل ویلې راځه سهار صیب چې ځو، ناوخته دی. موټر ته وختو او د ښار په لوري مو حرکت وکړ. پل باغ عمومي ته چې ورسېدو، هغې وویل زما او ستا د وعدې ځای همدلته شو. سبا ته به همدې ځای کې ستا انتظار کوم. ما وې، سمه ده.

هغه لاړه، زه هم په سرویس کې خپل کور ته لاړم. د شپې مې نیمګړی مضمون پوره کړ، ما وې چې حق الزحمه مې حواله شي.

د مضمون لیکلو نه چې فارغ شوم، ماښام تېر و، خبرونو ته مې غوږ ونیو. په ښار کې د هغې وخت په خلاف مظاهره شوې وه. ټول د کابل پوهنتون مظاهرې ته وتلي وو. د شپې خبرو نه مې واورېدل، بیا مې د چا یلپاره چای جوش په منقل کېښود. زه د خپلې کوټې په منځ کې د یوه وړوکي مېز تر څنګه کېښناستم، راډیو لا لګیا وه سندرې یې غږولې. د هوسۍ په چرت کې لاړم (د ورځې کوم حالت چې زموږ ترمنځ تېر شوی و، هر یو مې سترګو ته کېده او هغه مې په زړه کې اوښته راوښته، په زړه کې به مې خپله غریبي او د هغې مستي لره بره کېده) ناڅاپه مې د کورتۍ جېب ته لاس تېر کړو، چې څه ډېرو پیسو باندې مې لاس ولګېده. زر مې له جېبه راوایستې حېران شومه، چې دا دومره پیسې له کومه شوې؟

د ستي په د ستي (سمدستي) مې وشمېرلې پوره لس زره افغانۍ وې. ما وې خدایه دومره روپۍ مې کله خو شمارلي نه دي دا د کومه شوې؟ لږه شېبه غلی پاتې شوم، خیال مې چې وواهه او ښه فکر مې له ځان سره وکړو، پوه شوم چې دا پیسې هوسۍ په هغه وخت کې زما جېب کې ایښې دي، کله چې یې د قرغې ډنډ په غاړه لاس زما د کورتۍ په جېب کې ومانډه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه وخت کې يې دا پيسې راته په جيب کې ايښې دي. ددې پيسو سره بيا په سوچ کې ډوب شومه.

لږه شېبه پس په کوټه کې سوی بوی او لوګی پيدا شو، دومره دا بوی او لوګی زيات شو، چې ګنې ما وې ساه مې ووته. له کوټې نه چې ووتلم، په اشپز خانه کې لمبه پورته شوه. پوه شوم، چې چای جوش وسوځېد. د اوبو ډک سطل مې پرې ورواړاوه، منقل مې مړ کړو، د کور کړکۍ مې خلاصې کړې، ترڅو لوګی راووځي. له لږې شېبې لپاره بيرون ته ووتلم. د کور شاوخوا ګاونډيان مې له لوګي نه پتنګ شوي وو. هغوی هم بهر ته راووتل، ما ورته د لوګي جريان ووايه، ټولو راپورې خندل. ويلې ته خو ډېر احتياط کوې ولې داسې وشول؟ ما به ورته څه ويلې وای؟ يو ساعت وروسته دوباره کور ته ننوتلم، پيسې مې جيب کې کېښودې، له ځان سره مې وويل سبا به دا پيسې واپس هوسۍ ته ورکوم اخر ماته شرم دی، چې د هغې په پيسو ځان سړی کړم. همداسې به کوم، هو همداسې...

سبا ته چې کار ته لاړم، څه مې ليکل چې په دې کې ټيلفون راغی، غوږۍ مې چې پورته کړه، هوسۍ وه. ويلې هسې احوال مې دې واخيستلو، چې څنګه يې؟ د شپې د چای جوش کيسه مې په ټيلفون کې ورته وکړه، ويې خندل ښه ډېر يې وخندل ويلې خدای دې خير درپېښ کړي دا خو لا اول دمنۍ سر دی. په پای کې يې وويل چې رخصت شوې، همغه ځای ته راځه.

دغه ورځ اوږده شوه، اوږده څله وه خو په ما اوږده شوه. ما وې چې کله به رخصتي کېږي، چې دا پيسې يې بېرته ورکړم.

څلور بجې چې رخصتي شوه، ټول مامورين په سرويسونو کې خپلو کورونو ته ولاړل. زه په دغه ورځ په هغه سرويس کې پورته شوم، کم چې مامورين يې په جادهء ميوند تر سينمای پاميره وړل. له سينمايي پاميره په پښو تر پل باغ عمومي ولاړم. کله چې ټاکلي ځای ته ورورسېدم، هغه راته ولاړه وه او زما انتظار يې کاوه. په دې ورځ يې ډېره ښکلې دربېشي په ځان کې وه، تر موټره موږ دواړه پياده روان شو. باور وکړئ، چې زه شرمېدمه، چې د دومره ښکلې او لوکسې جينۍ سره زه روان وم، چې هر چا به هغې ته ورکتل او له ځانه سره بنګېده. موټر ته چې ورسېدو، هغې راته د موټر دروازه خلاصه کړه، ويلې مهرباني وکړه سهار صيب! دلته په مخکې سيټ کې کښېنه. د موټر په مخکې سيټ کې د هوسۍ ترڅنګه کښېناستم، زړه کې مې وګرځېدل (سهاره بچو لکه چې ورځ دې روانه شوه) هغه موټر روان کړو، له ما يې پوښتنه وکړه ويلې څنګه يې څه تکليف خو به نه لرې؟ ما وې تشکر بې بې ښه يم تاسې څنګه يئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل په دوعا دې یم. په دې کې تر د همزنګ ورسېدو، هوسۍ لږ مخ راواړاوه او په خندا کې یې وویل: زما ساده باده سهاره له ځانه خبر نه یې چې چېرې دې وړم؟ تښتوم دې. خټ خټ ویې خندل. زما له خولې نه ورته ووتل: ما خپل ځان در بښلی دی، هر چېرې مې چې وړې اختیار لرې. موړ لا په دې خبرو کې و، چې د دارالامان بڼ ته ورسېدو. موټر یې پارک کړو، ویلې راځه چې دې بڼ ته ننوزو (زړه کې مې وویل چې نن یې دې بڼ ته راوستې لکه چې دربانده دې ښه ګرمه ده، همدا دې وخت دی د کونډې زویه) په بڼ کې پورته وختو، د ګلونو په منځ کې د ګلاب د ګل ونه سمه غوړېدلې ولاړه وه. هوسۍ د ګلاب د ګل ځانګه راونیوه، ماته یې کړه: سهار صیب ګوره هغې د ګلونو په منځ کې ځان پټ کړو زه ورته اغېږ ودرېدم.

د ګلونو منځ کې یې ګل ګلاب او شنې ځانګې راټیټې کړې، خپل مخ یې پکې راښکاره کړو، ما چې وروکتل، سرو شونډې یې د ګلاب د ګل پاڼې شرمولې. ما چې دا دویمه ورځ نوکې جرأت پیدا کړی و، ورغږ مې کړو هوسۍ قسم په خدای چې د ګل ګلاب نه دې هم شونډې ښاېسته دي. ما وې راځه دغې د ګلونو په تل کې به دواړه کښېنو. دا ښه د ناستې ځای دی. هغې بیا وربل پورته په یوه خوا وارتاوه او موسکېده ویلې په سترګو هغه راسره ځنګ په ځنګ کښېناسته، شاوخوا هېڅوک نه وو. د هوسۍ دا عادت و، چې همېشه به ماته مخامخ کښېناستله.

ما لومړی جېب ته لاس کړو، پیسې مې ورته راوایستلې ورته مې وویلې: له تانه ډېره مننه هغه دا پیسې دې واخله. خیر دی مینه غریبي نه غواړي. یوه هیله درنه لرم او هغه دا چې که چېرته مګې له دې غریبۍ سره قبلوې، خوښه ده او که نه نو زه ستا وخت نه نیسم. په دې خبره هغه سره واوښته، پاڅېده او ماته مخامخ کښېناسته وې ویل: سهار صاحب زه کومه ناپوهه او بې سواده کوځه ګشته جینۍ نه یم. په ما پسې د دنګو ماڼیو ځښتنان پوښتنې ته راځي، ډېر ځوانان لا زما په تمه ناست دي. ډېر راته د موټرو او قصرونو لاپې وهي، خو زه حسن او مینه پېژنم، انسانیت ته سخت احترام لرم. ظاهري شان او شوکت نه مې بدې راځي. که درته ووایم، چې د شاهي کورنۍ ځوانان را پسې دي له پلاره مې غواړي، باور به دې رانشي. ډېر شتمن زلمیان په دې هڅه کې دي، چې له ما سره صرف خبرې وکړي. زه پوهنتون کې ډېره په عذاب یم، تل د خپلو همصنفیانو سره په ډله کې ګرځم او ته پوهېږې، چې له ډاره تمانچه ګرځوم، وایم چې څوک مې ونه تښتوي. تر اوسه پورې پر ما د چا لاس هم لګېدلی نه دی. سهار صاحب خو همدا سبب دی، چې ډېره پیاده او یا په نورو موټرو کې نه ګرځم، تل په خپل موټر کې ګرځم، پلار مې همدا ټینګښت کوي. خو زه ستا په غیاب کې ستا په ژوند او په تا مینه شوې یم، ټوکې به راسره نه کوې، دغه پیسې جېب ته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان یې لړ مرور غوندې ونیو، ما بیا ورته کړه: هوسۍ هیله درڅخه کوم دا پیسې واخله، ولې خجالت راکوې. هغې راته په تنده لهجه وویل: سهار صاحب مسخرې مه کوه، زه دې لا نه یم پېژندلې، زما او ستا د لیدلو او کتلو خو څه ډېر وخت په مخ کې پروت دی، د یوې ورځې کار به نه سره کوو.

زما لاس یې ټېل واهه بیا یې وویل: دا څه پیسې دي، د پیسو خبره دومره ارزښت نه لري. خبرې د زړونو دي، د ژوند او مینې خبرې ماته ارزښت لري، نوره ستا خوښه چې ته څه فکر کوې؟

زه پوه شوم، چې هوسۍ را سره وړاندې راتلونکې شپې ورځې یو ځای تېرول غواړي. ما هم نور چرت پکې ونه واهه، پیسې مې جېب ته ښکته کړې، د لړې شېبې لپاره هغه چوپ پاتې شوه، زر مې مخ ورواړاوه ما وې هوسۍ زما په خبرو خو به نه یې خپه شوې؟

نه نه... هسې سوچ واخیستم، چې ته به زما په هکله څه فکر کوې؟

په دې ځای کې مې د ګرانې کلیمه یاده کړه، ما وې ګرانې پام چې زړه کې دې څه ونه ګرځي، ماته دې هره ادا او انساني کرکتر یوه دنیا ده. ستا د سترګو هر رپ مې اوبه کوي، حسن او مینې دې رانه جرأت وړی دی، ما به خالي کالبوت نه پرېږدې، زه درسره مینه لرم. دا بڼ او دا ښکلې منظره به زما او ستا د مینې شاهدي کوي. لاس دې راکړه، چې یو ځل بیا د مینې ټینګه وعده سره وکړو. هغې لو مړی لاس او بیا رغاړې وته، ټوله مې په غېږ کې ټینګه ونیوله، هېڅ نه پوهېدم ټول ځان مې خولې خولې شوی وی. یوه لنډه شېبه د مینې په خوږو کې سره ډوب شو. بیا مو چې یو بل ته سره وکتل، مخ یې لکه د سره ګلاب غوندې اوښتی و. سترګې یې مړاوې راواړولې، د وربل ټېل یې نیمایي مخ رانه پټ کړو، بل ډول شوې وه، په موږ دواړو د مینې فساد شوی و، یو د بل په کتو نه مړېدو، تر ډېره پورې په همدغه حالت کې سره پاتې وو، زما خو بیخي ژبه په خوله کې وچه شوې وه. مونږ هېڅ پوه شوي نه وو، چې د ماښام خړه رابانده لګېدلې وه. هوسۍ ته مې وویل: ناوخته دی نور به ځو. هغې چې بیا خپل وربل ته ټک ورکړو، په چپه خوا یې تورې زلفې خورې ورې واوښتې، تورې سترګې یې سرې اوښتې وې، د اننګو په سر یې د خولو څاڅکي لکه د زمرودو غمي ځلېدل. په غلي غږ یې وویل: وخت لا ډېر دی، یوه شېبه به نور هم کېنېنو. هو رښتیا سهار صاحب! سبا به پنځه بجې د نوي ښار مغازو ته ورځو، دواړه به نوي درېشۍ ځانته واخلو. څنګه خوښه دې ده؟

ما وې ولې نه! ته چې څنګه وایې، هغسې به کوو. لږه شېبه مو د زړه خواله نوره هم وکړه او بیا له هغې ځایه د کور په لور راروان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په موټر کې چې کښېناستو، تقریباً خره لګېده. هغې موټر ته لته ورکړه تر د همزنګه یې موټر بیخي الوځاوه. په پل ارتن ورتېر شو، په جاده میوند کې ووتلو، زموږ تر کوره په لږ وخت کې ورسېدو. ما وې راځه هوسۍ جانې موږ کره به لاړ شو، موټر درسره دی نا وخته به ځې. هغه په خندا شوه وې ویل ډیره به ښه وای خو.... !لاس یې را اوږد کړو، مخه ښه مې ورسره وکړه او هغه لاړه. زه کور ته لاړم کتل مې چې هرڅه مې ګډ وډ پراته و. لومړی مې له نل نه سطل راډک کړو، بیا مې ځانته ډوډۍ تیاره کړه، له چای او ډوډۍ نه وروسته مې غوښتل، چې نیمګړی داستان راډیو ته تیار کړم. په مېز چې کښېناستم، قلم مې لاس کې کاغذ مې مخې ته پروت کرار ورته ګورم لکه څنګه به چې مخکې په مېز د لیکلو لپاره کښېناستم، سمدستي به مې چې لیکل، خو اوس مې قلم ټکنی شوی و. زړه مې بل چېرې حېران پاتې شوم. سوچ واخیستم (دا جینۍ به ګنې ما سره تر اخره پاتې شي؟) سهاره د ژوند غریبي دې په قلم چلېدله، لکه چې د ژوند څرخ دې په بله تاو شو، هر څومره مې چې خواري وکړه، باور وکړه چې په دغه شپه مې هېڅ هم ونشوای لیکلای، بیخي لکه چې هرڅه رانه چا اخیستي وي، بې حسه غوندې ناست وم. ما باید د هېواد ورځپاڼې ته هم ټاکلی مضمون لیکلی وای، تر نیمې شپې پورې مې چې هر څو خواري وکړه، څه ګټه یې نه درلوده. کله به مې چې خپل کور او خپلې بوډۍ مور ته او هم د ژوند نورې ستونزې به چې رایادې شوې، یو دم به مې له ځان سره وویل: والله دا پېښې پرېږده، تاته ګوره او د دغې معتبرې جینۍ سره ژوند کول. دا زما د کلي خلک به څه وایي؟ تر نیمې شپې مې دا سوچونه کول، تر چرګ بانګه مې سترګې ورنغلې. سبایي چې مې مخ ومینځلو په آئینه کې مې وکتل، رنګ مې زېړ تښتېدلی و.

سهار چې کار ته لاړم، رئیس وروغوښتلم ویلې سهاره اخبار ته دې مضمون نه دی لیکلی. د خپل مضمون ځای دې تش پرېښی دی.

ما ورته بهانه وکړه، ما وې رئیس صاحب لږ ناروغه وم.

هغه ویل خیر دی، په دغه برخه کې یو بل څه ورواچاوه.

له نورو ورځو نه مې له کاره سره علاقه کمېده له یوې ورځې نه بلې ته بې علاقې کېدم. په ټوله ورځ به مې د هوسۍ د راتلو شېبې شمارلې، په دې ورځ مې لا وختي ځان د وعدې ځای ته وررسولی و. هغه مازدیګر په پېنځه بجو ټاکلي ځای ته راغله او د نوي ښار پر لوري یې ګاډی روان کړو. په ډېرو مغازو کې وګرځېدو، په یوه کې مو درېشي واخیستلې وروسته بیا یوه رستورانت ته وختلو. له دمې او چای څګګښلو نه وروسته د باغ بالا چکر ته لاړو. هلته ښه ډېر وګرځېدو د ناجوګانو د لاندې کښېناستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدغه ترتیب سره زمونږ د دواړو مینه له یوې ورځې نه بلې ته زیاتېدله. شپې ورځې تېرېدلې، زه نور هغه سهار نه وم، چې به هره ورځ د مطبعې په بېلابېلو څانګو به ګرځېدمه، په مجلو او اخبارونو کې مې لیکنې کمې شوې. راډیو داستانونه مې هم په ټپه ودرېدل، له هرې فرهنګي څانګې نه به راته ټیلفون کېدلو، ویلې به یې: سهار صاحب لیکنې دې ولې کمې کړې دي؟

ما ورته بله بهانه نشوه کولای، په غېر له دې چې ویلې به مې: ناروغي راپېښه شوې ده، ځکه مې لیکنې کمې شوې دي.

زه خو به هره مشاعره او ادبي بانډار کې کوربه وم، مګر ټوله ذهني قوه او مطالعه مې یوازې د هوسۍ په مینه پورې غوټه شوه، نور ژوند راته خوند نه راکاوه.

که دې خندلي راته نه وای
غریب سړی وم خپل روزګار به مې کاونه

کله کله به راته هوسۍ ویلې: دربانـدې پوه یمه چې د لیکنو او مطالعې نه دې لاس اخیستی دی، زه خو بې له هغې ستا یمه، خپل پخوانی روزګار او ژوند دې په عادي توګه پرمخ روان کړه. زه هم درسره دا نشم منلای، ژوند په مینه پورې تړلی دی، ژوند او مینه بېل نه دي، ته باید دوباره خپلې لیکنې تازه کړې. خدای شاهد دی، ډېر یې تشویقولم، تل به یې ویلې سهاره د لیکوالۍ نه لاس وانخلې، زه ستا لیکوالۍ له تا سره ملګرې کړې یم، پام کوه چې ځان دې له خپله مسلکه وروسته پاتې نه کړې. بیا به وروسته ارمان کوې او وخت به درنه تېر وي. هغې هم پخپلو درسونو کې کوښښ کاوه، ټولو استادانو ورته ویلي وو، چې له فارغېدو وروسته به خامخا د اسیستانت په توګه په پوهنتون کې پاتې کېدې شې، خو هوسۍ د نورو تحصیلاتو خیال کاوه او ماته به یې دا ویلې، چې کله به وي چې دواړه د لوړو زده کړو لپاره خارج ته لاړ شو. دا یې ارمان او هیله وه، زه ځان ته متوجې شوم، ما د هغې خبرو ته غوږ ونیو او دوباره خپلې دندې ته متوجې شوم. له خپلې لیکوالۍ او وظیفې سره مې ځان عیار او برابر کړو، له پخوا نه به مې لا ښه مضامین، داستانونه او ادبي ټوټې لیکلې. کله ناکله به مې ښه تکړه مقاله یوې نیمې مجلې کې چاپېدله. ډېرو راته وویل: ته لکه د کونړ دریاب داسيءګ یې په اوړي موج نه وهې، په ژمي کې دې چړونه فریادونه کوي. مور ته به مې ښې ډېرې پیسې لېږلې. کله به د څو ورځو لپاره په رخصتۍ د مور لیدو ته کلي ته ورتلم. دا ځلي پس له اوږدې مودې نه وروسته کلي ته ولاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې راته ډېر وژړل او پوره اوښکې یې توی کړې او دا یې هم راته وویل: بچی زه بوډۍ شوې یم، خپه کېږم زر زر مې لیدو ته راځه. ته خو زما یوه رڼه اوښکه یې، زړه مې درپسې وران دی، بچي بې له تانه رابانده ژوند ګران تېرېږي. هغه خپل عادي حالت ته راغله، خوا ته مې رانږدې شوه ویلې: هو رښتیا زویه په دې ورځو کې مې زړه دی، چې په کلي کې درته کوژدن وکړم. په دې خبره یې زر په خولې کې ورولوېدم.

مورې پام چې په دې هکله چاته ونه وایې، زه چې له خیره بل ځل په رخصتۍ راغلم، بیا به درته ووایم. تر هغې به خیر دی نور هم تکلیف تېر کړه، بل ځل په خیر زر راځم. خامخا به دي په خیر سره ستا نږور پیدا شي، په مخکې به دې ګرځي، له کارونو او ځینو تکلیفونو نه په خلاصه شې. ما خو هېڅ فکر نه کاوه، چې ګنې مونږ ته به څوک خور او لور راکړي، ځکه چې د خدای په دا ارته دنیا کې ایکي دا یوه کوټه لرو، نور هېڅ نه لرو، خلک خو په مال او دولت پسې ګرځي. په دې وطن کې لیاقت او اهلیت نه پکارېږي، یوازې پیسې چلېږي. خو توکل زموږه په خدای دی، هرڅه به سم شي. تا دې راته الله ژوندۍ لري. مور مې په دې خبره خوشاله شوه، په زوره زوره یې وخندلې، ما یې لاسونه ورمچي کړل. په دې وخت کې د کلي ځینې کسان زما همزولي زما سترې مشي ته راغلل، زموږ کوټه یوه وه، خو لویه وه. مخې ته یې غولی (منډاو) او انګړ ودان شوي وو، څو کټونه پکې پراته وو. په دا ځل د کلي ټول خلک زما سترې مشي ته راغلل. پخوا به چې کلي ته لاړم، کور ته به څوک نه راتلل. یوازې په جومات کې به خلکو راته سترې مشي ویلې. ځینو کسانو راته ویلې ستا راډیویي داستانونه اورو، ټول خلک یې خوښوي. ځانته به مې تمه پیدا شوه. هلته په کلي کې پوه شوم، چې دا خلک که سواد نه لري، د پېښو او ژوند په ټولو کیسو خبر دي. رښتیا چې هر چا راسره ښه سلوک کاوه، زما له وړوکتوبه عادت و، چې سبایي او مازدیګر به جومات ته تلم، چې لاتراوسه مې همغه عادت درلود ا د خدای عبادت مې کاوه. په دې هم د خلکو خوښېدم. په دې رخصتۍ کې مې دوه هفتې تېرې کړې. حال دا چې هوسۍ راته د پنځه ورځو اجازت راکړی و. مخکې به مې پوره یوه میاشت تېروله، کله مې چې دوه اونۍ ووتلې، له موره مې اجازت راواخیستلو نور خپلوان مې هم مونږه کره راغلي وو، زمونږ نږدې خپلوانو به زما له مور سره مرسته کوله. خپلوان مونږ سره په چم ګاونډ کې ډېره وو. د مور ټول مشکلات مې حل و، ماما به مې تل مور خپل کور ته بیوله. له ټولو څخه مې رخصت راواخیست او بېرته ښار ته راغلم. ماښام تېر و، چې خپل کور ته ورسېدم. شپه تېره شوه او سبا یې خپلې دندې ته لاړم. په کار بوخت وم، د څو ورځو کار مې راته پروت و. لګیا وم لیکنې مې کولي چې د ټیلفون زنګ راغی، غوږۍ مې چې پورته کړه، ما ویې بلې. ویل هوسۍ یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار صاحب راغلی یې؟ ما وې هو. څنګه یې کور ته خیریت دی، هغې په ټیلیفون راسره ګړه بړه وکړه. وې ویل: ته پوهېږې، چې زه بلکل ناروغه شوې یم، رنګ مې زېړ اوښتی دی، د ازموینې ورځې مې دي، هېڅ تیاري مې نه ده نیولې.

ما وې هوسۍ د کور او کلي کارونه وو، له بل پلوه مې مور را پسې خپه شوې وه. که زر تري راتلای نوره هم لا پسې خپه کېدله. ښښنه غواړم شپې مې لږې ډېرې تېرې شوې. دا دی اوس درته راغلی یم. ویلې زړه مې چوي، څنګه وکړم نن هم پوهنځي ته نه ومه تللې. ټوله ورځ په کور کې راته موسیقي غږېدله. نن به زه په پوره څلور بجې مطبعې ته درشم. ډېره ښه ده خو موټر دې مطبعې نه وړاندې ودروه. د خدا یې په امان.

د ټیلفون غوږۍ مې چې کېښوده، رئیس وروغوښتم ویلې پاتې کارونه درسره کور ته یوسه، چې سبا ته یې خلاص کړې. ما وې ښه ده رئیس صاحب ته ورته تشویش مه کوه، سبا ته به انشاء الله ټول کارونه سم وي.

نیمګړې لیکنې مې له ځان سره په څلورو بجو راواخیستې او په یوه دوسیه کې مې کېښودې، ما وې چې د شپې له خوا به پرې کار وکړم.

په څلورو بجو مې دوسیه له ځان سره واخیستله او له مطبعې نه ووتلم. وړاندې مې چې پام وکړو، د هوسۍ موټر ولاړ و. په چټکو ګامونو ورروان شوم، ما وې هغه به راته ډېره منتظره پاتې شوې وي، چې ورنږدې شوم هغه له موټره راکوزه شوه، ښکلې درېشي یې په ځان کې وه. په پنځو سوو ګامونو کې چې کله ورنږدې شوم، هغه زما په لور راروانه شوه. غږ مې پرې وکړو: هوسۍ زه درځمه ته ځان مه په عذابوه. زه نور هم ورګړندی شوم، کله چې سره نږدې ورغلو، پام چې مې ورته وکړو، د هغې له سترګو اوښکو دارې وهلې، ما وې آخ دا ولې ژاړې؟

له خولې نه یې غږ نه خوت یوازې دواړه لاسونه یې رانه تاو کړل او په سلګو سلګو یې وژړل. ما وې هوسۍ څه شوې؟ ولې دومره ژاړې؟ د ژړا په حالت کې موټر ته ورپورته شوه، زه هم موټر کې ورسره کېښناستم، موټر یې د مطبعې اړخ ته ودرولی و، په ژړغوني اواز یې وویل: ما خو درته پنځه شپې ویلې وې آ، زه خو دې له ژونده ویستلې یم، ناسته ولاړه هېڅ خوند نه راکوي.

ما وې ښه نو دا خبره ده !

هغه لږه شېبه غلې ناسته وه، موټر یې نه چالاوه. یوه شوم چې رانه خوابدې ده، خوا ته یې ورنږدې شوم، د زنې نه مې ونیوله: هوسۍ بخښنه غواړم، زه مجبوروم، چې څو شپې مې ځنډ کړی وای. خیر دې مړې رانه مه خپه کېږه. مخ یې راواړاوه، موسکۍ شوه، وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهاره چېرې به درنه خپه نه شم، خو حېرانه پاتې یم، چې په ما څه شوي دي؟ مور مې راته څو ځلې په کور کې وویل: څه دربانډې شوي هوسۍ لورې، چې دا رنګ دې الوتی ښکاري. په دې ورځو کې دې بل شان وینمه؟ زه ورته څه ووایم، چې ولې؟

هوسۍ جانې! په مینه کې دا خبرې شته دي، دومره یې اسانه مه ګڼه.

مینه خو د انسان سترګې پټوي او غوږونه یې کڼوي.

څه چې کومه خوا لاړ شو، دلته د مطبعې مخه ده، هسې نه چې څوک مو ووینې. هغې په عادي ډول د ناز خندا وکړه، ویلې د تورې زویه راځه، چې نن پغمان ته لاړ شو. ما وې ډېره ښه ده، ځو به. هغې موټر روان کړو او د موټر ټیپ کې یې د وحید صابري (لالیه ګاډې وانه) سندره چالان کړه. په لږه شېبه کې یې موټر کوټه سنګي ته ورساوه. د میرویس میدان له دوکانونو نه مو خوراکي شیان له ځان سره راواخیستل او بیا پغمان ته روان شو. راساً د تپې بڼ ته لاړو، د تپې بڼ د ګلونو ښکلاګانو ته ورغلو.

هر رنګ ګلان غوړېدلي وو، په یو ښکلي ځای کې د ګلانو په منځ کې کښېناستو، په بڼ کې خلک ګرځېدل، موږ چا نه لیدو. کله چې موږه کېناستو، سمدستي هوسۍ راته وویل: سهاره د خپل سفر او کور کلي کیسه راته وکړه. لومړی دا ووایه چې مور دې څنګه وه؟ روغتیا یې ښه وه؟ او رښتیا د خپل کور او خپلوانو په باب راته پوره پوره ووایه.

ما ورته د کور او کلي، د خپلې مور د حال احوال په باب خبرې وکړې، څه چې په کلي کې تېر شوي وو، ټوله کیسه مې ورته وکړه. دې راته وویل: مور دې ښار ته نه راولې؟ ما وې نه مور مې بوډۍ ده، پخپل کور او کلي کې خوشاله ده. ورور یې او نور خپلوان یې پوره خیال ساتي. هو رښتیا هوسۍ دا ځلې مې مور راته د کوژدنې خبره وکړه، ویلې کلي کې درته چېرې لاس پورته کوم.

اخ نو تا څه ورته وویل؟

هغه راته متوجې شوه ویلې ووایه سهاره رښتیا وایه، دا چې ډېر وځنډېدې، لکه چې همدا خبره وه.

نه نه! په دغه باب هېڅ نه دي شوي. ما ورته وویل: مورې بل ځل چې راغلم بیا به خبرې سره وکړو، تر هغې به زما د کوژدنې خبره هېچا سره نه کوې. هغه دوباره خپل عادي حالت ته راغله، لاس یې کڅوړې ته ورتېر کړو، خوراکي شیان یې راواخیستل او زما په مخکې یې کېښودل.

لومړی موږه مېوه وخوړه. هوسۍ راته وویل: سهار صاحب د راتلونکي په باب څه فکر کوې؟ ما ورته په ځواب کې وویل: زه اوس هېڅ فکر نشم کولی، ځکه چې... !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه دې ځکه چې وويل؟

زه لېږ غلی پاتې شوم، هغې همدغه خبره بيا راغبرګه کړه، ما بيا په نيولي غږ ورته وويل: حېران يم هېڅ نشم ويلی.

هغې رانه خبره ونيوله وې ويل: سهار صاحب زه پوهېږم، چې ته څه وايې؟ نن درسره څو بربنډې او غوټې خبرې کول غواړم، ځنګه دې خوښه ده؟

ما وې ښه ده مهرباني وکړه! (په زړه کې مې تېر شول، لکه چې نن دې هرڅه په ډاګه کېږي) ويلې ما درسره په لومړي ليدنه کې دا ويلي وو، چې زه يوازې ستا د ليکنو سره مينه نه لرم، بلکې له تا سره هم مينه کول غواړم. تا باندې پوهېدمه، چې خپله غريبي دې راته مخې مخې ته کوله. ما درته ويلي و، چې مينه غريبي نه غواړي. اوس نو زه او ته يو پر بل پوهېدلي يو، زموږ ټول رازونه يو بل ته ښکاره دي، خو يو راز او هغه دا چې تا زما مور او پلار او کورنۍ نه ده ليدلې، يو ځل به دربانډې خپله کورنۍ وينم، په داسې حال کې چې هغوی دربانډې هېڅ پوه هم نشي. په زړه کې خوشاله شوم، ما وې سهاره لکه چې هوسۍ سره دې واده کېږي، خو ولې بيا هم خپلې بې وسۍ په چرت کې لاړم. الکه نه دې کور شته، نه دې پيسې، دا خو د معتبر سړي لور ده راتلونکې ګوزاره به دې ځنګه شي؟ هوسۍ په ځنګل ووهلم، ويلې بيا ځنګه پخپلو چرتونو کې ډوب شوې؟ ما وې نه نه... هسې... !

زه به داسې زمينه برابره کړم، چې زما مور او پلار وپېژني، خو که چېرې هغوی په مونږه پوه شي ما به سخته تهديد کړي. پلار مې د زاړه کولتور سړی دی، هغه دا خبرې کله مني. مور مې هم دغسې درواخله، خو يوه خبره ده، چې هغوی په ما پوره باور لري. زه وربانډې ډېره زياته ګرانه يم، چې هر څومره پيسې وغواړم، راکوي يې. دا موټر يې راته اخيستی دی. همدا راته وايي، چې يو ښکلی کور درته جوړوم. د پيسو او شتو کمی نه لري، خدای شته چې ډېرې پيسې ترې زه مصرفوم. خدای دې راته ژوندي لري، نو ځکه مې درته دا خبره ياده کړه، چې دواړه په راتلونکي څه فکر وکړو.

هوسۍ زه څه ويلی شم، يوازې دومره ويلی شم چې مينه درسره لرم او دا مينه به مې له تا سره تر اخره پاتې وي، نور نو په تا پورې اړه لري. زه خو نه پيسې لرم او نه داسې څه، چې دا د نن درانه رواجونه په ځای کړای شم، يوازې همدا سهار يم او بس.

هغه موسکۍ شوه، خرپ شو په ولې يې ووهلم، ويلې همدومره مې درنه غوښتل، نور به کېږي. تر مازديګر ناوخته پورې په تپې بڼ کې وګرځېدو، کور ته ناوخته ولاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمګړي کارونه مې د شپې سرته ورسول. هوسۍ چې کور ته روانېده، ولې زه او ته به دوه ورځې نور نشو لیدلی. زه ازموینه لرم، په ټیلفون به سره خبر اخلو، ما وې سمه ده یو له بله مو سره مخه ښه وکړه.

ما خپل پاتې کارونه په دغو دوه ورځو سم کړل. په دریمه ورځ چې له کاره رخصت شوم، د مطبعې مخې ته ښکته شوم. وړاندې مې ولید، چې د هوسۍ ګاډی ولاړ دی. د ګاډي خوا ته ور روان شوم. کله چې ښه ورنږدې شوم، هغه له موټره راښکته نشوه، خالي د موټر دروازه یې راته خلاصه کړه، ویلې راځه سهار صاحب! په موټر کې چې ورسره کښېناستم، سمدستي یې راته وویل: خپه نشې له موټره ځکه ښکته نشوم، چې څوک مې ونه ویني. بل هغه دوه ځوانان راته ولاړ دي، څه خو یې راته نه دي ویلي، خو ځانونه راته بوخ کوي.

ما ورته وخندل او بیا مې ورته داسې وویل:

ستا حسن ته هېڅوک د ټینګې نه دی، چې رښتیا راباندې وایې، ډېرې ځوانۍ درته او به کېږي. په دې خبره یې موټر په تراټ سره روان کړو. هغه دوه ځوانان همغسې د بوا له ته حېران پاتې شول. تر ډېره مونږ خندل او موټر روان و. موټر چې د میوند واټ خولې ته ورسېده، په دې وخت کې یې راته وویل: کومې خوا ته ځو؟ ما وې ستا خوښه! هغې سمدستي وویل: راځه نن به د چهلستون بڼ ته لاړ شو. ما وې سمه ده ځو به.

په جاده کې یې موټر لږ څه ګړندی کړ، ما وې هوسۍ جانې خیال ساته د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته ده، خدای مه کړه کومه پېښه ونه شي. ویلې ستا خبره پرځای ده.

د کابل په ښار کې یوازې دا د میوند واټ سړک لږ څه پراخه دی، موټر پکې ګړندی تېرېدی شي، نور د ښار سړکونه بیخي تنګ دي.

د هوسۍ دا عادت و، چې تل به یې په ډکه خوله خندا کوله. زه به یې په خبرو راوستلم. زه یې نه پرېښودم، چې غلی او چوپ پاتې شم. زما عادت و، چې ډېر نه ګړېدم، چې چا به راګړولی نه وم، له خولې مې غږ نه خوت، خو هوسۍ په خبرو راوستم. په دې ورځ کله چې د کابل ګذرګاه ته ورسېدو، د بابر د بڼ په دروازه مو سترګې ولګېدې. ما وې یوه ورځ به د بابر بڼ ته هم راځو. هغې ویل که غواړې چې اوس ورتاو شو. ما وې نه نه نن چهلستون ته ځو. په همدې خبرو خبرو کې د چهلستون د بڼ دروازې ته ورسېدو. له موټره ښکته شو او دننه مو غوښتل، چې ننوځو. بڼ ته د ورننتلو په وخت کې ډېر خلک د بڼ دننه روان وو، هر چا به هوسۍ ته ورکتل. ډېر ځوانان به هوسۍ خوا ته څنګ و څټ کېدل، خو هغې به پرې خیال هم نه راوړو. ډېرو به د هوسۍ ښایست او ښکلا ته پرزې ویلې، ما به ځان تېراوه، هغې هم چرت نه خراباوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې به یې ما سره خبرې کولې، چې ډېره به په عذاب شوه، دومره به یې وویل: بې تربیه از خود خوار و مادر ندارید؟ نوره یې په قیصه کې نه وه.

ځینو به ماته وویل نوش جانت. زه به حېران ورته پاتې وم، په همدې حالت کې مونږ د چهلستون بڼ دروازې ته ورننوتلو او دننه مو د ورتلو قصد درلود، چې ان لومړی د چهلستون قصر (ودانۍ) وګورو او بیا ورانډې د ګلانو خوا ته لاړ شو.

د خلکو بیرو بار زیات و، خو کله چې مونږ د چهلستون په دروازه وردننه شو، ددغې بڼ جګ جګ چنارونه، رنګارنګ ګلان، د ګیلاسونو میوې، د چهلستون د ماڼۍ ښکلا ته به څومره سیلانیان راتلل. باور وکړئ د خلکو بیروبار به دومره زیات و، چې د تېرېدو شان پکې نه و. مونږ د خلکو له تېل نه ځان ووېست، شاته راپسې دوه تنه زلمیان وو او هوسۍ ته یې ازار ورکاوه. موږ په کرار کرار تلو، هغه یوه تن حیا او شرم غورزولی و، له انسانیت نه نور ووت، په ما له ډېره قهره نه خوله راماته وه. ناڅاپي مې پرې ورودانګل، له پښو نه مې ونیو او سرته مې پورته کړو، په ځمکه مې راختا کړو. چپ لاس یې په ځمکه ونښتو ځوان یوازې وویل: الله مردم دستم شکست. نور نو هغه له ځایه ونه خوځېد، هغه بل راباندې له پاسه پروت و، زه یې په سر باندې په بوکس ووهلم، سر مې ګنګس شو. هوسۍ هغه په سترګو کې په سوک وواهه، زه یې پرېښودم، او پاڅېد. خلک راغونډ شو، یو پولیس راغی، ما ټول جریان هغوی ته ووایه. ټولو پرې لعنت وایه. پولیس هغوی له ځانه سره بوتلل. لاس چې یې مات و، هغه لا پې کولې ویلې: نمی مانم اش دست مرا شکستانده است. پولیس، چې د هلک لاس ولید، رښتیا چې غوټ مات شوی و. د هلک بدن لړزه کوله، پولیس ماته مخ راواړاوه، ویلې دده خو لاس مات دی. په دې وخت کې هوسۍ پولیس ته وویل: هن دا کاغذ د پولیسو مامور ته ورکړه.

هوسۍ په سپین کاغذ کې پیسې ایښې وې، د پولیس په جېب کې یې کاغذ کېښود، پولیس نور څه ونه ویل، هغه دواړه یې له ځان سره بوتلل.

خدایږو هغه یو عجیبه وخت و، له یوه پولیس نه به ټول کلی ډارېده. په دغسې پېښو کې به د پولیس غوا لنګه وه. مونږه چې د پېښې له ځایه روان شو، په چټکۍ سره مو تر موټره ځان ورساوه. زما کمیس څېرې شوی و، سر مې هم درد کاوه. هوسۍ هم زېړه تښتېدلې وه، موټر یې روان کړو، له قهره یې وویل: دا ټولنه د ژوند کولو نه ده، خو څه وکړو زمونږ ناکام دی، نو. بیا به یې ماته راوکاته ویل به یې څنګه په تکلیف خو نه یې؟ ما به ورته په خندا کې وویل: هوسۍ هیڅ خبره نشته، ته موټر په احتیاط چلوه، ستا خبره په ځای ده، دلته ګوزاره ګرانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خو لا ښار دی، د افغانستان پایتخت دی، په اطراف او کلیو کې خو هډو مینه کول ګناه ده. مینه هلته د مرګ سره لوبې دي. هو یو شی چې په کلیو کې شته دی، هغه دا دی چې داسې بې حیایي او بد اخلاقي لکه چې دلته ده، هلته نه شته. هوسۍ موټر د یوه رستورانټ مخې ته ودرولو، ویلې راځه چې دغه رستورانټ کې چای وڅښو.

موټر یې پارک کړو، موږ دواړه یوه رستورانټ ته پورته شو. ساه نیولی په مېز کښېناستو. په رستورانټ کې دومره ګڼه ګوڼه نه وه، څو تنه د پاخه عمر سړي او څو ځوانان جلا جلا سره ناست وو. درې تنه انجونې هم د خپل فامیل سره په یوه مېز ناستې وې. هوسۍ رانږدې شوه، سر یې را ټیټ کړو ویلې سر دې درد کوي؟ نه دومره نه خو لومړی یې درد کاوه، مګر اوس درد نه کوي. هوسۍ چې رنګ یې زېړ اوښتی و، خپه او ستړې ښکارېده. په ورو او ټیټ غږ یې وویل: ددې ټولنې هرڅه ویجاړ دي، دلته ژوند ډېر ګران دی. هوسۍ خیر دی مه خپه کېږه. بلا پسې که، هرڅه چې و تېر شو. په ډېرو شیانو باید سترګې پټې شي، هېر یې کړه. د رستورانټ شاګرد چای راوړو، چای مو څښلې چې هوسۍ په خندا کې وویل: هغه یو خو مې په دا خوله لګاو کړ، یو سوک مې په سترګو وواهه اخ تا که هغه په سترګو وهلې نه وای، خدا بزده چې څه به پېښېدل. رښتیا چې ټولو خلکو په هغو لعنتونه او بد ل ویل.

او هغې چې د دوی ژوند وي بیا به د چا تورسرو ته په سپکه ونه ګوري. د یوه لاس مات شو، خو پولیس هم ونه نیول. هوسۍ په تونده لهجه وویل: ته پوهېږې، چې پولیس ته ما په کاغذ کې پیسې تاو کړې او جېب کې مې ورته کېښودې، ځکه یې پرېښودې. هوسۍ بس نور دا خبرې پرېږده، هرڅه چې و تېر شول. د هوسۍ په رنګ کې بېرته سوروالی پیدا شو، د چای ګوټ یې وکړو او پیاله یې په مېز کېښوده وې ویل:

سبا نه بل سبا ته زما د تره د زوی واده دی، په کابل هوټل کې. زه به درته سبا ته د واده کارت درکړم. واده ته به راشې،

ما وې زه خو نو څوک نه پېژنم، ستاسو له خلکو سره بلد نه یم، واده ته به څنګه درشم.؟

خو زه همدا غواړم، چې ته لومړی زما مور او پلار ووینې، زه به یې له وړاندې تاته وښایم، زما کورنۍ به و پېژنې. سبا ته به زه درته نېکټایي او کمبس راوړم، هغه توره نوې دریشي به دې واغوندې. ما وې ښه ده.

زړه مې رالوی کړو او ورته و مې ویل: او ته به کومه دریشي واغوندې؟ خبرې مو د مینې خوا ته لاړې. د هغې رنګ په عادي حال شو، ویلې زه دریشي نه اغوندم، زه به په داسې جامه کې یم، چې ته به مې هېڅ ونه پېژنې. ما وې دا څه وایې؟ هغې ویلې هو. د واده جامې خو نورې دي. ما پخپل عمر کې چېرې د ښار واده نه و لیدلی. فکر واخیستم، دا به څنګه واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. زه به د کابل د ښار واده وویـنم او هغې به داسې جامې اغوستې وي، چې زه یې هېڅ ونه پېژنم.

ښه ډېر په چرت کې تللی وم، چې هوسۍ راته کړه: څنګه سوچ کې لاړې، پام دې وي چې هېڅ فکر ونه کړې، زه به مور او پلار ته تا سم وروپېژنم، ورته به ووایم، چې دا زما ټولګي وال دی، نور څه وایې.

ما وی هو هو همدغسې وکړه، دا خبره مې زړه واخیسته، ویې خندل او ویلې: سهار صاحب زړور او خوشاله ځان ونیسه، داسې وګڼه چې ستا د تره د زوی واده دی.

ښه ښه هوسۍ پروا مه کوه. ماښام خړه لګېده، چې له رستورانه راووتلو او د کور په لور روان شو. زه یې د کور خوا کې ښکته کړم او هغه رانه لاړه.

کله چې د واده ورځ راورسېده، سهار وختي حمام ته لاړم، ځان مې ښه پاک کړ. یوه ورځ راته مخکې هوسۍ ښکلې نېکټايي، نوی کمیس او نوي بوټان راوړي وو. په دغه ورځ چې له وظیفې نه رخصت شوم، د ماموړینو په ګاډي کې کور ته لاړم. نوي دریشي مې واغوستله، په ځان مې پوره ګوتې ووهلې. واده د مازدیګر په شپږو بجو پیل کېده. له کوره راووتلم، غوښتل مې چې یو ټیکسي کې تر کابل هوټل پورې ځان ورسوم. کټل مې چې زما یو دوست د یوه دوکان مخې ته ولاړ دی، مخ یې راواړاوه او سمدستي په خندا شو لاس یې له ورایه خواره کړل. ما هم کلکه غېږه ورکړه، ډېره موده مو سره نه و لیدلي، خوږه ستړي مشي مو وکړه. ملنډې مو له پخوا نه درلودلې، ویلې د کونډې زویه لکه چې کوم هاتي دې په سوپره کې وهلی دی، څنګه غوړ شوی یې؟. ته او دا د مود فېشن دي؟

ما وې ولې زه دې دومره په سترګو کې کم راغلی وم، دنیا خو د ارتې منګوټی دی، یو پر بل پسې اوړي رااوړي. بدبختي به تل زموږ د خوارو په برخه وي؟

هغه ویل: هو سهار صاحب هرڅه بدلېږي، خو زه حېران دې ته یم، چې ته خو ډېر زر بل شان شوې ویلې لکه چې چېرې روان یې؟

هو انډیواله کابل هوټل کې واده ته غوښتل شوی یم. ویلې راځه چې زه دې ورسوم. خپل موټر ته یې پورته کړم، هغه له پخوا نه موټر کې ګرځېده. د لوی تجار زوی و، ما سره په پوهنتون کې یو ځای په یوه ټولګي کې و.

تر کابل هوټل پورې مو سره ښه د زړه خواله وکړه او دا یې هم راته وویل: سهاره داستانونه دې پرله پسې اورم او مضامین دې لولم. هیله من یم، چې نور به هم په لیکنو کې وړاندې لاړ شې. زموږ افتخار یې یار. موټر یې د کابل هوټل مخې ته ودراوه. ما ورته وویل راځه ما او تا پکې څوک څه پېژني، ته هم راسره ولاړ شه. هغه لږ موسکی شو ویلې ورځه بچو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې کار دې پوخ دی. زه درسره نه ځم. خدای په اماني مو سره وکړه او ولاړ. زه په کرار زړه نازړه د هوټل دروازې پلو روان شوم. ليدل مې، چې ډېر کسان په نويو جامو کې او په نويو دربېشيو کې ولاړ دي، څوک ننوځي او څوک لا ولاړ دي. دروازې دواړو غاړو ته څو تنه ځوانان په ښکليو دربېشيو کې د خلکو استقبال او هرکلي ته ولاړ وو. ما خپل ګامونه کلک او مضبوط اخيستل، په دروازه کې راته ښه هرکلی وشو. له دروازې نه چې لږ ورننوتلم، مخامخ وړاندې د پېغلو انجونو ټولګی هرکلي ته ولاړ وو، ټولو ښکلې جامې اغوستې وې، ماته خو ټولې نابلده وې، کتل مې چې د هوټل تالار او زال له خلکو ډک ښکارېده. ما ځان په غټو کې وهلی و، په تمکين او ارام ګامونو مې قدمونه اخستل، مخې ته مې درې ځلور جنکۍ راغلې، هرې يوې په خپل انداز کې ښکلې جامې اغوستې وې، هسې ډول يې کړی و، چې يوه له بلې نه پېژندل کېده. ماته لومړۍ يوې لاس رااوږد کړو، ستړې مشي يې راکړه، درې نورې يې راته راوپېژندل. ما هېڅ نه ورکتل، همدا سې ترې روان شوم. هغوی ټولو وخندل، زه ځان پوې حېران شوم زه لږ څه ځان پورې خجالت شوم، په زړه کې مې وې لکه چې کوم څه دې برابر نه دي، ځکه خو انجونو درپورې وخندل. څو ګامه وړاندې تللی نه وم، چې همغه جينۍ بيا راغله، شاته يې راپسې غږ کړو، خندل يې سهار صاحب سهار صاحب مخ مې وروااړاوه، چې همغه ړومبنۍ جنۍ ده، چې بيا يې وويل: سهار صاحب لږ ودرېږه، چې ودرېدم او ورته زير شوم، چې له مزله مې له وړاندې وپېژندله، هغه په چابکو ګامونو خوا ته راغله. درته نه مې و ويلي چې په واده کې به ما ونه پېژنې؟ ما وې دا تاسې په ځان څه کړي دي؟ دا ډول جامې او دا دومره سينګار. په والله چې غږ دې رابانديې نه وای کړی، که تر اخره مې پېژندلی وای. هوسۍ زما ګناه نه ده، دا مې لومړی ځل دی، چې داسې واده او داسې جامې او فېشنونه ګورم.

هغې چې راته مخامخ راوکتل، غلی شان مې ورته کړه: بيخي ښاپېرۍ درنه جوړه شوې ده. موسکۍ شوه ويل يې: تا ځانته کتلي دي، دې ټولو جينکو راته وويل دا زلمی څنګه قندولک او ښکلی دی. راځه دا خبرې پرېږده، راځه چې مور او پلار مې درو پېژنم. هغه رانه مخکې شوه او زه ورپسې. د هوټل په منځ کې د تلو راتلو په لاره وړاندې د هوټل په اخر کې په يوه مېز د هوسۍ کورنۍ ناسته وه، پلار او مور ته چې ورغلو، سلام مې وروا چاوه زه يې ورمعرفي کړم. لومړۍ يې هغوی ته په ډېر احترام او درناوي سره وويل دا زلمی زما همصنفي دی واده ته راغلی دی، تاسې ته مې درو پېژانده. مور او پلار يې ښه ستړې مشي راسره وکړه. هوسۍ خپل مور او پلار ته زما ډېره ستاينه وکړه، خو دا يې ورته ونه ويل، چې ګنې دا هغه څوک دی، چې تاسې تل دا ستانونه لولې او غوږ ورته ږدئ. زما نور کړه وړه يې ترې له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره وساتل. له پېژندګلو نه وروسته هوسۍ ماته په یوه خاص ادب کې وویل: تاسې راځئ، چې هلته نور ملګري هم ناست دي، هغوی سره به یو ځای کښېنئ. د مور او پلار له مخه یې هسې وویل. زه ورسره روان شوم، په هوټل کې چې کوم ښه مېز او ځای موجود و، هلته یې بوتلم، په مېز دوه درې سړي او ښځې هم ناست وو، د مېز په کونج کې زه کښېناستم، هغې راته وویل: زه دستي بېرته راځم.

یوه شېبه وروسته مې کتل، چې هغه راغله، دوه جینکۍ نوري او یو زلموټی هلک، چې هوسۍ د اکا زوی و، راغلل، زما سره کښېناستل. هوسۍ دومره خوشاله ښکارېده، چې هېڅ اندازه یې نه وه. دومره ښکلې وه، چې په هوټل کې ټولو ورته خامخا ورکتل. ما ځان په ارام نیولی و، ځکه چې له یوې خوا نابلده وم او له بلې خوا ما وې، چې څوک دربانده پوه نشي. مګر هوسۍ د هېڅ په قیصه کې نه وه، له ما سره یې همغسې په مینه خبرې کولې. د هغې خو د کاکا د زوی واده و، په ګرد هوټل کې ګړندۍ ګړندۍ ګرځېده راګرځېده. هر څه داسې فکر کاوه، چې ټول اختیار د واده د همدې په لاس کې دی، چې زما له خوا نه به لاړه د هوټل په وړاندې ځای کې په مصروفه وه. د مصروفیت په وخت کې په یې زما پلو هره شېبه راکتل، خو چې کله به د واده په ښکلو جامو کې زما خوا ته راروانه وه، له ځان سره به له خندا شنه وه. زه به یې په سترګو کې د مینې په راز پوه کړم، راسره ناستو کسانو ته به یې وویل: دا مسافر درنه خپه نه شي. هغوی به ټولو ماته راوکتل او وبه یې ویل: ولې به خپه کېږي. په دې وخت کې هنرمندانو موسیقي په غږولو پیل وکړو.

ټولو وویل دا ښه هنرمندان دي، ښې سندرې وایي. ربښتیا هم چې رخشانې او هماهنګ وار په وار خوږې سندرې ویلې. هوټل له خلکو ښځو او نرو ډک شو.

هوسۍ ښه اوږده شېبه تېره تم شوې وه، هرڅو به مې چې سترګې واړولې راواړولې، د هغې څه پته نه لګېده. یخپلو خولو کې ډوبه وه. د واده مراسم تاوده روان و، په هوټل کې ګڼه ګونه زیاته وه، څو کسان مې د پېژندګلو ولیدل. نورې انجونې هم زما د مېز خوا ته راغلې. کله ناکله یې په ما پرزې ویلې، خو ما ورته وخت نه ورکاوه، چې ګپ شپ راسره ولګوي. کله به چې هوسۍ موسکۍ موسکۍ زما خوا ته راغله، ناستو جینکو ته یې زور ورکاوه. هغوی ټولې د هوسۍ ښایست ته حېرانې پاتې وې. مابنام شو تیاره شوه، د ډوډۍ خوړلو اعلان وشو، ټول خلک له خپلو ځایونو نه پاڅېدل او د ډوډۍ خولو خونې ته روان شول. زه لا ناست وم، چې لږه شېبه وروسته هغه راغله او ویلې راځه، چې ځو، مونږ دواړه یو ځای د ډوډۍ خونې ته روان شو. د خلکو ټېل زیات و، هوسۍ زما لاس ونیو راته وې ویل: ټېل دی، چې رانه ورک نشې. د ډوډۍ خونې ته لاس نیولی لاړو. هلته هر ډول خواړه تیار شوي وو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډۍ خوړلو نه وروسته ناوې او شاه راغلل، هوسۍ د شاه تر څنګه روانه وه، په سټېج کې يوه لنډه شېبه ودرېدل، د ښادۍ والا کورنۍ د ناوې او شاه سره ولاړ وو. عکاسي وشوه، موسيقي ښه په غرب سره روانه وه. نڅاوې کېدلې، څو ځلي هوسۍ د نڅا وار تېر کړو. واده ان د شپې تر دوو بجو پورې روان و. پوره په دوه بجو واده پای ته ورسېده. له هوټل نه خلک په وتلو شول. زه چې کله دروازې ته راووتلم، هوسۍ ولاړه وه. يوه ځوان چې هغه د هوسۍ د کاکا زوی و، وويل وروره دا مېلمه به خپل کور ته ورسوې او ته به ترې بېرته هوټل ته راشې، چې بيا موږ کور ته ولاړ شو. زه د هغې موټر کې کور ته راغلم او د هغې د کاکا زوی رانه بېرته ولاړ.

ډېر ستومانه شوی وم، په دغه شپه مې پوره خوب وکړو، ځکه چې سبا ته د جمعګې ورځ وه ستړتيا مې ورکه شوه. د جمعې ورځ مې په کور کې دمه وکړه، چېرې ولاړ نه شومه. په سبا ته لکه د نورو ورځو نورمال خپلې دندې ته لاړم. هره ورځ به د مازديګر په وخت موږه چکر واهه، د شپې به مې يو نيم داستان او ځينې طنزيه ليکنې کولې. زما داستان به په راډيو کې خامخا نشرېده، ممثلينو به په خورا ښه ډول تمثيلاوه، نو ځکه د خلکو به خوښېده. په مجلو او ورځپاڼو کې به چې زما مقالې او نورې ليکنې نشرېدلې، پوره حق الزحمه به يې راکوله. د مياشتنۍ تنخواه نه مې حق الزحمه زياتېدله. ژوند مې په نورمال ډول ښه تېرېده، يو څه روپۍ مې زخيره کړې وې، هوسۍ ته مې وويل: وطن ته ځمه خپله زړه خونه رنګوم او نوی کور پکې جوړوم، ډېر ځنډ نه کوم يوازې چاته به يې په اجاره ورکړم، ستا څنګه خوښه ده؟

هغه لږه غلې شوه، بيا يې وويل: ډېره ښه ده، زه به هم درسره مرسته وکړم. ما وې که وشوه دوه ورځې وروسته به کلي ته لاړ شم. سبا مازديګر، چې کله مونږه په موټر کې کښېناستو او د ښار په لور رهي شو، هغې خپل بکس ته لاس کړو، پيسې يې راوايستې، ويلې دا لس زره افغانۍ به زما له خوا درسره مرسته وي، بيا به وروسته ګورو، ته يو ځل په کور پيل وکړه، دا دې ښه پلان جوړ کړی دی. ويې خندل وې ويل کېدای شي کوم وخت درسره په چکر کلي ته لاړه شم.

ما وې کوم به هغه ساعت وي.

هغې موټر په کرار کړو، مخ يې راواړاوه، وې ويل: ته پوهېږې، چې په دې ورځو کې زموږ قومي خلک زما د غوښتنې لپاره زموږ کور ته څو ځلي راغلي دي، د پلار مګې خوښه ده، چې هغوی ته مې ورکړي، مګر ما په کور کې ويلي دي، چې ګورئ پام زما په غياب کې به زما ژوند په چا پورې نه تړئ. له مانه به خامخا پوښتنه کوئ. دغسې خبرې شته دي. فکر دې وي، چې دا ځل کلي ته ولاړې مور ته به دې زما په باب خبرې کوې. ښه ده هوسۍ زما هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ستا خبره په زړه کې ده. زه به مې مور سره هرومرو ستا خبره کوم. ته ډاډمنه اوسه، خو ستا د پلار سره به څه کېږي، ځکه چې زه....

پام چې دا سې فکر ونکړې، ترڅو چې ته له کلي نه بېرته راګرځې، په دې هکله به مې يو څه کار کړی وي.

دوه ورځې وروسته کلي ته لاړم، مور مې ډېره زياته خوشاله شوه، يوه ورځ مې د زوړ کور د ورانولو ورته وويل، هغې راته اخ وکړو، وې کور ولې ورانوې؟

مورې نوی کور درته جوړوم.

پيسې به له کومه شي؟

مورې خدای مهربانه دی، يو څه پيسې مې له ځانه سره راوړي دي، د کور د جوړېدو چاره به پرې وشي. هو مورجانې رښتيا ، چې هغه جمعه خان د ختې پسخګر په کلي کې دی او که چېرته تللی دی؟

شته دی زويه، د خلکو کلاګانې جوړوي، هغه ډېر ښه کورونه جوړوي، د کور کار په هغه وکړه. هو مورجانې سبا ته به ورپسې ورشم، خبرې به ورسره له نږدې نه وکړم. مور مې زما په دې کار زياته خوشاله شوه، لاس يې پاس ته په دوعا پورته کړل. ډېره دوعا يې راته وکړه، په دې وخت کې زما څو کليوال ملګري موږ کره راننوتل. زما سترې مشي ته راغلل. تر ناوخته پورې راسره ناست وو، سبايي وختي په جمعه خان پسې لاړم. لا کار ته نه و تللی. د خپل کور د جوړېدو په باب مې ورسره خبرې وکړې، هغه ښه د تبې سړی و، لومړی راته حېران پاتې شو، ويلې وراره شاه باش لکه چې پيسې دې پيدا کړې دي؟ ما وې هو جمعه خان اکا يو څه خو مې کړي دي. اوس راغلی يم، چې زما د کور د جوړېدو خبره راسره وکړې. هغه وويل: وراره زه دوه ډوله کار کوم، يو دا چې په اجاره نيول او دويم دا چې په ورځنۍ مزدورۍ. اوس ستا خوښه چې کومه يوه درته اسانه ښکاري. ما وې جمعه خان اکا زه وخت نه لرم، چې پاتې شم، خو د کور ورانول او د نوي جوړېدو خبره راسره وکړه.

هغه ډېره شېبه سوچ وواهه، بيا يې وويل: زه به سبا ته وختي درشم، د نوي کور اندازه به واخلم، چې څو متره اوږده لرې او څومره لنډوالی لري، څو پکې کوټې جوړوې، دا ټول به سره وسنجوو. د زوړ کور د ورانېدو خبره به هم وکړو. نيمايي پيسې به پيشکي (مخکې) راکړې، چې زه پرې کار پيل کړم. ما وې ډېره ښه ده، سبا ته چې راغلې نورې خبرې به هلته وکړو. اوس نو درنه ځمه. د جمعه خان نه مې رخصت راواخيست او کور ته راغلم. زوړ کور مې چې په مترونو کړو، ځلوېښت متره اوږد او دېرش متره په لنډو جوړ شوی و.

د نوي کلا اندازه مې چې ولګوله په منځ کې يې درې کوټې کور، يوه اشپزخانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پخلنځی) او یو د لمبا کوټه او په یوه کونج بیرون ته یوه ټټی جوړېدله.

سهار وختي جمعه خان اکا چای موږ کره راوړ، ما ورته په کاغذ کې د خپل فکر سره سم د نوي کور د جوړېدو نقشه وښودله. هغه چای څښو او فکر یې کاوه. پس له ډېر وخت نه وروسته هغه ویل: وراره جانه د زوړ کور ورانېدل او د نوي کور جوړېدل به دې ټول تال پنځوس زره افغانۍ لګېږي. ما وې جمعه خان اکا ته او خپل انصاف دې زه خو په دې باب څه معلومات نه لرم. هغه ویل که مې درته زیاته ویلي و، د دې کلي د خلکو نه هم پوښتنه کولی شې. د چای څښلو نه وروسته مې ورته وویل: سبا سهار به له خیره راشې، چې د کلي څو تنه مشران او د کلي امام په ګډون به سره دوعا وکړو. ته به خپل کار پیل کړې، ویلې ښه ده زه به اوس لاړ شم، چې پسخه وهم. غرمه توده شوه، خټګر به راغلی وي. هغه یوه لویه کلا په اجاره نیولې وه، په منډه یې خپلې څپلۍ پښو کړې او لاړ.

په دغه ورځ مې د کلي له ځینو خلکو نه د خټګرو د مزدورۍ او زما د کور د جوړېدو ټول خصوصیات وپوښتل. هغوی وویل دومره ګرانه سودا نه ده، نن سبا مزدوري ګرانه شوې ده، پیسې زیاتې شوي دي. خلک نوې ابادي ګانې کوي، مزدوري ګرانه ده. جمعه خان خټګر درسره مناسبه فیصله کړې ده. بېګاه ته مې دا ټولې خبرې له مور سره او له ماماګانو سره شریکې کړې، هغوی په دې کار ډېر خوشاله شول. مشر ماما مې وویل: خوریه! ډېر زیات خوشاله شوم، چې ته د خپله انده شوې او دا زوړ کور دې نوی جوړوې. دا زموږ د ټولو لپاره د خوښۍ ځای دی، خدای دې بری درکړي. مور مې په دغه شپه خوشاله وه، شکر یې وویست، ویلې شکر دی الله، چې زما زوی دې، دې ورځې ته راورساوه. موږ خو د خدای غریبانان وو. ټولو راسره په دې دوعا وکړه، چې زوړ کور به ورانوو او نوی کور به جوړوو.

سبا ته وختي جمعه خان خټګر موږ کره راغی، ملا امام او څو تنه د کلي مشران مو راوغوښتل، چای مای چې وڅښل شو، ملا امام یو سورت قرآت کړ وروسته بیا دوعا وشوه، هر چا بیا خپل نظر ورکاوه. چا ویل: څنګه نقشه پکې اچوئ؟ چا به ویل یو ځل دا زوړ کور هوار شي، بیا به پرې تناب واچول شي، وبه کتل شي چې څو کوټې پکې جوړېدی شي. جمعه خان ته مې مخکې له مخکې نه نیمایي پیسې ورکړې، هغه وویل سر له سبا نه موږ د کور په ورانولو پیل کوو، تاسې په کالي ترې همدا نن وباسئ، سبا ته په خیر سره زه مزدوران راولم.

ما وې ښه ده. ټوله ورځ مو له کوره سامان د ماما کور ته وچلاوه، خپلوانو راسره مرسته وکړه، کالي یې راسره وچلول، کور مو ماز دیګر ته خالي کړو، سبا وختي یې د کوره ورانولو پیل وکړو، په څلورو ورځو کې یې ټول کور سم هوار کړو. جمعه خان خټګر وویل: د ختې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای او د کور د جوړېدو د څلور دیوالۍ کچه به سبا ته معلومېږي. ما وې ښه ده جمعه خان اکا یو ځل به بیا د تهدابونو ایښودلو لپاره ملا صاحب او همغه مشران راولو. هغه وې سمه ده، خو دا کار به لږ وختي کوو.

په سبا ته مو همغه کسان راغوښتل، د کلي نقشه ګر خیرو جان مو هم راوغوښت، زموږ د زاړه کور شاوخوا څلور خواو ته زموږ شاړه ځمکه پرته وه، په اوږدوالي او لنډوالي مو خبرې اترې پرې دېرې سره وکړې. بیا دوعا وشوه، ملا امام د قرآن مجید سورت ووی. بیا ورپسې دوعا وشوه او شیریني (خوږه) ووېشل شوه. خیرو جان نقشه ګر تناب راواخیست، په هوار شوي کور او شاړه ځمکه یې په اوږدو خور کړو، چې پوره پنځوس متره اوږدوالی او پینځه ديرش متره یې سور وشو. ټولو وویل دا خو لویه کلا پکې جوړېدی شي. خیرو جان وویل: راځئ، چې د کلا په منځ کې اوس د کور نقشه واچاوو. په لږه شېبه کې یې د څلورو کوټو، یوې اشپزخانې (پخلنځي) او ټټۍ نقشه جوړه کړه. خټګر ته یې وویل: دا دې د کور نقشه، نور په تا اړه لري. جمعه خان خټګر په خټو پیل وکړو، ما نورې څو شپې تېرې ګکړې، له موره مې رخصت واخیست او دوباره خپلې دندې ته لاړم.

سهار چې د خپل کار ځای ته ولاړم، دا مې هیله وه، چې هوسۍ په څه ترتیب سره د خپل راتګ نه خبر کړم. د ورځې دوولس بجې د ټیلفون زنګ راغی. د ټیلفون غوږۍ مې چې پورته کړه، هوسۍ وه. ویلې آخ شکر خدایه ته راغلی یې؟

ما وې هو بېګاه ماښام راورسېدم، ته څنګه یې؟

ښه یم ته څنګه یې؟

زه هم ښه یم، مور دې ښه وه؟

هو د خدای فضل او مهرباني ده، هوسۍ مور او پلار دې جوړ دي.

شکر جوړ دي، مننه. سهار صاحب نن به په پوره څلورو بجو درشم.

ما وې ښه ده، هر کله راشې.

زما ډېر کارونه ډپ پاتې و، بې له کومې دمې مې ضروري کارونه ترسره کړل. په څلورو بجو مې د کار یوه دوسیه هم له ځان سره واخیستله، ما وې چې پاتې کار به په کور کې ترسره کړم. له مطبعې څخه ووتم، بیرون وړاندې لاړم، ځکه چې پخوا مې لا هوسۍ ته ویلي و، چې کله راتلې مطبعې ته نږدې مه درېږه، ګاډی وړاندې دروه. زه په چابکو ګامونو روان وم، هغې موټر په ټاکلي سړک ودرولی و، زما په لیدو هوسۍ له موټره راښکته شوه، د موټر تر څنګه ودرېده. زه چې ورورسېدم، د هغې زړه و چې راغاړې وځي، ما وې نه خپل لاس مې ورمخې ته کړ ستړې مشي مې ورسره وکړه. ویلې دا سې ستړې مشي درسره نه کوم. موټر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختـو راغـاړې وتـه، مـا هـم د هغـې پـه زلفـو سـر کېښود ، ښـه شـېبه همدا سـې پـاتې شـو. بيـا مـو يـو بـل تـه پـه مينـه مينـه سـره وکتـل. د هوسـۍ پـه سـترګو کـې اوښـکې وګرځېـدې، زه هـم وچ کلـک پـاتې وم، بـدن مـې غـوني غـوني شـو. لـه مـونږ دواړو نـه خبـرې هېـرې شـوې، اخـر دومـره مـې ورتـه وويل:

څه چې ځو. هوسۍ اسويلي ويوست يوازې دومره يې وويل: درسره ګورم به!

مـوټر يـې چـالان کـړو، دوه کيلـومټره لاره يـې، چـې ووهلـه ماتـه يـې راوکاتـه ويلـې چېـرې ځـو؟ مـا وې هوسـۍ راځـه نـن بـه دارالمـان تـه لاړ شـو، هلتـه پـه رسـمي ورځـو کـې څـوک نـه وي. هغـې نـور څـه ونـه ويـل مخـامخ يـې کتـل مـا ورتـه پـه يـوه سـترګه ورکتـل، هوسـۍ خپلـه لانـدينۍ شـونډه وچيچلـه، لږ وروسـته يـې وويـل: تـه چـې هـر چېـري غـواړې، هلتـه بـه ځـو. لـه ځـان سـره موسـکۍ شـوه، ورو يـې لـه ځـان سـره وويـل د کـافر زويـه درپسـې ژبـۍ شـوې مـې ده، هـو د کـافر زويـه درپسـې ژبـۍ شـوې مې ده. دا سـې فکـر يـې کـاوه، چـې مـا نـه دي اورېـدل، ماتـه خنـدا راغلـه، پـه کـټ کـټ مـې وخنـدل، ويلـې څنګـه دې وخنـدل؟ هـسې خنـدا راغلـه نـو. ويلـې هلـه زر شـه راتـه ووايه څنګه دې وخندل؟

ما وې هسې مړې تا پورې خو مې نه دي خندلي.

پوهېږمـه چـې مـا پـورې دې نـه دي خنـدلي، خـو ووايـه کـه نـه چـې څنګـه دې پـه زوره زوره وخنـدل؟. د لـومړي ځـل لپـاره مـې سـتا پـه قهقهـه خنـدا واورېـده. ومـې خنـدل پـه دې چـې مـا وې زما مينه به ستا د مينې په اندول زياته وي، خو چې ته مې وليدې، له مانه ډېره وارخطا يې.

همدې پورې دې وخندل؟ ښه نو کله چې ورسېدو ، هلته به درسره ګورم !.

هو ولې نه، پوهېږم چې راباندې په قهر يې.

نو په قهر به نه يم، په ما څه تېرېدل؟ ستا زړه خو سندان دی.

مـا چـې ځـان خبـرې تـه جـوړاوه، دارالمـان د بـڼ پـه دروازه کـې ودرېـدو. لـه ګـاډي نـه ښـکته شـو او دننـه بـڼ تـه ورننوتلـو. نيـغ د فـوارې ترڅنـګ د ګلونـو ټـل تـه مـو ځـان ورسـاوه، څـو ځايـه د څـو ډولـه ګلونـو وړوکـی پټـې و. شـاوخوا تـه يـې د ناجوګـانو ونـې ولاړې وې، پـه دغـه وخـت شـاوخوا تـه هـېڅ څـوک نـه ليـدل کېـدل، پـه شـنه جولګـه بانـدې مـونږ دواړه سـره کـښېناستو ، هوسـۍ د خپـل عـادت سـره سـم راتـه مخـامخ کـښېناستله. لـومړۍ يـې يـوه نازکـه موسـکا وکـړه، بيـا يـې وويل: اوس ووايه چې په کلي کې دې څه وکړل؟

مـا ورتـه د خپلـې مـور د روغتيـا ډاډ ورکـړ او بيـا مـې ورتـه د کـور د جوړېـدو پـه هکلـه ټـولې خبـرې وکـړې. د راتـګ تـر وختـه پـورې مې ورتـه کيسه تېره کړه. هغـې راتـه پـه داسـې حـال کـې غـوږ نيـولی و ، چـې خپلـې تـورې غټـې غټـې اوږدې سـترګې يـې لـه مانـه نـه وېستلې. وربـل يـې نيمـايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ نیولی و، په کېنې پلو مخ یې خدایي تور داغ بیخي بل شان ښه ښکارېده. په پوزه او شونډو کې یې خو هېڅ "خو" نه وه. په دغه ورځ یې نور سینګار پسې کړی و، د چا خبره ګلونو تري د ښا بست له شرمه خپل مخونه په پاڼو پټول. زه هم عجیبه سړی یم، دومره سخت زړی وم، چې هېڅ نه او به کېدمه.

ما چې ورته د کلي کیسه تېره کړه، هغې وویل: رښتیا چې تا ډېر کارونه سرته رسولي دي. هو رښتیا هغه زما ځواب.

کوم ځواب؟

واخ لکه چې هېر شوی دې و که ځنګه؟

زه لږ غلی شوم، کوم سوال ځواب؟

ته چې کلي ته لا تللی نه وې، یوه ورځ د تلو نه دې مخکې ما چې درته وویل: مور سره به دې زما په هکله..... !

هو اوس رایاد شول، هوسۍ په خدای چې په دې باب له موره زښت شرمېږمه، ته هېڅ فکر مه کوه، دا به هرومرو کېږي، خو په دا څو ورځو کې ستا وخت ښه تېرېده؟

ولې نه؟ هره ورځ رابانـدې لکـه د کـال اوږدېـده، څو ځلي رانـه مور مې پوښتنه وکړه، ویلې لورې په دې ورځو کې ډېر سوچ کوې. ما ورته ویلې: مورې د ازموینې په باب فکر وړې یم، چې پاتې نشم. درې ورځې مخکې راته نتیجه اعلان شوه، په صنف (ټولګي) کې لوړې نمرې زما وې.

افرین، تبریک، تبریک هوسۍ ! بلادې کړې ده او زما شیریني؟

په سترګو نور مې هېڅ تکلیف نه درلود، خو یوازې....

ــ یوازې ځنګه؟

په دې وخت کې یې لاس رااوږد کړو، کلک یې وسکونډلم. ما هم په غېږ کې راکلکه کړه.

ویلې پرېږده څوک به راشي. خوشې مې کړه، ویل یې: سهاره دا څه کوې؟ لکه چې د مینې تږ کې دې نه دي زده؟

په داسې حال کې، چې خپل لاسونه مې سست کړل، هغه مې په غېږ کې لکه د ګل په شان وغوړېده. په تندي یې خوله راماته شوې وه، په کراره پخپل ځای کښېناسته. زر زر یې شاوخوا له سترګو نه تېر کړل، یوه شوه چې څوک نه ښکاري، بیا یې سترګې راواړولې، ما وې ګڼې تباه یې کړم. زړه مې په سینه کې ټوپونه وهل، لږه شېبه دواړه چوپ پاتې شو، د مینې په خواله کې او د خبرو اترو په لړ کې ورو ورو لمر په غړغړه کېده، هغې له خپل بکس نه وړوکې کمره رااوویستله، لومړی یې زما څو عکسونه وېستل. ما د هغې عکسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبستل، بیا یې کمره په یوه جګ ځای عیاره کړه، ماته یې کړه راشه، چې یو ځای عکسونه واخلو. د ګلونو په منځ کې مو څو ډوله عکسونه واخیستل. نږدې د ماښام خړنی لګېدله، کورته د تلو په نیت له بڼ نه د راوتلو لاره مو ونیوله. لاس تر لاسه راروان وو، په لاره کې به یو بل ته سره جوخت شولو، بیا به روان شو ترڅو تر موټره ورسېدو. کله چې په ګاډي کې کښېناستو، د سړک په سر او نور نږدې هېڅوک نه ښکارېدل. خپلې چوکۍ نه مې ځان په هغې پسې وراوږد کړو، د مخ نه مې ورنه ښه مضبوطه موچکه واخیستله. هغې وش وش وکړو، څوکۍ ته یې تکیه ووهله، توري زلفې یې په مخ راخورې وې، په تورو سترګو کې یې سرخي هم ځلېده. ما وې موټر دې چلوه، ناوخته دی. لږه چوپ پاتې شوه، وګ ویل زه حېرانه دې ته یم، چې شپه به راباندې څنګه وځي؟ خو راځه د زړه که زما کورته راسره ولاړه شه. زړه خو مې کېږي ولې مور او پلار مې څه بل شانته خلک دي، په خدای که راباندې پوه شي، بې مرګه مې نه پرېږدي.

هوسۍ آخر به څه کېږي؟ صبر ښه شی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صبر کوه صبر خو ښه دی
# په بې صبرۍ معشوقې چا میندلي دینه؟

هوسۍ زموږ ټول عمر په صبر تېر شو، صبر او بیا هم صبر!

غر شو ګاډی یې روان کړو، لږه لاره چې ولاړو، هغې مخامخ وړاندې سړک ته کاته وې ویل: سهاره زما د پوهتون اخرنی سمستر دی، فارغېږم.

نو لا شپږ میاشتې خو درته پاتې دي. شپږ میاشتې خو پاتې دي، مګر د سترګو په رپ کې تېرېږي. زه تاته یو وړاند یز کوم او هغه دا دی، چې همدا نن شپه به دواړه د خپل راتلونکي په هکله سم فکر وکړو، سبا ته به بیا سره خپل نظرونه شریک کړو. څنګه خوښه دې ده؟ ما وې هو ولې نه، له دې نه هم بله ښه خبره !.

په همدې خبرو کې وو، چې زموږ د کور مخې ته ګاډی ودرېد، زه چې له موټره ښکته شوم، هغې ته مې په کړکۍ کې سر وردننه کړو، ما وې راځه زړه وکړه، زما کور به له نږدې نه وګورې، والله که هېڅوک وي، که نه پاتې کېدې، لږه دمه به وکړې بیا به کور ته لاړه شې. موټر درسره دی، څه تکلیف درته نشته دی.

هغه بیا غلې شوه، ما یې لاس ونیو، مال (ما وې) راځه راځه مړې داسې مه کوه.

وې ویل: په یو شرط؟

په کوم شرط

چې نور څه راته ونه وایې، دویم دا چې یوازې نیم ساعت به درسره کېنم، بیا به درنه ځم.

ما وې بیخي سمه ده، ته چې څنګه وای همغسې وکړه اوس نو راځه.

له موټر نه راښکته شوه، زړه نازړه راسره روانه شوه، د ماښام خړه لګېدلې وه، له یوه دوکان نه مې تازه مېوه او هوټل نه مې ډوډۍ راسره واخیستل. کور ته موږ دواړه وختو، د خپل کور په دروازه کې مې ورته هرکلی ووایه. مننه یې راځنې وکړه، زما خو د مجردۍ کور و، هرڅه سره ګډ وډ پراته و، هغه په چوکۍ کېښناسته، وې ویل: خدای دې ستا د کور دا وضعه برابره کړي، موږ دواړو سره په دې خبره وخندل.

راډیو مې ورته چالان کړه، هغې وخت کې ټلویزیون نه و، په ټیپ کې مې ورته د قمرګل یوه سندره کېښوده. ما زر زر په مېز ډوډۍ تیاره کړه، داسې هیله مې تړې وکړه: هوسۍ بخښنه غواړم، څه چې تیار وي، هغه د یار وي. د یوه درونډ مېلمه پالنه او هرکلی را په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، د میني خبرې د میني په ځای پاتې شوې، ما له هغې سره د یوه دروند مېلمه په توګه چلند کاوه، ځکه چې هغه زما کور ته راغلې وه او زه هم د کلي سړی وم.

هغه زما حالت ته حېرانه پاتې وه، خو کله چې یې وخت پوره شو او روانېدله، په دروازه کې یې راته وویل: سهاره څنګه چې مې فکر کاوه، همغسې وختې...

زه وارخطا غوندې شوم، ما وې ولې؟ کومه غلطي خو رانه، نه ده شوې؟

نه نه ته خو غلطي وای، مګر د پښتونولۍ او ښه سړیتوب دربانديې تمامه ده. په دې خپل کور کې دې هډو راته مخامخ هم ونه کاته.

هوسۍ جانې د پښتون لوظ او ژبه کول د پښتني کولتور غوره ببلګه ده. ته پخپله په دې شیانو له ما نه ښه پوهېږې. له کوره راووتلو، تر موټره ورسره ولاړم، د مخه ښې په وخت کې مې بیا هم څنګه چې قدرمن مېلمه د چا له کوره رخصتېږي، هسې چلند مې ورسره وکړو، هغه لاړه.

زه زړه وتلی کور ته راوګرځېدم، د چای پیاله مې ځانته ډکه کړه او کرار په څوکۍ کښېناستم، په دې سوچ کې ډوب شوم، چې هوسۍ سره خپل راتلونکی ژوند څنګه وتړم؟ هېڅ چل یې نه راتلو، ځکه چې هغه د ماړه سړي لور وه، پلار یې د دربار سړی و او زه تش یو لیکوال د کلي سړی.

په دې شپه مې ډېر فکر کاوه، له ډېره سوچه وروسته دغه نتیجه لاس ته راغله، زه په ښار کې خپل کور نه لرم، هغه به راسره کلي ته ولاړه شي او که نه؟ د ولور پیسې هم نه لرم. ما وې راځه سهاره داسې به وکړم، چې سبا ته به همدغه څو شیان هغې ته په مخکې کېدم، چې هغه پکې څه وایي؟

تر نیمې شپې پورې مې چرت او خیال د هغې سره و، پخوا به مې د مجلو او اخبارونو ورځپاڼو لپاره یو نیم مضمون او څه لیکنې کولې، ولې اوس د هغو شیانو نه ووتلم. زموږ په کلي کې متل دی وایي "غریب سړی او برګ یې سپی" هغه رابانديې ښه پوهېده، چې سهار مې له ژونده وېستلی دی.

شپه تېره شوه، سهار بیا د مامورینو سروېس تم ځای کې ودرېدم. لږه شېبه لا نه وه تېره شوې، چې زموږ د لېن سروېس ګاډی راغی. ورپورته شوم او خپلې دندې ته ولاړم. په ګاډي کې راته څو تنو غږ وکړو، ویلې سهار صاحب نه یوازې دا چې په ورځپاڼو او مجلو کې دې لیکنې نشته، بلکې ته هم دا ډېره موده کېږي، چې نه ښکارېږې. د ټولو د پوښتنې لاندې راغلی وم، هغوی ته مې یوه بهانه او بله بهانه کوله. په دغه ورځ مې هم ډېر زیات کار درلود، ټوله ورځ مې لیکنه وکړه، ضروري کارونه مې لږ راسپک کړل ان تر څلورو بجو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه مېـز سـر ټېـټ كـړی وی. د هوسـۍ ټيلفـون هـم راتــه رانغــی، د رخـصـتۍ شـېبې راورسـېدې، مـاموريـن لـه مطبعـې نـه وتـل اخـري تـن زه وم، چـې لـه دفتـر نـه ووتلم. د مـامورينو ګـاډی روانېـده، تـر دغــه وختــه هغــه راغلــې نــه وه. زه پــه دې فكـر كــې وم، چــې د مــامورينو مــوټر روان شــو، زه بــه ددغـې ونـې لانـدې ودرېږم. نـيم سـاعت تېـر شـو، سـاعت تـه مـې پـام شـو چـې پـه دې كـې د هوسـۍ مـوټر پـه مخ كـې راتـه ودرېـد. پـه چټكـۍ لـه مـوټره راښـكته شـوه، زمـا خـوا تـه راروانـه شـوه. كتـل مـې ورتـه چـې رنـګ يـې سـپين اوښـتی و، لـه نـورو ورځـو نـه بـل ډول ښـكارېده. سـترګې مـشې مـو سره وكړل، دستي مي ترې وپوښتل: هوسۍ خيريت خو دی؟ رنګ دې لږ الوتی غوندې دی؟

پــه ډېـره وارخطـايۍ راغلـم، ناوختــه شـوی و، تـا سـره مـې سـودا وه. مـا وې چـې انتظـار بــه باسـې. د تـرور كـره تللـې وم، بېګـاه شـپه مـې هلتـه وه. د هغـوی لـه كـوره ناوختـه راغلـم، خـالي پـه كـور كـې مـې ورتـه وويـل، چـې لـه همـصنفانو سـره د پوهنتـون كتابخـانې تـه ځـم، كېـداى شـي كـور تــه ناوختــه راشــم. زه پــه كــور كــې هــم وارخطـا وم، مــور مــې رانــه دوه ځلــې پوښــتنه وكــړه، ويلــې هوسۍ څنګه داسې وارخطا ښكارې؟ ما وې ټولګي وال راته انتظار دي، چې زر ورشم.

ويلـې ځـه ورځـه لـورې انتظـار بـد شـی دی. اجـازه مـې تـرې راواخيـسته، پـه بيـړه مـې مـوټر راوست، ما وې سهار به مې انتظار كوي.

ډېره مننه هوسۍ درځه چې ځو.

دواړه ګـاډي تـه ورپورتـه شـو، پـه مـوټر كـې يـې راتـه وويـل: بېګـاه شـپه دربانـدې ښـه تېـره شوه؟

هو ښه وه، خو....؟

خو ولې؟

ولې ځكه چې ټوله شپه مې زمونږ د راتلونكي په باب فكر كاوه.

سهاره كه دې خوښه وي راځه دا خبرې به هلته كوو. هو رښتيا چېرې ځو؟

كوم ځاى چې ستا خوښ وي.

راځه چې نن د بابر بڼ ته ولاړ شو.

ډېره ښه، ښه ځاى دې نن وټاكه، درځه چې ځو ښه ساعت به مو تېر شي.

پل ارتن ته چې ورسېدو، داسې يې راته وويل:

زه به تاته د نن نه وروسته خامخا موټر درزده كوم، يوازې به ستا ډرېوره يم؟

مـا ورتـه وخنـدل، ډېـره ښـه ده مـا د ځـان مـوټروان كـړه، ځـومره بـه خوشـاله شـم. د بـابر بـڼ تـه ورسـېدو، نـور ډېـر خلـك ورتـه هـم ور روان وو، هـر ځـوك بـه چـې مخـې تـه راتلـل، مـوږ تـه بـه يـې ښـكته پورتـه كتـل. د بـڼ پـه ښـكته پورتـه ټولـو ځـايونو كـې مـو چكـر وواهـه، د بـابر پـه بـڼ كـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمبا ډنډ دی. هوسۍ ته مې وویل: که ستا اجازت وي، زه به په دې ډنډ کې ولامبم.

هغې وې ولې نه مهرباني وکړه.

هغه راته کښېناسته او ما په ډنډ کې لمبا پیل کړه، ښه ډېر مې ولمبل. تر لمبا وروسته د بڼ لوړې برخې ته لاړو او هلته په یوه ځانته ځای کې کېناستو. هغې راته کړه: اوس نو کولی شې چې خپل بېګانی حالت او خبري راته وکړې.

بېګانۍ شپه مې ډېر سوچونه او فکرونه ووهل، دا څو شیان مې مخې ته خنډ جوړوي.

کوم شیان دي؟

هوسۍ ما درته په لومړي ځل هم ویلي و، چې زه یو دربه دره بنیادم یم، نه مال او دولت لرم، نه ستا د شان سره برابر کور او نه کوم موټر. یو بې وسې لیکوال یم، له بلې خوا زموږ رسم و رواج او کولتور لا هماغه شان کلیوالی دی او ستاسې د ژوند سطحه لوړه ده. که مینه او محبت یوې خوا ته او دا زما ستونزمن ژوند بلې خوا ته، ستا راتلونکی ژوند به ګنې تهدید نه کړي؟ اوس ستا نظر او رایه څه ده؟

هغې راته په ځواب کې داسې وویل:

سهار صاحب! په یاد خو دې دي، چې په لومړي وار په پوښتنه پوښتنه ستا دفتر ته درغلم او د خپلې مینې اظهار مې درته وکړو او تا هم لکه همدا اوس چې دې وویل، همدا دې وویل، خو ما درته په ځواب کې څه وویل؟

هو تا وویل دا هرڅه مې قبول دي، زه یوازې مینه غواړم. ما او تا دواړو په همدغه خبره د مینې لوظ وکړو. دا خبرې دي بیا ولې زما مخې ته کېښودې؟ زه خو چېرې نالوستې نه یم، ژوند، مینه، ښکلا پېژنم. زما د پلار دنیا او ثروت زړه ته مه نیسه، موږ هم پښتانه یو، اخر ژبه او کولتور مو سره شریک دی او بیا خو مینه او محبت دا شیان نه غواړي. هیله منه یم سهار صاحب! دا ځینې شیان له مغزه اوباسه.

یوه شوم ستا د زړه اواز مې واورېد، خو څنګه به وکولای شو چې سره ګډ ژوند پیل کړو؟

زه به په همدې باب فکر وکړم، چې له کومې لارې مې مور او پلار ویوهوم او هغوی راضي شي؟ ته هم یوازې په دې باب فکر وکړه.

ښه ده موږ دواړه باید ښه فکر وکړو او د خپل راتلونکي لپاره غوره لاره وسنجوو.

موږ دواړه لږه شېبه چوپ پاتې شو. څه دروغ درته ووایم، هغه رابانده په مینه کولو کې زړوره وه، وې ویل:

راځه سهاره دا خبرې پرېږده، نورې خبرې کوه. موسکۍ شوه، د بکس نه یې وړوکی شیشه (ائینه) راواخیسته او خپل ځان یې پکې ولید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې دغه آئينه (شيشه) پر ېږده، زما د زړه په شيشه کې خپل ځان ووينه.

هغې مخ راواړاوه او يوه خوږه خندا يې راته وکړه، ويل لکه چې ډېره درباندې ګرانه يم؟

ما وې: د ګرانښت نه خبره وتلې ده، له ژونده دې ويستلی يم.

واخ له ژونده مې څنګه وېستلی يې؟

ژوند خو به وشي، مګر دا شېبې به بيا نه وي.

هو دا خبره مې زړه کې وه، چې ته بايد لکه څنګه چې دې مخکې ليکنې کولې، لا پسې ښه ادامه ورکړې. زما درته خيال دی دا ډېره موده کېږي، چې کوم راډيو يي داستان مې دې نه دی اوريدلی، دا ولې؟

دا ولې؟دا پوښتنه دې له ځانه وکړه.

زه خو ددې پوښتنې ځواب نه لرم، ولې خپل زړه او مينه دې وخت درکړی.

له مانه هم نور ژوند پاتې دی، د پوهنتون اخري ازموينه ده، استاد راته د مونوګراف دنده راکړې ده، والله که مې ټک پکې کړی وي، همدارنګه درسونه مې نه دي ويلي. ازموينې ته تياري نه لرم، ظالمه کله چې کتاب راواخلم او درس ويلو اراده وکړم، نېغ مې مخې ته ودرېږې.

ته د خپل ځان وايې او زما نه؟ هوسۍ موږ دواړه ملامته نه يو، مينه خو دا کانې لري. وروسته له دې به دواړه وعده سره وکړو، چې نورمال ژوند او جانداري به ورسره هم کوو. زه به دا نن شپه هغه نيمګړی د مينې داستان پوره کړم، په راتلونکي جمعې شپه به يې واورې او ته به هم سبا ته د پوهنتون کتابخانې ته ورځې. ته په ما پسې سبا ته مه راځه. د ملاقات وخت به بلې ورځې ته واړاوو.

هوسۍ غلې پاتې شوه، بيا يې وويل: ټيلفون کې به خامخا خبرې کوو.

ولې نه ټيلفون کې به سره احوال اخلو.

په دغه مازيګر مو سره پوره د زړه خواله وکړه، په ګرځېدو او چکر وهلو ستړي شو، نږدې خړه لګېدله، چې په موټر کې سواره شو. د نوي ښار هوټل ته د کباب خوړلو لپاره ولاړو. تر ناوخته پورې په هوټل کې کېناستو، ماخستن تېر يې زه کور ته ورسولم او هغه رانه لاړه. په دغه شپه مې د نيمګړي داستان ليکنه پوره کړه. سبا ته مې راډيو ته داستان وسپاره او د جمعې شپې ته يې د نشرولو امر ورکړو.

د ورځې مې خپل عادي دنده سرته رسوله، لس کم څلور بجې راته هوسۍ ټيلفون وکړو، ويلې زه د پوهنتون له کتابخانې نه غږېږم، د مونوګراف ځينې مواد او ماخذونه ګوتو ته راغلل، زړه مې دی چې مونوګراف پيل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې: ډېره ښه ده، کوښښ وکړه چې ښه مونوګراف ولیکې، تر جمعې به خپل خپل کارونه سرته ورسوو، خو ګوره هوسۍ د جمعې په په راډیویي داستان ته غوږ کېده.

زه یوازې نه، بلکې زما ټوله کورنۍ ورته په ځیر سره غوږ نیسي او راډیویي داستان اورو. ښه ده او به ګورم چې څنګه دې لیکلی دی. رښتیا ستا یوه راډیویي داستان ته ما او مور مې دواړو ژړل او س همدومره، د خدای په امان.

ښاده اوسې، په مخه دې ګلونه.

د رخصتۍ وخت راورسېد، ځان مې په چالاکۍ سره د مامورینو موټر ځای ته ورساوه. د خپل لین موټر ته ورجګ شوم، زیاتو مامورینو راته کتل. ویلې سهار صاحب دا ډېره موده په سروېس کې نه ځې؟ لکه چې موټر دې اخیستی دی که څنګه؟

آخ په دې تنخوا کې موټر اخیستل؟ دا څنګه کېدی شي؟ دا تنخواګانې خو یوازې د یوه تن ګوزاره پرې نه کېږي، پاتې لا موټر؟

یو مامور راته کلک شو، ویلې ښه نو ته په څه شي کې کور ته ځې؟

ما وې له یوه ملګري سره په موټر کې ځم، په همدغې ترتیب سره څو ورځې مونږه له نږدې نه ملاقات او لیدنه ونه کړه. هوسۍ خپل کارونه سم کړل او ما هم خپل. د جمعې شپه راورسېده، پوهېدمه چې په دې شپه به ډېری خلک راډیویي داستان آوري. ماسپښن دوه بجې راته هوسۍ ټیلفون وکړ، ویلې نن خو د جمعې شپه ده، ستاسې راډیویي داستان ته مې خپلې درې تنه ملګرې، چې زما ټولګي والې دي، راغوښتي دي، ښه په غور به یې واورو.

ما وې ښه ده د داستان نیمګړتیاوې به راته بیا وروسته په ګوته کړې.

ویلې: دا خبرې به وروسته کوو، خو دا ووایه چې د نږدې لیدو ملاقات به څه وخت سره کوو؟

ستا چې څنګه خوښه وي.

ویلې د جمعې ورځ به لیدو ته وباسو.

ما وې ښه ده. د رخصتۍ وخت راورسېد. له معمول سره سم بیا د لېن په ګاډي کې کور ته لاړم، د جمعې په شپه مې دوه تنه مېلمانه راغلي وو. په مېلمنو کې یو تن فرهنګي زلمی و او بل یې د کلي نه راغلی یو د پاخه عمر سړی و، په لیک لوست نه پوهېده، خو زیرک سړی و.

د شپې په لسو بجو راډیویي داستان پیل شو، ما ورته کړه: نن شپه زما راډیوي داستان خپرېږي. هغوی دواړه چای څښل او داستان ته یې غوږ نیولی و. کله چې په راډیو کې داستان تراژیدي خوا ته نږدې کېده، د دواړو مېلمنو حالت بدلېدلو، ډېر په غور سره ورته ناست وو. د چای پیالې ترې لا پخوا سړې شوې وې، بعضې وخت به د کلي مېلمه سوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسویلی لـه خـولې وو پـست او لـه ځـان سـره بـه یـې وویـل: هـای هـای ځـوق، ځـوق هغـه بـل زلمـي مېلمـه بـه زر زر ماتـه کاتـه. کـوم وخـت چـې د داسـتان پـه پـای کـې د داسـتان اتلـه وژل کېـږي، د مېلمنـو لـه سـترګو نـه اوښـکې روانـې شـوې. رښـتیا هـم د داسـتان ممثلیـن خـدای دې وبښـي یـوه زلېخـا فخـري او پایـا صـاحب چـې دواړه بـلا کولـه. د راډیـویي داسـتان پـه پـای کـې مېلمانـه دواړه غلـي او خپـه کېناسـتل، مـا وې راځـئ، چـې اوس چـای وڅښـو، داسـتان ماسـتان خـو تېـر شـو. هغـوی مـې دوبـاره عـادي حالـت تـه راوسـتل، هـر څـو بـه مـې چـې هغـوی تـه یـوه موضـوع راواخیـسته، هغـوی بـه لـه داسـتان نـه لیـرې نـه تلـل. د شـپې تـر ډېـره ناسـت وو. سـهار هغـوی لـه چـای نـه وروسـته رخـصت شـول، تقریبـاً لـس بجـې کېـدې، چـې هوسـۍ لانـدې پـه سـړک کـې ماتـه انتظـار باسـي. لـه د کړکـۍ نـه مـې لانـدې وکتـل، چـې هغـه ولاړه ده. مـوټر بـې د سـړک پـه غـاړه درولـی و. پـه چـالاکۍ سـره ورښـکته شـوم، ګـړه بـړه مـو سـره وکـړه، زارۍ مـې ورتـه وکـړې، چـې کـور تـه راسـره وخېژي، خو هغې همدا ویل: راځه چې ځو، نه راځه چې ځو.

په موټر کې سواره شو او د ښار په لوري روان شو. ما وې چېرې به ځو؟

ویلـې نـن جمعـه ده، پـه هـر ځـای کـې عـسکر او طلابـان ګرځـي، د ښـار خلـک هـم هـرې خـوا تـه ځي راځي، نن به که زما اورې کاریز میر ته ولاړ شو.

مـا وې دا خـو بـه ډېـره ښـه وي، چـې مـا هـېڅ نـه دي لیـدلي، نـوې ښـار کـې مـو خـوراکي شـیان راونیول او د کاریز میر په لور مو ګاډی خوشې کړو.

په لاره مې هوسۍ ته وویل، ما خو کاریز میر نه دی لیدلی، تا خو به لیدلی وي؟

ویلـې هـو، زه خـو څـو ځلـې لـه خپلـې کـورنۍ سـره هلتـه تللـې یـم، د لیـدو وړ ځـای دی، ښـکلی بڼ، یخې د کاریزه اوبه، دا انګور او مڼې، څه تازه هوا والله چې د سړي زړه پکې تازه کېږي.

څـه کـم دوولـس بجـې کېـدې، چـې هلتـه ورسـېدو. ډېـر خلـک د ښـار نـه ورتـه ورغلـي وو، هـره خـوا ډلـه ډلـه خلـک ناسـت وو، ځـوک ګـرځګېـدل. ځینـې ځـایونو کـې د موزیـک او موسـیقۍ پروګرامونـه و، چـا کبابونـه پخـول او ځینـې خپلـو کـې سـره مـصروف وو. ماتـه ډېـر پـه زړه پـورې ځکـه وه، چـې د لـومړي ځـل لپـاره مـې هـسې باغونـه او ظـاهر شـاهي بـڼ او ښـکلي ځایونـه تـر سـترګو کېـدل. زه او هوسـۍ د یـوې لـوړې غونـډۍ سـرته وختـو، چـې هلتـه د ارغـوان ونـې او ناجوګـان ولاړ وو. شـاوخوا تـه روانـې یخـې رڼـې اوبـه بهېـدلې، اوړی و خـو بـاور وکـړئ، چـې پـه دغـو اوبـو کـې چـا لاس نـشوای نیـولی، ځکـه چـې ډېـرې یخـې وې. مـوږ د ګلونـو او یخـو اوبـو پـه غـاړه واړول، لـومړی خـو مـو ښـه ډېـره عکاسـي وکـړه او بیـا مـو یـو څـه خـواړه وخـوړل، مـونږ غوندې ډېر خلک راغلي وو او یو تر بله ځاربدل.

تـر ډوډۍ خوړلـو لـږه شـېبه وروسـته اوازه ګـډه شـوه، چـې اعلحـضرت کـاریز میـر تـه راځـي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک اخوا دېخوا نه ګړندي ګړندي سره ګرځېدل، پولیسان راورسېدل، ځای پر ځای په ګرځېدو بندیز ولګېد. هلته وړاندې د ظاهر شاه د اوسېدلو ښکلې ماڼۍ تر سترګو کېدله، د هغه په شخصي استوګن ځای کې ماشي هم نشو ګرځېدلې، خلکو وړاندې سړک ته کتل، ترڅو عمر دې ډېر شه باچا راشي. له مونږه وړاندې څو تنه ځوانان او ښځې ناستې وې، هغه یوه وویل:

ـ از ظاهر کل درینجا هم خلاص نمی شویم.

موږ چې دا خبره واورېده، دواړو پرې ښه ډېر وخندل. بیا مې هوسۍ ته وویل:

دا خلک رښتیا وایي، اوږده موده تېره شوه، چې دا باچاهي کوي، په ملک کې یې هېڅ خدمت نه دی کړی. ژوند یې په ټپه درولی دی، دنیا څومره وړاندې ولاړه، خو افغانستان ورځ په ورځ لاندې وځي. هوسۍ اوس خو خبره راغله، غوږ کېده چې څه درته وایم:

دا زه چې څه لیکم او که ما غوندې نور یې لیکي، دا ټولې ناخوالې او ددې وخت ناروا ګانې پکې په ښېلابېلو ډولونو رانغښتل کېږي، موږ دده د پاچاهۍ نه ژاړو. خدای ښا بسته او له هرڅه نه ډک وطن راکړی دی، خو ددغسې پاچاهانو له لاسه شاړ پروت دی. زه لا په دې خبرو کې وم، چې منډې شوې، هر چا غوښتل چې باچا ووینې او د دوزخ اور پرې حرام شي. موږ هم پخپل ځای ودرېدو، باچا د کاریز میر بڼ ته تشریف راوړو، تقریباً اویا ګامه ترې لیرې ولاړو. هوسۍ وویل کښېه کښېنه سهاره ما خو اعلحضرت ډېر لیدلی دی، څو ځلې د خپل پار سره ارګ ته ورسره ورغلې یم، لا وړه وم چې پلار مې له ځان سره بیولې وم. ما یې آن ټول خاندان لیدلی دی، هر یو یې ځانته د ورځې د مود په موټر کې ګرځي، څه بل شانه ژوند لري.

نو زه خو همدا وایم کنه! دوی دغسې ژوند لري ولې ملت پرېږده، چې په بې وزلۍ او غریبۍ کې شپې ورځې تېروي، نه خلکو ته کار شته او نه روزګار، نه سړکونه جوړوي او نه ښارونه، نه دوا درمل شته او نه درمل ځي. سواد خو هډو درک نه لري، په سلو کې اته نوي خلک ښځې او نر بې سواده دي، نو ته او خدای د سړي زړه درد ونه کړي؟

سهاره په دې خبرو پسې مه ګرځه.

هوسۍ د بې دردو خبرې مه کوه، ته خو هم په دې ښه پوهېږې، سترګې به نه پټوې.

نو څه کولی شو سهاره! ووایه نو ته ووایه کنه!

زه یوازې دا وایم، چې ددې خوار ملت ستونی راډک شوی دی، هر کله چې وي په دوی به ورانیږي. هغې راته خپل اوښکې کوږ کړو، پرې پوه شوم، چې له دې شیانو سره دلچسپي نه لري، ما هم خپلې خبرې بندې کړې او هغې ته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه ده نو راځه چې زه او ته اخوا ته چکر ووهو، ځکه چې دا سيمه ما هېڅ نه ده ليدلې. له دغه ځايه ولاړو، وړاندې د ګيلاسونو ونې تورې نښتې وې، خوا ته يې د زردالانو څو ونې هم ډکې ولاړې وې، توتان خو تک سره نښتي وو. د توتو ونو لاندې د کارېزه يخې پاکې رڼې اوبه بهېدلې. د توت څانګه مې په لاس راوښنډله، دلته توتان ترې لاندې په يخو اوبو کې راتوی شول. موږ دواړو پرې تالان جوړ کړو، ښه د مزې توت مو وخوړل. په ګيلاسونو مو هم خوله خوږه کړه. له يوې بوډۍ ښځې نه مو شړومبې وغوښتې، هغې د نرلور ډک جام شړومبې راوړې، هوسۍ ونه څښلې خو ما په يوه ساه د شړومبو جام تش کړو. هغې راپورې ډېر وخندل، ولې ما خپل د کلي عادت کړی و. بيا وروسته د يوې ناجو ترڅنګه په يوه جولګه کښېناستو، په داسې حال کې چې ما خپل سر د هغې په غېږ کې ايښی و، څه خو د مينې جذبه وه او څه د توتو او شړومبو نشه وه، چې هوسۍ په غېږ کې يې په خواږه خوب ويده کړم. يو وخت مې په مخ هوسۍ غاښونه ښخ کړ، ما ويل ګنې د مخ غوښې يې رانه يوووړې. سترګې مې چې وغړولې، شنه د خندا اوښتې وه. سپينو غاښونو يې برېښ کاوه، زر مې له کاکل نه راونيوه، وش وش يې پيل کړو، ځانته مې راکښه کړه، خړپ له نريو سرو شونډو نه مې ورنه مچو واخسته، ويلې مه کوه څوک به مو ووينې.

ما وې والله که دې پرېږدم، زه چې دې چيچلم، خو دا خبره نه وه او اوس به... ! تر مازيګره مو د مينې ساعت تېری وکړ، په زړه پورې ورځ مو تېره کړه.

د راتلو نه مخکې هوسۍ وويل: په دې کار نه کېږي په پلار مې جرګه وکړه، ترڅو به.... راباندې تېرېږي.

ما وې هوسۍ زه خو دا کار نشم کولی، څنګه او څوک په څه ترتيب ستا په پلار جرګه کړم؟ دا خو څه کلی نه دی، دلته خو زه هېڅوک نه پېژنم، ته څه نظر لرې.؟

هغې د ناز اوښکی کوږ کړ، وې ويل: ليکنې او مقالې خو نه دي، چې ويې ليکې. کله دې جرګې مرکې نه دي ليدلي، ته خو کليوال هلک يې، څنګه نه پوهېږې؟

پوهېږمه خو څوک اخر ستا په پلار جرګه کړم؟

هغه لږه شېبه غلې وه، بيا يې وويل: د خپلې شعبې مدير او رئيس درسره راوله، وروسته مې پلار له ما نه په دې باب حتمي پوښتنه کوي، زه به ورته بيا خپل نظر ووايم. ته لومړی همدا کار وکړه.

زما زړه ته ولوېده، سمدستي مې ورته وويل: هوسۍ کله به دا کار وکړو؟

سبا يې کولی شې، هوښياران وايي په ښو تلوار، په بدو تأمل. کولی شې سبا ماښام ته زموږ کور ته جرګه راولېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيخي مې خوښه ده، سر له سبا به دا كار كه خداى كول وكړم، خو يوه خبره ده چې كه ستا پلار به سبا ته په كور وي او كه څنګه؟

د ورځې له خوا دې ستاسې رئيس ورته ټيلفون وكړي، ورته ودې وايي چې مور مو ماښام ستا ليدو ته درځو. هغه به كور كې وي او تاسې به راشئ.

هوسۍ قسم دى، چې په هرڅه كې ماهره يې، د ماهر توب څه خبره ده، دا زموږ كلتور دى په همدې باب موږه دواړه لږه شيبه غلي او چوپ پاتې شو.

يوه شيبه غلى وم بيا مې له خپل زړه سره صلاح وكړه، په كور او كلي كې مې له خپل مور نه هم پوښتنه وكړه، مور مې هم راته مشوره راكړه. له ډېرې خوښۍ نه مې ناڅاپه له خولې ووتل: زما او ستا به ګنې واده وشي؟ هوسۍ په كړت كړت په خندا شوه، ويلې د كونډې زويه څه چل درباندې وشو؟ د لېونو پېښې دې پيل كړې كه څنګه؟

هوسۍ دا خو پكې شته دى، پوهېږم چې د مينې د ازمېښت نه به موږه دواړه بريالي راوځو. هغه دا ځل په دې ښه خوشاله شوه، ويل يې:

هو خامخا به موږه دا لوبه ګټو.

ښه نو زه به له خيره په دا بله اونۍ كې په دې باب د خپل رئيس سره خبرې وكړم. كه چېرې راسره موافقه يې وكړه، د درتلو او مركې وخت او نېټه به بيا وټاكو. دواړه به په همغه ورځ پرې غږېږو. دواړه همدا خبره سره غوټه كړه، هغې وويل:

راځه چې په همدې خبره له دې ځايه ووځو او راساً د ګلبهار د فابريكې ترڅنګه د پنجشير سيند غاړې ته ځانونه ورسوو. ساعت ته مو وكتل د ورځې يوه بجه وه، د اوړي توده ورځ وه، په موټر كې كښېناستو او د پروان ولايت په لوري مو كش وركړ، هوسۍ هم خپله موټرواني راښودله، آن په اتيا كې يې موټر چلاوه. له مټكه تر پروانه په سيمه كې د سړك پر دواړو خواوو كې د انګورو او نورو مېوو شنه او غوړېدلي باغونه تر سترګو كېدل. د سړك په غاړه ځاى ځاى ځينو خلكو او ماشومانو سره توتان او بادرنګ د خرڅولو لپاره ايښي وو، يو نيم ګاډى به ورته ودرېده او سورلۍ به ترې دغه موسمي مېوې رانيولې. زه ددغې سمسورې سيمې په تماشه وم، چې هوسۍ غر شي موټر ودرواوه. ويل يې دا د پروان د ولايت بازار دى. له موټره ښكته شو او په بازار كې مو په دوكانونو كې ښكته پورته چكر وواهه. يو څه خوراكي شيان مو هم راونيول او د نساجي ګلبهار خوا ته وخوځېدو. له مټكه ورتېر شو، په ښي لاس د غره په اړخ كې دا سړك نساجي ګلبهار ته تللى و. په څو دقيقو كې تر ګلبهاره ورسېدو. تر فابريكې ورتېر شو، وړاندې مو سترګې د پنجشير په سين ولګېدې. ورنږدې شو او د درياب په غاړه مو ګاډى ودراوه. بې واره مو غوښتل، چې د سيند غاړې ته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانونـه ور ورسـوو ، خـوراکي شـيان مـو لـه ځانـه سره واخيـستل او پـه تونـدو ګـامونو سـره هلتـه وړانـدې د سـيند د مـستو څپـو پـه غـاړه پـه لويـو او هـوارو تيـږو بانـدې ورتـه کـښېناستو. سـيند سم پـه مـستۍ او شـور سره مـخ ښـکته روان و. وړانـدې پـه يـوه چـړ کـې يـوه جـالګر جـال ارتـاوه او مـاهي يـې رانيـول، بـاور وکـړئ، هـر جـال کـې بـه يـې راکـښاوه. سـپين غـټ غـټ ماهيـان بـه يـې راوابـستل. مـونږ يـو بـل سره خبـرې لا نـه وې پيـل کـړې، يـوازې د جـالګر جـال تـه مـو ورکتـل. خـواري پـه مـو وکـړه، خـو ماهيـان بـه مـو سم شـمار نـه کـړای شـول، ځکـه چـې هـر مـاهي بـه پـخپـل قـوت سره پـه جـال کـې ټوپونـه وهـل. يـو نـيم مـاهي بـه ځـان پـه سـخته خـوارۍ سره لـه جـال نـه ازاد کـړ او سـيند تـه بـه يـې ځـان ورغوپـه کـړو. د سـيند شـور او د ماهيـانو د نيولـو تماشـې تـر ډېـره پـورې مونږ دواړه هک پک کړي وو ، ما وې هوسۍ نن دې ډېر ښه ځای ته راوستلم.

هغه په خندا شوه، وې ويل: هو زړه دې دی چې څه پکې وليکې.

هـو ولـې نـه، لـيکم خـو بـه وروسـته، خـو تـه دا ښـکلا وګـوره، دا غرونـه، دا سـيند ، دا جـالګر او دا ماهيان.

تا ته څنګه ښکاري؟

ما ته ډېر ښکلی ښکاري، خدای د غسې جنتي وطن راکړی دی، خو.... !

خو دې پکې څنګه وويل؟

سهاره ته پرې له مانه لا ښه پوهېږې.

آها ، هو ، هو ستا په مطلب ورسېدم، کاشکې چې....؟

دا هرڅه چې سمېږي، په مونږ به خاورې اوښتي وي.

هغـې وې راځـه راځـه دا خبـرې اوس پرېـږده، لـومړی بـه دا مېـوه وخـورو او بيـا بـه تـر هغـو ونـو پـورې د سـيند پـه غـاړه ورو ورو ولاړ شـو. کـولای شـو تـر مـازيګره پـورې د سـيند پـه غـاړه چکـر ووهـو. زردالـو مـو د پنجـشير پـه اوبـو کـې يـخ کـړل او بيـا مـو پـه مـزه مـزه وخـوړل. پـه لپـو لپـو اوبـه مو وڅښلې، بيا مو د سيند څپو ته ورنژدې په زړه پورې ځايونو کې عکاسي هم وکړه.

د يـوې ونـې لانـدې يـخ سـيوري تـه د سـيند پـه غـاړه پـه داسـې حـال کـې کـښېناستو ، چـې د چـا خبـره د اوبـو دارې پـه مـوږه دواړه لګېـدلې. د سـنځلې نـه داسـې خوشـبويي رالوېدلـه، چـې سـرې يـې خمـار خمـار کـاوه. د تېـږو لـوړ ديوالـه نـه د ګلابـو د ګلـو ډکـې څـانګې راځوړنـدې شـوې وې، لـږ څـو ګامـه اخوا تـه د يـوه چنـار پـه ونـه کـې ککـو پـه ککـو ککـو نـارو لګيـا و. ناڅاپـه بـه يـوه مـاهي د سـيند نـه رابهـر پورتـه ټـوپ کـړل او بېرتـه پـه سـين کـې غوپـه شـو. مـوږ دواړو څـه دروغ بـه درتـه وايـم، يـو د بـل پـه غېـږ کـې د مينـې خـوب وړي وو. سـترګې مـې وغړولـې، چـې د هوسـۍ د وربـل ويـښتان مـې پـه سـترګو کـې راپرېوتـل، هغـه پـه نـازک خـوب ويـده وه، پـه تنـدي او شـونډو يـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خولو ځاځکي ښکارېدل، راپورته شوم، هغه هم رابیداره شوه، د مازیګر لمر په غرغره و، ما وې هله هوسۍ ویښه شه، چې ناوخته نه شي.

پریږده سهاره لږه شېبه خو به دې پرېښې وای، د خوارې خوبه دې راویښه کړم. د خپل وربل ویښتان یې په یوه لاس پورته واړول، سترګې یې سرې راواړولې، په یوه خاص ناز یې وویل: لکه چې ستا په سترګو کې خوب نشته دی؟

هوسۍ د مینې په خوب ګنې څوک مړېږي؟ که مې پرېښې وای، په خدای چې شپه به راباندې همدلته راغلې وای.

څه پروا یې کوله، څه خطره خو نشته دی؟

هو خطره نشته دی، دا غر او دا بیدیا، کوم لېوه چې رانه خوړلې وای، په تش لاس یو څه به مې کول؟

زما پام پاس غره ته و، چې هغه راباندې نابېره د سیند اوبه راوشیندلې، دومره یخې وې، چې سلګۍ مې وکړې، ما هم لاس ښکته کړو هغې ته مې څو دارې وکړې، لارې لارې یې په مخ اوبه راتوی شوې، درېشیانې خو د دواړو لمدې قیشتې شوې، یو پر بل مو ښه ډېر وخندل، هغې خپل مخ وچاوه، چې ناڅاپه مې په غېږ کې اوچته کړه، اوبو کې دې غوپه کوم، ځان رانه نشې خلاصولی. هغې لاس پښې وهلې. د سیند په غاړه اوبو کې مې ودروله، بوټان یې لامده شول، له لاسه مې ونیوه، هغې اوچت غېږې ته راودانګل، ما هم ښه کلکه په غېږ کې ټینګه ونیوله. په خندا خندا کې یې راته په غوږ خوله ولګوله، په غاښونو یې پوره زور راباندې وکړو، ځان مې ترې په یوه چل کې خلاص کړو او غوښت یې چې وراندې رانه د ګلونو په بوټو کې پټه شي. هغه په منډه کې وه، وروسته مې راونیوه او په زنه مې ورته خوله ښه ښخه کړه او چیغې یې پیل کړې. کتل مې چې وړاندې دوه تنه لاروي په لاره ګړندي راروان وو، موږ یو بل سره پرېښودل، ما وې هوسۍ اوس به ولاړ شو، ناوخته کېږي.

هغې ویلې ښه ده، هن لاس راکړه، چې له دې تېږو نه درپورته شم. لاس مې ورا وږد کړو، په یو ټک مې راپورته کړه. مننه یې راځنې وکړه، پورته د سړک په لور روان شو. لاره نېغه وه، هوسۍ ستړې شوه، پوهېدم پرې چې سینه یې ځي راځي. ما وې: څنګه سا وتیګاه یې؟ که ستړې یې چې په شا دې کړم.

ملنډې راباندې مه وهه، کله هم په داسې کړپو کې نه یم تللې، ولې ډېر خوند راکوي.

په کرار کرار خبرو خبرو کې تر موټره ورسېدو، لمر پرېوت. موږ هم په موټر کې کښېناستو. لږه دمه مو وکړه. هوسۍ راته کړه:

سر له سبا نه به درته ډریوري درزده کوم، یوازې به دا زه درته موټرواني کوم؟

دا خو به ډېره ښه وي، چې موټر راته رازده کړې، بیا نو زه پوه شه او ستا موټرواني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا تـه بـه پـس لـه رخصتی پـه خیـر سـره چمـن ببـرک پلـو تـه سـتا د مـوټروانی د تمـرین لپـاره ولاړ شـو ، خـو ربښـتیا چـې سـبا تـه دې د رئـیس او نـورو ملګـرو سـره د مرکـې وو ایـې. زه بـه درتـه پـه یوه بجه ټلیفون دروکړم.

ما وې سمه ده، سر له سبا نه به دا کار کوم.

مـوټر تـه یـې پـښه ټینګـه کـړه او پـه لـږ وخت کـې د ګلبهـار نساجی نـه تېـر شـو او پـل متـک تـه ورسـېدو ، د ماښـام خـړه لا نـه وه لګېـدلې، چـې پـه پـروان واوښـتو ، میـر بچـه کـوټ تـه چـې ورسـېدو لـږ لـږ تـورتم ولګېـد. لـږه شـېبه وروسـته لـه دښـتې چمتلـې نـه واوښـتو او پـه کوتـل بانـدې سـرای شـمالي تـه ورښـکته شـو. پـه هغـې وخـت کـې خیرخانـه مېنـه کـې یـوازې څـو کورونـه جـوړ شـوي وو ، نـوره ټـوله خیرخانـه شـاړه پرتـه وه. د غـره پـه بـېخ کـې همـدا یـو سـړک تـر ښـاره تللـی و ، ماخـستن کېـده ، چـې ښـار تـه ورسـېدو. پـه خبـرو خبـرو کـې زمـوږ تـر کـوره ورسـېدو ، هوسـی مـوټر ودراوه. له موټره هغه هم راښکته شوه، وې ویل:

ځه ورځه، نور د خدای په امان.

ما وې راځه نن خو زړه رالوی که را سره پاتې شه.

موسکی شوه، هو درسره پاتې شم، چې......

ما وې: زه خو درمعلوم یم.

ولـې نـه ښـه راتـه معلـوم یـې، خـو پـه کـور کـې مـې څـه نـه دي ویلـي، تـه پـه درخواست عجلـه او تندي وکړه، بیا زما پاتې کېدل درسره اسانه دي.

لاس یـې راواوږد کـړ، مـا هـم لاس ورکـړوو خـدای پـه امـاني مـو سـره وکـړه او هغـه لاړه. زه زړه نـازړه کـور تـه پورتـه شـوم. د شـپې تـر ډېـره مـې سـوچ وواهـه، اخـر لـه ځـان سـره مـې پرېکـړه وکـړه، چې سبا ته په خپل رئیس او عمومي مدیر ته دا خبره کوم، چې مرکې ته راسره ولاړ شي.

سـهار چـې کـار تـه ولاړم، تـر لـسو بجـو پـورې مـې د خپلـې شـعبې (څـانګې) ضـروري کارونـه ترسـره کـړل، خـو پـه زړه کـې مـې ددې خبـرې اړخونـه تلـل راتلـل، بـې کـسي هـم بـد شـی ده، د کلـي سـړی وم پـه ښـار کـې مـې څـوک نـه و ، چـې مخکـې لـه مخکـې یـې د مرکـې زمینـه راتـه برابـره کـړې وای، خـو د ورځـې لـس بجـې شـوې، زړه مـې رالـوی کـړ ، د رئـیس خبـر مـې لـه سـکتره واخیـست، چـې ځانتـه دې پـه چـایو مـصروف دی. اجـازت مـې واخیـست او ورننـوتلم. ورسـره کـښېناستم، دا خبره مې ورسره یاده کړه، لومړی یې وخندل او بیا یې راته کړه:

سهار صاحب نو دا خبره ده، چې په دې ورځو کې دې په نشراتو کې کم وینم؟

مـا وې نـه نـه رئـیس صـاحب ! ښـښنه غـواړم دومـره سـپین سـترګی نـه یـم، خـو څـه وکـړم نـور څـوک مـې نـشته دی، د خپلـې مجبـورۍ لـه املـه مـې یـوازې تاسـې تـه سـترګې غړېـږي. تاسـې زمـا هـر څـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاست.

په دې خبره رئیس خوښ شو، وې ویل: ډېره ښه ده، دغه خلک لږ و ډېر پېژنم، پښتانه دي مگر له دربار سره تل پاتې شوي دي، زموږ به وا اوري او که نه؟

له خپلې چای پیالې نه یې گوټ وکړو بیا یې وویل:

نور درسره څوک بیا یې؟

ما ویل: تاسې او زموږ د شعبې مدیر صاحب. ستاسې په نظر څنگه؟

هغې ویل: بیخي سمه ده، هغه هم د تجربې خاوند دی، سپین ږیری دی، په دې شیانو ښه پوهېږي. کله دې نیت دی چې ورشو؟

ما ویل: مازیگر ته به ورشو، پنځه بجې به د هغوی کور ته ولاړ شو.

هغې ویل: خبر دې ورکړی دی، په کور کې دی که څنگه؟

هو نن هغه په کور کې دی، له کاره چې رخصت شو، د هغوی کور ته به راساً ولاړ شو.

ویل یې: سمه ده زه دې په مخ کې یم، په دواړو سترگو ولې نه، خو ته هغوی ته لومړی خبر ورکړه، هسې نه چې جاله مو په کار وخېژي.

ما ویل: ښه رئیس صاحب، زه به ورته خبر ورکړم.

رئیس ویل: ښه ده، په پنځه بجو به ولاړ شو.

زه ترې راووتلم، خپل د کار مېز ته چې کښېناستم، شرنگ ټیلفون راغی، غوږی مې چې پورته کړه هوسۍ وه، ویل یې: سهار صاحب ورځ دې ښه، څه دې وکړل؟

ما ویل: نن په پنځه بجو درځو.

ښه نو داسې وکړه، چې زموږ کور ته ټیلفون وکړه، مور ته مې وو ایه. زه به شل دقیقې وروسته کور ته ورسگیږم، ته هم شل دقیقې وروسته زنگ ووهه.

ما وې ښه ده، د ټیلفون غوږی مې چې کېښوده، حېران شوم ما وې خدایه اوس یې مور ته څنگه یاده کړم؟ ساعت ته مې کتل نیم ساعت وروسته مې ورته زنگ وواهه، برابر هوسۍ د ټیلفون غوږی پورته کړه، ما وې زه یم. هغې ځان په ټیلفون کې نابلده وینو، ویلې بخښنه غواړم تاسې څوک یاست؟ مور مې هو شته دی. دا زموږ خبري گمور یې اورېدلې، یانې مور یې د لور خبرې اوریدلې.

موري ای موري! چا ټیلفون کړی خبرې درسره کوي. مور یې د ټیلفون غوږی واخیسته، ویل یې: بلې، بلې څوک یې؟

السلام علیکم زه یم سهار لیکوال! مور جانې نن په پنځه بجو زموږ د مطبعې رئیس او زه تاسې کره درځو، خان کاکا ته وو ایه، چې په کور کې اوسي، له هغه سره یې څه کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یې: ښه ده وروره ! زه به یې ورته ووایم.

ښه شوه مننه تر لیدو پورې د خدای په امان، خدای په امان.

زړه مې درزا پیل کړه، ما وې دا به څنګه شي؟ کار به مې وشي او که نه؟ یو ساعت په سوچ کې ډوب لاړم، ما وې بې کسي دې ورکه شي که مشر ورور مې وای، پلار مې ژوندی وای ما ته به د دې کارونو څه ضرورت و.

هو رښتیا نه پوهېږم، چې زه ورسره ولاړ شم او که نه؟ زموږ په کلي کې خو هلک د کوژدن والا نه ځي، چې دلته به څه ډول رواج وي. داسې به وکړم، چې د رئیس سره به ولاړ شم، ځان به ورو پېژنم، د مرکې او خبرو اترو په وخت کې به ترې زه راووځم، دوی به سره خبرې وکړي.

رخصتي شوه، مامورین رخصت شول، څو دقیقې وروسته رئیس صاحب او زموږ لوی مدیر درې واړه د رییس په ګاډي کې د هغوی کور ته روان شو. په لار کې راته رئیس او لوی مدیر ویل:

سهار صاحب ! خدای دې وکړي، چې دا خلک زموږ مرکه ومني او ستا کار په خیر سره وشي.

ما ورته خالي خندل او دوه مره مې ورته وویل:

رئیس صاحب ستاسې برکت او لحاظ ډېر دی، هیله ده چې خالي لاس به نه راځو.

د هوسې دوی کور ته ورسېدو، د دروازې زنګ مو وواهه، یو هلک دروازه خلاصه کړه، ما ترې د ستي وپوښتل:

وروره ! خان کاکا په کور دې دی؟

هغه وویل: هو راځئ.

رئیس صاحب خپل ډرېور ته وویل:

هلکه همدلته او سه، موږ ننوتلو.

دننه د کور په حویلۍ کې باغچه وه، چې ډول ډول ګلونه پکې و، د حویلۍ منځ کې په یوه نرۍ د سمټو په پخه لاره مخامخ یو ښکلي ودانۍ ته ورروان وو.

خان کاکا له دروازې نه راووت او زمونږ مخې ته راروان شو، له ورایه په خندا شو، ویل یې: راځئ صاحب. موږ نزدې ورغلو، هغه لومړی له رئیس سره د غېږې روغبړ وکړو او بیا یې له موږ سره. د کور لوی سالون ته یې لارښوونه وکړه، هغه مخکې او موږ ورپسې سالون ته ننوتلو او په کوچونو کې کښېناستلو. ما لومړی اجازت وغوښت او بیا مې رئیس ورمعرفي کړو او ورپسې مې لوی مدیر او بیا مې ځان وروپېژاند. هغه راته ښکته پورته وکتل، وار دواره یې وویل: ته کوم سهار هغه چې راډیو یې داستانونه لیکي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې رئيس له مانه مخکې شو، ويل يې:

همغه دی، دا ډېر لايقه او د ملک پياوړی ليکوال دی، د ښه سرېتوب هم پرې تمامه ده.

لوی مدير زما په هکله داسې وويل:

خان کاکا! دده په شان ليکوالان ډېر کم لرو. دی د ننګرهار د سيمې دی، د يوې ډېرې ښې کورنۍ په غېږ کې رالوی شوی دی، د کابل پوهنتون د ژورنالېزم څانګې نه فارغ شوی دی، زموږ تکړه همکار دی.

په دې وخت کې خان کاکا وويل:

تاسې باور په خدای وکړئ، چې مونږ د جمعې شپې ته ورځې شمارو، وايو چې کله به د جمعې شپه راځي، چې دده راډيويي داستان واورو.

رئيس وويل: زه فکر کوم د ټول افغانستان خلک دده راډيويي داستانونه په شوق او غور سره اوري. خان کاکا! خدای دې لا برې ورکړي، زموږ د سر تاج دی، افرين دې په ده وي.

يوه هلک چای راوړو، ورپسې يې کلچې او ډول ډول ميوې راوړې، يوه پياله چای مو، چې وڅښل، ما رئيس ته وروکتل، ورته مې وويل:

رئيس صاحب زه به ستاسې ډرېور سره په هغه بل کار پسې ولاړ شم، په اوه بجې به دلته راوګرځم.

هغه پوه شو او راته وې ويل:

سمه ده، بيرته به همدلته راشې.

زه ترې راروان شوم، د هوسۍ پلار راته وويل:

بچې بيرته خو راځې.

ما ويل هو خان کاکا، يو کار پسې ګځم، بيرته راځم. له سالون نه چې راووتلم، هوسۍ د سالون څنګ ته د ګلونو په منځ کې په يوه څوکۍ ناسته وه، کتاب يې لوست، ما چې وروکتل موسکۍ شوه او په دې وپوهېده، چې د مرکې د خبرو په وخت کې دی ووت.

مونږ دواړه سره پوه شو، خو زه ډېر زر بهر ووتلم، د رئيس ډرېور په موټر کې ناست و، ما وې راځه اندېوالـه يو چکر چېرې ځو. په موټر کې ان تر نوي ښاره ولاړو، چرت اخيستی وم، ما ويل چې دا به څه کېږي؟ مخې ته يو سکانداز ټيلفون راغی، ما وې چې يو ځل هوسۍ سره وغږېږم، چې څه نظر لري.

ټيليفون ته ورغلم، زنګ مې چې ورته وواهه، پخپله هوسۍ وه، ما ويل: همدا اوس ستا د پلار سره د مرکې خبرې روانې دي او زه ترې راووتلم، ځکه چې ته خو پوهېږې، د پښتنو په کولتور کې هلک په جرګه او درخواستۍ کې نه کښېني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې وويل:

هو همدغسې ده، ته خو بېرته راځې؟

هو راځمه.

زه به د سالون ترڅنګه په کړکۍ کې غوږ ورته ونيسم، ښه شوه په مخه دې ښه.

له ډرايور سره مې په موټر کې چکر وواهه، په دې وخت کې مې يو سګرټ ګل کاوه او بل به مې لګاوه، تقريباً يو نيم ساعت موږه ځنډ وکاوه او بيا دوباره ولاړو. د هوسۍ د کور مخې ته مو ګاډی ودراوه، ما د دروازې زنګ وواهه، همغه هلکی بيا راغی، دروازه يې راخلاصه کړه، ويلې راځه مهرباني وکړه. زه په چرت کې ورننوتلم. کتل مې چې هوسۍ هلته وړاندې د خپلې کوټې په کلکين کې سر راوېستلی دی، لاس يې راته وخوځاوه او خولې ته يې لاس ونيو، پوه شوم، چې هغه په خندا شوه. ما زړه کې وې لکه چې کار دې شوی دی، د سالون په دروازه ورننوتلم، سلام مې واچاوه، رئيس راته وويل:

سهار صاحب راغلې؟

ما وې هو راغلم.

هغه خان کاکا ته مخ واړاوه ورته وې ويل:

خان کاکا اوس به درنه رخصت شو، بيا به که ژوند باقي به سره خبر شو. هغه ويل: سمه ده، خو دستي يې وويل:

رئيس صاحب شپې ته را سره پاتې شئ، ډېر به خوشاله شم.

رئيس وويل:

مننه خان کاکا خدای دې تل ژوندی لره، زموږ دې قدر وکړو، خدای دې روغ او ښاد لره، اوس نو اجازت راکړه.

له خان کاکا نه مو رخصت راواخيست او ترې نه راووتلو. کله چې په موټر کې سره کښېناستوو لومړی راته رئيس داسې وويل:

سهار صاحب! مونږ ورسره ستاسې د خپلوۍ په باب خبرې وکړې، هغې زموږ ټولو خبرو ته غوږ نيولی و، کله چې زموږ خبرې پای ته ورسېدې، هغه لږه شېبه غلی و، بيا يې وويل:

تاسې زما سر سترګې ياست، دا خو زموږ او ستاسو رواج دی، د خور او لور پوښتنه کېږي، خو دومره درته ويلی شم چې زما د لور په باب راته دوه درې کسانو ويلي دي، ما لا تراوسه له خپلې ښځې سره او لور سره په دې باب څه نه دي ويلي، لومړی خو به زه له هغوی سره د خپل کاله مشوره وکړم او په خاصه توګه د لور سره به ګړېږم، چې هغه څه غواړي، هغسې به کېږي، ځکه چې زه همدا ايکې يوه لور لرم، هغه هم پوهنتون کې ده، زه پخوانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی یم سپین ږیری یم، خو هغه ډېر پخوانی فکر را سره نشته دی، څنګه چې زما لور غواړي، همغسې به وکړو. تاسې به بیا خبر شئ، اوس در ته هېڅ نشم ویلی، تاسې را نه خپه نشئ.

مونږ چې یې نظر واورېد، بد نه و، اوس نو په تا پورې اړه لري.

لوی مدیر راته کړه: سهاره رښتیا ووایه دا خلک او ستا د خپلوی رېشته به څنګه شي.؟ که راته روښانه یې کړې!

ما هغوی ته د هوسۍ ټوله کیسه وکړه او دا مې هم ورته وویل: زما په خیال کې د ښځې او واده کول خیال هډو په سر کې نه و.

هغوی دواړه په کړت کړت وخندل، رئیس وویل: ښه نو چې دا خبره ده، لوبه تا وړې ده. مور ټولو په ګډه سره وخندل. هغوی دواړو راته وویل: لږه موده وروسته ورپسې څوک ورولېږه، هرومرو به دستمال درکړي. زه یې تر کوره ورسولم، له هغوی نه مې مننه وکړه او خپل کور ته ولاړل. ماښام نږدې و، کور ته ننوتلم، لومړی مې د ډوډۍ غم ځانته وخوړ او بیا مې تر نیمې شپې همدا چرتونه وهل، هوسۍ رانه نور د دنیا کارونه شاته کړي و، سبا یې چې کار ته لاړم، هېڅ ډېره مې کار ته نه لګېده، اخوا دېخوا لر بر کېدم، په دې تمه وم، چې هوسۍ به راته ټیلفون کې څه پیغام لري. یوه بجه شوه، نور مامورین د غرمې ډوډۍ ته تللي وو، چې زنګ راغی، زه خپله شعبه کې ناست وم، زر مې غوږۍ پورته کړه، چې د هوسۍ غږ راغی، بې له کومې بلې خبرې یې وویل:

سهار صاحب لکه چې کار دې ونشو.

ما وې: مړې زړه به مې ودربږي، دا خبره مه کوه. بېګاه راهیسې مې والله که خوب کړی وي، په سودا او چرتونو مې رنګ زېړ زعفران شو.

ویل یې: اخ دا څه وایې؟ سهاره ته خو پوه سړی یې لکه چې زه دې تراوسه سمه نه یم پېژندلې، ته خو په دې هم پوهېږې، چې پښتنې انجونې د پردو هلکانو سره ګرځېدی نه شي، څو سره یې به یې چې ښکاره دې مینه وکړي. په لومړۍ ورځ مې درته څه ویلي و؟ هېر کړې دې دي؟

نه نه هېر مې نه دي، خو....

خو یې لا څه وي؟ د مینې تار مو غښتلی دی، مه وارخطا کېږه، خو دا زموږ د ټولنې دستور دی ستا غوږ دی؟

هو هو ولې نه، غوږ مې دی.

بېګاه تر نیمې شپې پورې مې مور او پلار په همدې خبره سره لګیا وو، زه له کتابخانې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوختـه راغلـم، د ماښـام لـه ډوډۍ نـه وروسـته پخپلـه کوټـه کـې پـه کتـاب ویلـو مـصروفه وم، چـې مـور مـې راغلـه، ویلـې هوسـۍ لـورې تـه راشـه پـلار دې غـواړي. زه د واره پـوه شـوم، مـا وې ښـه مورجـانې درځمـه. لـږه شـېبه مـې ځنـډ وکـړو ، لـه ځـان سـره مـې ښـه سـنجش وکـړو ، بیـا ورغلـم. هغوی دواړه په سالون کې ناست وو ، لومړی مې سلام واچاوه، پلار مې راته وویل:

لورکۍ راځه دلته زما ترڅنګه کښېنه.

ما وې: ښه پلاره.

پـلار مـې راتـه لـومړی ډېـرې خبـرې وکـړې، زمـا د راتلـونکې ژونـد پـه بـاب یـې ډېـرې خبـرې وکړې. بیا یې راته وویل:

لـورې ډېـر خلـک رانـه سـتا پـه بـاب پوښـتنه کـوي. دا یـې هـم وویـل چـې پلانکـی فرقـه مـشر دې زوی تـه غـواړي، زمـا وراره، تحـصیل یافتـه دی ښـه ځـواني خـدای ورکـړې ده، یـو بـل سـردار یـې راتـه وښـود ، چـې مـوټرې او مـانۍ لـري او پـه پـای کـې یې سـتا د مرکـې هـم راتـه وویـل، خـو دا یـې هـم زیاتـه کـړه، چـې سـهار لیکـوال دی، مګـر غریـب سـړی دی، کـورنۍ یـې معلومـه نـه ده، چـې څوک دي؟

مـا ورتـه پـه ادب وویـل: پـلاره زه پخپـل سرنوشـت فکـر کـولی شـم، شـرم او حیـا راځـي، چـې دا خبـرې کـوم، خـو آخـر رابانـدګ کېـږي. زمـا کـوټې او مـوټرې نـه دي پـه کـار، یـوازې بـه هغـه څـوک راسـره راتلـونکی ژونـد شـرکوي، چـې زمـا راتلـونکی ژونـد ورسـره ښـه تېـر شـي او هغـه بـه همدغـه لیکوال وي، چې مې درته د لالا په واده کې پېژندلی و.

پلار او مور مې دواړو وویل: هو همغه لیکوال، چې پرون یې مرکه رالېږلې وه.

پـه لـومړي سـر کـې دواړه چنـدان رضـا نـه وو ، خـو تـر نیمـې شـپې یـې وغږنجولـه پـه پـای کـې یـې وویل:

لـورې سـتا رضـا بـه وکـړو ، خـو اینـده دې نـشو تـضمینولی. مـا وې: خپلـه رایـه او نظـر مـې درتـه وړاندې کړو ، نوره ستاسې خوښه.

زه تـرې خپلـې کـوټې تـه ولاړم، هغـوی دواړه نتیجـې تـه رسـېدلي وو. سـهار چـې پوهنتـون تـه تلمه، مور مې راته وویل:

لـورې سـتا خبـره مـو ومنلـه. لـه خوشـالۍ نـه پـوه نـه شـوم، چـې پوهنتـون تـه څنګـه ورسـېدم، لـه ډېرې خوشالۍ نه مې د موټر دروازه برسېره پرېښې وه. سهاره مبارک دې شه.

ما وې اخ دا څه وایې؟

څه وایم همدغه وایم، نورې خبرې به پس له رخصتۍ کوو ، زه به په څلور نیمو بجو درشم.

ما وې سمه ده، د خدای په امان، د ټیلفون غوږۍ یې کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې لــه خوښــۍ نــه ټوپونــه وهــل، حېـران وم، چــې پــه څـه زېرى وكـړم، بـوډۍ مـور خـو مـې پــه خپـل كلـي كـې وه، پـه منـډه منـډه د مطبعـې پـه ډېـر وخـانگو كـې خوشـې وگرځېـدم، راوگرځېـدم، څـوک بـه چـې مخـې تـه راتلـل، همـدا بـه يـې ويـل: سـهار صـاحب نـن هسـې تـازه ښـكارې. پـه دغـه ورځ مــې لــه ډېــرې خوشــالۍ نــه آن تــر پېنځــه بجــو پــورې ډوډۍ ونــه خــوړه، څلــور نيمــو بجــو تــه انتظـار وم، چــې هوســۍ راشــي او ټــولې خبــرې راتــه وكــړي. د رخـصتۍ پــه وخـت كــې لــه ټولــو مــامورينو نــه مخكـې لــه شــعبې نــه ووتلـم، د مطبعــې مخــامخ ســړک بانــدې روان شــوم، چــې د هوســۍ د راتلـو لاره وه. پـه سـړک تـر ډېـره لاړم، وړانـدې د هغـې مـوټر راروان و، زمـا خـوا تـه چـې راورسـېده غـر شـي مـوټر يـې رانـه تېـر كـړو، زه حېـران شـوم، چـې دا ولـې؟ كتـل مـې چـې هغـه دوبـاره شـاته راغلـه، خـوا تـه يـې راتـه بريـک ونيـو، دروازه يـې خلاصـه كـړه، شـنه د خنـدا پـاتې وه، ما وې څنگه رانه تېره شوې؟

باور وكړه، چې ستا په سوچ كې وم، خداى درباندې ړنده كړم.

ما وې: كوه كوه دا نزاكتونه كوه، څه دې كمى دى، د سهار هم خداى شته دى.

ويـل يـې: راوړانـدې شـه د ظـالم زويـه گيلـې پرېـږده، مـخ يـې راتـه كلـک وسـكونډو، وش وش مې وكړو دواړه موټر ته وختو.

ويـل يـې: راوړانـدې شـه اوس نـو ټولـه ټولـه سـتا يمـه، خـرپ شـو مـوږ دواړو سـره مـوچي كـړل. له ډاره مو شاوخوا ته وكتل، ما وې: هوسۍ چېرې ځو؟

هغـې ويـل نـن بـه يـو ځانتـه ځـاى تـه ځـو، ترڅـو ښـه پـه زړه پـورې د زړه خوالـه وكـړو. مـا وې پغمـان تـه بـه لاړ شـو، مـوټر مـو د پغمـان پـه لـور خوشـې كـړ. پـه ميـرويس ميـدان كـې مـې هوسـۍ تـه وويـل: دلتـه بريـک شـه يـو څـه خـوراكي شـيان بـه رااخلـو، مالـه ډېـرې خوشـالۍ نـه د غرمـې ډوډۍ نه ده خوړلې.

ويـل يـې: د كونـډې زويـه څـه شـى درتـه واخلـم، تـه پـه مـوټر كـې كېنـه، زه بـه درتـه كبـاب راواخلم.

مـا وې: نـه تـه كېنـه زه بـه گرځـندى لاړ شـم. مـوږ دواړه پـه مـوټر كـې د كبـاب پخلنځـي ځـاى تـه ولاړو، كبـاب او تـازه مېـوه مـو راونيـوه او مـوټر مـو پغمـان تـه خوشـې كـړو. پـه لـږ وخـت كـې د پغمـان پـه دو سـركې وروا وښـتو او نېـغ د تپـې بـڼ تـه روان شـو. شـېبه پـس د تپـې بـڼ تـه ورسـېدو، همغـه ځـاى تـه لاړو، چـې پخـوا يـو ځـل ورغلـي وو. لـومړى مـو څـه خـواړه وخـوړل او بيـا د گلونـو گـڼ ټـل تـه ورغلـو. پـه بـڼ كـې نـور خلـک ښـځې او نـر گرځېـدل، خـو د جمعـې د ورځـې پـه شـان پكـې دومـره ډېـر څـوک نـه وو. مـونږ هغـه ځـاى تـه لاړو، چـې بيخـي ځانتـه و، هېڅـوک هلتـه نـه و، يـوازې د بـڼ مرغيـو شـور رااخيـستى و. مـونږ دواړه د ريـدي گلونـو پـه مـنځ كـې كـښېناستو، شـاوخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـو د ناجوګـانو او ګلابـو بـوټـي ولاړ وو، مـوږ چـا نـه لیـدلو، خـو مـوږ لـه دغـه ځایـه هـر څـوک لیدلی شول.

معمـولاً مـو لـومړی یـو د بـل عکاسـي وکـړه او بیـا دواړه نـږدې څنـګ پـه څنـګ سـره کېناسـتو. هوسـۍ راتـه د تېـرې شـپې د مـور او پـلار ټـولې خبـرې یـو ځـل بیـا وکـړې، خـو د خبـرو پـه پـای کـې یې وویل:

اوس درتـه یـوه مـشوره درکـوم او هغـه دا ده، چـې پـه همـدې ورځـو کـې بـه خپـل کلـي تـه لاړ شـې، کاکـا دې او نـور دوه درې کـسان نـږدې خپلـوان دې او دوه درې تـور سـرې درسـره راولـه، چې د مور او پلار سره مې خبرې وکړي او د خپلوۍ دستمال درکړي. ته پکې څه وایې؟

مـا وې: هوسـۍ تـه ماتـه داسـې پخـې مـشورې راکـوې لکـه چـې دا ټـول کارونـه تـا کـړي وي، د یـوه مـشرورور او مـور او پـلار غونـدې مـشورې راکـوې. لـه مـا نـه دې پـه دې مـسایلو زیـات سرخلاص دی.

هغـه موسـکۍ شـوه، وې ویـل: سـهاره دا زمـوږه ټولنـه ده، د خپلـې ټـولنې رواېتونـه، رواجونـه او کولتـور پېژنـو. مینـه بـه کـوو، خـو لـه خپـل کولتـور سـره سـمه، اګـر چـې دلتـه ګرانـه ده، پـه پښتنو کې برالا مینه کول جرم دي او یو خو ته یې چې...

هوسـۍ پـوهېږم، چـې راتلـونکې ژونـد بـه دې راسـره ډېـر ښـه تېـر شـي، مـا او تـا دواړه د خپلـې ټـولنې پـه غېـږ کـې رالـوی شـوي یـو، هـر دسـتور یـې زمـوږ پـه لېمـو، نـو کـه سـتا خوښـه وي د پنجشنبې پـه ورځ بـه یـانې سبا نـه بـل سبا تـه زه کلـي تـه لاړ شـم، چـې د کـور د جوړېـدو پـه حـال ځـان پوه کړم او هم مې خپلې مور او کاکا سره ددې خبرې په باب تصمیم ونیسم.

هغې وویل: ډېره ښه ده، سبا به درته یو څه پیسې هم له ځانه سره راوړم.

ما وې: هوسۍ یوه پوښتنه درنه کولی شم؟.

هغې ویل: ولې نه سهاره، مهرباني وکړه.

ما وې: دا پیسې چې ته ماته راکوې د کور نه یې راوړې او که خپلې ځانګړې پیسې لرې؟

هغـې ویـل: لـه پخـوا نـه چـې پـلار او مـور مـې پیـسې راکـړې دي، ټـولې مـې پـه بانـک کـې ذخیـره کـړې دي، مـور او پـلار نـه یـې نـه غـواړم او کـه تـرې وې غـواړم، هغـوی هـم راکـوي. پـه بانـک کـې لا پـوره پیـسې لـرم، زړه مـه ښـکته پورتـه کـوه، د زړه ارمـان بـه دې د ژونـد پـه ټولـو چـارو کـې پـوره کړم، څه ښه وایې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې وارخطا نشې لالیه
# په وارخطا مورچل دې زه ولاړه یمه

د سترګو توره سهاره ! یوازې تا غواړم، پیسې او دنیا مې نه ده په کار، پرېږده، چې دواړه راتلونکې ژوند په مینه تېر کړو. اوس دا خبرې پرېږده. د پغمان تپې په بڼ کې د دا شنه اسمان د لاندې د ګلونو په منځ کې ددې شېبو نه خوند واخله، نورې چارې پخپل وخت.

ما وې: هره خبره دې راته د کاڼي کرښه ده هوسۍ ! زما ختلی ژوند به وغوړوې، ستا په مینه ایمان لرم، حسن دې راته سم د خوږې مینې سبق راکړو، د مینې ځینې رښتیانۍ کیسې مې اورېدلې وې، خپله مې لیکلې هم دي، خو زه ایله اوس د مینې او محبت په راز پوه شوم، که ټولې مینې وتلل شي، خدای دې چې زمونږه د دواړه کنډه به پرې درنه وخېژي.

هوسۍ وویل: هو لکه ته چې له ما سره په دې کنډه برابر یې.

په همدې خبره یې راته زړه راوداغه، بې واره مې ورنه غېږه واخیسته او خړپ شو، چپه مې ترې واخیسته. د هغې په تندي هم نرۍ خوله راغله، دا یې د تودې مینې نښه وه، وربل یې په مخ رامات شو، اننګې یې یاقوتي شول، سترګې یې توري توري شوې، په بدن یې د محبت ځپه راغله، وجود یې غنې غنې شو، خپلې شونډې مې د هغې شونډو ته ورنږدې کړې، د مینې تودې تودې علامې مو په بدن راخوري شوې، په یو بل کې سره ورک شو، خدایږده چې څومره وخت به سره ورک و، یو وخت د خلکو خبرې مو تر غوږ شوې، چیغې وې، ناري وې چې راپیدا شو، د بڼ کېڼ خوا ته وړاندې د دوو کسانو جګړه وه، نور څو کسان ورته راټول شوي وو، شور او غالمغال یې تر مونږه راتلو. موږ راپاڅېدو او د قرغې په سړک مو کاله ته د راتلو نیت وکړ، موټر کې کېناستو او د قرغې د ډنډ پلو سړک مو ونیو. په لاره کې څو کورونه مخې ته راغلل، ونې او باغونه وو، په لږ وخت کې قرغې ډنډ ته ورسېدو. د ډنډ په اړخ کې جګه تپه وه، چې د ناجوګانو ونې پکې ولاړې وې، سړک یې لاندې له اړخ سره تېر شوی و، هوسۍ په کرار کرار موټر چلاوه، ویل یې:

سیلونه کوه او زه به موټروانې کوم.

ما وې: خو ماته موټر رازده کړه، بیا به ته سېلونه کوې.

ویل یې: دا کار حتمي کوم، کله چې له کلي نه راوګرځېدې، موټر به زده کوې.

موټر یې ودراوه، پخپلو پښو چکر ته روان شو، بنې بشر نه و. یوه ټوټه چې لاړه، د ډنډ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه وروکې کښتۍ ولاړه وه، په خوا کې یې یو تن ناست و، ما ترې پوښتنه وکړه:

انډیوال‌ه په دې کښتۍ کې تلای شو؟ ویل یې: ولې نه، شل افغانۍ به راکړې، کولای شئ چې بیا په کې یو ساعت سفر وکړئ.

سمدستي مې شلګون په لاس کې ورته کېښود، هغه د کښتۍ چل راوښود، مونږ دواړه کښتۍ ته پورته شو، کښتۍ مو د ډنډ منځ ته خوشې کړه، د لاس په چپو مو کښتۍ ښه تونده روانه کړې وه، ترڅو چې د ډنډ منځ ته ورغلو. د ډنډ منځ له وچې نه ډېر لیرې و، پوره واټن یې لاره. مونږ دواړو د ډنډ په منځ کې یو پر بل کې سترګې ښخې کړې وې، تر ډېره مو د سترګو جنګ وکړو، بیا مو شاوخوا سیمه، چې څومره ښنه او ښکلې ښکارېده، لیدله. اوبو کې ماهیان لیدل کېدل، پوره یو ساعت مو په کښتۍ کې چکر وواهه. دوباره وچې ته د ډنډ غاړې ته راووتلو، کښتۍ مو ورتسلیم کړه او مونږ د موټر خوا ته روان شو. لمر هم په غرغره و، موټر کې کېناستو او مخ په ښار روان شو. د هوسۍ دا عادت و، چې کور ته به راتلو، موټر به یې په کرار کرار چلاوه، زمونږ کور ته چې ورسېدو، هغې ته مې د پاتې کېدو ست وکړو، ویل یې:

وخت لا شته دی، خو سبا ته به ستا د کار شعبې ته په لسو بجو درشم.

ما وې: ډېر ښه. هغه لاړه او زه کور ته لاړم.

سبا ته په لسو بجو هغه راغله، زما سر په کار ټیټ و، چې غلې مې په سر ولاړه وه، تر روغبړ وروسته مې ورته وویل: څه ته میل لرې؟ چای، مېوه او که شربت؟

هغې د نر لور سمدستي راته کړه: هر څه ستا په سترګو کې دي، نور څه ته مېل نه لرم.

ما وې ښه نو زه به دا څو جملې پوره کړم، بیا به وځو. ما پاتې جملې لیکلې او هغې په ما کې سترګې ښخې کړې وې. کله مې چې لیکنه سرته ورسوله، ورته مې وویل: مړې دا سترګې خو لږې رپوه، چې ستړې نه شي.

ویل یې: رښتیا لیکوال یې نو، زه نه پوهېږم چې دا ته څومره مینې او له هنره ډکې لیکنې څنګه کوې؟

لیکنه چې مې پوره کړه، له مطبعې نه راووتلو او د نوي ښار یوه رستورانټ ته لاړو، چای مو وڅښلې، زما کلي ته د تلو خبرې مې پیل کړې. د راتلونکي ژوند او په تېره مو لومړی د دویمې مرکې په هکله خبرې وکړې. زه په دې وخت کې تشناب ته لاړم، هوسۍ لا د چایو پیاله څښله. بېرته چې راغلم، هغې وویل:

سهار صاحب! یو څه روپۍ مې درته په دې پاکټ کې راوړي، درسره وایې خله چې هلته پرې ما ته ګوډه سمه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مننه مې تېرې وکړه، پاکټ مې جېب ته کړو، خو کله مې چې بيا په کور کې وشمېرلې، د برش زره افغانۍ وې، په هغې وخت کې په د برشو زرو پوره کار کېده، لا د هوټل نه، نه وو وتلي، چې ما هوسۍ ته وويل:

زه فکر کوم، چې دا ځل به دوه اوونۍ په کلي کې پاتې شو، ګرچې کارونه مې ډېر دي، خو دلته دا کار له ټولو نه مهم دی.

موسکۍ شوه او وې ويل: زه وايم، چې په يوه اوونۍ کې به هرڅه سم شي، دا کار چې وشو، نور کارونه به څنګه نه کېږي؟

ته چې راته هرڅه وايې، هغسې به وکړم، ته په کلي کې خپل ضروري کارونه ترسره کړه، چې ستونزې دې حل شوې، نو واپس به په خير سره رځې.

له هوټله راووتلو، په ښار کې مې د ځينو شيانو د رانيولو هغې ته وويل، هوسۍ ويل: راځه چې بازار ته لاړ شو. په بازا کې مو سودا وکړه او د کور مخې ته مو راورسوله. هغه لا تر هغې پورې په موټر کې ناسته وه، چې ترڅو ما سودا کور ته پورته کړه، بيا د هوسۍ خوا ته ورغلم. راته وې ويل:

سبا ته چې دې حرکت کاوه، ماته به ټليفون وکړې، هو که دې راته په اتو بجو زنګ وواهه نو...

ماوې: سمه ده په اتو بجو به درته زنګ ووهم. کله چې مو مخه ښه سره کوله، د هوسۍ سترګې له اوښکو ډکې شوې، ورپورې ومې خندل: دومره دې زړه نرۍ دی؟ مه خپه کېږه، ډېر زر به که خير وي درته راوګرځم.

په دې خبره يې غبرګې اوښکې په اننګو ښکته راولوېدې، ويلې راځه، چې څو دقيقې به دواړه موټر کې کېنو. ما وې په سترګو. دواړه موټر ته پورته شو، شاوخوا مې پام وکړو نږدې هېڅوک نه و، په غېږ کې مې راونيوه، خړپ خړپ په دواړو مې ښکل کړه. هغه هم راته يوه لږه شيبه په غاړه راپرېوته. موږه دواړه د مينې خواږه سره وڅکل بيا يې وويل:

بس دی ملګرې به مې راته انتظار کوي. په اخر ځل مو سره بيا شونډې نږدې کړې، تود د مينې ډکه مخه ښه مو سره وکړه، خو کله چې يې موټر چالان کړو، ما ورته لاس خوځاوه، د هغې لاندنۍ شونډه ورپېده، نور يې په سوړ اسويلي مخ راځينې واړاوه او لاړه.

زه مړژوانډی غونډې مطبعې ته ستون شومه، نېغ د رئيس صاحب دفتر ته لاړم، رئيس راته کړه:

سهاره څنګه ساه نيولی راغلې؟

ما وې: رئيس صاحب د ځنې بنده دې دا ډېر مشکلات ورک شي، څه وکړو، ستونزې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل يې: څنګه؟

ما ورته ټوله کيسه تېره کړه، هغه ته زما د ژوند هرڅه ورمعلوم و، څه مې ترې پټ نه و، ځکه خو پې ګران وم. ويل يې: رخصت خو به نه اخلې.

مکرۍ خندا مې له خولې وخته، هغه هم موسکی شو، ويل يې: سهار صاحب پروا نه لري، هرڅه راته زړور وايه، د مشر ورور په شان مې وګڼه.

له لنډې زړه خوالې نه وروسته مې ترې رخصت راواخيست، د پېسو لا په شا په يې هم راته وکړه. ما وې مننه رئيس صاحب کور دې ودان، ټولې ستونزې مې فعلاً حل دي، ترې نه راووتلم. ښار ته ولاړم او ځينې نور شيان چې له هوسۍ نه مې له شرمه پټ کړي و، راونيول او بيا په يوه ټيکسي موټر کې کور ته مازديګر ولاړم. شپه مې تېره کړه او سهار وختي له کوره ووتلم او په ټيکسي کې زموږ د سيمې د موټرو هډې ته لاړم. اته بجې کېدې، چې هوسۍ راته ټيلفون وکړو، همدا يې ويل، چې له يوې هفتې نه وروسته به راځې. ما وې سمه ده. زه همدا اوس په نهو بجو په يوه سروبس کې حرکت کوم، له تا سره خداى په اماني کوم، د بيا ليدو پورې. هغې هم وويل: د بيا ليدو پورې.

په هډه کې ګاډی تيار ولاړ و، سامان مې ورته زر زر ورپورته کړو، د ګاډي کلينر لا د لېن د تلو ناري وهلې، چې د ګاډي چلوونکی راغی او موټر يې چالان کړ. د سترګو په رپ کې ګاډی ډک شو او حرکت يې وکړ. په هغې وخت کې سړک پوخ و، په دريو ساعتونو کې ورسېدو، لا د غرمې ډوډۍ مو هم په لار کې خوړلې وه، د کلي په يوه بل ګاډي کې مې مازيګر ځان کلي ته ورساوه. سامان راسره زيات و، ځينو کليوالو راسره تر کوره شيان او سامان ورساوه. زموږ په پخوانۍ کوټه باندې لويه کلا جوړه شوې وه، په يوه ګوټ کې يې ورته ان درې پوړه جګ بورج هم خېژولی و. په لومړي ځل مې ونه پېژانده، خو چې ښه ورته ځير شوم، رښتيا هم زما پخوانی کور همدلته و. په لاره کې راته کليوالو وويل: سهار صاحب دا ستا کلا ده، د خپلې کلا دروازې په مخکې راسره کليوالو سامان کېښنود.

په دې کې زما د تره زوی راغی، غېږ يې راکړ، ګړه بړه مو سره وکړه، کلا ته مو سامان ورننوېست. زموږ هغه يوه پخوانۍ کوټه کلا شوې وه، ښکلې ښکلې د شيشو کوټې يانې د لويو (کړکيو) لرونکې او شيشه يې کوټې پکې ودانې شوې وې، کتل مې چې مور مې او د کاکا لونه مې مخې ته راغلې، سترې مشي يې راسره وکړه، زه د کور په جوړېدو ډېر خوشاله شوم، په کلا کې ګړندی ګړندی وګرځېدم، بورج ته وروختلم، د بورج له وړوکو کړکيو مې تقريباً ټول کلی وليد. زما له بورج نه په کلي کې بل هسې بورج نه و، هره کوټه، تشنابونه، پخلنځی او نور ټول ځايونه مې له سترګو تېر کړل، دومره خوشاله شوم، چې په جامو کې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځايېدمه.

د کلا په منځ کې يوه وړوکې تپه ګۍ باندې چايو ته کښېناستو، مور لا چای نه و پيل کړی، چې کاکا او د کاکا مېرمن مې راغلل، ښه توده ستړي شمي يې را سره وکړه. په پخوا وختونو کې به چې کله کلي ته ورغلم، خپلوانو به را سره د خولې د سر ستړي مشي کوله، خو دا ځل مې بيخي ځانته تمه وشوه، دا دنيا خو په ظاهري توګه خوړل کېږي. کاکا مې، د کاکا اولادونه، نور خپلوان، ماماګان مې، نورو د کلي خلکو برخورد را سره بل ډول شو.

پخوا خو مې يوه کوټه وه، غريبي رانه هم تاوه، وه چا څه کولم، خو اوس چې حجره شوه، چای چلم شو، باور وکړئ د نورو کليو نه به راته خلک راتلل. په دې ځل تګ سره د ټول کلي خلک ستړي مشي ته راغلل، خلکو دا ګومان کاوه، چې سهار حتمي په کومه خزانه کې لاس منډلی دی.

پخوا به زه او مور مې دوه په دوه ډوډۍ ته کښېناستو، خو اوس به د هر وخت په ډوډۍ ښا بسته دلۍ کسان ناست وو، زه به هم رښتيا چې هره شېبه خوشاله وم. په سبا ته مې کتل، چې ختګر ځان راورساوه، هغه لا څه نه و ويلي، ما ورته پاتې پيسې په يو ټک وروشمېرلې. نجار ته مې هم پيسې ورکړې، مور او کاکا مې ډېر رانه راضي ښکارېدل. بلې شپې ته د ماښام ډوډۍ نه وروسته مور مې راته وويل:

بچې اوس دې د ښځې کولو وار راورسېدلی دی، کلي کې راته څو کسانو ويلي دي، څو جينکۍ مې هم ليدلي دي. زما خو هره يوه خوښه ده، خو ستا رضا او خوښي هم پکار ده.

ما ورته وويل: موري په کلي کې به د چا سره په دې باب سر نه خوځوې، يوه اونۍ وروسته به مور او تاسې کابل ته ځو، له يوه چا سره مې د خپلوۍ ويلي دي، هغوی هم راته لوظ راکړی دی، خو ستاسې په ورتلو به د خپلوۍ تار غښتلی کېږي.

مور مې په تعجب شوه: اخ بچې لکه چې رانه د کابل شوې، خپله سپين سرې مور دې چاته پرېږدې؟ کابلۍ نجونې ګنې مور غوندې خلکو سره ژوند تېروي؟

مورجانې کوم چا سره، چې زه خپلوي کوم، هغوی پښتانه دي، په اصل کې د پکتيا دي، خو پخوا راهيسې په کابل کې اوسېږي، کاروبار يې د شاهي کورنۍ سره دی، کوم ستر ستړی و، غټه څوکۍ يې درلودله، په کابل کې کورونه او موټرې لري. هغه هرڅه يې خپل دي، خو ماته معلوم شوي دي، ښه پښتون سړی دی، لور يې په پوهنتون کې ده، ژوند يې په ښار کې تېر شوی دی، مګر پخپله د ښه پښتون خوی او خصلت لرونکې ده. پوهېږم موري ډېر قدر او عزت به دې کوي. بله دا چې ته څه پوهېږې، ددې کلا د جوړېدو پيسې ما له کومه کړې، دا د هغې جنۍ پيسې دي، چې ماته يې راکړي دي. مور مې رادانګ کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچی بېرته یې درنه اخلي؟

ما ویل: نه نه مورجانې هغه به ستا ننګور شي.

ویې ویل: چې دومره ښه جنۍ ده زویه، بیخي مې درسره رضا ده، پښتنه خو ده که نه؟

ما ویل: هو مورجانې پښتنه ده، که له نزدې نه دې ولیده، خوښه به دې شي. مورې یوه خبره درته کوم، چې بېګاه ته به ته یوازې د کاکا سره دا خبره شریکه کړې، زه ترې شرمېږم، ورته ویلی نشم دا کار به ته کوې.

ویل یې: ښه بچی زه به ماخستن د هغوی کره لاړه شم، ورسره وبه ګړېږم، ته بې غمه اوسه. مورې دا مې چې درته څه وویل، دا ټولې خبرې ورسره وکړه او همدا هم ورته ووایه، چې د راتلونکې جمعې په ورځ به کابل ته ځو.

ښه ښه زویه فکر مې دی دا ستا ټولې خبرې به ورته وکړم.

مورجانې نوې جامې ځانته کړې کړه، دا کوم کسان چې راسره ځي پاکې جامې دې له ځانه سره واخلي. زه به په دې څو ورځو کې دا ځینې کارونه سم کړم، دد ې نوي کور ځینې شیان نیمګړي دي دا به ورپوره کړم. د حجرې په څنګ کې تشناب جوړول، نوي کټونه، دوه جوړې ګلیمان او د کور او مېلمنو لپاره نوې بسترې او نور ډېر شیان اخیستل او جوړېدل غواړي. د ځینو شیانو به د کاکا زوی شېرو ته ووایم، پیسې به ورته پرېږدم، هغه به یې سنبال کړي. همدا اوس به جلال آباد ته لاړ شم، ځینې سامان او شیان به واخلم، شیرو به هم له ځانه سره بوځم، ته به پخپل کار پسې بېګاه ته ورشې. اوس زه لاړم مورې، د خدای په امان.

له شېرو سره یوځای جلال آباد ته لاړم، کوم ضروري شیان چې و، په بازار کې مو واخیستل او بېګا ته بېرته کور ته راغلو. په څلورو پینځه ورځو کې کوم ضروري کارونه نیمګړي پاتې وو، ترسره مو کړل. وخت مې کم او کارونه مې زیات وو، هر ماخستن به حجرې ته د کلي زلمیان راتله راتلل، ښه باندار مو جوړ و. هر چا به راته ویلې: سهار صاحب دغې جمعې شپې دې کوم راډیویي داستان جوړ کړی دی؟ همدا پوښتنه به یې کوله، چې زموږ د خلکو څومره ذوق او علاقه وه، د جمعې د شپې راډیویي داستانونو سره.

رښتیا چې ماته ثابته شوه، چې د افغانستان خلک له خپل کولتور او فرهنګ سره څومره علاقه لري، خو بدبختانه زیات خلک بې سواده او نالوستي دي. پر ما دا یوه اونۍ لکه د باد په شان تېره شوه، د پنجشنبې په ورځ مې د ولسوالۍ نه هوسۍ ته ټیلیفون وکړ، او سبا ته مې د ورتګ ورته وویل. هغه خوشاله شوه، ویلې: خدای مو په خیر سره راوله. په مور دې سلام کوه. ما وې مور ته مې، چې ستا خبري وکړې څه مالګه مساله مې ورزیاته کړه، سمدستي یې وویل: بچی دا صفتونه چې لري خامخا یې پوښتنه په کار ده. ویلې پوهېږمه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پخپله بـه دې څـه مـداري تـوب ورتـه کـړی وي، خوشـې مـا بهانـه کـوې. پـه خنـدا شـوه او مخـه ښه يې راسره وکړه.

پـه دې شـپه مـې کاکـا دوی او مامـا مـې کـور تـه راوسـتل، د ماښـام لـه ډوډۍ نـه وروسـته مـې کاکا ته وويل:

کاکـا جانـه ! سـهار بـه تنـدار مـې او تـه مـور مـې او مامـا جـان مـې پـه اتـه بجـو د سـهار لـه کـوره وځـو او کابـل تـه بـه پـه خيـر سـره حرکـت کـوو. خپـل سـامان، جـامې او ضـروري شـيان مـو ورسـره راواخلئ.

ټولـو ووېـل: سـمه ده. هغـوی راپـورې ټـوکې ټکـالې کـولې، مامـا مـې وې: خوريـه چـې د ښـځې مسئله دې ده، څنګه تند تند اوړې رااوړې.

ټولـو پـه دې خبـره وخنـدل، مـا سـر ټيـټ اچـولی و، حيـا راتلـه، د شـپې تـر ناوختـه پـورې زمـوږ کورنۍ باندګار تود و، بيا مې کاکا ووېل:

اوس ويـده شـئ، سبايي بـه وختـي لـه خوبـه جګېـږئ. دوعـا وشـوه او هـر څـوک د ويـده کېـدو لپاره خپلو ځايونو ته ولاړل.

شـپه تېـره شـوه، سبايي وختـي ادې مـې لـه خوبـه راجـګ کـړم، لـه تـشناب کولـو نـه وروسـته مـې خپـل سـامان سـنبال کـړو. مـور مـې وريجـې سـاتلې وې، خـدا بزده د څـو کـالو زړې وربجـې وې، پـه بـوجۍ کـې مـې وتړلـې، بکسـونه مـې برابـر کـړل، کتـل مـې چـې کاکـا او مامـا دوی راغلـل. مـونږ پنځـه تنـه وو، چـې کابـل تـه تللـو. د کلـي يـوه مـوټروان تـه مـې لا مخکـې د مخکـې نـه ويلـي و، چـې مـونږ بـه ان تـر کابلـه رسـوي. هغـه هـم مـوټر راوسـت او کـالي مـو پکـې کېښـودل. برابـر اتـه بجـې وې، چـې حرکـت مـو وکـړو. مـوټر خـو هـسې زوړ واګـون غونـدې و، پـه خامـه سـړک يـې خوشـې اوازونـه کـول، پـه لاره چـې ګـاډي روان و، دوړې او خـاورې يـې بـادولې او پـه مـونږه پرېـوتلې. د ګـاډي کړکيـو شيـشې مـاتې وې، د سـړک ټـولې خـاورې بـه دننـه مـوټر تـه راننـوتلې. سـترګې او مـخ مـو پـه دوړو کـې نـه ښـکاربده. کلـه چـې د جـلال آبـاد ښـار کـې لـه مـوټره ښـکته شـو، لـه ځانونـه مـو دوړې وڅنډلې، مـخ او لاسـونه مـو هـم پريمينځـل. دمـه مـو وکـړه، چـای وڅښـل شـوې، بيـا د کابـل پـه لـور روان شـو، د جـلال ابـاد او کابـل تـرمنځ سـړک پـوخ و، دوړې او خـاورې نـه بادبـدلې. د لغمـان پـه کـڅ وروا وختـو، پـه لاره مـو د الفـت صـاحب زيـارت تـه لاسـونه پورتـه کـړل. سـروبي تـه چې ورسبدو، کاکا مې غږ کړ:

دلته لمونځونه کوو.

ګـاډی د سـروبي د ډنـډ پـه غـاړه ودربـد، يـوه هوټـل تـه ورننوتلـو، هغـوی لمونځونـه وکـړل، پـه بـازار کـې وګرځېـدو ښابـسته ډېـر دوکانونـه وو، پـه هوټلونـو کـې هنـديي او افغـاني رکاټونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړېدل. پوره دمه مو وکړه، له دمې نه وروسته بیا د کابل په لور روان شو. د سروبي نه بره خوا په لویه چړایي کې زموږ ګاډی په خوارو خوارو پورته ور روان و، په اولیانو اولیانو د چړای سرته پورته شو. لږه شېبه وروسته د مومن خان او شیرینۍ په کلي مو سترګې ونښتې. سیند غاړې ته ګاډي په سړک ورښکته شو، د انارو باغ کې سره انار راځړېدلي وو، له دغه ځایه ورتېر شو د ماهیپر جګ غرونه رانږدې شول. کله چې د ماهیپر د جګې تړی لاندې موټر ورو ورو روان و، کاکا مې موټر چلونکي ته وویل:

وروره کله په دې سړک تېر شوی یې؟

هغه وویل: هو کاکا څو ځلې راغلی یم، تاسې مه وارخطا کیږئ، په کرا کرار به پرې ورخېژو. د ماهیپر په چینه کې مو لږه شېبه دمه وکړه، هر چا څو لپې اوبه وڅښلې، په ماهیپر راواوښتو، ایله مو لاړې تېرې شوې، ځکه چې له یوې خوا موټر ډېر زوړ و او له بلې خوا سړک ګران او پېچومي یې درلودل. مور او تندار مې دواړه ډاربدل، په ټوله لاره یې زیارتونه یادول، تنګي ته راورسېدو، وړاندې مخامخ مو په عسکري چونۍ ګانو سترګې ولګېدې. هغوی ته هرڅه نا اشنا وو. په پلچرخي ورتاو شو او د حربي پوهنتون په مخه تېر شو. هغوی صنعتي پارک او شاوخوا شنې سیمې تماشا کولې، د یکه توت برجوره کلا مخې ته راغله، ورپسې په یوه رپ کې پل محمود خان ته ورسېدو. مورر مې او تندار مې رانه پوښتنه وکړه، ویل یې:

بچی دا کابل دی.

ما ویل هو دا کابل دی. دې ځای ته پل محمود خان وایي. مخامخ په چمن حضوري ورغلو، ما به هغوی ته هرځای ښېل ښېل ورپېژانده. په جاده کې ووتلو، په ښي اړخ سینمای پامیر باندې شاه دو شمشیره ته وګرځېدو. د ښار په منځ کې ووتلو او خپل کور ته لاړو. مازدیګر نږدې و، چې کور ته ورسېدو. مېلمنو ته مې چای دمې کړې، هغوی په چایو کښېناستل او زه سمدستي بازار ته ووتلم، غوښه او تازه مېوه مګې راونیوله. دوی لا په چایو ناست وو، چې په اشپزخانه کې مې دیګ بار کړ. هغوی د مازیګر لمانځه ته سره پورته شول، زه په منډه د تلیفون غرفې ته ورغلم. هوسۍ ته مې زنګ وواهه، مور یې غوږۍ پورته کړه، خالي دومره مې ورته وویل، چې هوسۍ ته ووایه هغه ستا مېلمانه رارسېدلي دي. هغې ویلې تاسې څوک یاست؟

ما ویل: زه یې د صنف (ټولګي) اول نمره یم. یوازې دومره ورته ووایه، چې خبره شي او دا هم ورته ووایه، چې سبا ته وختي پوهنتون ته راشه، چې مېلمانه به دیې درته انتظار باسي، مطلب د هغې ټولګي والې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل يې: ښه وروره په سترګو.

زه دوباره په منډه کور ته راغلم، ما وې چې دېګ نه وي سوی. په اشپز خانه ورننوتلم، دېګ بخارر او ازونه پيل کړي وو، مېلمنو ته ورغلم، هغوی لمونځونه کړي وو، خپلو کې سره مشغول وو. ما وې تاسې خپه نشئ، زما کور تنګ دی. د ښار ژوند دغسې وي، په تنګو کوټو کې خلک اوسېږي، ماويل چې قيد نشئ.

هغوی راته کړه: څنګه تند تند ګرځې.

ما وې څه خبره نشته دی، خالي دېګ مې باندې کاوه. مور او تندار مې غبرګ راته وويل:

نه نه بچی دا څه کوې، دا خو زمونږه کار دی.

ما وې تاسې نوي او تازه ما کره د لومړي ځل لپاره راغلي ياست، لومړی مېلمستيا به زه درته برابره کړم، نور به بيا ګورو.

په دې شپه مې ورته ښه شوروا برابره کړه، د ډوډۍ په وخت کې په ټولو ښه ولګېده، هر يوه به راته ويلې: والله چې د ښځو نه دې ښه پخلی ياد دی. ويل يې: سهاره ته خو سم اشپز يې.

ما وې: ولې به نه يم ټول عمر مې مسافرۍ کې تېر شو، اخر يوه ښوروا پخول خو به ياد وو.

هغوی ته مې تازه مېوه په مېز کېښوده او د کابل د ښار په باب مې ورسره خبرې کولې، هغوی هر يوه به ويل: سهاره زويه ! دا کابل خو ډېر لوی ښار دی.

ما وې هو دا خو لا د ښار منځ ديو شاوخوا نور هم پراخه دی، بيا به له خيره پکې وګرځئ، سيلونه به پکې وکړئ.

کاکا او ماما مې دواړو وويل: موږ به تا سره يوازې درې ورځې تېر وو، دا کار دې خدای سم کړي، چې کور ته په خوشاله زړه وروګرځو.

ما وې ډېره ښه ده، هرڅه به وشي، چې راسره خپه نشئ. د موټر چلوونکي مې هم ښه خيال ساتلو، ما ويل د کلي سړی دی، چې قدر يې وشي. سبايي وختي رانه رخصت شو، له خپلې کرايې نه مې ورته نوره خرچه هم ورکړه، ښه خوشاله لاړ.

دا نور مېلمانه مې کور کې پرېښودل او زه خپلې دندې ته ولاړم. لومړی د رئيس دفتر ته لاړم، خو هغه لا نه و راغلی، په نورو همکارانو او ملګرو وروګرځېدم، بيا خپل دفتر ته راغلم، چې د رئيس ملازم راغی، ويل يې: رئيس صاحب دې غواړي.

رئيس ته ورغلم، د مېلمنو مې ورته وويل، خوشاله شو، د واره يې وويل:

بېګاه ته به زما مېلمانه شئ.

ما وې مننه رئيس صاحب، هغوی لا دلته دي، بيا به ګورو، خو زه دد دې لپاره راغلی وم، ما وې چې ستا څه نظر دی، دوی بېګاه ته ورولېږم. هغه ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې نه، ډېر به ښه شي، ښکاغه ته يې ورواستاوه. که د موټر خبره وه، زما موټر کې دې ولاړ شي.

ما وې: ډېره مننه يو ټکيسي کې به ولاړ شي.

ويل يې: سهاره په ښو تلوار او په بدو تامل، ټولې خبرې ورته وښايه، تر کوره ورسره ته ولاړ شه، چې هغوی خو نابلد دي.

ما وې: هو صاحب همد غسې به کوم. همدومره رئيس صاحب زه به اوس خپل کار ته ولاړ شم.

ويل يې: مهرباني، په مخه دې ښه شه.

دوباره خپل د کار کوټې ته راغلم، په څوکۍ کې لا ناست نه وم، چې شرنګ شو د ټيلفون زنګ راغی، غوږۍ مې چې غوږ ته ونيوه، بلې بې وکړل، پوه شوم، چې هو سې ده. ما ورته اواز بدل کړو، وې نه پېژندم، ويل يې: څوک يې؟

ما وې: تاسې څوک يئ؟

ويل يې: سهار صاحب شته دی؟

خپل غږ مې نور مال کړو: هو هو شته دی، له غږه يې وپېژندم.

ويل يې: راغلی يې، ستړی مشې، په خير راغلې.

ما هم تر د مور او پلار د احوال پوښتنه وکړه، ويل يې: اوس همدومره، زه سمد ستي درځمه له کوټې نه مه وځه.

ما ويل: ښه ده راځه، هر کله راشې.

يوه اونۍ مو سره نه و ليدلي، مو ډوه دواړه لېوالـه وو، چې سره ووينو. د ټيلفون غوږۍ مې کېښوده، د دفتر ضروري کارونه مې ترسره کړل، لا په کار بوخت وم، چې هغه راورسېده. روغبړ مو سره وکړو، بيا يې له خوښۍ نه اوښکې په سترګو کې لرې برې شوې، څوک نه و، يوه ښه شېبه راغاړې وتې وه، سمد ستي يې ويل:

خلک دې څه کړل؟

ما وې: په کور کې دي.

له ځان سره يې: دا به څنګه زه ووينم؟

ما وې ته اوس دا خبرې پرېږده، دا خو شعبه ده دلته خبرې نه کېږي، کوم هوټل ته به ولاړ شو. سمد ستي ووتلو او د هغې په موټر کې هوټل ته ولاړو، په هوټل کې مو د ستي په د ستي د دويمې مرکې خبرې پيل کړې، هو سې وويل:

کله زمونږ کور ته راځئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې: نن شپه خو نه کېږي، سبا شپې ته به مو نږه درشو.

هغې وويل: زه به په کور کې مور او پلار ته ووايم، پلار ته خو له شرمه نشم ويلی، خو يوازې به مور خبره کړم، هغه به يې پلار ته ووايي.

ما وې سمه ده.

هوسۍ وويل: چې مېوه (شيريني، نقل) درسره راوړې. زما کورنۍ به تاسې ته ګل درکړي. زمونږ په کور کې هم مېوه شته دی، خو دا په ګوره ماتي کې رواج دی.

ما ويل: هوسۍ داسې خبرې کوې لکه چې هرڅه ستا په واک کې دي.

ويل يې: همد غسې يې بوله نو، د کونډې زويه مزې دې دي.

ما ويل: ولې ستا نه دي څه؟

سر يې له شرمه ښکته کړو، لږه غلې وه، بيا يې وويل:

سهاره ته به ورسره راشې.

ما ويل: زه خو شرمېږم.

ويل يې: د کلي خبرې دې په کلي کې پرېږده.

ما ويل: ولې د کلي نه مې اوباسې.

ساده سهاره پښتانه وايي له کلي وځه، خو د نرخه مه وځه.

هوسۍ زما او ستا مينه خو رښتيا شوه، د مينې له ناکامۍ دې الله ساته. ګرانه خبره ده، چای مو وڅښنګلې ما وې زه به کار ته هم نه ځم، کور ته به لاړ شم، چې مېلمانه به قيد شوي وي، چې بېرون ته يې رااوباسم. مړه ستا موټر نه دی زده، چې هغوی دې په موټر کې ګرځولی وای. ښه ده راځه، چې ځو. زموږ تر کوره راغلو، هغې خپل بکس ته لاس کړ، ويلې هن دا پيسې درسره واخله، له کلي راغلي يې، بې خرڅه شوی به يې، مېلمانه دې دي، سم قدر يې کوه.

هر څو مې چې ورته وويل: روپۍ راسره شته دی، هغې نه باوروله، يو بنډل پيسې يې راته په زوره په جېب کې کېښودې، او دا يې هم وويل: څومره اطرافي خوی لرې، تراوسه لا نه يې قانع شوی سم د مدعي په څېر يې راته وويل، ما نور څه ونه ويل. هغه لاړه او زه هم کور ته ننوتلم، په دروازه کې مې زر تر زره د پيسو بنډل وشماره، پوره لس زره افغانۍ وې، چې په هغه وخت کې ډېرې پيسې وې. کور ته خوشاله ننوتلم، هغوی بانډار پيل کړی و، د غرمې ډوډۍ يې خوړلې وه، چای ورته ايښی و. مور او تندار مې په کور کې داسې ګرځېدلې لکه پخوا چې يې پکې شپې ورځې تېرې کړې وي، هرڅه يې تيار کړي وو، ما وې: ښښنه کوئ، د شعبې کار مې پاتې و، هغه مې ترسره کړو. اوس هم له خپل وخت نه مخکې راغلم. ما وې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې خپه شوي نه یاست؟ ټولو ویلې: زویه سرلوړی اوسې، ولې به خپه کېږو، دا خو ستا برکت دی، چې کابل وینو، مونږ چېرته او کابل چېرته؟ اوس دې الله دا زموږ کار وکړي، ورسره سودا مو ده.

ما وې توکل په خدای هرڅه به وشي، ښه خوشاله به کلي ته ستانه شئ، خو داسې به وکړو، چې خدای به یې کوي، سبا ماښام ته به په درخواست ورځو، له ځان سره به څه شیریني وړو، نور د هغوی کار دی. ټولو په دې خبره لاس پورته کړل، ویلې: خدای دې فضل وکړي.

ما وې: اوس به ښار ته ووځو، چې لږ سیل خو وکړئ. هغوی ویلې: ډېره ښه ده.

له کوره ووتلو او په یوه ټیکسي موټر کې پل خشتي جومات پوري ورغلو، هغوی چې جومات ولید، حیران ورته پاتې وو، ویل یې: اوریدلي مو وو، خو اوس مو پخپلو سترګو ولید. دوی راته وویل:

نن به د ماسپښین لمونځ په دې پل خشتي جومات کې کوو. ما ویل ښه ده. یو ځل به په میوند وات کې وګرځو، دا شاوخوا ځایونه به ان تر ارګ پورې وګورئ، د ماسپښین جمعې ته به ځانونه راورسوو. دوی مې ښه ډېر وګرځول، سم ستړي شول، د پل باغ عمومي نه پل خشتي جومات ته ووتلو. کاکا او ماما دوی دواړه جومات ته ننوتل، مونږ درې واړه هوټل ته وختلو. ډوډۍ مو راوغوښتله، ډوډۍ چې مو وخوړه، مور او تندار مې په هوټل کې پرېښودلې او زه په هغوی پسې جومات ته لاړم. زه چې د جومات دروازې ته ورسېدم، خلک له جومات نه راخواره شول، په منډه جومات ته دننه ورغلم. هغوی دواړه د جومات په حویلۍ کې ولاړ وو او پورته پورته یې د جومات لوړ منار او شنې ګنبدې ته کتل. غږ مې پرې وکړو، خوا ته یې ورغلم ما وې راځئ، چې هوټل کې ادې دوی ځانته ناستې دي، چې ورشو. هوټل ته چې لاړو، ډوډۍ مې ورته راوغوښته، ماما مې ویل:

خوریه جانه، چې زه خدای پیدا کړی یم، دومره غټه جمه مې نه وه لیدلې. دا ښایسته جومات، دا مسلماني، د ډوډۍ په سر یې لاس پورته کړو، ویلې خدای دې دا د اسلام باچا تل تر تله برقرار لري. کاکا مې هم ورسره امین وویل. ما ورته څه ونه ویل، ځکه چې د هغیو دواړو خپل نظر او فکر وو. په هوټل کې مو ډېره دمه وکړه، چای مو وڅښلې ما ورته بیا د ارګ شاهي او د پل خشتي جومات په هکله رڼا واچوله. هغوی هم راځنې پوښتنې کولې، ما به ورته بېلې بېلې ځوابولې. له مور او تندار نه مې پوښتنه وکړه، ما وې ادې کابل دې خوښ شو تندار ته څه وائې؟

لومړی مې مور وویل: بچې ښایسته ښار دی، خو دا ښځې پکې بیخې لوڅې ګرځي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـو د کفـر کـار دی. تنـدار هـم د ادې خبـره تائېـد کـړه، ویلـې: ورک دې شـي دا خوشـین کفـر دی. ماما مـې لـږ ټـوکي غونـدې و، وې ویـل: تاسـې پـه غرونـو او درو کـې ژونـد کـړی دی، دا هرڅـه درتـه سـرچپه ښـکاري. مـور مـې پـرې رادانـګ کـړو: چـوپ شـه چـوپ شـه تاتـه یـې هـم لکـه چـې خوند درکړو، دا د پښتو او غېرت کار دی

ماما مې ویل: دلته پښتو او غېرت څه کوي، دا د پښتنو خبرې دي.

کاکـا مـې وویـل: خوشـې کـړس مـه کـوئ، دا دنیـا یـوازې د دوی ده، پـرې چـې هرڅـه کـوي، د دوی کار دی، خدای دې پښتانه له داسې کارونو نه وساتي.

مـا وې کـه دمـه شـوي یاست، نـو اوس بـه پـه بـازار کـې سـودا وکـړو او بیـا بـه کـور تـه ځـو. لـه هوټلـه راووتلو، وچې میـوې، نقـل او نـور ضـروري شیان مـو راونیـول او بیـا پـه یـوه ټیکسـي کـې کـور تـه لاړو. تنـدار مـې د ماښـام ډوډۍ تیـاره کـړه، لـه ډوډۍ وروسـته هغـوی او مـا د ماخسـتن مـونځ وکـړو او چـای تـه کېناسـتو. هـر یـوه رانـه د کابـل ښـار پـه بـاب پوښـتنې کـولې، مـا ورتـه پـه ادب سره ځینې معلوماتونه ورکول. ماما مې رانه وپوښتل، ویل یې:

خوریه ته په کابل کې څه کار کوې؟

ما ویل: ماما جانه زه مطبعه کې کار کوم، مامور یم.

کاکـا مـې ورتـه وویـل: دا د جمعـې پـه شـپه چـې راډیـویي داسـتانونه اورې، خـو دا یـې لیکـي کنه.

ویل یې: ښه هغه ته لیکې؟

ما ویل: هو ماما جانه! زه یې لیکم.

ویـل یې: والکـه خوریـه مـا خـو لـه تـا نـه دومـره تمـه نـه لرلـه، تـه خـو زورور سـړی راوختـی، افـرین شـه پـه تـا! پـه دې عمـر کـې تـه داسـې پخـوانۍ کیسـې لیکـې، چـې عقـل ورتـه کـار نـه کـئ. شـکر دی ربـه، چـې زمـا خـوری دومـره پـوه سـړی دی، ټـول لاس پورتـه کـړئ، چـې الله یـې لـه دې نـه هـم جـګ کړي.

مـا ویـل: مامـا جانـه مـا کـوم مهـم کـار نـه دی کـړی، نـن وخـت کـې خلـک ډېـر لـوی او سـتر کارونـه کوي، خلک ان اسمان ته وختل.

مامـا مـې ویـل: رښـتیا، چـې پـه دې کابـل کـې دا کارونـه شـوي دي، تعجـب دی. هغـه ویـل هـو دا خبـره خـو ده، دا نـن چـې مـونږ پـه دې ښـار کـې دا کـوم شـیان ولیـدل، دا هـم د تعجـب خبـره ده. خـدا پـړو خوریـه جانـه! یـوازې دا مـوږ پـښتانه بـې مالـه پـاتې یـو، نـور خلـک مخکـې تللـي دي. ماتـه هغـوی د وخـت او حـالاتو د لا څـه ویلـو زمینـه برابـره کـړه، مـا وې تاسـې تـه د کابـل دا عـادي شـیان تعجـب ښـکاري، ولـې د نـورو ملکونـو د ژونـد سـطحه ډېـره لـوړه ده، هـر ملـک کـې خپلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو یې کار کړی دی، حکومتونه یې ښه دي، علم او معرفت پکې شته دی، نر او ښځې یې لیک او لوست باندې پوهېږي، ځکه یې خو ژوند ښه دی. زموږ او ستاسې نر او ښځې بې سواده دي، چېرې په کلي کې یو نیم مېرزا پیدا شي، چې په لیک لوست پوهېږي، دا څو کاله کېږي، چې دا ښوونځي جوړ شوي دي، یو شمېر نوي ځوانان د خپلې ټولنې خدمت ته راوتلي دي، که پخوا ښوونځي او مکتبونه وای، خو تاسې به هم سبقونه ویلي وای، نالوستي به نه وای پاتې. دا د ژوند پرمختګ او ترقي ټوله په علم او پوهې پورې اړه لري او د ښوونځیو له لارې منځ ته راتلای شي. زموږ او ستاسې د ژوند بدبختي بې علمي ده، مونږ په دې باب ډېرې خبرې وکړې، وروسته ماما وویل:

خدای دې هغه چاره پېښه کړي، چې زمونږ په کې خیر وي. الله دې زموږ ایمان نه خطا کوي. مور مې په دې وخت کې له اشپزخانې نه راغله، دا سې یې وویل:

د سبا خبره وکړئ، چې څنګه به کوو؟

ما وې: سبا ته به له خیره مازدیګر او د ماښام ترمنځ هغوی کره ورځو، تاسې خپلې نوې جامې تیارې کړئ، زه به درته جامې اوتو کړم. هو رښتیا! مخکې به هغوی ته زه خبر باید ورکړم، خو سبا ته چې وظیفې ته لاړم، ټیلیفون به ورته وکړم. کوښښ به وکړم، چې کور ته په یوه بجه بېرته راشم.

دغه شپه تېره شوه، سبائي معمولاً خپلې دندې ته لاړم، په لسو بجو بیا د رئیس صاحب دفتر ته ورغلم، هغه مې له جریانه خبر کړ، ویلې که ډېر ضروري کار درته په مخکې نه وي، ځه کور ته لاړ شه، خپل کارونه دې بېګاه ته سم کړه. ما وې تر دولسو بجو یمه، ترڅو ځینې ضروري کارونه مې ترسره کړم. خپلې شعبې ته راغلم، چې د ټیلفون زنګ راغی، هوسۍ وویل یې:

دوه ځلې مې درته زنګ وواهه لکه چې په شعبه کې نه وې.

ما وې: هو رئیس صاحب ته ورغلی وم. ما ورته وویل: نن مازدیګر د شپږو بجو په شاوخوا مونږ درځو، خان کاکا دوی خبره کړه، مور دې هم زمونږ د مېلمنو نه خبره کړه، ما سره پردي څوک نه درځي.

هغې وې: ښه ده، زه به هغوی وپوهوم. سهاره! مونږ به مېلمنو ته ډوډۍ تیاره کړو، ته چې راتلې هغه نوې توره دربشي به واغوندې، نېکټایي وتړه، مېلمانه به هم خپل پاک کالي واغوندي، خپه نشې، زما خبره او ستا یوه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې ښه ده او ته به؟

هغــــــې ويــــــل: زه بـــــه دې لــــــه ليــــــرې ليــــــرې تماشـــــې كـــــوم، لكه هنګامه چې وايي:

جاله لاهو كړه جاله وانه

چې مازديګر شي مرغۍ شنو ونو له ځينه

ما ويل: هوسۍ مور او پلار خو به دې......

ويـــــل يـــــې: نـــــه نـــــه ســـــهار صـــــاحب، هغـــــه خبـــــرې حـــــل شـــــوي دي، يـــــوازې د خپلـــــوۍ تـــــار بـــــه غوټـــــه كېـــــږي، مـــــور او پلار به مې حتمي دستمال دركوي.

ما ويل: په خوله دې بركت شه، زما خو زړه درزېږي.

ويل يې: زړه چې ښكته پورته نكړې، هوسۍ درسره ده.

ما ويل: مننه زه همدا اوس كور ته ځم.

ويل ورځه په مخه دې ګلونه.

زه سمدسـتي لـه شـعبې نـه ووتلـم او نېـغ حمـام تـه لاړم، تـر حمـام كولـو وروسـته شـل كـم دوه بجـې كـور تـه ورسـېدم. لـومړى مـې د هغـوى جـامې اوتـو كـړې او بيـا مـې خپلـه دربـشي. هغـوى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډۍ خوړلې وه، ما زر زر ډوډۍ وخوړه او بیا مې هغوی ته د هوسۍ دوی کره د ورتګ په باب ځینې خبرې وکړې. د ناستې پاستې، د خبرې کولو طریقه او ځینې نورې خبرې مې ورته وکړې. ما وې ستاسې د خپلې سیمې د کولتور خبرې ښې زده دي، مګر د دې ځای کولتور لږ توپیر لري. تر پېنځو بجو پورې مونږ له هغوی سره د مرکې او د خپلوۍ کولو خبرې اترې پخپلو کې سره وکړې. له کوره راښکته شوم او ټکیسي پسې ګرځېدمه، څو دقیقې وروسته ټکیسي راغی او مونږ پکې کېناستو او د هوسۍ دوی کره لاړو. د هغوی د کور زنګ مو چې وواهه، وړوکی هلک دروازه خلاصه کړه، ورته مې وویل:

ورشه خان کاکا دوکره وو ایه، چې سهار دوی راغلي دي.

لږه شېبه وروسته د هوسۍ مور دروازې ته راغله، مونږ ته یې وویل: راځئ راځئ، دننه راځئ. ورننوتلو، هغې ته مې بېل بېل وروپېژندل او هغې ښه توده ستړې مشي له هر یوه سره وکړه. ماته یې هم لاس رااوږد کړو او په مینه یې روغبړ راسره وکړو. دننه یې سالون ته بوتلو، په کوچونو کې کښېناستو، د هوسۍ مور وویل:

د هوسۍ پلار چېرته تللی دی اوس دستي راځي.

یو بل زلموټی هلک او یوه وړوکې جینۍ، چې د هوسۍ د ترور اولادونه وو، په کور کې ګرځېدل راګرځېدل. هغه له سالون نه ووتله، ویلې چې زه چای درته راوړم.

کاکا مې غلي شانته وویل: دا خو لکه چې ډېر ماړه خلک دي؟

ماما مې وویل: خوریه دا کور یې خپل دی.؟

ما وې هو ماما جانه، دا کور څه کوې، نور سرایونه لري، دا خو د شاهي کورنۍ سره نږدې پاتې شوی سړی دی، پخوا یې غټه څوکۍ درلوده، په اصل کې د جنوبي دي، خو پخوا کابل ته راغلي دي، اوس د دې ځای شوي دي. مور او تندار مې غلي غلي په کوچونو ناستې وې، د هوسۍ دوی مزدورې چای راوړو او په مېز یې ټولو ته چای واچولې. لږه شېبه وروسته د هوسۍ مور راغله. په خورا ورین تندي یې بیا له هر یوه نه پوښتنه وکړه، هره خبره یې په غوږ ېدلي ټنډه کوله، زما مور تري د کورنۍ د حال احوال پوښتنه په لوړ جرئت سره وکړه، هغې ورته په خندا او مهربانۍ ځواب وایه. مونږ لا یوه پیاله چای نه و څښلې، چې خان کاکا راغی. روغبړ مو سره وکړو، ما ورته خپله مور، کاکا، ماما او تندار وروپېژندل. هغه هم خپل ځان پوره معرفي کړو، سمدستي یې ښځې ته وویل:

دوی درنه خپه شوي نه یې.

هغې ویل: دوی هم لږه شېبه کېږي، چې راغلل.

خان کاکا لومړی په ټیلفون کې چاته وویل، چې زه نن شپه نشم درتلای، مېلمانه لرم. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سالون کې په ځانګړې څوکۍ کې کښېناست، له هر يوه سره يې دوباره ستړې مشي او احوال پرسي وکړه، بيا يې وويل د لمانځه وخت دی، لمونځ به وکړو. ټول پاڅېدل د لمانځه په تکل، څوک تشناب ته لاړل، ځينې په لمانځه ودريدل، زه له سالون نه بهر حويلۍ کې د ګلونو باغچه کې ګرځېدمه، د هوسۍ د اکا زوی او دوه ماشومان نور هم زما خوا ته راغلل. د حويلۍ په بره خوا کې دوه منزله ودانۍ وه، چې ديوالونه يې د سنګ مرمرو وو. د کور سالون د هغې ودانۍ نه رابېل جوړ شوی و، وړاندې دوه درې پياده خانې وې، د ودانۍ دوهم پوړ په يوه کوټه کې کړکۍ خلاصه وه، چې ښه ورته ځير شوم، ومې ليده چې هوسۍ په کړکۍ کې ناسته ده. ماته يې لاس وخوځاوه، ما وې چې څوک مې ونهويني، خالي خپل سر مې ورته وښوراوه. هغه له هغه ځای نه راښکته شوه او لاندې چېرې مصروفه شوه. زه د حويلۍ په ډول ډول ګلونو کې ګرځېدم، د هوسۍ د تره زوی نه مې پوښتنه وکړه، ما وې وروركه دا كور د دوی خپل دی. هغه وې هو دا يې خپل کور دی. ددې نه يې يو بل ښه کور په وزير آباد کې دی، هغه يې په کرايې ورکړی دی. دا هلک ايله د پنځلسو کالو به و، د پلار پوښتنه مې ترې وکړه، ويلې پلار مې رئيس دی، خو هغه نه پوهېده، چې پلار يې د څه شي رئيس و. له خبرو نه يې معلومېدل، چې د شتو خاوندان دي. يو سګرټ مې وڅښاوه او بيا د سالون و خوا ته روان شوم. مخامخ د يوې بلې کوټې په کړکۍ کې هوسۍ بيا ولاړه وه، نيمايي ځان يې له کړکۍ نه راوېستلی و، خپل دواړه لاسونه يې سره ومښل او له معمول سره سم يې خپل اوربل چپ خوا ته تاواوه. زمونږ په منځ کې واټن دومره زيات نه و، زه د سالون په لور وګرځېدم او هغه لا ولاړه وه. خړنې لګېده، سالون ته ورننوتلم، هغوی لمونځ خلاص کړی و. خان کاکا د کاکا دوی سره پخوانۍ خبرې پيل کړې وې، نورو ورته غوږ ايښی و. خان کاکا د انګرېزانو د وخت کيسې راواخيستې، کاکا مې ورته ښه کول، مور او تندار مې د هوسۍ له مور سره په بله کوټه کې ناستې وې. د خان کاکا خبرې اوږدې شوې، مزدور يې د سالون په دروازه کې راننوت، ويلې خان کاکا ډوډۍ تياره ده. خان کاکا خبرې بندې کړې، ويلې مهرباني وکړئ، درځئ، چې ډوډۍ وخورو. د سالون نه مخامخ بله کوټه وه، اوږد مېز پکې پروت و، ډوډۍ پرې تياره شوې وه، په مېز چې کېناستو، هر ډول خواړه په مېز ايښي وو.

ډوډۍ مو وخوړه او بيا دوباره همغه سالون ته راغلو. ورپسې د ماخستن لمونځ هم وشو، نوکر (مزدور) چای راوړو او بيا يې ورپسې تازه مېوه راوړه. د مېوې له خوړلو نه وروسته کاکا مې لومړی له خان کاکا نه اجازت واخيست او بيا يې خپلې خبرې دا سې پيل کړې:

خان کاکا مور د ننګرهار د سيمې او سپدونکي او مومند يو، سهار صاحب مې ورار دی، دلته په کابل کې مطبوعاتو کې کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان کاکا وویل: هو هو پېژنم يې، يو ډېر تکړه ليکوال دی، ډېر ښه زلمی دی، تېرو ورځو کې له يوه رئيس سره دلته راغلی و، په غير له هغې دده ډېر رامې هره جمعې په شپه اورو.

ما له شرمه ځان راټول کړو او بهر ته ووتلم. کاکا مې ورته د خپلوۍ کولو وړانديز کړی و، ماما مې هم د نوي خپلوۍ په هکله هر اړخيزې خبرې کړې وي، زه بهر حويلۍ ته ورو تلم، سګرټ مې ولګاوه، د سالون نه وړاندې د ناجو د ونې ترڅنګه ودرېدم، کټل مې چې هوسۍ بيرته راووتله، پخپلو کورنۍ جامو کې وه راتله راتله کله چې زما خوا ته راغله، ويل يې: څوک يې؟

ما وې زه يم راځه.

هغه رانږدې شوه، لومړۍ يې کور پلو پام وکړو او بيا يې په ما رامنډه کړه، لاس يې رااوږد کړو، سترګې مشي يې راکړه، زه ښه ورنږدې شوم، لاس مې ورله کلک نيولی و. ويل يې: څنګه خبرې خو روانې دي؟

ما وې هو زه ترې راووتلم.

ويل يې: ما خو له کړکۍ نه وليدې، چې سګرېټ دې ولګاوه، زه به دوعا درته کوم، چې پلار مې درکړي، زه درنه لاړم چې مور مې پوه نه شي.

ما وې ځه ورځه.

هغه لاړه او زه هم د سالون کوټې ته نږدې ورغلم، په دروازه کې ور روان وم چې د خان کاکا له خولې مې واورېدل: ستاسې خپلوي مې په سر او سترګو قبوله ده، زما پښتانه وروڼه ياست، تاسې نه شم خپه کولی، زما د کورنۍ درسره رضا ده.

کاکا او ماما دواړو غبرګ وويل: کور دې ودان صيب. په دې وخت کې زه لږ پښه نيولی شوم، وړوکی زوی او مزدور يې راووتل، خان کاکا غږ وکړو:

والکه ورشه مور ته دې ووايه، چې دستمال راوړي.

کاکا مې ماته راغږ کړ: سهاره، سهاره زويه! زه په دروازه کې ورننوتلم، ومې ويل: دا دی کاکا راغلم.

ويل يې: هله څه مېوه شيريني...

ماما ته مې د شېريني پتنوس ورکړو او په ناستو کسانو يې نقل سره ووېشل. د نقلو پتنوس يې دننه ښځو ته هم يووړو، لږ شېبه پس يې دستمال په يوه بل پتنوس کې ايښی و، ښځې ورسره ټولې سالون ته راغلې. ټولو مبارکي وويله، وروسته زما کاکا يو د قرآن شريف سورت ولوست او دوعا وشوه. بيا نو زما مور ته ټولو مبارکي ورکړه، زه غلی په څوکۍ کې ناست وم، خندا وه، خوشالي وه. د ماخستين تېره پورې ورسره ناست وو، بيا مو ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازت واخیست او کور ته تري راغلو. کاکا او ماما دواړه په خپلوی خوښي ښکاره کوله، ویلې ښه شو چې دا کار وشو، خالي لاسونه کلي ته ستانه نه شو. مور مې هغوی ته وویل:

درې ورځې وروسته به مونږ خوږه کونډی وروړو، بیا به کلي ته ځو. ټولو وویل: ډېره ښه خبره ده.

په سبا ته چې کار ته لاړم، رئیس صاحب ته مې کیسه تېره کړه، هغه خوشاله شو او مبارکي یې راکړه، ویل یې ښه شوه، چې ستا د زړه کار وشو. ستا خوشالي زما خوشالي ده. مننه مې تري وکړه او بیا خپل دفتر ته لاړم. له ډېري خوشالی نه مې وروسته پاتې کارونه په چالاکی سره اجرا کړل، یوولس بجې وې ټیلفون راغی، غوږی مې چې پورته کړه، هوسی وه، ویل یې:

مبارک دې شه.

ما وې: ستا دې مبارک شي، چېرې یې؟

ویل یې: زه په پوهنتون کې یم، تر درې بجو پورې درس لرم، په څلورو بجو به درشم.

ما ویل: ښه زه به دې انتظار کوم، د خدای په امان. د ټیلفون غوږی مې کېښوده او بیا مې پخپل کار په ډاډه زړه پیل وکړو، تر دوولسو بجو مې کار وکړو او بیا په تفریح کې تر کوره لاړم، ما وې چې مېلمنو به څه پاخه کړي وي که نه؟

په لار کې مې ترکاري او تودې ډوډی واخیستې، کور ته چې ورننوتلم، مور او تندار مې دواړه په اشپزخانه کې ناستې وې او دیگ یې باندې کړی و. ویلې زویه ستړی مشې، کاکا او ماما دې بهر ته په چکر وتلي دي.

ما وې مور جانې زه به ورپسې ورووځمه، هسې نه چېرې په بله نه وي تللي !

په منډه له کوره راووتلم، په کوڅه کې مې وړاندې پام وکړو، هېڅ په نظر رانغلل، ما وې ته راځه هغې وړاندې ونو پورې به ورشم، که چېرې سیوري ته ناست وي؟

ونو ته چې ورنـږدې شوم و مې لیدل، چې دواړه د اوبو په یوه ویاله کې اودسونه کوي، خوا ته ورنږدې شوم، سلام مې پرې واچاوه، ویل یې: سهاره بچی ته راغلې؟

ما ویل: هو کاکا جانه له کوره درپسې راووتلم، ما وې چې چیرې لادرکه نشئ. دواړو وخندل وې ویل: دومره خو نابلده نه یو، دربیمه ورځ مو ده. په دې شاوخوا کې بلد شوي یو. موږ ته لاره معلومه ده، ته څه مونږه پخپله درځو، دلته به لمونځ وکړو بیا به کور ته درشو. زه تري بېرته کور ته ولاړم، مونږ چې ترڅو ډوډی تیارولـه، هغوی هم راغلل. ډوډی مو سره وخوړه په چایو ناست وو، د هوسی د پلارګنی خبرې مو راواچولې، کاکا مې وویل:

ماته چې پته ولګېدله، ډېره ښه کورنی او پخپله پښتو او اسلام ولاړ خلک راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري.

ما وویل: ماته هم خانداني او د پوره شتو خاوندان ښکاره شول. دا خپلوي دي ورسره زمونږ خدای ټینګه او بختوره کړي. کاکا مې د مور او تندار نه پوښتنه وکړه، ویلې: تاسو ته دا خلک څنګه ښکاره شو؟

هغوی دواړو وویل: ډېره ښه ښځه یې وه، مونږه پخپل عمر داسې ښه ښځه نه وه لیدلې، څومره نیت په خیره او مهربانه ښځه وه. همدا یې ویل: سهار صاحب طالع مند او خوش بخته دی، چې هوسۍ یې په نصیب شوه او له داسې ښه ټبر سره یې خپلوي وشوه. دوی دواړه به ښکمرغه ژوند ولري. په دې خبرو کې درې بجې شوې، ما هغوی ته وویل: تاسو که په کور کې قید شوئ، بیرون ته ووځئ، زه کېدای شي کور ته لږ ناوخته راشم، زه مطبعې ته راغلم او خپل پاتې کارونه مې ترسره کړل.

په څلورو بجو مې چې حاضري امضاء کړه، له مطبوعاتو نه ښکته شوم او په سړک باندې په چرت کې روان شوم، تر ډېره ولاړم، پام مې کاوه چې د هوسۍ موټر راواوخت، موټر یې ودراوه او راښکته شوه، په هغه اندازه خاندي او شرمېږي، چې هېڅ حد نشته دی، زه حېران پاتې وم، چې دا ولې نن بل ډول ده؟ هسې یې ځان جوړ کړی و، لکه د چین ماچین ښاپېرۍ، په موټر کې کېناستو، ما وې دا ولې داسې ښکته ښکته ګورې؟

ویل یې: د کونډې زویه ښکته به نه ګورم.

پام کوه هوسۍ تل به له ما سره په یوه طبیعي حال اوسې، زه او ته له نن نه په اېسته دوه ملګري یو. د مېړه او ښځې خو څه خبره نه ده، زما او ستا د برې راز په همدې حقیقي مینه کې دی، نور ژوند دی کېږي به. خپل ښي لاس یې رااوږد کړو، ژما په اوږه یې کېښود او وې ویل:

ما خو درته ویلي و، چې مینه درسره لرم، اوس نو زه ستا او ته زما یې، راځه چې اوس کوم د ساعت تېرۍ ځای ته لاړ شو. موټر ته یې حرکت ورکړو، ما وې: چېرې ځو؟

نن به سهاره راسا که دې خوښه وي شېوه کیو ته لاړ شو، هلته به د دریاب په غاړه یوه شېبه سره کېنو.

ما وې: بلکل مې خوښه ده، خو نن به لږ په وخت راوګرځو، ولې چېګ مېلمانه په کور کې دي.

هغې موټر ګړندی چلاوه، په لاره چې تلو راته وې ویل:

په بله اونۍ کې به درته موټر چلول زده کړم، ببرک چمن ته به دې بوځم.

ما ویل دا به څومره ښه شي، چې زه ډریوري وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یې: پروا ونه کړې، اوس به ټول هرڅه سم شي.

ما وې: رښتیا هوسۍ ته خوړه کونډۍ پېژنې؟

ویل یې: ولې نو نه یې پېژنم، سهاره په نظر کې دې پښتنه نه راځم که څنګه؟

ما ویل: نه نه ولې نه، خو ما وې چې تاسې په کابل کې ډېر وخت تېر کړی دی، ځینې دودونه مو هېر کړي نه وي.

نه نه کابل هم خپل رواج لري، هر چېرې دا دود شته دی.

ما ویل: مونږ که کومه پېښه نه وه په خیر، سبا نه او بل سبا ته خوړه کونډۍ دروړو. مور ته دې وو ایه، چې په هغې ورځې خان کاکا هم باید کور کې وي. ویل یې سمه ده.

په دې خبرو کې مونږه شیوه کیو ته ورسېدو، د جمیعت لېسې نه ورتېر شو، مخې ته سیند راغی، موټر مو د سړک په غاړه ودراوه او مونږه پیاده شو. د سین په غاړه وړاندې ولاړو، د توت ونې سره نښتې وې، په یوه ځای مو د توت ځانګې نه توتان وخوړل، ښه چې وړاندې تېر شو، د سین په غاړه جولګه وه، شاوخوا یې ګڼې ونې او د ګلابو ګلونه سره ښکارېدل، مونږ یو بل ته سره وکتل، ما وې راځه هوسۍ یو ساعت به دلته کېنو.

هغې ویلې راځه چې کېنو.

د ګلابو بوټو کې ورننوتلو ان د سیند غاړې ته مو ځانونه وررسول، په یوه شنه کبله ورته کېناستو، د سین اوبه خړې غونډې وې او په مستۍ سره سیند روان و، شاوخوا ځمکه یې له ځان سره وړې وه، د سیند نه پورې هم ګڼې ونې د سیند په غاړه ولاړې وې، هېڅوک نه ښکارېدل. یو نیم بزګر به په خپل پټي کې لګیا و، ما هوسۍ ته کړه:

دا خو بیخي ځانته ځای دی، بنی بشر نه ښکاري.

ویل یې: موږ ته همدا سې ځای ښه دی. وې خندل او لاس یې د سین اوبو ته ښکته کړو، داړې یې راته وکړې، ما هم د اوبو داړې وروشېندلې. په ټوکو ټوکو کې مو ځانونه لامده خېشته کړل، وروسته مو اوبه له ځانونو نه وڅنډلې او د ګلابو ګلونو په منځ کې په یوه شنه درب کې کېناستو. زما کمیس لوند شوی و، له ځانه مې ووېست او په بوټو مې لمر ته وغوړاوه. د هغې هم کمیس لوند و، ما وې هوسۍ څوک نشته دی، کمیس دې اوباسه او په دې بوټو یې خور کړه. ویلې نه دا کار دلته نه کېږي، که څوک مو وګوري، نو څه به وایي؟ ته خو نارینه یې پروا نه کوې، مګر زه خو دا کار کله کولی شم، خیر دی وچېږي. هوسۍ د لومړي ځل لپاره زما د سینې بېر وینښتان ولیدل، وې ویل:

سهاره دا څومره بېر یې؟

ما ویل: ولې نه دې خوښېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یې: د خوښېدو خبره خو بېله ده، مګر دومره ډېر ګڼ ویښتان !

ما یې زلفو ته لاس وروړو، او ومې ویل:

او دا ستا د زلفو قودي ! ځانته مې راوړاندې کړه، ما وی چې د مینې تنده ماته کړم، خو هوسۍ رانه ځان راښکدو، ویل یې: نه، زیاتې به نه کوو.

ما وې هغه فکر مه کوه هر شی په خپل وخت کې.

ویل یې: هو همدا سې ده، بې هوښه کېږه مه، خدای دې د زړه صبر درکړي.

هوسۍ رانه وړاندې کېناسته، ماته یې ورو غوندې وویل:

سهاره دا ځای بیخي ځانته دی، ځوک به شک راباندې وکړي، کمیس دې واغونده، د سیند غاړې ته به ورشو، چې د چا شک راباندې رانه شي.

ویل مې: هوسۍ نن راته بې زړه ښکاره کېږې.

ویل یې: بې زړه خود یم آن تر واده پورې به داسې بې زړه اوسم.

د سیند غاړې ته ښکته شو، کتل مو چې پاس د توت ځانګې سرې له توتانو نښتې دي، په اوبو کې مې یوه ځانګه راوځنډله، سره پاخه توت په اوبو کې پرې واته. مونږ دواړه د سیند په اوبو کې په مزه مزه او ټوکو ټوکو کې ډېر توتان وخوړل، ښه شېبه د سیند په غاړه کېناستو، بیا مې هوسۍ ته وویل: راځه چې زیاتي ځو، په کور کې مېلمانه دي، جې ځان ورورسوم، خپه نه شي.

هوسۍ چې بوټ یې له پښو وېستلی و، بوټ یې پښو کړل د موټر خوا ته راروان شو، له شېوه کیو نه د ښار په لور روان شو، په موټر کې مې هوسۍ ته وویل:

سبا ته به مونږ د خوږې کونډۍ لپاره په بازار کې ځینې سودا رانیسو.

هغې وې: څه به رانیسئ؟

ما وې: مور مې راته ټول شیان راښودلي دي، لکه وچه او تازه مېوه، ماهیان، شیر برینج، سابه او داسې نور... بېګاه ته به بیا له هغوی نه پوښتنه وکړم.

ویل یې: سهاره د ټولو شیانو پوښتنه وکړه، سبا ته هغوی ته تکلیف مه ورکوه، په لسو بجو به زه مطبعې ته درشم، دواړه به بازار ته لاړ شو، وابه یې خلو.

ما وې: هوسۍ ته به راسره په تکلیف شې.

هغې ویل: نو دا خو یوازې ستا کار نه دی زمونږ د دواړو ګډ کار دی.

ما وې: سمه ده زه به سبا ته ستا انتظار کوم. زمونږ ګاډی په قلاچه راتېر شو، لږه شېبه کې حضوري چمن ته راورسېدو، لمر په غرغره و، چې د کور مخې ته یې موټر ودراوه. زه ترې راښکته شوم او هوسۍ په چالاکۍ سره موټر روان کړو او لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانـدې کاکـا او مامـا دواړه راروان وو، هغـوی خـو ولیـده، مګـر څـه یـې پېژندلـه، چـې څـوک ده؟ زه ورته پښه نیولی شوم، خوا ته مې رانژدې شول، ویلې: سهاره راغلې؟

ما وې هو راغلم.

ویل یې: دا موټر د چا و؟

مـا وې دا خـو زمـوږ د ریاسـت مـوټر و. کـور تـه ننوتلـو، مـور او تنـدار مـې راتـه سـترې مـشې وویـل، مـا وې مورجـانې بېګـاه تـه مـو څـه پاخـه کـړي دي؟ ویـل یـې: زویـه تراوسـه خـو مـو څـه شـی نه دي باندې کړي.

زه پـوه وم چـې د پخولـو څـه نـشته، مـا وې زه بـازار تـه وځـم چـې غوښـه راوړم. پـه منـډه راووتلم، لـه قـصابه مـې غوښـه کـور تـه یـووړه، مـا یخچـال نـه درلـود، چـې غوښـه او نـور خـواړه مـې پکـې ذخیـره کـولی. هـره ورځ بـه مـې نـوې سـودا کـور تـه اخیـستله. د شـپې لـه ډوډۍ خوړلـو نـه وروسـته مـور او تنـدار تـه مـې وویـل: مـوږ او تاسـې بـه سبا تـه مـازیګر هغـوی کـره ورځـو، خـو کـوم کـوم شـیان واخلـو. هغـوی راتـه بیـا همغـه شـیان یـانې شـیدې، سـابه، تـازه ماهیـان، شـیر بـرینج او تازه میوې راته په ګوته کړې. هغوی ته مې وویل:

سبا تـه بـه زه همـدا شـیان کـور تـه راوړم او پـه څلـورو بجـو بـه ځـو. سبا تـه چـې کـار تـه لاړم، تـر لسو بجو مـې پخپـل دفتـر کـې کـار وکـړ، بیـا لـه مطبعې نـه ووتلم او د هوسـۍ انتظـار مـې کـاوه. هغـه پـه خپـل ټـاکلي وخـت راورسېده، مـوټر کـې کېناسـتو او نـوې ښـار تـه لاړو. د خـوږې کونـډې ټـول شـیان مـو واخیـست، هوسـۍ پیـسې راوېستلې، مـا وې هوسـۍ دا پیـسې پـه زه ځکـه ورکـوم، چـې بیـا راتـه پـه راتلـونکې کـې چېرتـه پېغـور ونـه کـړې. پـه ټوکـه کـې مـې ورتـه وویـل. هغې راته په موسکۍ توګه وویل:

ددې پخوانیـو د اطرافـي خبـرو نـه وانـه وختـې، سـمه ده تـه پیـسې ورکـړه، ماتـه یـوه خبـره ښکاري خو ته....

په کړ، کړت مې ورته وخندل، هوسۍ زه خو د کلي سړی یم.

ویـل یـې: کلـی اوس پرېـږده. پـه ټوکـو، ټوکـو کـې مـو سـودا پـوره کـړه او پـه مـوټر کـې مـو واچولـه. دولـس بجې کېـدې، چـې کـور تـه مـو راورسـوله. هغـې راسـره لـه مـوټره راښـکته کـړه او بیـا مـو مخـه ښـه ورسـره وکـړه. کـور تـه روانـه شـوه. مـا پـه چـالاکۍ سـره ټـول شـیان کـور تـه ننوېستل، مـور او تنـدار مـې څـه ماهیـان پاخـه کـړل او څـه یـې اومـه سنبال کـړل. د خـوږې کونـډې هرڅـه یـې تـر څلـورو بجـو پـورې برابـر کـړل. څلـور بجـې شـوې، ټولـو ځانونـه تـګ تـه برابـر کـړ، سـامانونه مـو راواخیـستل او پـه یـوه ټیکـسي مـوټر کـې لاړو. هغـوی زمـوږ د ورتـګ نـه خبـر وو، ټـول پـه کـور کـې و، نـور د ورور کـورنۍ یـې هـم راغلـې وه، ښـځې، ماشـومان او سـړي ورکـره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو راسره په ګرم جوشۍ او مینه سره ستړي مشي وکړه. یو بل ته سره ورمعرفي شو، نارینه په لوی سالون کې کېناستل او ښځې په یوه بله کوټه کې کېناستې. خان کاکا ټولو ته په ورین تندي خبرې کولې، د هغه بل وړور چې له ده نه کشرو، درونـد سړی او د ښه خوی او پوهې څښتن و. هغه هم د پښتنو د تاریخ او بیا خصوصاً د جنوبي او مشرقي د پښتنو د تېرو حالاتو په باب ځینې یادونې وکړې او وروسته زمونږ په دې خپلوۍ خپله پوره رضایت او خوښي وښودله. دوه درې زلمیان، چې دوه تنه د همدغه زما د کاکا خسر زامن وو او یو یې د ترور زوی و، په مجلس کې ناست وو. ناستو کسانو په غېب کې زه پوره پېژندلم، خو لیدلی یې نه وم، هر یوه به دا ویل: سهار صاحب ته یې؟

دا ځکه چې هغوی ټولو ښځو او نرو زما داستانونه په راډیو کې اورېدلي وو. زه پوهېدمه، چې زما او هوسۍ په کوژدنه هغوی خوشاله دي.

کله چې د ماښام ډوډۍ وخوړل شوه، زما خواښې یو ګیلاس شربت راوړو او ماته یې ونیو، ما هم شربت وچښو او لس زره روپۍ مې ورسره ورکړې. ټولو خلکو ماته کتل، چې دا به اوس څه کوي؟ ما چې پیسې د ګیلاس سره ورکړې، ټول خوشاله شول. په دې وخت کې خان کاکا وویل: سهاره بچې خالي یو سل ګون نوټ پکې کېږده، کفایت کوي، نورې پیسې بېرته واخله. هر څومره چې یې یادونه وکړه، ما پیسې دوباره وانه خیستلې. هوسۍ یې زما مور او تندار ته راوستې وه، ورپېژندلې یې وه. تر ماخستن تېره پورې د خپلوۍ او خوښۍ مجلس وشو، مونږ ترې د شپې په دولسو بجو کور ته د تللو اجازت وغوښت، هغوی ویل خامخا به شپه کوئ، هر څو چې ټینګ شول، اجازه مو ترې واخیستله او ترې راروان شو.

د راوتلو په وخت کې یو بکس یې مزدور له کوره راووېست او په موټر کې یې واچاوه. ټولو راسره ښه په مینه مخه ښه وکړه او د هغوی په یوه موټر کې یې وراره تر کوره راورسولو. کله چې مو بکس خلاص کړو، د ټولو لپاره پکې جامې ایښې وې، زما لپاره یې نوې توره دریشي ایښې وه. کاکا او ماما دواړه خوشاله شول، ویلې دا خلک په ټولو رواجونو پوره پوهېږي. ماته یې مخ راواړاوه، ویل یې:

بچې پام کوه، چې دوی درنه خپه نشي، مونږ خو ترې لیرې یو، مګر ته به یې ډېر خیال ساتې.

ما وې د خپلې بندګۍ ووسه به کوم، ستاسې دوعا دې راسره وي، انشاء الله زمونږ خپلوي او دوستي به تر اخره ښه پاتې شي. هغوی خپلو کې سره مصلحت وکړو، ویلې مونږ به په خیر سره سهار وختي کلي ته ځو. ویل یې ښه شوه، چې دا کار په خیر سرته ورسېد او خالي لاسو نه لاړ نه شو. ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یوه ورځ راسره بله هم تېره کړئ، زه به ډېر خوښ شم. هغوی هېڅکله له خپل کور او کلي نه بهر سفر نه و کړی، په دا یوه اونۍ کې پخپل کور پسې خپه شوي وو، ما وی ښه ده، سهار چې پاڅېدو، هر څه به وشي.

شپه تېره شوه، سبايي وختي ټول لمانځه ته پاڅېدل، زه هم وختي له کوره ووتلم، دوی ته مې په بازار کې چای، بوره او نورې وچې میوې راونیوې، ترڅو چې کور ته راستنېدمه، چای تیار و. له چای وروسته مې هر یوه ته خپله برخه تحفه ورکړه او په یوه ټیکسي موټر کې پل محمود خان ته د موټرو هډې ته لاړو. د یوه سروېس ګاډي کلینر ناري وهلې "جلال اباد والا جلال اباد والا" سمدستي مو سامان ورپورته کړو او مور دوی مې ټول په سروېس کې کېناستل. لږه شېبه کې ګاډی ډک شو، ما ترې اجازت واخیست او له هغوی سره مې مخه ښه وکړه. ګاډی روان شو.

زه په دغه ورځ لږ ناوخته کار ته لاړم، زموږ رئیس ته مې ټول جریان ووایه، هغه ډېر خوشاله شو، ویل یې: سهاره واده به دې ښه په ډنګ ډونګ وکړو. ځو ټوکې یې راسره وکړې، زه ترې خپل دفتر ته لاړم او په کار مې پیل وکړو.

ډېرې ورځې شوې وې، چې ځینې کارونه راته ډب ډېرې پراته وو، تر دولسو بجو پورې کوم نیمګړي کارونه چې پاتې وو، سرته مې ورسول. د غرمې ډوډۍ مې چې وخوړه، بیا مې په کار پیل وکړو. د جمعې د شپې راډیویي داستان مې تر نیمې ورساوه، خو له ځانه سره مې فیصله وکړه، چې راډیوي داستان به د شپې له خوا په کور کې تکمیل کړم. د اخبار او مجلو ځینې ضروري شیان مې ولیکل، دوه بجې وې، چې د هوسۍ د ټیلفون زنګ راغی، راته وې ویل: نن به ببرک چمن ته ځو، چې هلته درته موټر چلول درزده کړم.

ما وې: ښه زه به انتظار کوم. په څلورو بجو چې هغه راغله، ببرک چمن ته ولاړو. هغې وخت کې د ببرک چمن لاځه، چې په خبرخانه کې دومره ډېره ابادي نه وه شوې. د ببرک چمن په زیاته برخه کې اوبه ولاړې وې او لوخې پکې شنه ولاړ وو، موږ یوې وچې برخې ته لاړو، ځای پرځای پکې موټرې چلېدلې وې. د لومړي ځل لپاره د موټر په جلو کېناستم، هوسۍ راته د موټر توله، ګیرونه، بریک، ګاز، کلچ، اشاري او نور د موټر بېلابېلې برخې راوښودلې. څو ځلې یې راباندې تکرار کړې، بیا یې د موټر کلي راکړه او د چالانولو چل یې رازده کړو. په لومړي ځل مې چې موټر چالان کړو او ګاز مې ورکړ، موټر روان شو، خو رانه ګډ وډ شو، زړه مې درزېده، د موټر توله (شټرینګ) مې کلک نیولی و، ټول بدن مې ورته کلک او شخ نیولی و، څو متره چې به موټر مخکې لاړ، رانه ګل به شو. هغې راته بیا تشریح وکړه، وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه ډاربږه، بدن سست او عادي ونیسه، شترینګ هم کلک مه نیسه، مخامخ وړاندې ګوره، لاندې پښو ته مه ګوره، څه زړور څه هن چالان کړه.

بیا مې موټر چالان کړو، دا ځل لږ وړاندې موټر روان شو، په همدغه ترتیب سره تقریباً درې ساعته مې په دغه ورځ تمرین وکړو. کله کله به راباندې په غوسه شوه، کله به یې ټوکې راپورې وکړې، ویلې به یې: دا خو لیکل نه دي، چې وې کړې.

په همدغې ترتیب سره یوه اونۍ مې د موټر چلول تمرین وکړو، له یوګي ورځې نه بلې ته ښه کېدمه، په دوو اونیو کې مې موټر چلول سم زده کړل. په وړو او شاړو سړکونو کې به مې موټر ځغلاوه، هوسۍ به راسره ناسته وه. لنډه دا چې موټر مې ښه سم زده کړو او په لویو سړکونو کې به زړور تلمه.

د هوسۍ موټر مې بیخي له کاره ابستلی و، کله چې مې موټر زده کړ، هوسۍ موټر ورکشاپ ته ودراوه او درې ورځې وروسته یې موټر جوړ کړو، بیا به چې هوسۍ ما پسګي راغله، موټر به ما چلاوه. هغه به راته څنګ کې ناسته وه، هغه زما په موټروانۍ پوره خوشاله وه. وروسته به بیا زیات وخت موټر ما سره و، هغه به چې کور مخې ته ښکته شوه، موټر به یې ماته راکړو، کور ته به پکې لاړم. کله ناکله به وظیفې ته پکې هم تلم. زما د کوژدنې نه د مطبعې مامورین خبر شول، ټولو راته تبریکي راکوله. په موټر کې به بې چې ولیدم، ځینو به راپورې ملنډې وهلې، ویلې به یې: سهاره د موټر څښتن شوی یې. لکه چې......

ما به ورته ویلې، چې دا هرڅه مې د مېرمنې دي، زه خو همغه سهار یم، بدل شوی نه یم. هغوی راپورې ملنډې کولې، زه په ټولو مامورینو ګران وم، هر یوه به دا ویلې په دغه جمعې شپې دې راډیویي داستان لیکلی که نه؟ ما چې به دهو ځواب ورکړو، ټول به خوشاله شول او د جمعې شپې ته به خپلې راډیو ته د داستان ټاکلي وخت ته منتظر ناست وو. د جمعې شپې ته لا دوه شپې پاتې وې، ما هم ورته راډیویي داستان نیمې ته رسولی و، سبا ته چې کار ته لاړم، لومړۍ مې راډیویي داستان پاتې برخه تکمیل کړه او نشر ته مې وسپاره. یوه بجه وه، چې هوسۍ ټیلفون وکړو، ویلې نن د پوهنتون کتابخانې ته په څلورو بجو راشه، بیا به له دې ځایه بل خوا ته په چکر ولاړ شو. ما وې ښه ده زه به څلور نیمو ته درورسېږم.

تر څلورو بجو مې خپل کارونه اجرا کړل او بیا د کابل پوهنتون په لورې روان شوم. د پوهنتون کتابخانې ته ورغلم، کتل مې چې هوسۍ د پنځه شپږو انجونو سره په کتابخانه کې ناسته ده. زه یې چې ولیدم، سپکه راپاڅېده او له هغوی نه یې اجازه راواخیسته. هغوی ټولو زه ولیدم، خو نږدې ورنغلم. د پوهنتون له دروازې نه راووتلو او د دارالمعلمین او ابن

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینا د ښوونځیو په منځ کې مخامخ سړک باندې راساً دارالامان ته لاړو. موټر مو د سړک په غاړه ودراوه او موږه دننه باغ ته ننوتلو. لومړی مو په باغ کې ښه ډېر چکر وواهه او بیا همغه پخواني ځای ته ورغلو. د ګلابو په منځ کې کېناستو، د خبرو په لړ کې مې هوسۍ ته وویل:

د پوهنتون د فارغېدو شپې دې رالنډې شوې دي، ازموینې ته تیاری ونیسه، مونوګراف دې مخکې له مخکې نه استاد ته وسپاره. زما خو داسې نظر دی، چې له پوهنتون نه خلاصه شوې، د واده بندوبس به کوو.

هغه په موسکېدو، موسکېدو وویل: ولې دا ازاد ژوند دې نه خوښېږي؟

ما ویل: ولې مې نه خوښېږي، خو ترڅو به یوه خوا او بله خوا ګرځو، اخر دواړه به په یوه کور کې د اوسېدلو مزه هم وګورو.

وې ویل: سهاره ګوره زما او ستا واده به ستا په دغه کرایي کور کې کېږي؟

زه لږ غلی شوم، بیا مې ورته وویل: هو نو چېرې به کېږي، زه خو خپل کور نه لرم، تاته خو هرڅه معلوم دي.

هغه لږه شېبه غلې وه او زه هم چوپ پاتې وم. وروسته بیا هغې وویل:

زه به مې مور او پلار سره خبرې وکړم، ته د واده او نورو شیانو په باب هېڅ تشویش مه کوه، هرڅه چې جوړ او برابر شول، بیا به واده کوو.

ما ویل: زه پوه نه شوم، هرڅه چې جوړ شو یانې څه او څنګه؟

هغې ویل: مسلمانه خو ته یې څه کوې، پلار به مې راته نوی کور راونیسي د واده ټول شیان به تکمیل شي بیا به درته ووایم، چې اوس واده کوو، نور څه وایې؟

ما ویل: ستاسې په ځای کې د واده ولور څو دی؟

هغې ویل: ولور څه کوې، چې پوښتنه یې کوې آ، له تانه خو څوک ولور نه غواړي.

ما وې: نه خو ځان خبروم، چې ستاسې د خلکو د ولور رواج څنګه دی؟

ویل یې: زموږ د خلکو رواج ډېر خراب دی، پېنځه لکه، شپږ لکه افغانۍ ولور اخیستل کېږي. ډېرې پېغلې د پلار له کاله زړې شي او ډېر ځوانان د ولور د ګټلو او پوره کولو لپاره د عربو ګرمۍ پاخه کړل. ته یې څه غم کوې هوسۍ به بې ولوره درکره درځي. څومره ښه نصیب لرې.

ما ویل: زما نصیب پخوا دومره ښه نه و، خو له کله نه چې مې ستا سره لیده کاته شوي دي، ورځ مې روانه ده. لاس مې وراوږد کړو له غاړې مې راونیوله، خدای دې راته ژوندۍ لره، په غېږ له مینې به دې په ژوند کې احسان وړم.

ویل یې: په دې کې سهار صاحب د احسان څه خبره ده؟ په مینه کې خو دا شیان نه ځایېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه نـن ورځـې نـه پـه آخـوا دا شـيان لـه مغـزه وباسـه، پـه تېـرو بحثونـو کـې مـې هـم درتـه ويلـي دي. هـېڅ ډار پـه زړه کـې ونـه لـرې، هرڅـه چـې مخـې تـه راځـي، پـه دواړو بـه وي، د احـسان څـه خبـره نشته.

پـه دې وخـت کـې پـاس د يـوې ونـې پـه څنګـه دوه مرغـۍ ناسـتې وې، دواړو يـو پـر بـل غـړې اړولـې وه، زه ورتـه متـوجې شـوم، کلـه بـه يـوې مرغـۍ خپلـې سـترګې پټـې کـړې او هغـه بلـې بـه ځـان وځانـډه او خپـل سـر بـه يـې د هغـې بلـې پـه ځـانګونو کـې ومانـډه. مـا هوسـۍ تـه غلـي شـان اشـاره وکـړه، يـو لاس مـې ورلـه پخپـل لاس کـې ټينـګ ونيـو او پورتـه مـې خپلـه ګوتـه ونـې تـه ونيولـه. هغـې چـې مرغـۍ پـه ونـه کـې وليـدې، چـې دواړه يـو پـر بـل کـې سـره ورک دي، پـه خنـدا شـوه او وې ويـل: مـوږ دواړه تـرې څـه کـم يـو. موسـکۍ، موسـکۍ يـې ځـان زمـا غېـږې تـه راوارتـاوه، مـا هـم خپـل سـر د هغګـي پـه زلفـو کـې پـټ کـړو، بيـا مـې پـه کـرار سـره خپلـې شـونډې د هغـې شـونډو تـه ورورې، هغـې هـم خپلـې شـونډې د ګـلاب ګـل د پـاڼو غونـدې ورو بېرتـه کـړې او زمـا شـونډې يـې ښـې کلکـې وزبېـښلې، ترښـه ډېـره شـېبه پـه همدغـه حـال کـې سـره پـاتې وو، وروسـته هغـه سـپکه پورتـه شـوله، ويلـې څـوک رانـشي. سـترګې يـې پـه زلفـو کـې نـه ښـکارېدې، مـخ يـې خـولې شـوی و، خپـل مـخ يـې پـاک کـړو، وې ويـل: سـهاره زه بـه درتـه ډېـره ګرانـه يـم او کـه ته به ماته؟

مـا ويـل: دا بـه نـو خـدای تـه معلومـه وي. يـره هوسـۍ زه خـو وايـم، چـې دواړه يـو بـل سـره مساوي مينه لرو. لکه ته چې راباندې څومره ګرانه يې، زه هم په تا هومګره ګران يم.

هغـې ويـل: هـو همداسـې ده، خـدای دې مـوږ نـه د نظـره کـوي. سـهاره ! مينـې رانـه هرڅـه هېـر کړي دي، ازموينه رانژدې شوه، هېڅ تياری نه لرم.

مـا وې: تيـاری بايـد ولـرې، لـه سبا نـه پـه اخـوا بـه خپـل درسـونه پيـل کـړې، اخرنـی امتحـان دې دی، چې په ښه درجه کامیابه شې.

هغې ويل: ته خو وايې، مګر کله چې کتاب ته ګېنم، بس همدا سودا مې راواخلي.

ما وې: کومه سودا ؟

هغې ويل: ولې خو همدا يوه سودا او سوچ دی نو !

ما وې: مړې پربږده، چې چېرته درنه په اوږده سفر تللی نه يم.

هغـې ويـل: واخ ده تـه ګـوره ! تـه وا دا ګنـې اوږد سـفر نـه دی چـې کلـه خپـل کلـي تـه لاړ شـې، بيـا مې هېره کړې، دوه درې اونۍ په کلي کې پاتې شې.

مـا ويـل: هوسـۍ روزګـار خـو هـم کـول غـواړي، هلتـه مـور کـور او کلـی دی، نـوی کـور مـې جـوړ کړی دی، لا ټول شيان يې نه دي پوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ویل: هو رښتیا سهار صاحب، کور دې ښه جوړ کړی دی که نه؟

ما وې: د کلي په نورو کورونو کې زما کور ښکلی دی، که قسمت دې شوی و، وبه یې ګورې.

ویې خندل، ولې نه خامخا به کلي ته دواړو ځو. ما وې: هغه به هم ساعت وي، چې ما او تا دواړه کلي ته یو ځای لاړ شو؟

ویل یې: سهاره بس بس دا دومره ارمان نه دی، واده مو چې وکړو خامخا به ځو. راځه چې حرکت وکړو وخت ناوخته دی، مازیګر په تېرېدو و، چې دارالمان نه راروان شو او موټر ته زه کېناستم، زموږ تر کوره مې موټر وچلاوه.

له موټره چې ښکته شو، ما وې راځه هوسۍ نن را سره پاتې شه، مور و پلار ته به دې څه بهانه وکړې.

ویل یې: اوس نشم پاتې کېدی، کور مې څه نه دي ویلي، بیا به یوه شپه درسره پاتې شم، اوس لا اول د مني سر دی.

ډېره زاري مې ورته وکړه، خو هغې خپل تصمیم ونه ګرځاوه، په موټر کې کېناسته او لاړه.

زموږ د دواړو ژوند همدغسې پسې تېرېده، هوسۍ له پوهنتون نه فارغه شوه، پنځه شپږ میاشتې تېرې شوې، زه بیا هم کلي ته لاړم، د کور نیمګړې چارې مې سنبال کړې، د واده په باب مې له مور او کاکا دوی سره خبرې اترې وکړې، کاکا مې وویل:

څومره پیسې به پکار شي؟ واده خو په ډېرو پیسو کېدی شي، سهاره څه درسره شته او که نه؟

ما وې کاکا جانه لږ و ډېر څه خو به را سره وي، ولې کوژدنه مې راته وایي یوه روپۍ به دې مصرف نه شي، هرڅه به زه پخپله کوم.

هغه وویل: دا خو څه بل شان ښه خلک دي، خو یو ځل بیا هم ځان ورسره د واده په کولو او مصرف هرڅه ورسره په ډاګه کړه، بیا به موږ ته خبر راکړې، چې ځان ورته برابر کړو. که ډېرې پیسې یې غوښتې چې څه چاره ولټوو.

ما وې ښه کاکا جانه، چې زه دا ځل لاړم، د واده خبرې به ورسره وکړم، تاسې ته به احوال راولېږم، خاطر جمع اوسئ، مورجانې زړه چې دومره ښکته پورته نه کړې، ولور رانه، نه اخلي، زه فکر کوم چې په کابل کې به راته کور هم واخلي. په مور او پلار یې ډېر ګران یم، په هفته کې یو ځل ورځمه ډېر قدر مې کوي. زه د مور او کاکا دوی نه په دوعا نفا ښار ته راغلم.

زړه مې دی چې همدا نن سبا لومړی هوسۍ سره د واده خبرې مطرح کړم او بیا مې د خسر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوابښـي سره سبا تـه، چې کـار تـه لاړم، د هوسـۍ دوی کـره مـې ټېلفـون وکـړو، مـور سـره مـې پـې خبـرې وکـړې، حـال احـوال مـې تـرې واخيـست، د خپـل راتـګ مـې ورتـه وويـل، مـا وې لـه کلـي نـه راغلی یم، زما د مور او ټولو خپلوانو پوښتنه یې راځینې وکړه. سمد ستي یې وویل:

بېګـاه تـه کـور تـه راشـه، چـې لـه نـږدې نـه دې وويـنم. مـا وې کـه وشـوه سبا شـپې تـه بـه درشـم. ویلې ښـه مـونږ بـه درتـه سبا شـپې تـه پـه تمـه یـو. هوسـۍ لـه انجونـو سره چـېرې وتلې وه، مـا وې پـه خـان کاکـا سـلام کـوه. د مېـز پـه سر مـې ځینـې کارونـه راتـه پراتـه وو، پـه هغـې مـصروف شـوم ان تـر یـوې بجـې مـې سـم ضـربتي کـار وکـړو. د غرمـې تـر ډوډۍ وروسـته دوه بجـې وې، چـې د هوسـۍ د ټېلفون زنګ راغی. له سلام او روغبړ نه پس یې وویل:

زه بـه څلـور بجـې درشـم، منتظـر اوسـه. تـر څلـورو بجـو مـې کـار وکـړ، نـوې راډيـو يې داسـتان مـې د جمعـې شـپې نـشر تـه ورکـړ، پـه څلـورو بجـو لـه مطبعـې نـه راښـکته شـوم او د هوسـۍ مخـې تـه روان شـوم، کتـل مـې چـې هغـه هـم راورسـېده، مـوټر یې ماتـه پـه اختیـار کـې راکـړ او ویلـې: نـن به بګرامیو ته ځو.

مـا خـو بګرامـي نـه و لیـدلي، هغـې راتـه لاره ښـودله. تـر سـیاه سـنګه پخپلـه لاړم، آخـوا تـه هغـې رهنمـايي کـولـم ترڅـو بګرامیـو تـه ورسـېدو. هلتـه مـو مـوټر د سـړک پـه غـاړه پـارک کـړو او مـونږ د حنیفـه ښـونځي ترڅنـګ یـوه بـاغ تـه ورتېـر شـو. د یـوې ویـالې پـه سـر د ولـو پـه بېـخ کـې سـیوري تـه کېناسـتو، دا داسـې ځـای و چـې هېڅـوک پکـې نـه و، یـو نـیم سـړی بـه وړانـدې د پټـو پـه مـنځ نـرۍ لاره روان وه، پـه دې ورځ مـې سمد سـتي د واده خبـرې هوسـۍ تـه پـه مخکـې کـړې، هغـه لـومړی لږه غلی شوه، بیا یې وویل:

لکه چې د ټینګې نه یې؟

مـا ویـل: نـه نـه دا خبـره نـه ده هوسـۍ پرېـږده چـې مـونږ دواړه د خپـل ژونـد د خـوږو نـه هـم لـږه څکـه خـو وکـړو او رښـتیا خبـره خـو دا ده، چـې زمـا او سـتا همـدا وخـت د واده کولـو دی، څنګـه تـه پکې څه وایې؟

هغـې ویـل: تـه چـې څنګـه وایـې، درسره خوښـه مـې ده. هـو رښـتیا ابلـه ورځ د شـپې لـه خـوا مـوږ پـه خپـل سـالون کـې سـره ناسـت وو، پـلار او مـور مـې دواړو زمـا او سـتا د کـور پـه بـاب خبـرې کولې. پلار مې مور ته وویل:

دوی تـه د هوسـۍ پـه نـوم یـو کـور پـه دې نږدې شـاوخوا کـې واخلـم، چـې لـه مـونږه لیـرې نـه وي. یـو کـور مـې پیـدا کـړی دی، یـو ځلې بـه یې پـه ګډه سره ووینـو، بیـا بـه ورسره خبـرې وکـړو. پـه هغـه سـاعت کـې خـو مـا لـه شرمه هغـوی تـه څه ونـه ویـل، خـو پـه سبا تـه مـې بیـا مـور تـه وویـل، چـې پـه دغـه کـور پـسې زر تـر زره وګرځئ، داسـې نـه چـې بـل څـوک یـې واخلي. همغـه و، چـې مـور مـې ابـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـه ويلـي وو. زه فكـر كـوم چې پـلار مـې كـور ليـدلى دى، خـو اوس يـوازې زمـوږ ليـدو تـه پـاتې دى. بيگـاه تـه بـه مـې مـور تـه دا خبـره وريـاده كـړم، كلـه چې كـور معلـوم شـي بيـا بـه د واده پـه بـاب خبـرې كـوو. سبا تـه بـه درتـه د كـورر معلومـات دركـړم. رښـتيا پـه كلـي كـې نـورې څـه خبـرې وې، كـراري وه، مور مې، كاكا دوی او نور ټول خپلوان مې په كوژدنې خوشاله شوي دي؟

مـا ويـل: سـتا د پـلار او ټـولې كـورنۍ صـفتونه مـې مـور پـه ټـول كلـي كـې خلكـو تـه كـړي دي، دوعاگـانې يـې تاسـې تـه كـولې، ټولـو سـلامونه ويلـې. نـن سـهار مـې لـه ادې سـره خبـرې وكـړې (ستا د مور) سره، خوشاله شوه، ويلې نن بېگاه ته كور ته راشه.

هغـې ويـل: سـهاره زمـا پـه مـور خـو دې څـه كـوډې نـه دي كـړي، هـر وخـت هـره شـېه دې يـادوي او همـدا وايـي، چې دا هلـک خـو بيخـي اطرافـي خـوی لـري، خپلـه پـښتو يـې ټينگـه نيـولې ده، مـوږ كره نه راځي.

او ای تـه خـو پـه رښـتيا چې بلكـل لـه هغـو درو نـه بيخـي راوتلـی نـه يـې. كلـه ناكلـه خـو مـوږ كـره راځې، همدا نن شپه به راسره لاړ شې.

ما ويل: خدا يږو هوسۍ شرمېږم.

هغـې ويـل: هـو دا خبـرې مـې پـلار كـړي دي وايـي سـهار ښـه هلـک دی، د ښـه خـوی او پـوهې خاوند دی، مصروفيتونه يې زيات دي، ځكه ډېر نه راځي.

ما ويل: ما خو ستا له مور سره بېگا ته وعده ايښې ده، چې دركره درځمه.

ـ دا څه وايې؟ رښتيا وايې كه ځنگه؟

ـ كله مې درته دروغ گڼې ويلي دي؟

هغه له خوشالۍ نه پاڅېده په خندا يې وويل:

څومره ښه چې واورې دې ماتې كړې او موږ كره راځې.

ـ چې داسې ده، نو پس له دې به هره ورځ درځمه.

ـ سهاره لږ ساعت به دلته كېنو بيا به راساً مونږ كره ځو، همدا سې به وي كه ځنگه؟

ـ هـو همد غـسې بـه وكـړو. ساسـې كـور تـه بـه نـژدې مـا لـه مـوټره ښـكته كـړې، يـوه شـېبه وروسته ب زه كور ته درشم، سمه ده.

ويل يې: بيخي سمه ده.

يـوه شـېبه وروسـته د بگرامـيو پـه بـازارگي كـې وگرځېـدو او بيـا مـو گـاډی د هوسـۍ د كـور پـه لـوري خوشـې كـړو. پـه لـږ سـاعت كـې وزيـر اكبـر خـان مېنـې تـه ورسـېدو، د هغـوی د كـور خـوا تـه مـې گـاډ ودراوه، كلـي مـې هوسـۍ تـه وركـړه، هغـه لاړه او زه لـږ وروسـته ورپسـې لاړم. د دروازې زنـگ مـې چـې وواهـه، هوسـۍ دروازې تـه قـصداً راغلـه، زه يـې چـې وليـدم سـمه وغوړېـده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کالي یې په غاړه وو، ما وې ګنې د سبر تانده ده. ددې لپاره چې خپل جوګ یې په مور پوخ کړی او سي، له مانه په یوه منډه یې تر موره ځان ورساوه، مور یې هوښیاره ښځه وه، په کړت کړت خندا یې وکړه او زما مخې ته راغله، په دواړه طرف یې ښکل کړم، لکه د خپلې مور غوندې مینه یې راکړه، ما یې هم لاسونه ښکل کړل، کور ته ننوتلو. په هوسۍ یې داسې غږ وکړ:

لورې تا خو فاکولته ویلې ده، داسې منډه دې د خپل سهاره وکړه لکه پخپل کلي کې چې وې.

کله چې په سالون ورننوتلو ادې مې له ځانه مخکې کړه او زه ترې وروسته شوم. ما وې چې احترام او درناوی یې وشي. وروسته مې د څنګ کوټې ته ورپام شو، چې هوسۍ په خپله خوله لاس ایښی دی او خندا شنه کړې ده. ما ته یې په څو ډولو نازونو او اشارو هرکلی وایه.

خواښې او خسر مې دواړه راته خوشاله وو او زما په ورتګ سره یې خوښي کوله. د ماښام له ډوډۍ نه وروسته د چایو په سر دواړو راسره داسې د زړه خواله کوله، لکه مور او پلار یې چې خپلو بچیانو سره کوي. د راتلونکي ژوند د پېرزو خبرې یې کولې، زموږ د واده په باب یې وویل:

سهاره بچی! پام کوه چې زړه کې دې څه در ونه ګرځي، ته مې زوی یې او هغه مې لور ده، ستاسې واده به په ښه شان سره درته وکړم. لومړی درته کور واخلم، نو بیا به له خیره د واده بندوبس کوو. زما خو داسې نظر دی، چې د خپلې لور واده لکه د نورو پښتنو او افغانانو پرخلاف په خپل مصرف وکړم. زه لور لکه د نورو په شان نه خرڅوم.

د هغه هره خبره رابانده ډېره ښه لګېده، ځکه چې زما د فایدې خبرې یې کولې. تېر ماخوستن پورې مو همدا د واده خبرې کولې، ما خو هېڅ نه ویل، خالي غوږ مې ورته ایښی و. د واده نه په غیر نورو خبرو کې به مې یوه نیمه ورسره ویلې. د هغوی په نیت او عمل پوه شوم، چې زما په ګټه او فایده پوره نیت لري. دا یې هم راته وویل چې:

دوه ورځې په اوونۍ کې دلته راځه، چې سره ګورو. نیمه شپه وه، چې بیده شو. سهار وختې وظیفې ته د هوسۍ په موټر کې لاړم، خسر مې هم چېرې پخپل موټر کې ولاړ. له مانه هغه مخکې له کوره ووت، ما ته یې یوازې دومره وویل:

بچې وظیفې ته د هوسۍ په موټر کې ولاړ شه. خدای په اماني یې راسره وکړه او لاړ. کله چې زه له سالون نه راووتلم، خواښې مې راسره روانه وه. هوسۍ ته یې ورغږ کړ: هوسۍ وه هوسۍ هغې له دننه بلې کوټې نه وویل: آه ادې جانې څه وایې؟

ــ لورې د موټر کلي دې راوړه ته د زړو خلکو نه بدتره یې، شرمیندوکه جنۍ یې ته خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه.

هغه له کوټې راووتله او رارا‌وانه شوه، له ځان سره یې خندل، د کوټې په ګوټ چې راوختـه ماته یې پخپلو خاصو اشارو سره ډېر څه وویل. کلي یې راته له لیرې نه، چې له موره شرمېدله، په ډډه یې په یوه لاس کلي راکړه او چوپه خوله بیرته روانه شوه. مور یې وخندل، وې ویل:

دې لا پوهنتون ویلی دی، دومره شرمېندو که ده.

ما پټ له ځان سره وویل: هو شرمیندو که ده ! ډېره زیاته شرمېندو که ده. له خوابنې نه مې اجازه راواخیسته او خپلې دندې ته لاړم. د ورځې دوه بجې وې، هوسۍ ټیلفون راوکړو. ویلې په څلورو بجو د حقوقو پوهنځي مخې ته راشه، زه به دې انتظار کوم. ما وې ښه ده. پوره په څلورو به ځان دررسوم. کله چې څلور بجې شوې، له کاره رخصت شوم، په چالاکۍ سره مې حاضري امضا کړه او بیا د کابل پوهنتون په لور مې ګاډی روان کړ. دهمزنګ سره په یوه ترافیکي پېښه کې په سړک موټرې ولاړې وې، نیم ساعت ځنډ پکې راغی، ترڅو چې پوهنتون ته ورسېدم، پېنځه بجې کېدلې.

هوسۍ د څو تنو نجونو سره ولاړه وه، زه یې چې ولیدم، له هغوی نه یې اجازه واخیسته او رارا‌وانه شوه. له ورایه په خندا شوه، ویلې زړه مې بې واره و، ما وې چې خدای مه کړه څه پېښه ورته نه وي پیدا شوي. دا څنګه دې ناوخته کړ؟

ـ په دهمزنګ کې لاره بنده وه، کومه ترافیکي پېښه شوې وه.

موټر ته وختلو او باغ بالا ته مو حرکت وکړو. هوسۍ وویل:

نن به په باغ بالا کې چکر ووهو. د باغ بالا په سړک د موټرو بیروبار زیات و، د خلکو ګڼه ګونه وه، مونږ موټر ودراوه او وړاندې په بوټو کې په چکر شو. د انګورو په بوټو کې ښه وړاندې لاړو، هلته د یوې جګې بارې په سر کېناستو. د پروان کارتې او خیرخانې سیمې ټولې ساحه مو لیدله، د خیرخانې په کوتل تونددې تونددې موټرې اوښتې رااوښتې، مونږ دواړو بېګانۍ خبرې راواچولې. هغې راته وویل:

بېګاه مې ټولې خبرې اورېدلې دي، تاسې چې څه ویل. ما ورته غوږ ایښی و، د مور و پلار ټولې خبرې مې واورېدلې. ما خو درته ویلي و، چې پلار مې لومړی کور اخلي، بیا به واده کېږي.

ـ بلکل هوسۍ ! چې تا څه ویلي وو، همغه خان کاکا بېګاه وکړې، لکه چې زمونږ د واده شپې رانژدې شوي دي. ای جینۍ چې زه به تاته په واده کې څه اخلم؟

ـ ستا چې څه خوښېږي، هغه به واخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ یو خو به درته د سرو هار جوړوم او بل به درته د سرو چارګل.

ـ بس همدا؟

ـ نه نو نور خو به ته فرمایش کوې.

ـ زه درته ووایم؟

ـ هو ووایه کنه.

ـ سهاره! که زما منې د سرو مرو نه تېرېږه، زما دومره علاقه ورسره نشته دی.

ـ نه نه هوسۍ دا زما خوښه ده، ناوې خو له سرو سره ښه ښکاري. اګر چې ستا هېڅ ته حاجت نشته دی، ولې ا سره او طلاګانې، ډول ډول ګانې په واده کې خوند کوي. د ناوې لپاره چې کومه ګاڼه په کار ده، ټوله به برابره کړم. آن لا د اوس نه به زرګر ته فرمایش ورکړو، خوښه دې نه ده؟

ـ چې ستا خوښه وي، زه په کې څه ویلی شم؟

ـ زه خو وایم، چې سر له سبا نه به دواړه یو ځل د زرګرانو په کوڅه ورچکر شو. هغې وویل:

سمه ده.

ما وویل: هو رښتیا یو ځل چې ولور او د واده نېټه معلومه شي، بیا به دا شیان کوو. که څنګه؟

ـ سهاره بیا دې د ولور خبره یاده کړې.

ـ ګوره هوسۍ پوهېږم، چې له ما سره ستا مور او پلار لکه د خپل اولاد په شان چلند کوي، ولې هغوی او زما مور کاکا او کورنۍ مې ټول سره کېني او په ګډه سره د واده د کولو خبرې خو وشي کنه.

ـ ستا نظر سم دی، خو دا ټول کارونه پخپل وخت کې کېږي. لومړی کور او د کور سامان او بیا د واده کول. لنډه دا چې کله مو کور واخیست، یوه اونۍ وروسته به ته د واده کولو لپاره زما پلار او مور سره ستا سې مشران خبرې وکړي. له هغې نه به وروسته چې هر څه معلوم شول، بیا به دواړه په ګډه سره نور کارونه او سامان برابروو. ته هېڅ فکر مه کوه، په دا ټولو شیانو به بیا په همغې وخت کې دواړه ګرېږو. کېدی شي سبا ته مونږه د کور لیدو ته لاړ شو، که خوښ مو شو، سمدستي یې اخلو. کوم ځنډ پکې نشته دی. زمونږ د سیمې خوا ته دی، څلور کوټې کور دی، پوخ، باغچه هم لري. ډېر شیان په کې موجود دي. په دوه لکه یې ویلی دی، که فیصله ورسره وشوه، بیا به دې ورته بوځم، چې ویې ګورې.

د کور په باب ما هېڅ نشوی کولی، ځکه چې د کور اخیستل زما له ارادې نه بهر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوسۍ وویل:

سهاره په دې شیانو کې نور هېڅ فکر ونکړې، ما درته پخوا ویلي دي، چې هر څه به سم شي.

زه لږ غلی شوم، ناڅاپه مې فکر ته راغله، چې نن به هوسۍ له ځان سره کور ته بیایم، که بیا یې نه کوله، ماخستن به یې بوځم تر کوره به یې ورسوم.

ـ هوسۍ راځه نن به کور ته لاړ شو.

ـ سهاره ته خو ښه پوهېږې، چې شپه درسره نشم کولی، زه چې د شپې له خوا کور ته لاړه نه شم، مور و پلار ته به څه بهانه کوم؟

ـ ماخستن به دې کور ته ورسوم، کور کې ووایه کوم د پوهنتون سیمینار ته له نورو ملګرو سره تللې وم.

ـ ښه ده درسره لاړه به شم، خو لس بجې به مې کور ته رسوې.

د باغ بالا نه په موټر کې روان شو او کور ته لاړو. مازیګر نږدې و، چې کور ته ورسېدو. لومړی مو چای دم کړ او بیا مې له قصابه غوښه یووړه. مونږ دواړو په اشپزخانه کې د ماښام لپاره مزې داره دېګ پوخ کړ. له ډوډۍ نه وروسته راته هغې وکړه، ویلې:

سهاره افرین شه په تا چې څنګه ځانته ژوند تېروې؟ دا پخلی کول، د کور پاکوالی، د لوښو وینځل او ورسره په څنګ کې نور کارونه....

ما وې: پرېږده زما له ژونده خو خبره شې کنه.

هوسۍ راسره لوښي پرېمینځل، کور یې پاک کړو، هرڅه یې سنبال کړل، بیا مونږه دواړه په ټوکو او خندا سره کېناستو او یو له بله سره مو داسې مشغولتیا راواخیسته لکه څو کاله مو چې سره ګډه تېر کړې وي.

زه حېران دې ته یم، چې هوسۍ سره په بېرون ګرځېدو او چکر کې داسې مینه راتله، ما وې چې ټوله یې په یوه ځل وخورمه، خو زما په کور کې به مې له هغې سره د یوه درونډ مېلمه په شان چلند کاوه، نه پوهېږم چې دا ولې؟ او هغه زما په روحیه او مزاج پوهېده، چې په کور کې تږې مینه هېرېږې. هغې په داسې حال کې زما په دواړو سترګو باندې لاس کېښودل، چې زه په مېز ناست وم او څه مې لوتل. ویلې دا لوستل او لیکل پرېږده درنه روانه یم. خپل دواړه لاسونه مې د هغې له غاړې نه ورتاو کړل، مونږ دواړو ګوتې لګول پیل کړل. یو له بله مو غېږه واخیسته، خوله په خوله شو، تر ډېره پورې د مینې په نشه کې غرق پراته پاتې شوي وو. زه به چې کله له سد او خوده ووتم، هغې به کنټرولولم، ترڅو چې د شپې تر لسو بجو پورې مونږ د مینې خواله وکړه. بیا مې هغه کور ته ورسوله او زه دوباره د هغې په موټر کې خپل کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلم.

سبا ته چې وظیفې ته لاړم، تر ځلورو بجو پورې پخپله شعبه کې مصروف وم، پوره ځلور بجې وې ټیلفون یې راغی، ویلې سهاره هغه کور مو ولید، ډېر ښه کور دی. پلار مې ورسره د اخیستلو فیصله وکړه، په په دوه لکه روپۍ یې ترې واخیست. ویلې ته ځان راورسوه، چې کور ووینې.

زه خوشاله شوم او سمدستي مې ځان ورورساوه. هغه راته د خپل کور په مخکې ولاړه وه.

دوه کوڅې اخوا ته د غه کور یې له لیرې راته راوښود. نږدې ورغلو، دروازه مو ورو ټکوله، یو چا دروازه راته خلاصه کړه، ورننوتلو. ښکلی پوخ سپین کور و، پراخه حویلۍ یې درلوده، ریښتنې ونې او ګلان پکې وو. په باغچه کې هر راز ګلونه ولاړ وو، په ټول کور کې وګرځېدو رښتیا چې ډېر ښکلی کور و، هرڅه یې تکمیل و.

زمونږ د دواړو پوره خوښ شو، دوه ورځې وروسته د هوسۍ پلار هماغه کور د خپلې لور هوسۍ په نوم کړو. په یوه میاشت کې د ننه کور ته سامانونه راوړل شول، ټول سامانونه هغوی واخیستل، د کور هرڅه یې پوره کړل، زما ورسره خالي منډه تړه وه. په یوه میاشت کې کور اوبدلو ته سنبال شو.

یوه شپه د هوسۍ پلار کور ته ورغوښتم، ماخستن کې یې راته وویل:

سهاره بچې! زه ستا او د هوسۍ فرق نه کوم، هغه مې لور ده او ته مې زوی یې، کور مې درته واخیست، سامان مې هم ورته پوره کړو، اوس ته کولی شې چې د واده بندوبس ونیسې. پام دې وي، چې هېڅکله د جینۍ پلار زوم ته داسې نه وایي، کولای شې چې خپل کاکا او مور سره دې د واده کولو خبره غوټه کړې. زمونږ له خوا کوم ممانعت نشته دی. هوسۍ هم له پوهنتون نه فارغه شوې ده، پوهېږم چې داسې کوم خنډ لا مونږ او ستاسو په مخکې نشته دی، په همدې وجه مې نن راغوښتی وې، چې زړه کې دې نور څه تېر نه شي، ځکه مې درته ځانته دا خبره وکړه، خو زمونږ موقف او ستا حالت د هغسې شرایطو نه دی او زه پخپله د هغه زاړه دود پلوی نه یم. زه به د خپلې لور واده پخپل مصرف کوم، ته د هېڅ شي پروا مه کوه.

ما ترې ډېره ډېره مننه وکړه، خواښې مې هم راته وویل:

زویه! هېڅ فکر مه کوه، هرڅه به سم شي. ما له خسر او خواښې نه هیله وکړه او ورته مې وویل:

که ستاسې خوښه وي سبا ته به زه خپل کلي ته لاړ شم، چې خپل مور او کاکا دوی سره د واده خبره شریکه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی دواړو وویل: ولې نه، دا خو ستا خپله خوښه ده، ستا سره زموږ همدا مشوره ده.

ـ خان کاکا ستا سې سیوری دې خدای زما له سره نه کموي. د ماخستن ډوډۍ نه وروسته مې ترې اجازت واخیست، کور ته لاړم سبا ته مې له کاره رخصت واخیست، هوسۍ تر پل محمود خان پورې پخپل موټر کې ورسولم. د جلال آباد ته د ګاډو په هډه کې په یوه سروېس موټر کې کېناستم. هوسۍ راته ولاړه وه، چې زموږ سروېس حرکت وکړو. هغې خپل لاس خوځاوه او له سترګو مې پناه شوه. کله چې د ماهیپر په تړۍ کې سرویس ښکته کوځېده، زه د واده په چرت کې تللی وم (په کوم هوټل کې مې واده کېږي، هوسۍ به د واده جامې اغوستې وي، موږ دواړه به هوټل کې په ستېج دروي او خلک به راته ګوري) په همدې سوچ کې جلال آباد ته ورسېدو. هلته زموږ د کلي ګاډي د ستي په دستي تیار و. په چالاکۍ وروختم او ګاډی د کلي په لور روان شو. زموږ د کلي د لېن سرویس په لاره کې خراب شو، ښه شېبه ګاډی ځنډ شو، لاره خو دومره نه وه، خو سروېس په کراره روان و. ایله بېله د ماښام خړه لګېده، چې کلي ته ورسېدم. بکس مې له جیپ نه راښکته کړو او د کور په لور روان شوم. د خپل نوي کور دروازه نیم کښو وه، په دروازه ورننوتم، د تره د زو مېرمن مې مخې ته راغله، هغوی هم زما له مور سره په نوي کور کې یوځای اوسېدل. مور مې له وړاندې برنډې نه ولیدم، خپله سینه یې په خپلې منګل ووهله، ویلې: آخ شکر خدایه د سترګو تور سهار مې راغی. هغه په ګړندي ګامونو رامخې ته شوه، زه هم په منډه ورنږدې شوم، هغې راته لاسونه خواره کړل، په غېږ کې یې ونیوم، ما یې دواړه لاسونه ښکل کړل. د کاکا زوی مې او بچیان یې راغلل، له ټولو سره مې روغبړ وکړو، کاکا دوی یې هم راخبر کړل، ټول سره راغونډ شول او د شپې مو ښه بانډار جوړ کړو. هغوی ټولو رانه زما د خسر او خواښې پوښتنه وکړه، ما د هغوی سلام وررساوه. له چای او ډوډۍ نه وروسته مې هغوی ته مې د خسر او د کور اخیستل او نور ټول څه چې تېر شوي وو، کیسه وکړه. ټول خوشاله شول او په ګډه یې هغوی ته دوعاوې وکړې، بیا ورته د واده کولو خبرې رایادې کړې. کاکا مې وویل:

ـ هغوی چې له موږ سره دومره مرسته کوي، ټول د واده مصرف او تکلیف په غاړه اخلي. مونږ به غېر له واده د کاروبار نه یو څه خاصه ډالۍ د خپل کلي او سیمې نه هغوی ته له ځان سره یوسو. یو خروار نرۍ وریجې، چې د کونړ پشدۍ وریجې نوم لري واخلو، څو ټیمه شات او څو ټیمه سوچه غوړي به له ځان سره یوسو. د واده جامه او ګاڼه به کابل کې واخلو.

د کاکا دغه خبره مې زړه ته ولوېده، ما وی سمه ده همدغسې به وکړو.

سر له سبا نه مې پیسې کاکا ته ورکړې، هغه دوه هلکان ولېږل، یو خروار پشدۍ وریجې، پېنځه ټیمان د غوړیو او پنځه ټیمان یې د شاتو اخیستلي وو او کور ته یې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې وروسته را ورسول. خپله ټکه ټوکه مو برابره کړه، د جمعې په ورځ مې کاکا، ماما ا د ماما زامن مور او تندار مې او د کاکا زوی او لوڼې یې ټولو په ګډه سره یو سر خلاص ګاز موټر ونیو او ان تر کابله مو دربس کړو. ماښام کابل ته ورسېدو، شپه مو تېره کړه، سهار وختي مو همغه موټر کې په اته و بجو حرکت وکړو او د هوسۍ دوی کره ورغلو. وریجې، غوړي او شات مو له موټره ښکته کړل او د هغوی کره مو ننو یستل، خسر او خواښې مې راووتل او زمونږ سره یې چې دا شیان ولیدل، حیران پاتې شول، ویلې دا څه دي؟

کاکا مې ورته وویل: خان کاکا دا زمونږ د وطن یوه مېوه ده، چې تاسو ته مو ډالۍ راوړې ده. "برګ سبز، تحفهء درویش".

ویلې دا خو تاسو دومره ډېر تکلیف وېستلی دی، دې ته څه ضرورت و؟

کاکا مې وویل: خان کاکا! زمونږ وطن هسې غر وطن دی، څه پکې نه پیدا کېږي، چې مونږه له ځان سره راوړي شیان د ننه د هغوی کره ننو یستل. ځای پر ځای مو کړل. په سالون کې کېناستو، سمدستي هغوی د غرمې ډوډۍ تیاره کړه او زمونږ یې ډېر قدر وکړو. مازدیګر ترې خپل کور ته راغلو، د واده په باب مو هېڅ ونه ویل. دوه ورځې وروسته مې خسر ته په ټلیفون کې وویل، چې کاکا مې وایي خبرې درسره کوم. ویلې د ټیلفون غوږۍ ورکړه. کاکا مې ورته وویل:

خان کاکا که ستا اجازت وي او وخت ولرې، بېګاه شپې ته مونږه درځو. هغه وویل: ولې نه په سترګو، هر کله راشئ.

مونږ چې د ماښام ډوډۍ وخوړه، په یوه ټکسي موټر کې د هغوی کره لاړو. د هوسۍ کاکا او د کاکا زامن یې هم راغلي وو، د شپې تر ناوخته پورې په بېلو بېلو موضوعاتو باندې خبرې کېدلې. بیا مې کاکا د واده وړاندیز وکړو، زه د سالون په اخر کونج دروازې ته څېرمه ناست وم، خالي غوږ مې اینبی و. د هوسۍ پلار په ډېره مهربانۍ او کراره لهجه وویل:

اوس ددې وخت رارسېدلی دی، چې سهار صاحب خپل واده وکړي. زه له تاسې نه کوم ولور نه غواړم، د واده لپاره چې څه ته ضرورت دی، ټول ما پخپله غاړه اخیستې دي. هو تاسې له خپله انده کومه جوړۍ جامه یا ګانه کوئ کولای شئ او که وس مو نه کېږي، هغه هم مه کوئ، هرڅه ورته زه کوم. کور مې ورته اخیستی دی، د ګانې فرمایش یې شوی دی، د جامو او د نورو شیانو بندوبس یې پوره پوره شوي دی. اوس به صرف یوازې د واده په نېټه، د خلکو خبرول، هوټل او رستورانټ نیول په دغه شیانو خبرې وکړئ. زه د ټولو شیانو نه پرته، یو نوی موټر هم هوسۍ ته اخلم.

کاکا خسر مې وویل: واده به د کابل هوټل کې وکړو، زه به ورسره نېټه او د ډوډۍ پخولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره وکړم. د هوټل مصارف يې زما په غاړه، رخشانه او هماهنګ به هم راوغواړم.

د کاکا خسر زوی مې وويل: د واده بلن ليکونه به زه ترتيب کړم، د زرو تنو په شاوخوا کې به کارتونه برابر کړم.

کاکا مې ويل: د واده نېټه به کله شي؟ ددې مياشتې په اخره جمعې شپه ټولو وويل سمه نېټه ده. کاکا مې وويل:

ـ لاس پورته کړئ، دوعا وکړئ، چې په خير او کاميابۍ سره دا واده وشي. دوعا شوه، شپه تېره وه، تقريباً د شپې يوه نيمه بجه وه، چې له هغوی نه مو اجازت راواخيست او کور ته راغلو. سهار ته زه وظيفې ته لاړم او نور لا ويده وو. په څلورو بجو هوسۍ ځان راورساوه، له رخصتۍ نه وروسته په موټر کې د نوي ښار يو هوټل ته لاړو، په هوټل کې کيناستو او د واده خبرې مو پيل کړې. کومو شيانو ته چې ضرورت و، هغه مو ټول په کاغذ کې نوټ کړل، بيا له هوټل نه ووتلو او د ښار په ځينو مغازو کې وګرځېدو. زه په دغه ورځ ډېر خپه په دې وم، چې پيسې راسره نه وې، ما وې شرم دی چې د واده شيان ټول دوی واخلي، نو زما ونډه څه شی شوه؟ مونږه سره په کور کې ټولې شل زره افغانۍ وې، حال دا چې واده او برابرول يې د يو لک او څو زرو خبره وه. هوسۍ زما په حال پوه شوه، ويلې څنګه داسې غړند ښکارې، خيريت خو دی؟

ما وې هسې.

ـ نه نه رښتيا خبره کوه، هسې څنګه؟

زه چوپ پاتې شوم، هغه راته په داسې حال کې، چې د نوي ښار د يوې مغازې تر څنګه ولاړ و، راته راوګرځېده سره سپينه واوښته، وې ويل:

سهاره سمه سپينه راته ووايه، څه چل شوی دی؟

ـ هوسۍ! خدای راستي، چې هېڅ نشته دی، يوازې په دې ډېر دلګير يم، چې دا دومره د واده لګښت مې ستاسو په غاړه پروت دی. زه هېڅ نشم کولی، يوازې شل زره افغانۍ لرم.

هغې وويل: دا ځای ددې خبرو نه دی، ته راځه چې په موټر کې دواړه کېنو.

موټر کې کېناستو، هغه چې د نور وخت په شان خوشاله نه ښکارېده، په ما ډېره غوسه شوې وه، رنګ يې سپين تښتېدلی و، وې ويل:

سهاره زه خو به درته اوس ازمېښت شوې يم، زما پلار او مور له ما نه هم زيات په تا لورينه لري، هغوی ته زه او ته يو شی يو. د واده ګاڼه وانه ټول هغوی په خپل مصرف تياروي، زه او ته ترې خلاص يو. دا خبرې زما پلار او مور پخپلو کې سره کړې دي، په تا باندې د يوې روپۍ مصرف هم نه کوي. ته ددې خبرو نه بې غمه اوسه، ولې تشويش کوې، دغه بې ځايه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غېرت اېسته کړه. ما په دې ډول حالت مه ځوروه، اوس خو نو زما او ستا ژوند، پیسې او هرڅه سره شریک دي، ولې یکې دا برېدونه جوړوې؟

سهاره هیله درنه لرم، چې نور دا خوی دې پرېږده. شل زره روپۍ په کور کې کېږده، چې د ضروري کارونو لپاره دې په کار شي. سبا ته به زه درته نورې پیسې ستا شعبې ته راوړم، ته فکر مه کوه، پس له دې به د پیسو په باب هېڅ فکر نه کوئ. درځه چې ما ورسوې او بیا خپل کور ته لاړ شه، چې په کور کې دې مېلمانه دي.

په بېړه موټر کې کېناستو او هغه مې تر کوره ورسوله. بیا مې په بازار کې غوښه، مېوه واخیستله او کور ته لاړم. کاکا دوی بېرون ته وتلي وو، یوازې مور مې او تندار په کور کې ناستې وې. مازیګر و، چې د دیګ کولو نیت مې وکړو. هغوی راپاڅېدې، ویلې بچې ته کېنه مونږ به پخلی وکړو. مور خو مې بوډۍ وه، خو تندار لا څه نا څه ځوانه وه. هغې په پخلنځي کې په دیګ پخولو پیل وکړو. زه او مور مې په کوټه کې ناست وو، نور واړه بېرون وو. مور مګې راته وویل:

زویه یوه پوښتنه درنه کوم، ته چې دا واده کوې، څه پیسې میسې لرې که نه؟

ما وې موري زه صرف شل زره افغانۍ لرم، چې په دې پیسو دا واده نه کېږي. موري د واده مصرف هرڅه زما خسر په غاړه اخیستی دی، کور یې نوی اخیستی دی، د کور سامان لور ته یې نوی موټر هم اخیستی دی. د هوټل او هنرمندانو مصرف یې هم پخپله دوی یانې د هوسۍ کاکا په غاړه اخیستی دی. ما تراوسه یوه روپۍ هم نه ده لګولې. دومره ښه خلک دي، مورې ته یکې څه وایې؟

ــ بچې خدای دې دوی ژوندي لري، دا څومره ښه خلک دي، چې مونږ سره یې دومره مرسته او نیکې وکړه. زویه واده په کومه ورځ دی؟

ــ مورجانې راتلونکې جمعه چې درې ورځې ورته پاتې دي.

په دې وخت کې کاکا دوی راننوتل ویلې سهاره زویه له وظیفې نه راغلې؟

ما وې هو کاکا جانه یو ساعت مخکې راغلم، تاسې خو به قید شوي نه یاست؟

ــ نه نه مونږ خو په بازار کې ښه چکر وواهه، دلته څوک نه قید کېږي. دا خو د سیل صفا ښار دی، یره خو چې د سړي یکې خپل کور وي، ایله به ښه ژوند وکړي. دلته بې تنخوا او بې له کوره ژوند ګران دی.

ما وې هو کاکا جانه دلته په پېسو ژوند کېږي، زمونږ وطن کې خو ډېر شیان یې پیسو دي. ولې دلته چې ګام اخلې، مصرف دی. هغوی د ماښام په لمانځه ودرېدل. زه په اوبو پیسې ووتلم، په سطل کې مې له نل نه یخې اوبه راوړې. د ماخستن د ډوډۍ وخت شو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسترخوان سره ټول ګډ کېناستو، ماما مې راته وویل:

خوريې جانه! واده دې دی، دا دومره مصرف مه کوه، ساز کوه، په واده کې ډېر مصرف کېږي.

ما وې: ماما جانه! زما د واده مصارف ټول زما خسر کوي.

ماما مې وویل: دا څه وايې خوريه؟ هو ماما همدغسې ده، چې زه خدای پیدا کړی یم داسې ښه خلک خو ما هېڅ نه دي لیدلي، چې لور هم ورکړي او دغسې لوړ مصرف هم وکړي. داسې معلومېږي، چې دا ډېر شتمن او له حده زیات ښه خلک دي. خدای دې سرلوړي لري.

ماخستن راته بیا مور مې وویل: د واده جامه، ګ بستره به کله جوړوې؟

ـ مور جانې ما خو درته ویلي دي، چې هرڅه هغوی کوي؟ ماته یې ویلي دي چې ته له هرڅه نه خلاص یې. سبا ته به تاسې ټول ښار ته بوځم، چې نوې جامې د واده لپاره درته واخلم. کاکا او ماما مې وویل:

دا کار مور نه کوو، مور له ځان سره جامې راوړي دي، یوازې دې مېندو ته که کوم شی رانیسې، اختیار لري.

ما وې دوی ته به جامې واخلم، سبا ته به زه له وظیفې نه په وخت راشم، بیا به ښار ته لاړ شو.

سبا ته چې وظیفې ته لاړم، په لسو بجو هوسۍ زنګ وواهه، ویلې څه پلان لرې؟

ما وې نن په وخت کور ته ځمه، چې مېلمانه ښار ته راوباسم، چې سودا سودا وکړي.

هغې ویلې: ښه ده، مور هم ځینو شیانو پسې ځو، نن لیدلی نه شو.

ما وې ډېر ښه په مخه دې ګلونه د بیا لیدو پورې.

په یوه بجه کور ته لاړم او هغوی مې په موټر کې ښار ته بوتلل. په ښار کې مو سودا وکړه، ډېر وګرځېدو، مازیګر ناوخته کور ته راستانه شو. سبا ته چې کار ته لاړم، د ورځې یوه بجه وه، چې هوسۍ ناڅاپه زما شعبې ته راننوتله، زه په خپله شعبه کې یوازې ناست وم، سترې مشي مې ورسره وکړه، ما وې هوسۍ څنګه ناڅاپې راغلې؟ ټیلیفون به دې کړې وای، زه به درپسې درغلی وی.

ـ نه ما وې چې له کاره ونه وځې، زه په ټکسي کې راغلم.

چای مې ورته راوغوښت، زه په لیکلو مصروف وم، ما وې دا لږ کار راته پاتې دی، چې دا خلاص کړم، بیا به ځو. هغې یوه پیاله چای وڅښو، بیا یې خپل بکس ته لاس ورتېر کړ، یو بنډل پیسې یې ترې راوویستلې ماته یې ونیوې. ویلې هن سهار صاحب دا درسره واخله.

ما وې دا د څه شي پیسې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې وویل: پرون نه اَبله ورځ مې چې درسره وعده کړې وه.

زه پخپله ځوکۍ چوپ پاتې شوم، هغې پیسې همغسې په لاس کې راته نیولې وې. ویلې ته خو دا واخله. ما ترې پیسې واخیستې، بیا مې په کرار ورته وویل:

هوسۍ ګوره خان کاکا باندې ټول د واده مصارف راغلي دي، دا پیسې زما له طرفه هغه ته ورکړه. د خندا په حالت کې یې وویل:

سهاره ته خبر نه یې مګر زما پلار به شمېره پیسې لري، خوشې په هغه دغه خلکو یې مصرف کړي. پرېږده چې زما او ستا په واده کې یې ولګوي. دا پنځوس زره مې هم له هغه نه اخیستې دي. ته دا خبرې پرېږده راځه چې ښار ته لاړ شو، ستا د درېشۍ فرمایش ورکړو، زما هم څه ناڅه په کار دي.

مونږ دواړه ښار ته لاړو، لومړۍ مو زما د درېشۍ تیکه واخیستله او خیاط ته مو د ګنډلو لپاره ورکړه، بیا بوټ، نېکټایي، کمیس او جرابې مو واخیستې. بیا د هوسۍ ځینې شیان په کار و، هغه مو په نوي ښار کې واخیستل، تر ماښامه مونږه په دې ورځ خپله ضروري سودا پوره کړه.

ماښام ناوخته مې هغه تر کوره ورسوله، زه خپل کور ته راستون شوم، سبا یې په نهو بجو د هوسۍ کره ورغلم، ما وې چې د واده بلنلیکونه راواخلم او خلکو ته یې ولېږم. د خسر په کور کې مې یو شمېر بلنلیکونه رواخیستل او هغه ځوک چې زما له خوا باید خبر شوي وای، نومونه مې پکې ولیکل او بیا مې خلکو ته ولېږل. نور بلنلیکونه زما د خسر کاکا زوی خلکو ته ورواستول. د واده تر ورځې پورې مونږ ټول پوره لالهانده او سرګردانه وو. زما کاکا او ماما، مور مې، تندار مې او نور نږدې خپلوان هم راورسېدل. زما کور هم له مېلمنو نه ډک و، د واده ورځ راورسېده، هوسۍ یې ارایشګاه ته د سینګارولو لپاره بوتله. ما ته یې هم نوې درېشي راواغوستله، واده په پنځه و بجو پیل کېده. رابلل شوي مېلمانه د کابل هوټل ته راروان وو. زما له کوره ټول مېلمانه هوټل ته لاړل، یوازې زما د کاکا زوی او ځینې نور نږدې همزولي مې راسره په موټر کې روان شول. یو ښکلی موټر یې ګل پوش کړی و، زه او هوسۍ یې په ګلپوش کې کېنولو، شاته راپسې خدا بزده څو موټرې راروانې وې. د باغ بالا بڼ ته یې په چکر بوتلو، له هغه ځایه بیا په کوټه سنګي راتاو شول، په پل ارتن راتېر شو، په جاده کې ان حضوري چمن ته یې وبستلو. په پل محمود خان باندې راتاو شو، له ارګ مخې نه راتېر شو، هوسۍ راته ورو وویل:

د شاهي کورنۍ هم واده ته راځي.

ما په زړه کې پټ له ځان سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهاره د بل چا په وزرو الوځې، خبره دې ان تر شاهي کورنۍ ورسېده.

ماښام خړه لګېده، چې کابل هوټل ته ورسګېدو، په دروازه کې ځینې خپلوان د مېلمنو هرکلي ته ولاړ وو، عکاسي ګانې مو کېږي. موږ له موټره پیاده شو او په کرار کرار د ننه هوټل ته روان وو. د هوټل له دروازې، چې ورد ننه شو د (اهسته برو اهسته برو) غږ مو د هماهنګ په اواز واورېد. هوټل له ښځو نرو ډک و، موږ یې په کرار کرار بوتلو، ترڅو چې د شاه او ناوې سټېج ته ورسېدو. هلته ودرېدو، ښځو او نرو نڅاوې کولې، کټل به مې چې زما د کاکا زوی هم پکې ښکارېده.

مونږ یې بیا کېنولو، زموږ د ناستې ځای لوړ و، په هوټل کې ناست خلک مو ښه لیدلی شول. هماهنګ استاد خوږې سندرې ویلې، داسې ګډاګانې کېدلې، چې په خپل عمر مې نه وې لیدلې. کاکا او ماما مې سره د زما د مور زما ترڅنګه ولاړ وو. د هوسۍ ترڅنګه یې مور او د کاکا لورګانې ولاړې وې، ساعت په ساعت به خلک راتلل او موږ سره به یې عکاسي کوله. د واده مبارکي به یې ویله، د شپې تر یوې بجې پورې د واده مراسم روان و. په یوه بجه د واده د ختم او پای سندره هماهنګ وویله. وروسته بیا له هوټل نه خلکو په وتلو پیل وکړ.

په پای کې موږ هم له هوټله راووتلو او په ګل کړې موټر کې یې نوي کور ته یوووړو. موږ سره یوازې زما خپله کورنۍ کور ته راغله، چې بیا وروسته کاکا، ماما او نور خپلوان زما پخواني کور ته په موټر کې د خوب لپاره ولاړل. یوازې زما مور، تندار او د هوسۍ د کاکا لوڼه زموږ سره په نوي کور کې پاتې شوې، ټول بې خوبه وو، ویده شول. زه په کور کې په هره کوټه کې وګرځېدم راوګرځېدم، په هره کوټه کې د ضرورت وړ شیان پخپل خپل ځای پراته او ځای پر ځای شوي وو. په هره کوټه کې فرش غوړېدلی و، په سالون او دهلېزونو کې ښکلې قالینې غوړېدلې وې، ټول ویده شول هوسۍ یې مخکې خپلې د خوب کوټې ته بیولې وه. زه په سالون کې یوه شېبه کېناستم، بیا راپسې تندار راغله ویلې ځه سهاره خپلې کوټه ته! ناوخته دی، له بې خوبۍ نه دې سترګې سرې شوي دي. ما وې ښه ځمه. هغه چې ولاړه، زه هم د خوب کوټې ته ور روان شوم، دروازه چې مې ببرته کړه، په کوټه کې د ښکلي ګروپ سره، سپینه او شنه رڼا وه، له کوټې نه په زړه پورې خوشبویي ختله. ټوله کوټه په ګلونو ډکه وه، د کوټې په منځ کې تخت ایښی و، چې ما د لومړي ځل لپاره دغسې تخت ولید. مخامخ دیوال ته الماری ولاړه وه، چې پلې یې شیشه یې وي. د تخت سر ته هم شیشه وه او پښو ته هم شیشه ولاړه وه. ټوله کوټه شیشه شیشه وه، ورو ورو مې د تخت خوا ته ګامونه ور واخیستل، هسې احساس مې کاوه، چې ګنې هوسۍ مې په عمر کې نه وه لیدلې، هغه په تخت کې لا ناسته وه. همغسې هغې هم داسې احساسوله، چې زه یې کله په داسې نیت نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلی. په تخت کې ورسره کېناستم، هغه ومسکېده، د واده په شالونو کې یې سر ټیټ نیولی و. ما یې ورو د شال پلو له مخه ایسته کړ، هغې چې راوکاته دومره ښکلې شوې وه، چې سترګو ته مې ورله کتی نشوای. خپلې غټې تورې اوږدې سترګې یې مړې راواړولې، په خندا شوه، غلې شانته یې وویل:

سهاره نن بل ډول ښکلې شوې یې.

ما وې او ته؟ زه داسې فکر کوم، چې په ټوله نړۍ کې به ستا غوندې ښکلې بله نه وي. ما یې له زنې نه لاس لاندې وبست او ورته ومې ویل:

هوسې نن به زه او ته د مینې تنده سره ماتوو. هغه وشرمېده او ځان یې په تخت کې واچاوه، لومړی مو خپلو کې سره یو له بله چیچې واخیستې، دواړه سره خوله په خوله شولو، د مینې په خوږو کې سره تر سهاره ورک شوو، د خوږې مینې په خوږه نشه کې د ورځې تر یوولسو بجو پورې ویده پاتې وو. کله چې په یوولسو بجو راویښ شوم او تشناب ته لاړم، دغومره ښکلې تشناب او د ځان د مینځلو تپ مې هم په لومړي ځل ولید، له ځان سره مې وویل: سهاره ورځ دې روانه ده. له تشناب کولو نه وروسته سالون ته ورغلم، لا څوک نه و، بیرون حویلۍ ته ووتلم. په ګلونو کې یو ساعت وګرځېدم، چې دوباره سالون ته ننوتلم، چای تیار و. د هوسۍ د تره لورګانو او زما تندار چای تیار کړی و، هوسۍ یې هم راویوګستله. ډېره شرمېدله، رنګ یې وهلی و، پخوانۍ هوسۍ نه وه. زما ترڅنګه یې کېنوله، چای مو وڅښلې، هغوی راپورې ټوکې ټکالې کولې، موږ دواړه شرمېدلو. بیا لږ ساعت وروسته کاکا دوی راغلل. هوسۍ ورپاڅېده، لاسونه یې ورمچې کړل، سترې مشې یې ورکړه، ټول په ګډه سالون کې کېناستو. د غرمې له ډوډۍ نه وروسته کاکا دوی کلي ته د تللو نیت وکړو، ویلې شپې مو ډېرې شوې دي، ښه شوه دا واده خدای په خیر سره تېر کړو، مونږ به درنه ولاړ شو. څه موده پس به تاسې خامخا کلي ته راشئ.

ما وې ښه کاکا جانه، یوه میاشت وروسته به موږ کلي ته که خدای کول درشو. هغوی مو موټر کې پل محمود خان ته یوړل، ګاډی تیار ولاړ و، وروختل او د کلي په لور روان شول.

مور او د کاکا زوی مې راسره پاتې شول، ما وې کله چې مونږ کلي ته تللو، دا به هم راسره یوځای ولاړ شي. مور مې ډېره خوشاله وه، پېنځه وخته لمانځه کې به یې زما خسر او خواښې ته دوعا کوله. پخوانی کور مې پرېښود او په خاوند مې وسپاره. زموږ نوی ژوند په نوي کور کې پیل شو. د ژوند هره شېبه ډېره ښه تېرېده، هوسۍ زما د مور ډېر قدر او عزت کاوه، په هغې هم خپله نږور ګرانه وه. څو ورځې به د هوسۍ د پلار له کوره مونږ ته پخه ډوډۍ راتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یوې اوونۍ نه وروسته هوسۍ پلار کره د اومې لاړه. زه، د تره زوی او مور مې یوازې په کور کې پاتې شو. له معمول سره سم به خپلې دندې ته تلمه، د هوسۍ پخوانی موټر راسره و. نوی موټر د هوسۍ سره و، زموږ په دې نوي کور کې یخچال او مکمله اشپزخانه او نور ټول سامان او لوازم یې پوره و. د منې موسم رانږدې کېده، ګرمي ورځ په ورځ کمېده، شپه مخ په یخېدو وه. د هوسۍ له راتلو سره مې اقتصادي ستونزې حل شوې وې، کور مې ودان شو، دوستان او ملګري مې زيات شول. خپله دنده مې په ښه توګه سرته رسوله، کله ناکله مې ملګري او د ځانګې رئیس او مدیران مېلمانه کول. په هغوی ټولو زه ګران وم. همدا وجه وه، چې څو ورځې وروسته یې د نشراتو د رئیس په توګه وټاکلم. په لږ وخت کې مې اړیکې تر وزیره ورسېدل. یوه شپه مې د اطلاعاتو او کولتور وزیر او ځینې رئیسان مېلمانه کړل. زما خسر یې پېژانده، په همدې ترتیب سره مې تماسونه زیات شول.له خسر سره د شاهي کورنۍ یوه دعوت او مېلمستیا ته ولاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

په مېلمستیا کې پخوانی پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه او د هغې مېرمن د شاهي کورنۍ نور غړي، عالیرتبه مامورین، جنرالان حاضر وو. زه او هوسۍ د خسر په شمول په دغه شانداره محفل کې په یوه مېز سره یوځای ناست وو. ما په دغه محفل کې د خپل خسر پېژندګلوي ولیده. دی یوازې ظاهر شاه ته ورغی، روغبړ یې ورسره وکړو او نور زیات راغلي مېلمانه زما خسر ته ستړي مشي ته راغلل. پټ په زړه کې د خپل خسر په شخصیت پوره خوشاله شوم، د شپې تر اخره پورې مونږ په زړه پورې موسیقي واورېده. د هوسۍ نبه ساعت تېر شو، ورو ورو د هغې وخت ځینو لویانو د خپل خسر په سیوري کې او هم یې د خپلو لیکنو او راډیویي داستانونو په وجه پېژندلم. مونږ د کور کارونو لپاره مزدوره نیولې وه، هرڅه به یې راتیارول، د پخلي او خاصو کارونو لپاره مو یوه بله ښځه نیولې وه، چې په اشپزۍ پوره پوهېدله. له یوې ورځې نه مو بلې ته ژوند پرمخ روان و. هوسۍ د پلار له کوره ښې ډېرې پیسې راوړې وې، چې په بانک کې مو ذخیره کړې وې. زما په معاش روزمره ژوند تېرېده، څه موده وروسته مونږ خپل کلي ته د تللو نیت وکړو.

مور مې تل راته ویلې، چې کلي ته باید لاړ شو کور مو خوشې پرېښی دی، هوسۍ هم د کلي تګ ته لېواله وه. د شپې له خوا مو تصمیم ونیو او خسر ته مې د کلي د تګ وویل. هغوی وویل لاړ شئ، څو ورځې به مو ښې تېرې شي. سبا ته د پنجشنبې ورځ وه، د کور خدمتګارو ته مې وویل، په کور به پام کوئ، هغوی بې هغې زمونږ د کور په پیاده خانو کې اوسېدل، شپه او ورځ یې کور ساتلو.

سبا سهار وختي مونږه بازار ته لاړو، د کلي د کور لپاره مو سودا مودا وکړه. د هوسۍ نوی موټر مو د هغې د پلار په کور کې ودراوه. په پخواني ګاډي کې موږه کېناستو، له کابل نه مو د ننګرهار په لور حرکت وکړو. زما لومړۍ ځل و، چې د جلال آباد په سړک مې موټر چلول پیل کړل. پل محمود خان نه ورتېر شو، په صنعتي سیمه ورغلو، د سترګو په رپ کې د حربي پوهنتون له مخې نه تېر شو او تنګي ته ورسېدو. ماهیپر ته چې نږدې شو ادې مې خوب وړې وه. د کاکا زوی خو ان لا مخکې سترګې پټې پټې کېدې. هوسۍ پوره غره کې د اوبو ځړوبي ته کتل، د غره د جګو ګړنګونو په سیل بوخته وه. همدا یې راته وې: سهاره پورې د غره منظره څومره ښکلې ده. ما وې هو دا خو ددې غرونو ښکلاګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، کـه د کـونړ د غرونـو منظـرې ووينـې، پـه تېـره بيـا تـر برګـې متالـه پـورې د غرونـو او درو ښاېست وګـورې، پـه ليـدو بـه يـې مړه نـه شې. دا کابـل او نـور بـه دې بيخـي لـه يـاده ووځـي او يـا خـو چـې د سـوات پـه ښـکلاګانو ورچکـر شـې واپـس بـه تـرې راونـه ګرځـې. سـهاره خـداى تـه وګوره ورله بو مې ځه... !

ـ که ژوند باقي و او وخت مو پيدا کړ، خامخا به دې ورته بو ځم.

هوسۍ وخندل ـ دا به کله وي؟

ـ مـا خـو درتـه وويـل کـه ژونـد يـاري وکـړه دا ټـول بـه وګـورو ! پـه همـدې خبـرو خبـرو کـې لـه مـاهيپره ښـکته شـو، مـوټر مـې پـه بېـړه چـلاوه، هوسـۍ د سـړک دواړو خـواو تـه کتـل، د نـور څـه پـه فکـر کـې نـه وه. سـروبي تـه ورسـېدو، مـوټر مـو ودراوه. د سـيند پـه غـاړه مـو دمـه کولـه. مـور مـې، هوسـۍ او د کاکـا زوى مـې لـه مـوټره راښـکته شـول. زه هوټـل تـه ورغلـم هـوټلي تـه مـې د ډوډۍ وويـل. د هوټـل شـاګرد راتـه ان د سـيند غـاړې تـه ډوډۍ راوړه. هوسـۍ دواړه پـښې اوبـو کـې اچـولې وې او سـيند تـه يـې کتـل. د ډوډۍ پـه چـرت کـې هـم نـه وه. لـه دمـې وروسـته بيـا د جـلال آبـاد پـه لـور روان شـو. هغـې وخـت کـې سـړک پـوخ و، مـوټر ګړنـدى روان و.

د لغمـان پـه کـڅ کـې رانـه هوسـۍ پوښـتنه وکـړه، ويلـې سـهاره دا پـورې کـوم ځـاى دى، چـې هوار معلومېږي؟

ما وې دغه لغمان دى.

هغـې ويـل: دا خـو ښـه پراخـه مځکـې لـري. هلتـه لیـرې جـګ جـګ غرونـه ولاړ دي. څـومره ښه.

ـ هوسۍ تا خو يوازې کابل ليدلى دى، زمونږ ټول افغانستان ښکلى دى.

پـه دې خبـرو کـې لا وو، چـې لـه درونټـې نـه تېـر شـو او پـه لـږه شـېبه کـې جـلال آبـاد تـه ورسـېدو. هوسـۍ تـه د جـلال آبـاد ښـار نـوى و، هـرې خـوا تـه يـې حېـران حېـران کتـل. د جـلال آبـاد ګرمـۍ يـې پـه مـخ خـولې راماتې کـړې. پـه ټـول ښـار کـې مـې مـوټر وګرځـاوه، مـا وې چـې دوى ټـول ښـار ووينـې. بيـا مـې مـوټر ودرولـو، يـوه هوټـل تـه د چـاى څښـلو لپـاره وختـو. لـه دمـې وروسـته مـو تـازه ميـوې لـه ځانـه سـره واخيـستې او د کلـي پـه لـور مـو حرکـت وکـړ. مـازيګر کلـي تـه ورسـېدو، سـړک د کلـي لـه اړخـه تېـر شـوى و، پـه هغـې وخـت کـې بـه دغـه کلـي تـه پنځـه شـپږ مـوټرې ورځ کـې ورتلـې. مـوټر مـې ښـه د کلـي نـږدې څنـګ تـه وروسـت، نـور نـو سـړک وړانـدې بـل کلـي تـه غځېـدلى و. مـوټر مـې د سـړک ترڅنګـه د يـوه کليـوال د کـور ديـوال پـورې ودراوه. د کـور والا تـه مـې وويـل چـې پـه مـوټر درسـره پـام کـوه. هغـه خـو پېژنـدلم، لـومړى يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړي مشي وکړه، بیا یې پوره ست وکړو، خو موټر تري کور ته روان شو. خړنی لا نه وه لګېدلې، چې د خپلې کلا دروازې ته ورسېدو. له موټر نه مو سامانونه ورسره اخیستي و، د کلا په دروازه لا ننوتلي نه وو، چې شاوخوا د چم خلک ښځې او نر حېران پاتې وو، هر چا به موټر ته راکتلو چې ا سهار له مور، وراره او کومې ښځې سره له کومه راغلل؟ دننه چې ورننوتلو د کور لوی واړه مخې ته راغلل. کاکا مې هم راغی، مور مې ټولو ته وویل:

دا مې ننګور ده هوسۍ جانه. د ستړي مشي او روغبړ نه وروسته هوسۍ د کلا دیوالونو ته کتل، هغې ته هرڅه نوي و، حېرانه پاتې وه. د کاکا مېرمن او نورو اولادونو یې له هوسۍ نه ګرد ګرد تاوېدل. ما غلي شان هوسۍ ته وویل:

دا ټول ستا د قدر او عزت په خاطر درسره نږدې کېږي.

هغې وې هو زه پوهېږم. د ماما کور ته یې یو ماشوم ولېږه، وروسته مو کتل چې ماما سره د خپلې مېرمنې او زامنو راغلل. د کاکا نور زامن او لوڼه هم راغلل. زموږ کلا کې شور ماشور جوړ وو، چرګان حلال شول، د ماښام ډوډۍ تیاره شوه. نارینه په سالون کوټه کې ډوډۍ ته کېناستل او ښځې په بله کوټه کې ډوډۍ وخوړه. په دغه شپه هغوی ټول زموږ په ورتګ او بیا په ځانګړې توګه د هوسۍ په ورتګ او لیدو بې حده خوښي کوله. د شپې له خوا په سالون کې ګپس لګېدلی و، ځکه چې په کلي کې بربښنا نه وه. تر نیمې شپې ټوکې ټکالې او ساعت تېري وه، د شپې هغوی خپلو کورونو ته لاړل او موږ په خپله کلا کې پاتې شو.

په پای کې زه او هوسۍ په کوټه کې پاتې شو. مور مې راغله ویلې زویه ستا د خوب کوټه تیاره ده، خپلې کوټې ته لاړ شئ، کرار ویده شئ. موږ دواړه خپلې کوټې ته لاړو. کوټه یې داسې جوړه کړې وه، لکه د واده د شپې لپاره چې تیاره شوې وي. کوټه د ګلونو او شالونو نه ډکه شوې وه، د کوټې په منځ کې دوه کسیز پالنګ یې کټ جوړ شوی و. تر سهاره پورې مو ښه خوب په کې وکړ. سبا ته د کلي ښځې او نر زموږ ستړي مشي او مبارکۍ ته راتلل. په کور کې مو واورېدل، چې د کلي خلک رانه د واده ډوډۍ غواړي. له ډېرو نه خو مې واورېدل، ویلې سهار صاحب موږ ته باید د واده شیریني راکړي. په کور کې مې له کاکا دوی سره مشوره وکړه، چې د کلي خلکو ته د واده ناری ورکړو ټول وویل: یو غویی به حلال کړو او د کلي ټولو خلکو ته به ډوډۍ تیاره کړو.

دوه ورځې وروسته مو یو غویی واخیست او وریجې مو هم په کلي کې واخیستې، وړه خو په کور کې تیار وو، خلکو ته مو استازي ولېږل، چې د جمعې شپې ته د واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډۍ ته راشي. یوه ورځ مخکې د چم ګاونډ خلک او خپلوان زموږ په حجره کې راټول شول. سبا ته د واده د ډوډۍ پروګرام، د غويي حلالول، د وريجو پخلي، د غوښې او نورو اشپزۍ کارونه سره وويشل شول. د شپې له خوا ته خپلوانو ښځو او انجونو زموږ په کور کې چمبې وهلې او سندرې یې ویلې. په حجره کې هم ځوانان راټول شوي وو. یوه ډله سندرغاړي راغلي وو، چې د ماښام ډوډۍ نه وروسته یې مجلس پیل کړو. ډېرې خوږې سندرې یې ویلې. د منګي او سیتار سره د یکه زار او ټپې غږونه پورته کېدل. ان د سهار تر ازانه پورې ټنګ ټکور روان و. هوسۍ په خوښیو کې دومره ډوبه وه، چې زه یې لا هېر کړی وم. زه یې بیخي له یاده وتلی وم.

په سبا ته سهار وختي د کلا مخې ته خلک راټول شوي وو. چا غويي حلالولو، چا دیګونه باندې کول او ځینو لرګي ماتول. د کلا د دروازې څنګ ته د حجرې دوه غټې غټې کوټې او دالان د کټونو نه ډک شوي وو. د کلي نږدې خپلوان او د چم ګاونډ خلک او ځینې مېلمانه په کټونو کې ناست وو، چا کیتې کولې، چا کار کاوه. ماشومانو منډې رامنډې وهلې. دننه کلا کې هم ډېرې ښځې راغونډې شوې وې، له ښځو او ماشومانو نه کلا ډکه وه. هوسۍ ته یې د واده جامې اغوستې وې، ماته یې هم نوې جامې او تور واسکټ راواغوست، توري نوې څپلۍ یې راپښو کړې، نوې ریښمینه لونګۍ یې راپه کړه. راته وې ویل، چې له ډوډۍ نه وروسته به له هوسۍ سره یوځای ودرېږې، چې عکاسي درته وکړو. خپلو همزولو به راته ویلې سهاره ډېر ښکلی شوې یې؟ ما به له هر یوه نه مننه کوله، خو ورته مې ویلې، چې عکاسي او ودربدل د کلي رواج نه دی.

په حجره او دېره کې په ټولو مېلمنو ګرځېدلم، زمونږ د کلا مخې ته شنه لوګي پورته کېدل، په حجره او دېره کې ناست خلک خوشاله معلومېدل. له دولسو بجو نه اېسته د کلي خلک حجرې ته راغلل، دېره او حجره له خلکو نه ډکه شوه. ډوډۍ ورکول پیل شو. د کلي خلکو شمېر تقریباً څلورو سوو ته رسېده، سره د ماشومانو. د کلي ځینې ښځې هم دننه کلا ته راغلې وې، چې هغوی ته دننه ډوډۍ ورکړل شوه. تر دوو بجو پورې ډوډۍ روانه وه. هرڅه پوره او پرېمانه وو، ټولو ویلې چې د لومړي ځل لپاره مو داسې ډوډۍ وخوړه. وروسته بیا په کلي کې زمونږ د واده ډوډۍ او ازه خوره شوې وه. خلکو به چې ډوډۍ وخوړه، د تلو په وخت کې مې ورسره مخه ښه کوله. تر درې بجو د ډوډۍ پروګرام پای ته ورسېده. مونږ هم ډوډۍ وخوړه، بیا یې زه دننه بوتلم کټل مې چې هوسۍ یې په پالنګ کې کېنولې ده او ښځې ترې تاوې دي. زه له شرمه بېرته راستون شوم او حجرې ته ورغلم. حجره خو لا د خلکو نه ډکه وه، د هر چا مخې ته چای اېښی و، د شپې له خوا د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

همزولـي او نـور خلـک بیـا راټـول شـول، منګـي وتـړل شـول، د کلـي سـیتار چـې د منګـي والا سـره ناسـت و او پـه خپـل ځونـډي دار سـېتار یـې ګـوتې وهلـې، دربـم تـن خپلـې مخـې تـه باجـه ایښې وه. لږه شېبه وروسته د ساز او نغمې غرب جوړ شو، تر نیمې شپې مجلس وشو.

د واده مراسم پـه کلـي کـې ښـه سـرته ورسـېدل. دوه درې شـپې وروسـته خپلوانـو هـر یـوه پـه وار سـره مـونږ تـه مېلمـستیاوې کولـه. مېلمـستیاګانې چـې خلاصـې شـوې، بیـا بـه پـه مـوټر کـې لیـرې ځـایونو تـه د سـیل او سـاعت تېرې لپـاره تلـو. هوسـۍ راتـه څـو ځـل وویـل: سـهاره کابل ته زړ نه ځو.

زمـا د رخـصتۍ لـه ورځـو نـه سـوا یـوه اونـۍ نـوره هـم تېـره شـوې وه، هوسـۍ تـه مـې د کابـل د تلو وویل.

د هغـې هـېڅ زړه نـه کېـده، مـا وې بـل ځـل بـه ډېـرو شـپو لـه راشـو، اوس همـدومره بـس دی. کاکـا سـره مـې د کـلا مخـې تـه پـه خپـل پټـي کـې د بـاغ د جوړولـو مـشوره وکـړه، هغـه وې پـسرلي کې بـه بوټـي واخلـم او بـاغ بـه جـوړ کـړم. مـونږ کابـل تـه د تلـو نیـت وکـړو. مـور مـې ویلـې دا ځـل درسـره نـشم تـلای، ځکـه چـې دلتـه کـور کـې هـم څـوک نـشته دی، یـو د کاکـا زوی دې دلته راسره دی. دا خو اوس هغه پخوانی کور نه دیو څوک به رانه غلا وکړي بچی.

ـ مورې! موږ نه به غله څه یوسي او بیا په دې کلا راختل خو ډېر ګران کار دی.

ـ زویـه دا خـو څـه کابـل نـه دی، چـې پـولیس دې پـه هرڅـه پـام کـوي، هلتـه خـو شـپه هـم لکـه د ورځـې پـه شـان رڼـا وي، څـوک بـه څـه غـلا وکـړي. دلتـه خـو کلـی دی اوس هـم د چـا سـترګې راتـه نـه غړېږي، رښـتیا چـې ښېګـاه تـه درتـه سـپېلني لـوګی کـړم، چـې لـه نظـره نـشې. د خلکـو درپکې سترګې دي، سترګې نه دې چونه کوي.

ـ مورې که ستا رضا وي، نو سبا ته به په خیر سره مونږه کابل ته لاړ شو.

هغـې وې ډېـره ښـه ده زویـه لاړ شـه، چـې غیـر حاضـر نـه شـې. ښېګـاه تـه مـې خپلـوان راټـول کـړل، پـس لـه ډوډۍ نـه مـې لـه هغـوی نـه د تللـو اجـازت واخیـست، هغـوی ټولـو مـونږ تـه دوعـاوې کـولې. سبا یـې تـرې پـه دوعـا او سـپا رارخست شـو. مـور مـې اوښـکې تـویې کـړې، هوسـۍ یـې لاس او پـښې ښـکل کـړل، لـه خپلـې خواښـې سـره یـې اوښـکې تـویې کـړې، خـدای په اماني مو ترې راواخیسته او کابل ته مو حرکت وکړو.

د جـلال آبـاد پـه ښـار کـې مـو د خـان کاکـا دوی لپـاره مـالټې او سـنترې، ګنـډېرې ورسـره واخیـستې او بیـا د کابـل پـه لـوري روان شـو. پـه درونټـه کـې مـو د څـو دقیقـو لپـاره د ننګرهـار د پوهنتـون ودانـۍ او بـڼ لـه نـږدې نـه ولیـد. درونټې لـه بنـده، چـې ورتېـر شـو د ډنـډ پـه غـاړه مـو د ماهیـانو پـروژه ولیـده. پـه ډنـډ کـې دومـره هیلـۍ ناسـتې وې، چـې د اوبـو مـخ یـې پوښـلی و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغمان په کڅ ورغلو وړاندې دډاک په منځ کې پخوانۍ سپینه او خړ بخښنه تانه ښکارېده. له کڅ نه تېر شو د اروابناد الفت صیب زیارت ته مو دوعا وکړه. ځای په ځای هوټلونه وو، د لارې مساپرو پکې دمه کوله. د هوټلو مخې ته به څو ګاډي ولاړ و. سروبي نه رابښکته مخامخ د پورې غره د یوه ګړنګ لاندې د سیند په غاړه مو دمه وکړه. موټر مو د سړک پر څنګ کې ودرولو او مونږ سیند ته نزدې ورښکته شو. هلته د یوې هوارې تېږې په سر سیند ته ورخېرمه کېناستو. لومړی مو کباب کړی چرګ چې مور مې راته ایښی و، رااخیست، ډوډۍ مو وخوړه. د سیند شور د غره منظره او ښکلی طبیعت زړه رابښکونکی و. هیڅ زړه مو نه کېده، چې له دغه ځایه راپاڅېدلي وای. له ډېرې دمې وروسته مو بیا حرکت وکړو. په سروبي راتېر شو، د ماهیپر غرونو ته ورنږدې شو. د ماهیپر په تړۍ کې هوسۍ بیا د پورې غره ښکلې منظرې ته متوجې وه. له ځان سره یې ویلې: څومره ښکلی غر دی؟ د اوبو خړوبي له یوه ګړنګ نه و بل ته د مرغانو الوتل دا څومره په زړه پورې دي. هغه لا د غرونو په تماشه وه، چې تنګي ته ورسېدو. په لړه شېبه کې د حربي پوهنتون نه تېر شو، پل محمود خان ته چې ورسېدو، مازیګر و، کور ته چې ورسېدو، هوسۍ سمدستي خپلې مور ته ټیلفون وکړ، حال احوال یې واخیست، ما هم ورسره خبرې وکړې. هغه ډېره ټینګه شوه، ویلې مونږ کره راشئ، خو هوسۍ ورته وویل:

موري ! سبا شپې ته به درشو، اوس ډېر ستړي یو، چې استراحت وکړو. ما هم ورته وویل. خان کاکا په کور کې نه و، ما وې سبا ته درځو په خان کاکا سلام وایه.

مونږه رښتیا چې ستړي وو، د ماښام ډوډۍ نه وروسته په وخت ویده شو. خدمتګارو ته مو میوې او ځینې شیان ورکړل، هغوی له مونږه سره ډېر خوشاله وو. په ډېره ښه توګه یې زمونږ د کور ساتنه کوله، مونږه د تنخواه نه علاوه ډوډۍ هم ورکوله. زمونږه اشپزه ډېره صادقه او ښه ښځه وه. زمونږ په هر څه یې د خپل کور غوندې پام کاوه. هغې ایکې یوه لور درلودله، مېړه یې پخوا مړ شوی و. د پلار کور یې په شمالي کې و، کله ناکله به یې مور و پلار ورته راتلل. یوه بله خدمتګاره وه، چې هغې به د کور جارو کوله او کالي به یې پرېمینځل. د ماښام ډوډۍ نه به وروسته خپل کور ته تلله. د هغې کور زمونږ د کور ترڅنګه و. په دې شپه هغوی دواړه مونږه په وخت رخصت کړې، مونږه د شپې خبرونه واورېدل او بیا سمدستي مونږه دواړه ویده شو.

سبا ته پخپل وخت وظیفې ته لاړم، ځینې شیان لکه شات او یو لړ څه د غوا سوچه غوړي مې رئیس صاحب ته یوووړل. د خپل سفر خبري مې ورته وکړې، چې څنګه په دروازه وننوتلم، رئیس صاحب رپاڅېد، غېږ کې یې ونیوم. لومړی یې ستړي مشي وکړه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې راته مبارکي وويله. ما وې: د څه شي مبارکي دې راکړه رئيس صاحب؟

هغه وويل: د رياست منظوري دې راغلې ده. په لومړي بست کې رئيس مقرر شوی يې. يو ساعت ورسره کېناستم، بيا يې راته وويل: سبا ته به دې پخپله نوې څوکۍ کېنوو، نن دې خپله پخوانۍ دنده مخې ته يوسه. خپلې شعبې ته لاړم او په کار مې پيل وکړو. لږ ساعت وروسته ډېر کسان راته شعبې ته راغلل او مبارکي يې راکړه. ما سره خو د رياست د څوکۍ دومره خيال نه و، ولې نورو مامورينو ته دا لويه خبره وه. په څلورو بجو چې کور ته راغلم، هوسۍ ته مې کيسه تېره کړه، هغه هم خوشاله شوه، وې ويل: زما قدم درته نيک شو، دواره رئيس شوې.

ما وې: هوسۍ نو دا څوکۍ به ماته څه راکړي، چې دومره.... !

ـ دا څوکۍ ستا شخصيت لوړوي، ايله به په پښنځه وکې ياد شې.

ـ څوکۍ او معراج موقتي شی دی، سړی بايد خپل شخصيت او اهليت ولري. په ټولنه کې د درانه سړيتوب وزن معلوم وي، ولې نه څوکۍ هم ښه شی دی، مګر زړه وربپوري تړل نه دي په کار. کله خو د نن شاه سبا ته ګدا کېږي هم.

ـ سهاره ستا سره يې څوک نه شي ويلې. په خندا شوه او وې ويل: زه به درته هم د ګلو ګېډۍ دروړم.

ـ چې رښتيا رابانددې وايې، ته چې راسره يې، زما هر څه دي. ماته په ژوند کې دا نور شيان نسبي دي، باور يې نه دی پکار. هغې راته له اشپزخانې نه يوه پياله چای راوړو او بيا مې ترڅنګه په کوچ کې کېناسته. ما د کور د ټيلفون نه د هوسۍ مور ته ټيلفون وکړو، د خپل رياست خبره مې ورته وکړه، هغه خوشاله شوه، بيا مې خسر سره هم خبرې وکړې. هغه هم ډېر زيات خوشاله شو. له هوسۍ سره يې هم خبرې وکړې. هوسۍ راته په ټوکو کې ويلې هلکه اوس به درته پس له دينه رئيس صاحب وايم.

ـ نه نه هوسۍ ! پام کوه زه خو ستا همغه سهار يم، دا شيان زما او ستا په منځ کې نه ځايېږي.

ـ ښه ده زما زړه هم په سهار خوشالېږي، تل به د سهار غږ درته کوم.

رښتيا هم زمونږ مينه له يوې ورځې نه بلې ته زياتېدله، ترڅو به چې له وظيفې نه کور ته رسېدمه، هغه به له انتظاره ستړې ستړې وه. زه به چې کور ته ورغلم، لکه د ګل غوندې به وغوړېده، وبه يې خندل او ډېره شېبه به يې غېږ کې نيولی وم.

زمونږ ژوند ښه تېرېده، يو څه پيسې مو په بانک کې ذخيره کړې هم وې، له هېڅ مشکل سره مخامخ نه وو سبا ته د جمعې ورځ وه، مونږ وختي د هوسۍ د پلار کره ولاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـوی پغمـان تـه د تلـو نیـت کـړی و ، زمـونږ پـه ورتـګ خوشـاله شـول، ویلـې ښـه شـوه چـې راغلـئ، پـه ګـډه بـه میلـې تـه لاړ شـو. سـامان او خـوراکي مـواد او د کبـاب نغـری او سـیخونه مـو هـم ورسـره واخیسـتل. پغمـان تـه لاړو. کتـل مـو چـې پـه دغـه ورځ پـه پغمـان کـې د خلکـو ګڼـه ګونـه دومـره زیاتـه وه، چـې پـه سـړک بانـدې د موټـرو د تېرېـدلو چـاره نـه کېـده. پـه ډېـر ځنـډ سـره پـه کـرار کـرار د درې خـولې تـه ورسـېدو. پـه خـوارۍ سـره مـو یوځـای پیـدا کـړو او پکـې کېناسـتو. د سـتي مـو ځـای مـای برابـر کـړوو د هوسـۍ د کاکـا زوی د کبـاب لـوګي پورتـه کـړل. نـورو خلکـو هـم چـا اتـڼ اچـولی و ، ځینـو سـندرې ویلـې، چـا مـږزان جنګـول او چـا هـم کبابونـه پخـول. یـو شـور ماشـور او پـه زړه پـورې مېلـه وه. تـر مـازیګره مـو ښـه سـاعت سـره تېـر شـو ، مـازیګر ناوختـه کورونـو تـه راسـتانه شو. سبا یـې چې خپلـې دنـدې تـه لاړم، زمـونږ رئـیس راتـه وویل:

سـهاره ! راځـه چـې د نـشراتو ریاسـت تـه ځـو ، معـین صـیب راځـي، ستاسـې د معرفـۍ پـه هکلـه مـونږه د نـشراتو ریاسـت تـه ورغلـو. کتـل مـو چـې د بېلابېلـو څانګو مـامورین هـم راټـول شـوي دي. پـه دې کـې معـین صـیب راغـی، لـه سـترې مـشي وروسـته یـې پـس لـه لـږې شـېبې نـه مـامورینو تـه زمـا معرفـي وکـړه او څـو خبـرې یـې وکـړې. مـا هـم پخپـل وار سـره څـو جملـې وویلـې. معـین زه پـه څـوکۍ کېنـولم او ټولـو چـک چـک وکـړو ، چـای او شـیرینې وخـوړل شـوه. زه له دغې ورځې نه وروسته د نشراتو رئیس شوم.

څـه مـوده وروسـته مـې اړیکـې لـه لـوړو چـارواکو سـره وغځېـدې، پـه ریاسـت کـې راتـه د مقـالو او راډیـویي داسـتانونو تـه زمینـه برابـره شـوه. هـم بـه مـې مطالعـه کولـه او هـم بـه مـې لیکنـې کـولې. کلـه بـه مـې چـې پـه کومـه مقالـه او کومـه لیکنـه کـې د وخـت نـاخوالو تـه پکـې کلکـه ګوتـه ونیولـه، لـه پاسـه بـه راتـه یـو نـیم ټیلفـون کېـده ، ویلـې بـه یـې: پـام کـوه دغـه شـیانو تـه ګـوتې مـه وروړه، چـې لـه ریاسـته بـه دې ایـسته کـړي. مـا خپلـې لیکنـې همغـسې دوامـداره کـولې، د ریاسـت پـه کلونـو کـې دوه درې ځلـې مـې خـارجي هېـوادونـو تـه سـفرونه وکـړل، لکـه روسـیه، هندوسـتان او ایـران تـه. د پاچـا لـه کـورنۍ سـره د خپـل خـسر د هوسـۍ د پـلار پـه پېژنـدګلوۍ بلـد او پـوره اشـنایي مـې ورسـره پیـدا کـړه. پـه ځینـو خاصـو محفلونـو او ناسـتې پاستې کې به مو لیدنه کېدله.

د پاچـاهۍ دورې پـه اخـرو وختونـو کـې پـه هېـواد کـې حـالات بـدل شـول، د کابـل پوهنتـون پــه محــصلینو او د ښــوونځیو پــه شــاګرانو او اســتادانو کــې سیاســي بېلابېلــې مفکــورې راپیـدا شـوې. د شـوروي اتحـاد نـه کمونېـستي مفکـوره، د سـعودي عـرب نـه اخوانیـت او لـه چـین نـه مائوېـستي افکـار راخـواره شـول، ځینـې نېشنلـستي ډلـې هـم راوپارېـدې. دغـو ټولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلابېلو ډلو لـه يـوې ورځـې نـه بلې تـه چټـک ګامونـه اخيـستل. د کلـه نـه چې پـه افغانـستان کـې د لـومړي ځـل لپـاره اساسـي قـانون مـنځ تـه راغـی او د ديموکراسـۍ غـږ څـه ناڅـه پورتـه شـو. لـه همغـې ورځـې نـه بيـا سياسـي ډلـې ټپلـې او سـازمانونه پـسې لا ښـه رابېـداره شـول، مظـاهرې او اعتـصابونه پيـل شـول. پـه مظـاهرو کـې بـه محـصلينو او شـاګردانو ظـاهر شـاه تـه ردې بدې ويلې او د وخت د رژيم نه به يې سر ټکاوه.

ورځ پـه ورځ حـالاتو کـې تـوپير پيـدا کېـده، پـه ځينـو خپرونـو کـې انتقـادي ليکنـې او ګوتنيـونې پيـل شـوې، زمـا پـه خپـل فکـر کې څـه کـوم نـوی بـدلون نـه و راغلـی، خپلـې ليکنـې مـې لکـه د پخـوا پـه شـان جـارې وسـاتلې. هـر څـومره چـې مـې لـه لـوړو چـاروا کـو سـره تماسـونه زياتېدل، زما په فکر او خواصو کې کوم تغيير نه راتلو. ډېر راته وويل:

سهاره لکه د پخوا په شان چې څنګه وې، همغسې پاتې يې.

مـا هـم پخپـل طبيعـي ډول سـره لـه هـر چـا سـره چلنـد کـاوه، ډېـرو د بېلابېلـو مفکـورو خلکـو رابانـدې خپلـه وسـه وکـړه، چـې مفکـوره مـې بدلـه کـړي، مـا د هېچـا زړه نـه بـداوه، خـو رابانـدې پـوه بـه شـو ، چـې سـهار دې خبـرو نـه دی. پـه نورمـال ډول مـې پـه دولتـي چـارو او هـم ولـسي خلکو سره څنګه چې وم، همغسې پاتې وم.

کلـه چـې پاچـاهي نـسکوره شـوه او د داود خـان جمهـوري دوره راغلـه، حـالات بـدل شـول. څـه ناڅـه تغييـرات مـنځ تـه راغلـل، د بـدلون او نـوي تـوب فکـر هـر چـا سـره پيـدا شـو. زمـونږ پـه وزارت کـې هـم يـو ډول تغييـرات پـېښ شـول. زه لا پخپلـه څـوکۍ پـاتې وم، د نـوي دولـت د روحيـې پـه اسـاس بـه نـشرات کېـدل. مـا پخپلـو ليکنـو کـې هـېڅ ډول تغييـر رانـه وسـت. ورځ پـه ورځ د ګـړز او ګـروز شـېبې زياتېـدلې، د ټـول هېـواد د ولـس پـه مـنځ کـې ځينـې ګونګوسـې رااوچـت شـول. د داود خـان د ډلـې ټپلـې پـه څنـګ کـې نـورې بېلابېلـې سياسـي ډلـې ټپلـې راژونـدۍ شـوې، هـر چـا بـه خپلـې هلـې ځلـې کـولې، ماتـه بـه مـې خـسر خـان کاکـا تـل ويلـې: سـهاره بچـی ! کـه زمـا منـې پـه هـېڅ سياسـي ډلـه ټپلـه کـې مـه ځـه، دا څنګـه چـې يـې، همدغـسې اوسه.

مـا وې: خـان کاکـا زه نـه پـوهېږم پـه ړنـدو سـترګو يـانې پـه کـوم سياسـت نـه پوهېـدل او پـه ډلو کې تګ زما په فکر لويه ناپوهي ده. پرېږده هر څوک او خپل کار يې.

د داود خـان پـه جمهوريـت کـې زمـوږه د مطبعـې ټـول پخـواني رئيـسان او نـور مـامورين پـه خپل ځای پاتې وو ، زمونږ د ټولو ترمنځ نبک روابط پخوا غوندې ښه پاتې و.

هوسـۍ چـې پـه کـور کـې تـل بـې کـاره وه، ورځ پ ورځ يـې د بـدن وزن زياتېـده، مـا بـه ورسره ټوکې کولې ورته به مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوسۍ راځه زما سره سکرتره شه، مصروفه به شې. هغې به راته په خواب کې وویل:
ولې اوس دې سکرتره نه یم څه؟ هغې غذايي رژیم ونیو ، په کور کې به یې دننه سپورت هم کاوه، خو یوه خبره کوم، چې ښایست یې له پخوا نه څو چنده شو. زموږ د دوا ړو مینه له یوې ورځې نه بلې ته زیاتېدله. کله به مې ورته ویلې: هوسۍ زوی یا لور پیدا کړه، چې ساعت دې ورسره تېر وي. هغه به د معمول سره سم په خندا شوه، ویل به یې: ته خو دا وايې ولې بیا به مو دا خوند نه وي. پرېږده چې څه موده ازاد پاتې شو.
په دې کې کړپ شي د داود خان حکومت چپه شو ، خلقي دولت منځ ته راغی. سمدستي راته د هوسۍ پلار خان کاکا وویل: بچې اوس خرابه شوه، په وخت د ځان غم وخورئ، دا زموږ لپاره په ګټه نه ده.
رښتیا همغه و چې دوه میاشتې وروسته خان کاکا ونیول شو او پل چرخي زندان ته یوووړل شو. په ما هم وېره راغله، ما وې چې د خسر په جرم کې مې نیسي، لږه موده پس یې له ریاسته اېسته کړم او پخپله پخوانۍ شعبه کې مې کار کاوه.
هر څه یو دم بدل شول، ما هم راډیویي داستانونه او مقالې نه لیکلې، د مطبعې رئیسان ټول بدل شول، په هر چا وېره او ډار پرېوت. زه په خسر پسې ډېر وځغلېدم، خو هېڅ خوند یې ونه کړ. هوسۍ به هره ورځ په سرو سترګو ناسته وه، مور یې هم خپه وه، څو ځلې پل چرخي زندان ته زه او هوسۍ له نورو پاېوازانو سره به په کتار کې ولاړ وو. تر پایه پورې به مو پښې وچې شوې، خو د خان کاکا نوم د بندیوانو په لست کې نه و. مازیګر به خپه ستومانه بېرته کور ته راغلو. څو ورځې مونږ د هوسۍ له مور سره تېرې کړې، زه به هم هره ورځ خپلې دندې ته تلمه.
څه موده پس مې له یوه تن نه واورېدل، ویلې:
سهاره په خسر پسې دې مه ګرځه، هغه یې وژلی دی. یو ځل په کورنی چارو وزارت کې د مړو کسانو لست ځړېدلی دی، په هغه لست کې به د هغه نوم وګورې.
زه په چالاکۍ سره د کورنیو چارو وزارت ته لاړم، لستونه مې چې له نظره تېر کړل، په یوه لست کې د هوسۍ د پلار نوم لیکل شوی و. کور ته ناوخته لاړم، هوسۍ رانه پوښتنه وکړه، ویلې:
سهاره نن خو دې زما د پلار په باب څه نه دي اورېدلي؟ زه ورته منکر شوم، ما وې نه والله نن زه ډېر وګرځېدمه، خو هېچا راته څه ونه ویل.
ډېرو راته دا هم وویل:
سهاره ته که دې په خسر پسې داسې لالهانند او سرګردانه ګرځې، داسې نه چې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټېل کې دې څوک ونه نیسي؟

ـ هوسۍ ددې حالاتو نه مې وېره غوندې کېږي. هغې راته وویل:

ـ سهاره نور بس دی ډېر مه ګرځه، خدای ناخواسته څه درپېښ نه شي. خوابښې مې هم راته ټینګتیا وکړه. زه هم بیا ډېر نه ګرځېدمه، خالي د وظیفې ځای ته به لاړم او مازیګر به خپل کور ته راتلم.

حالات داسې شول، چې روسان افغانستان ته راغلل، د هېواد ټولو خلکو جهاد ته ورودانګل، د روسانو او د هغوی د ګوډاګي دولت په خلاف یې د جهاد چیغه پورته کړه. ورځ په ورځ د افغانستان په هره خوا کې جګړه ونښته، دواړو خواو یو پر بل حملې کولې، د ملک حالات ورځ په ورځ خرابېدل ترڅو مجاهدینو د خپل ملک نه بهر په پاکستان کې څو ډوله تنظیمونه جوړ کړل، چې د ځینو بْرنیو هېوادونو له خوا به دغو تنظیمونو ته وسلې او هر ډول مرستې ورکول کېدې.

زه د حالاتو په ډېر سیاسي توب پسې په دې کتاب کې ډېر څه نه لیکم، خو د وخت ناخوالو ته خالي لږه اشاره خو پکار ده. د روسانو له راتګ نه درې میاشتې مخکې مې زوی شوی و، چې اوس مې زوی (بهادر) د درې کالو شوی و، خبره دې ته راورسېده، چې د کابل په ښار کې هم نورې شپې ګرانې شوې، یوه شپه مو د هوسۍ تره سره خبرې وکړې، هغه داسې فیصله وکړه او وې ویل:

سهاره! ته به له خپلې مېرمنې او زوی سره خپل کلي ته ځې، مور او د هوسۍ مور به خپل وطن جنوبي ته ځو، جواب مې لېږلی دی خلک به نن سبا ته راورسېږي او کډه به راته انتقال کړي. تاسې هم خپل کالي او سامانونه خرڅ کړئ، کور مو هم په چا وپلورئ، پیسې ترې نغدې کړئ او پټبې وباسئ، په دې ملک کې نورې شپې نه کېږي.

بس همدا فیصله شوه. مونږ سامانونه خرڅ کړل کور مو هم خرڅ کړو او په پټه توګه سره خپل کلي ته ولاړو. مور مې زمونږ په ورتګ ډېره خوشاله شوه، په کلي کې چې ځینې خلک پاتې وو، هغوی هم خوشاله شول. زمونږه په کورنۍ کې یوازې زما کاکا او د هغې مېرمن پاتې وه، ډېر کم خلک په کلي کې پاتې وو، ځوانان او ماشومان خو بېخي پکې نه وو، ټول باجوړ او پېښور ته تللي وو. ځوانان او د پاخه عمر خلک د جهاد په لیکو کې په بېلابېلو تنظیمونو کې تنظیم شوي وو. ما چې حالات ولیدل، په کلي کې هم د شپو د تېرولو شان نه و. دوه میاشتې مو په کلي کې تېرې کړې، خو هره شپه یې مرګ و. یوه شپه مې کاکا ته وویل:

کاکا جانه! دلته خو ګوزاره ګرانه ده، دا هره ورځ مجاهدینو ته ډوډۍ پخول او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حجره چلول خورا ګران ښکاري. زوی مې ورکی دی، مېرمن مې په دې کارونو بلده نه ده، مور مې بوډۍ ده او مجاهد رابانـدې ناست دي، چاته ډوډۍ پخوو، چا سره د نغدو مرسته او له چا سره نورې مندې ترړې اخر به زموږ څه وي؟

کاکا مې یوه شېبه غلی و او بیا یې وویل:

بچی زه خو داسې نظر لرم، چې تاسې له کلي نه نور ځئ، ځان پېښور ته کړئ، دلته او سېدل ګران کار دی. مونږ به هم درپسې درځو، یو څوک به پیدا کړم، چې په دې کلا کې واوسېږي او په کور او سامان ورسره پام کوي. تاسې یوازې منډې له مخې د ضرورت وړ شیان له ځان سره واخلئ.

مونږ ټولو همدا مشوره وکړه، چې پاکستان ته کډه شو. له همدغې ورځې نه توده جګړه روانه وه، مجاهدو به د روسانو او حکومت په کتارونو حملې کولې او هغوی به باالمقابل توپونه او ټانکونه کلیو ته ونیول، هرڅه به یې لوټه لوټه کړل. دولتي الوتکو به هم بمباري کولې. هوسۍ له دغې وضعې سره سخته نارامه وه، خپه او ستومانه وخت پرې راغی. اخر خبره تر مرګ سرحده راورسېده. نوره نو مونږه د کلي نه د وتلو تیاری ونیوله. د شپې سره ټول یو ځل بیا په ګډه کېناستو، فیصله مو وکړه چې په لومړي ځل به زه او هوسۍ سره د خپل زوی بادر خان پېښور ته ځو، مور به مې وروسته له کاکا دوی سره یوځای راپسې راځي. د کلي نه تر پېښوره مو سړي پیدا کړل، چې زمونږ کډه ورسوي. سبا ته مو له کلي نه د تلو ورځ وه. په دغه شپه تر ناوخته پورې کېناستو، د تلو لارې چارې او نور تصمیمونه مو سره ونیول. فیصله وشوه، چې سهار به په جاله پورې وځو او ټاکل شوي کسان به مو اخوا ته وراړوي. د شپې د پربوتلو په وخت مې هوسۍ ته له خولې ووتل:

هوسۍ ! حالات ډېر خراب دي، هره خوا جګړه ده، ډز او ډوز دی، نه ویل کېږي که مونږه دواړو کې خدای ناخوساته کوم یو نه و، هغه بل به یې د ژوند ټوله کیسه لیکي. دا به زما او ستا ترمنځ زمونږ د مینې او ژوند اصلي خبره وي. ما وې دا کتابچه درسره وساته تراوسه مې ساتلې او تر دې ځایه مې رارسولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ربیم څپرکی

هوسۍ راته د سهار په باب خبرې کولې:

ـ سپین سرې بوډۍ، چې امسا یې په لاس کې نیولې وه، پیوندي ځرې او خیرنې جامې یې په غاړه وې، تور سوري وري ټیکری یې پخپلو سپینو ویښتو چولی و، له لیرې زما خوا ته راروانه وه. زه هم لکه د نورو مهاجرو غوندې پخوا راغلې وم او په دې کمپ کې مې شپې ورځې تېرولې. سپین ږیرې او بې وسې وم کوم کار رانه نه کېده، خالي لارې او کوڅې به مې څارلې. سپین سرې بوډۍ راروانه وه زما خوا ته رانږدې شوه، زما د سترګو دید کم شوی و، څوک مې په اسانه، نه پېژندل. بوډۍ ته ښه متوجې شوم لکه د لېونۍ په شان په نرۍ لاره راتله. چپلکې یې پښو وې د څپلکو ونډنې یې شلېدلې و، په سختۍ سره یې ګامونه اخیستل. نرۍ ډنګر کې بوډۍ، چې سترګې یې خچنې او په یوه سترګه کې یې اوښکه ډنډ ولاړه وه، د سر د ویښتانو سپینه څڼه یې باد رپوله. د خپل خیرې ټیکري پېڅکه یې په یوه لاس ټینګه نیولې وه، په ښي لاس یې امسا نیولې وه، خپلې لارې ته یې کتل. ورو ورو یې قدمونه اخیستل، زه د هغې د لارې په سر په یوه نړېدلي دیوال ناست وم، هغه چې دوه درې ګامه رانژدې شوه، ما پرې غږ وکړو:

ـ ترور ستړې مشې.

ویل یې: خدای دې وبښه.

پښه یې ونیوه، ورو شوه ما پلو یې راوکاته، وې ویل:

وروره د ناصر باغ کمپ ته کومه لاره تللې ده؟

ما وې ترور همدا مخامخ لاره ورغلې ده. ترور یوه پوښتنه درنه کولی شم؟

هغې په داسې حال کې چې د مرۍ غوټه یې ښکته پورته تله، امسا یې ولګوله، ځان یې ټینګ کړو، وې ویل: ولې نه؟ وروره مهرباني وکړه.

یوه شومه چې بوډۍ سواد لري، ترور ته راشه دلته کېنه، لږه دمه برابره کړه، تر کمپه به دې زه ورسوم، هغې دوعا راته وکړه ویلې وروره الله دې ژوندی لره. هغه په ډېر زحمت سره کېناسته، سوړ اسویلی یې له خولې وخوت، ویې ویل:

چا راته زموږ یو کلیوال راښودلی دی، په همدې کمپ کې اوسېږي، ډګروال صابر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو مېږي، د هغه کره ورځمه. نه پوهېږم چې څرنګه یې پیدا کړم.

د ډګروال صابر په اورېدو مې نبغ ټوپ وکړو ، چوپ پاتې شوم ، هغې راته کړه:

وروره ! ته خو به دغه سړی نه پېژنې؟

ما ورته وویل: دا کوم صابر دی؟ په کمپ کې خو یو صابر دی ، چې هغه....

بوډۍ زما خبره ونیوله ، وې ویل:

زمونږ د کلي دی.

د کلي نوم یې واخیست (په زړه کې مې شک راغی ، ما وې همدغه خو زه یم کنه. ما وې ښه به دا وي چې کور ته یې بوځم او سمه پوښتنه ترې وکړم).

ــ راځه ترور چې کمپ ته لاړ شو. زه ترې مخکې او هغه راپسې شوه ، تر کمپ پورې په ژور سوچ کې لاړم ، کمپ ته ورسېدو ، ما وې ترور راځه یوه پیاله چای به ما سره وڅښې ، بیا به د هغه سړي پوښتنه کوو. کور ته لاړو ، ما په کمپ کې دوه کوټې درلودې ، یوې کوټې ته ورننوتلو. ښځه او واړه مې په بله کوټه کې وو ، ښځه مې راغله ، بوډۍ ته یې ستړې مشې وویله ، ما وې هله دې ترور ته چای تیاري کړه ، بېچاره ستړې شوې ده. هغې د بوډۍ نه پوښتنې ته خوله سازوله ، چې ما ورته وویل:

ورشه ته لومړې د چای غم وخوره بیا به ورسره خبرې وکړې.

مېرمن مې بلې کوټې ته لاړه ، ترڅو چای تیاري کړي. زه او بوډۍ په کوټه کې ځانته پاتې شو ، هغې خپل سوری ټیکری په ځان راخور کړو ، خوله یې وچه وه ، ما وې ترور اوس به درته چای راوړي ، خو اوس راته سم ځان راوښایه ، د کوم ځای یې؟ نوم دې څه دی؟ کورنۍ دې مېړه دی څوک دی؟

د خپل کلي نوم یې واخیست ، چې زه هم د هغه کلي یم ، ویل د خاوند نوم مې سهار دی ، په افغانستان کې په یې هره جمعي شپه راډیویي داستانونه خپرول.

ــ اخ دا څه وایې ته.... ته د سهار صیب مېرمن یې؟

ــ هو زه د سهار مېرمن هوسۍ یم.

ــ نو ته اوس په دې حال او دومره بوډۍ؟

ــ وروره زما کیسه مه اوره ، په مرۍ کې یې لاړې ونښتې. په دې وخت کې زما لور د چای پیاله هغې ته په مخکې کېښوده ، ماته یې هم د چای پیاله ونیوه. په زړه کې مې وویل پرېږده ، چې د ډوډۍ نه وروسته ترې نورې پوښتنې وکړم. )

په زړه کې مې د سهار صیب په باب ډېرې خبرې راپیدا شوې ، ښځې مې ډوډۍ ورته راوړه ، زه ترې بیرون ووتلم ، ما وې ترور ته ډوډۍ وخوره وروسته به نورې خبرې کوو. بهر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور مخې ته ووتلم، نسوار مې واچول، یو ساعت په چرت کې لاړم، همدا مې زړه کې تېرېدل، هغه سهار ورسره څنګه نشته دی؟ خامخا پرې څه مشکلات راغلي دي، خو چې ورشم وې پوښتم او خپله کیسه راته وکړي، کېدای شي په تېرو جګړو کې وژل شوی وي او یا څه بله پېښه شوې وي، خو ته راځه چې د ټولو خبرو پوښتنه ترې وکړم. ښه به معلومه کړم، چې اصلي کیسه څه ده؟

کوټې ته ورننوتلم، ښځې مې ترې دسترخوان بلې کوټې ته یووړو، ډوډۍ یې خوړلې وه. زه چې ورغلم، وې ویل:

ورور ه! خدای دې ژوندی لره، ما سره په تکلیف شوې.

ـ نه نه ترور دا څه تکلیف دی، خو اوس به راته اصلي کیسه وکړې.

هغې د ټیکري په پېڅکي خپلې شونډې پاکې کړې، ویې ویل:

ورور ه! پخوا کلونو کې د پلار په کور کې رالوی شوې یم، په اصل کې مونږ د جنوبي یو، پلار مې پخوا په کابل کې وظیفه درلوده. د ظاهر شاه سره یې نزدې اړیکې درلودې، په کابل کې مو کورونه او جایدادونه وو، ما د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځی لوستلی دی. واده مې د یوه لیکوال او د کابل راډیو د داستانونو لیکونکي سهار سره شوی دی. سهار صیب رئیس هم و، په وزیر اکبر خان مېنه کې مو خپل کور درلود. کله چې ظاهر شاهي ختمه شوه او ورپسې د داود حکومت منځ ته راغی، له همغې ورځې څخه حالات ورځ په ورځ پسې بل ډول کېدل، ترڅو چې د محمد داود حکومت پسې چپه شو، خلقي دولت رامنځ ته شو. بیا چې ورپسې روسان راغلل، په ټول ملک کې ګډوډي پیدا شوه، آخر جهاد پیل شو. مونږه مجبور شو کور مو خرڅ کړو، کلي ته راغلو. په کلي کې هم ګوزاره ګرانه شوه، ورځ په ورځ حالات خرابېدل، مرګ مو اخر تر زنې راورسېد، له کلي نه هم هره ورځ جوپې، جوپې خلک وتل. اخر ټول کلی شاړ شو، له بلې خوا د حکومتي پوستو او هم روسانو له خوا به په کلي توپونه راوربدل. زمونږ د کلي نه ډېرې جنازې ووتلې.

د مجاهدینو او روسانو جګړه ورځ په ورځ تودېدله، کلی له یوې ورځې نه بلې ته خالي کېده، مرګ مو تر دروازې راورسېد. مجبوره شو، چې کلی هم پرېږدو او د پخوا ته رامهاجر شو. یوه شپه مو په کور کې مشوره وکړه، چې سبا ته به له کلي نه ځو. د سهار صاحب کاکا او د هغه مېرمن سره د سهار د مور پاتې شو، هغوی وویل، چې اوس یوازې زه، سهار او درې کلن زوی مې د هغوی په ګډه صلاح او مشوره سبا ته مو د راوتلو نیت وکړو. څو تنه سړي مو په پیسو نیولي وو، ترڅو مونږ راواړوي. کله چې له کلا نه راووتلو، ماسپښین قضا و، مونږه یې سیند غاړې ته راوستلو او هغو څلورو تنو سړو غوښتل، چې په جاله کې مو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینده پوري باسي. په دغه ورځ سخته جګړه روانه وه، د توپونو او ټانکونو ډزې کېدلې. مجاهدو د غرو له ډډو نه په کتارونو سور او ربل کړي و. دومره وخت نه پېدا کېده، چې مونږه له سینده پوري وتې وای. چورلکې هم راتلې او بمونه یې په غرونو او کلیو راغورځول. سور او ربل و، یو هیلیکوپټر یې په توغندي وویشت، د سیند په منځ کې راولوېد. لږه شېبه د سیند په غاړه کېناستو، کتل مو چې جالوان د خیګانو جاله راوستله او موږ یې وروخېژولو. ما خپل وړوکی دري کلن زوی بادر خان په غېږ کې کلک نیولی و، ځکه چې د لومړي ځل لپاره په جاله کې سیند باندې پوري وتلو. د سیند څپو له ډاره مې جامې ګرځېدلې، ډزې او جګړه مې له یاده وتلې وه.

په دې وخت کې یې خوله وچه شوه، د خپلې چای پیالې نه یې ګوټ وکړو، لږه ژړغونې غوندې هم شوه، بیا یې په ارام او ژړغوني اواز خپلې خبرې پیل کړې. ما وې بنه ترور بیا څه وشول؟.

د چای پیاله یې ورو خپلې مخې ته کېښوده، ویې ویل:

وروره ! جاله په سیند کې روانه شوه او موږه پکې ناست وو. د سیند منځ ته چې جاله ورسېده، د ډزو او مرمیو باران رابانـدې جوړ شو. د سړک نه رابانـدې د عسکرو یوې پوستې ډزې پیل کړې، داسې ډزې رابانـدې کېدلې، چې د جالې خیګان په مرمیو سوري وري شول. مونږه په جاله کې پروت کړي و، د سهار له خولې اخ وخوت نېغ شو او له جالې نه سیند ته ولوېد. زما په غېږ کې هلک و، له جالې نه مې په سهار پسې ورټوپ کړل، چې هلک رانه اوبو ته ولوېد. له لوېدو سره د سیند څپو ډوب کړو، چیغې مې له خولې وختې، نیمایي سیند کې وم او یو لاس باندې مې تناب نیولی و. تر شا یوه لاس راوا چاوه له کمیس نه یې ونیولم او جالې ته یې ورپورته کړم. نور مې څه ونه لیدل، سترګې مې توري توري شوې، هېڅ پوه نه شوم چې خاوند مې او زوی مې څه شول؟ بیا په ځان نه وم پوه شوې یو وخت مې سترګې وغړولې، چې د سیند په غاړه لوخو کې پرته وم، سر مې راپورته کړو، شاوخوا څوک نه و، وړانـدې یو ازې جالوان راروان و. په چالاکۍ سره زما خوا ته راغی، خوا ته مې کېناست، ویې ویل:

خوري پام چې غالمغال ونه کړې، پوري عسکر ناست دي، چې ولې مو. وارخطا نشئ، زړه لږ ټینګ کړه، خدای پېښنه کړه که غواړې چې ژوندۍ پاتې شې، په دې لوخو کې غلې کېنه، چې ونه خوځېږې. مونږ سره په جاله کې یو تن بل سړی ډېر زخمي دی، زه به هغه دغه کلې ته ورسوم او بېرته به په تا پسې زر راشم.

په ما څه چل وشو او له ځانه خبره نه وم. ځای پر ځای لوېدلې وم، یو وخت مې پښنه څه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوله کې ونيوله او غابښونه يې پرې کېمنډل، زور يې کړو، ما ويل ګنې تېرو بېر يې رانه غابښونه وو ېستل، چې رابېداره شوم تورتم و، څه نه ليدل کېده، خو د سپي په اندازه يو حيوان رانه خوله وو ېستله او روان شو، چې ښه ورته متوجې شوم اوږده لکۍ يې وه لکه سپی، زما له خوا نه په منډه لاړ، په بېله کې پورته روان شو. ما يو ځل سين ته وکتل، بيا مې شاوخوا ته، ځان ته مې فکر شو او د جاله وان خبره مې غوږ ته ودرېدله، ويلې ته له دې ځايه مه ښوره، زه درپسې بېرته راځم. د خپلې پښې په خوږ شوم، يو ځل پاڅېدم بيا بېرته کېناستم. تورتم و، څه نه ليدل کېده، په جاله کې زمونږ سامانونه و، دوه بکسونه ډک وو، جاله وان ځانته وړي و. زه ډېر ساعت نوره کېناستم، بس له ځان سره مې ژړل، ماخستن تېر مې ځانته پام شو، ژړا مې ودرېده، وډار شوم. غوږ مې ونيو، ډزې غلې شوې وې، فکر مې وکړو ما وې که نوره په دې شاړه بېله او د سين په غاړه پاتې شي کېدی شي لېوان دې وخوري، ښه به دا وي چې چېرې ځان کوم کلي ته ورسوم، چې سبا ته خو د سهار او زوی په پته ځان پوه کړم. په کراره له ځايه راولاړه شوم، يوازې د لاس بکس مې غاړې ته پروت و، نور څه راسره نه و. بادر رانه بېل شو، کله به مې په همدغه وخت کې سيند ته غوږ ونيو، ما وې که بادر خان راته غږ وکړي او يا د سهار غږ واورم، بيخي لېونۍ وم، بيا به بې هوښه ولوېدم. څه شېبه وروسته راپورته شوم، زړه مې رالوی کړو، ژړا مې بس کړه، د خپل ځان په وېر شوم، راپاڅېدم پام مې وکړو وړاندې ګڼې ونې ښکارېدلې، ما وې راځه ګنې هلته به کوم کلی وي وربه شم. ټيکری مې له غړې نه تاو کړو، د ګڼو ونو په طرف روانه شوم، څو قدمه وړاندې چې لاړم د سين په غاړه فرياد خېژي، د انسان غوندې ځګيروي کوي، په زړه کې مې تېر شو ما وې دا سهار نه وي. ورو ورو فرياد پلو ته وروستنه شوم، شل قدمه وړاندې د سيند په غاړه يو سړی اوږد غځېدلی او فريادونه يې کول. زه په چټکو ګامونو ورنږې شوم، ما وې چې سهاربه وي، چې سر يې راپورته کړم. ښه چې ورنږدې شوم او پې وربښکته شوم، سړي همغسې فرياد کاوه، چې سر مې ورله راپورته کړو په مخ مې ورته لاس وواهه، تورتم و، نه پېژندل کېده، ورو يې په اخري وس سره وويل:

ـ زه جاله وان يم، په خېټه لګېدلی يم.

زر مې ورله سر په مځکه کېښود، ما وې وروره ته خو جوړ وې، زه ستا په تمه ناسته وم.

ويې ويل: روغ چرته وم لګېدلی وم، خو ورسته همتا پسې درتلمه، چې همدلته راپرېوتم. هغه نور تول مړه شول او سيند ته ولوېدل. ما وې زه اوس څه وکړم؟ جاله وان په ورو او له فرياده ډکه اواز وويل:

ته دومره وکړه، چې هغې کلي ته لاړه شې چاته ووايه، چې ما پسې راشي دلته بې ځايه مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږمه. د جالې خبره کلي ته ورسوه، ځه ولاړه شه. ما وې: وروره کلی چېرې دی؟

په سختۍ یې لاس همغو ونو ته ونیو کوم چې ما هم په هغه لوري د تلو تکل کړی و.

زه د جاله وان له خوا نه پاڅېدم او د کلي په لور روانه شوم، یوه شېبه مزل مې چې وکړو د سپو غپا مې تر غوږ شوه. همغې خوا ته مې حرکت وکړو، یو ساعت وروسته ګڼو ونو ته ورنږدې شوم، د توت او چینارونو ته ورغلم، پام مې کاوه چې وړاندې کلی را معلوم شو. په کلي کې سپو غپلې، ډاډمنه شوم، ما وې چې د کلي خلک به را سره مرسته وکړي. زه به زر خلک خبر کړم، چې جاله وان کلي ته راوړي او زما د سها او بادر خان پته هم ولګوي. په چابکو ګامونو کلي ته ورروانه شوم، خدا بزده چې څو بجې به وې، توره شپه وه، د کلي څنګ ته چې ورسګېدم وړاندې د یوې لویې او جګې کلا مخې ته څو تنه سړي ناست وو، خپلو کې یې خبرې کولې، زه هغوی پلو ورغلم. کله چې ورنږدې شوم، هغوی را باندې غږ وکړو، ویل یې: څوک یې؟ ځای پر ځای ودرېږه، چې ونه خوځېږې.

ما ورته په جګ اواز وویل:

وروره زه یوه تور سرې یم، ستاسې خوا ته درځمه. له هغوی نه دوه تنه مخامخ زما په لور راروان شول، دواړو د ټوپکو لټونه راکش کړل، غږ یې کړو ویې ویل: لاسونه پورته ونیسه، چې ونه ښورېږې.

ما ویل: ښه وروره دا دی لاسونه مې پورته دي. هغوی چې ما ته رانږدې شول یوه یې را ته ټوپک ونیو او بل یې راغی زما مخ ته یې ناڅاپه بجلۍ ولګوله، زما حال چې یې ولید، هغه بل ته یې وویل: خطر نشته دی.

یو رانه مخکې شو او یو شاته شو، ویلې خورې مخامخ د کلا دروازې ته ورځه. د کلا دروازې ته په څنګ کېږي څو تنه ولاړ وو، هغوی سره هم ټوپکې وې، پوه شوم چې مجاهد دي. زه یې د کلا په دروازه ننوېستم، په دروازه کې یې را ته وویل:

خورې دلته به قوماندان صاحب ته خپل مشکل ووایې. دروازه بېرته شوه دننه په یوه لویه کوټه کې څو تنه پراته وو، په څنګ کې یوه بله وړوکې کوټه وه، چې په هغې کې قوماندان و. دروازه یې وروټکوله، یو تن د پاخه عمر سړی دروازې ته راغی. سمدستي یې وویل: څه خبره ده؟ ما سره چې څوک تللي وو، هغه وویل:

خیریت دی صاحب دا خورکۍ راغلې ده، نه پوهېږم څه ورپېښ شوي دي، تالاشي یې واخله. سړي زر زر تالاشي کړم. قوماندان وویل:

راځه راننوځه. هغه بل سړی هم را سره ننوت. په کوټه کې یوازې د قوماندان کټ پروت و او د سلاګانو نه کوټه ډکه وه. ما ته یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه توشکه کېنه هغه بل سړي ټوپک اوږي ته اچولی و، په دروازه کې ولاړ و.
قوماندان وویل:
څه خبره ده؟
ما ته ژړا راغله، سلګو ونیولمو هغه په قهر شو، خبره کوه پرېږده ژړا.
ما اوښکې پاکې کړې، د جګړې او جالې کیسه مې ورته تېره کړه، د جالهوان مې ورته وویل. قوماندان دستي په دستي هغه وسله وال سړي ته وویل:
والکه دا ښځه دننه ننباسه. هغه پخپله بېرون ته لاړ. زه یې د کلا منځ کې درې څلور کوټې نورې هم وې، یوې کوټې ته ننوېستم. کوټه په قالینو غوړېدلې وه، خالي یو کټ پکې پروت و، یو وړوکی میېز له پاسه لاټین پروت و، یوه شیشه دیواله ته ځړېدلې وه، د کوټې په دروازه کې چپلکې پرتې وې. وسله وال سړی رانه بْر ته ولاړ، ما په کړکۍ کې پام وکړو د کلا په دننه کې نور څوک نه ښکاربدل. د نورو کوټو دروازې تړلې وې، هرڅه رانه هېر شول، د ځان په سوچ کې شوم، ما وې دلته په دې کلا کې رابانده څه کوي؟ ځانته کوټه کې یې واچولم.
لږه شېبه وروسته همغه سړی راغی، ډوډۍ یې راته راوړه، ویلې خورې ډوډۍ وخوره، قوماندان صاحب له نورو کسانو سره سیند غاړې ته لاړ، ترڅو ستا د خاوند او د زوی لټون وکړي. جاله وان به هم کلي ته راوړي. ته خپه نشې، سبا ته به هرڅه معلوم شي.
د سړي په خبره مې لږ زړه جوړ شو، بیخي ډېره وږې وم، یوه مړۍ ډوډۍ مې وخوړه، ماخستن تېر و، چې بیرون درپ دروپ جوړ شو، خبري شوې، غوږ مې دروازې ته نیولی، چې په دې کې قوماندان راغی. کوټې ته راننوت، ویلې: جالوان بیچاره مړ شوی و، کلي ته مو راوړ، اوس شپه ده سبا ته به د کلي خلک د سیند په دواړو غاړو وباسم، ترڅو ستا خاوند او زوی پیدا شي.
زه ورته په ژړا شومه، ما وې: د خدای په خاطر وروره مرسته راسره وکړه.
هغه د خپل تندي ګونځې پورته کړې په چټکۍ له کوټې څخه ووت. وروسته همغه بل وسله وال راغی، ویل یې: خورې مه ژاړه، خدای مهربانه دی، مېړه او زوی به دې پیدا شي. خدای ته صبر وکړه، دا دی شپه تېره شوه، سهار کېږي.
په دې وخت کې ملا د سهار اذان وکړو، زه هره شېبه شمارم او انتظار باسم، چې کله به د سیند غاړې ته ورځمه، هغه وسله وال راته تشناب راښودی و، مخ او لاس مې پریمنځل، رڼا یې ولګېدله، چای یې راوړو ما لا د چای پیاله نیمې ته وروستې وه، چې یو ګړاز وشو. ورپسې د کلا په سر الوتکه رغله، غرهار شو ګړوز شو په کلا یې بم راوغورځاوه. یو بم نه و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خداې.ده چې څو به یې راغورځولي وو. دوړې جوړې شوې، سر مې چې له کوټې نه بهر کړو، ټولې کلا اور واخیست او دوړې جوړې شوې. دوړې او لمبې سم دواره همدغې کوټې ته چې زه پکې وم راورسېدې، ما چیغې کړې له کوټې نه راووتلم، منډې منډې د کلا کوټ کې د بورج وړوکې کوټې ته ننوتلم او یوه کونج ته غلې کېناستم. غوږ مې ونیو، چې بیا د طیارې غرهار شو. لږه شېبه پس بیا غړه زار شو، په کلا او هم وړاندې په کلي بمونه راولوېدل. په کلي درنې او سپکې ډزې کېدلې، زه چې ناسته وم ددې کوټې په سر بورج یې وو بېشت، دیوالونه راچپه شول. دلته مې ځانته فکر شو، سهار او بادر مې له یاده ووتل، د ځان په فکر کې شوم. پوهېدم، چې دولتي قواوې په کلي راختلې دي، سخته جګړه روانه وه. زه همغسې غلې ناسته وم او ډزو ته مې غوږ نیولی و. په کلا کې هېڅوک نه ښکارېدل، ډزې کمېدلې ورو ورو جګړه غلې کېده، ترڅو چې ماسپښین شو، جګړه ختمه شوه. د بورج له کوټې نه په کراره راووتلم او د کلا دروازې پلو روانه شوم. د کلا کوټې رنګېدلې وې، ځینې کوټې سوې وې، دیوالونه یې رالوېدلي و. په لوټ واو رنګېدلو دیوالونو په منځ کې په ډېره سختۍ سره تر دروازې ورسېدم. په دروازه کې درې تنه ټوپک والا مړه پراته وو، وړاندې دروازې نه بهر د یوه سړي نیمایي تنه پرته وه، شاوخوا په وینو سره وو. ټوپکي او کارتوس خواره واره پراته وو، ژوندي څوک نه ښکارېدل. د کلا دروازې نه دیواله بېخ ته وړاندې یو تن پروت و. ماته بې لاس خوځاوه ویلې راشه. زه لکه لېونۍ د هغه خوا ته ورغلم، هغه په وینو کې ډوب پروت و، یوازې دومره یې وویل: خورې د کلي خلکو ته ووایه، چې ما یوسي. بیا یې خپل سر کېښود، نور شاوخوا هېڅوک نه ښکاریدل، ژوندي ځینې تښتېدلي وو او ځینې مړه پراته وو. له دغه ځایه مې ځان د کلي خوا ته ورتګ غوره وګاڼه. خپل ټیکری مې په مخ راخور کړو، بکس مې تخرګ کې ونیو، کلي ته روانه شوم. د کلي او کلا ترمنځ تقریباً سل متره فاصله به وه، د کلي مخې ته ګڼې ونې ولاړې وې. له لیرې نه د کلي ترڅنګ لوړ چینار ختلی و، شاوخوا هېڅوک نه وو، دا دومره لوی کلی مګر هېڅوک پکې نه وو. له ځان سره مې په زړه کې وویل: لکه چې خلک ټول مړه دي او یا تښتېدلي دي. لیرې مې کتل ما وې، چې زه بېګاه شپه په کومه لار تر دې ځایه راغلې وم؟ هېڅ نه پوهېدم، چې دا کوم ځای دی او زه چېرته ځمه؟ زړه نازړه د کلي چینار ته ورنږدې شوم، د چینار لاندې لوی وستل و، دا سې معلومېدل چګې د کلي خلک ورکې کېني. ښه چې کلي ته ورنږدې شوم، غوښتل مې چې د کلي په یوه کوڅه کلي ته ورننوځم، په یوه لویه کوڅه ورسمه شوم، څو ګامه چې ولاړم د ښځو د ژړا او ازونه مې تر غوږ شو. ښه چې مخې ته ورغلم، په یوه کور کې ویرونه وو او د خلکو شور او خبرې راتلې، لږه چې وړاندې ورغلم، هلته یوه بوډۍ ښځه، چې خپل لاسونه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشو ایښي وو، له سره یې پرونی لوپدلی و، رنګ یې زېړ زبېښلی د خپلې کوټې دروازې ته یې تکیه کړې وه بېرون ته یې کتل. زه چې ورنږدې شوم او خوا ته یې ورغلم، هغې راته هېڅ ونه ویل، همغسې یې کتل ما پرې غږ وکړو:

ترور! ای ترور.

هغې هېڅ ونه ویل، هک پک ولاړه وه، خوله ترې ورانه پاتې وه، سپین ویښتان یې جاخه په سر سپینه بامبولۍ پراته وو، زه د هغې څنګ ته ورغلم، ما وې: ترور ولې؟ څنګه ولاړه یې؟

ماته یې وویل: ته څوک یې؟

ما وې: زه یو لاروی ښځه یم، لاره نه پېژنم همداسې په دې کلي راننوتلم. دروازې نه یې سر په ما پسې ښه رابهر ته کړو، لورې د خدای لپاره لږه مرسته راسره وکړه.

ما وې: د څه مرسته؟

هغې ویل: ته راشه راشه د ننه راننوځه، له دروازې نه ورننوتلم، ومې کتل چې واړه ماشومان، ښځې او یو تن سپین ږیری ډب ډبرۍ مړه پراته دي. د کوټې غولی له سرو وینو نه ډک شوی و، ان له دروازې پورې لکه د لښتي په شان وینې بېدلې وې. پوښتنه مې ترې وکړه:

ترور دا ولې؟

ـ روسانو له طیارو نه بمونه راوغورځول، دا څښتن مې دوه نږیانده مې، دا لمسیان مې ټول مړه شول، زه په دغه ساعت کې د بل زوی کره تللې وم، چې ډزې وشوې کور ته راغلم، چې دا ټوله کورنۍ مې تباه شوې وه. هله لورې دې کلي ته په دغه کوڅه کې وړاندې لاړه شه، هر څوک چې دې پیدا کړل، راېې وله چې ددې مړو غم وخوري.

زما له لاسه خو هېڅ نه کېږي زه د بوډۍ په خبره په چالاکۍ سره لکه چې بلده یم په داسې شکل سره په ګړندیو ګړندیو ګامونو په کوڅه کې روانه شوم، ومې لیدل چې له یوې بلې کوڅې نه دوه تنه سړي راووتل، ملاګانې یې تړلې وې، ټوپکې یې څنګونو ته اچولي دي، وارخطا راروان وو. ما پرې دستي غږ وکړو، ما وې ودرېږئ. هغوی پښه نیولې شول، خوا ته یې ورنږدې شوم، ورته ومې ویل:

ورونو! په دغه وړاندې کور کې ټول خلک له ځېرمه مړه شوي دي، یوازې یوه بوډۍ پکې ژوندۍ پاتې ده، که یو ځل ورشئ ښه به وي.

هغه یوه وویل:

خورې زموږ په کور کې هم درې تنه رانه شهیدان شوي دي. خو دواړه چابک راروان شول. زه هم ورپسې شاته راروانه شوم، د بوډۍ کور ته چې ورننوتل، دواړه خالي ورته لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته کړل وې ویل:

مـوږ ځـو وړانـدې بـل کلـي تـه چـې خلـک راولـو او ددې کلـي مـړي راسـره ښـخ کـړي. پـه کلـي کـې ډېـر خلـک مـړه شـوي دي. یـوازې دا نـه دي د کلـي نـور ډېـر ماشـومان، ښـځې او سـړي مـړه شـوي دي. تاسې صبر وکړئ، مه وارخطا کېږئ، هرڅه به خدای وکړي.

هغـوی دواړه ولاړل، زه او زړه بـوډۍ پـاتې شـو. لـه ځـان سـره مـې فکـر کـاوه، مـا وې لـه دې بوډۍ سره پاتې شه، څه کمک به ورسره وکړې او خپله لاره چاره به ترې په کراره سره ولټوې.

بوډۍ ته مې وویل: مورې زه به درسره همدلته یم، ترڅو چې دا مړي ښخ شي.

هغې ویل: لورې خدای دې ژوندۍ لره.

مـا خپلې متې رابډ وهلې، لـه بیرون نـه مـې خـاوره راوړه او پـه وینـو مـې واچولـه. هر مـړی مـې پخپـل ځـای سـنبال او برابـر کېښـود، پـه هـر یـوه مـې سـپینې روجـایې او تـوتې وغـوړولې، بـوډۍ ژړل او مـا هـم ورسـره ژړل، ځکـه چـې دغـه حالـت مـا نـه خپـل غمونـه هېـر کـړل، بـوډۍ بېچـاره ګـې هسې خوله ورانه نیولې وه، ژړلې نشوای، ولې چې ډېره زړه وه.

زه هـم زیـاتې پـه ژړا سـترې شـوم، وروسـته دوه زړې ښـځې د کلـي لـه کـومې کـوڅې نـه راغلـې، هغـوی هـم ژړل. بیـا مـې لـه یـوې ښـځې نـه پوښـتنه وکـړه، مـا وې دا کلـی خـو بیخـي شـاړ پـروت دی، دومره څوک نشته دی چې دا مړي ښخ کړي. یوې ښځې وویل:

خـورې د کلـي خلـک د بمبـارۍ لـه ویـرې لـه کلـي نـه وتلـي دي، پـه هـر کـور کـې مـړي پراتـه دي، نورو کلیو ته استازي تللي دي کېدی شي خلک راشي.

رښـتیا چـې یـوه شـېبه وروسـته د نـورو کلیـو خلـک راورسـېدل، پـه هـدیرې کـې یـې قبرونـه وېستل، لـه ډاره یـې ماښـام تـورتم پـه خـړه تـول مـړي ښـخ کـړل. د کفـن کـار یـې نـه کېـده، ویـل شـهیدان دي لـه جـامو سـره یـې ښـخول پکـار دي. د بـوډۍ لـه کـوره هـم څلـور جنـازې ووتلـې. کلـه چـې یـې جنـازې پـه وره وېستلې، هغـې خـواره کـۍ پخپلـو دواړو تـشو لاسـونه کېښـودل او خولـه یـې ورانـه ونیولـه، مـا ورسـره وژړلـې تـولې جنـازې لـه کلـي نـه ووتلـې. یـو سـاعت وروسـته د بـوډۍ څوک خپلـوان راغـی، یـوه ښـځه هـم ورسـره وه. لـه بـوډۍ نـه یـې زمـا پوښـتنه وکـړه، هغـې ورتـه زمـا د کمـک وویـل او نـوره خـو زه هـم ورتـه معلومـه نـه وم. هغـه غلـې شـوه، سـړي راتـه بـد بـد وکتـل، ځکـه چـې زمـا نـوې جـامې پـه تـن کـې وې او پېغلـه ښـځه وم، خـو خدا بزده چـې پـه زړه بـه یـې څـه تېـر شوي وو.؟ پوښتنه یې رانه وکړه، ویل یې: خورې د کوم ځای یې او څنګه دلته راغلې یې؟

د خپـل کلـي نـوم مـې ورتـه واخیـست، د سـهار نـوم مـې ورتـه وویـل او د جـالې کیـسه مـې ورتـه وکـړه. سـړی او ښـځه دواړه خپـه شـول، مـا بیـا پـه سـلګو سـلګو وژړل. هغـوی هـم راسـره پـه ژړا شـول. وروسـته بیـا سـړي وویـل: ستاسـې کلـي بانـدې پـرون بمبـارد شـوی دی، هېڅـوک پکـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندي نه دي پاتې. خبر دی خور مه ژاړه، خدای ته صبر وکړه، اوس خو مونږ ټولو ته راپېښه ده. زمونږ خور یې، پښتنه یې، نن شپه په دې کلي کې چې څوک پاتې دي، چرګ بانګ ټول وځي، کلی پرېږدي. روسان نوره بمباري هم کوي، بله چاره نه لرو، ته به هم له مونږ سره ولاړه شې. ددې بوډۍ سره به یوځای اوسېږې، ترڅو چې کوم سرنوشت معلوم شي.

ما ویل: کاکا جانه د کلي خلک به چېرې ځي؟

هغه ویل: پاکستان ته. دلته نورې شپې نه کېږي. بیا یې بوډۍ ته وویل:

ادې مورې ځو چې سامان برابر کړو، تاسې ته به ډوډۍ راولېږو، خپل سامان د وړلو تیار برابر کړئ، چې کله حرکت کېده، چې تاسې تګ ته تیار یاست. که کوم سند او نور مهم شیان چې د وړلو وي له ځان سره یې راواخله، ماته یې کړه خورې ته به له دې بوډۍ سره کمک وکړې. مونږ به چرګ بانګ راشو، یوځای به حرکت وکړو. زړه صبر کړه، شرایط ډېر خراب دي، د سیند پ غاړه څوک ګرځېدلی نه شي، په خدای یې وسپاره اوس د خپل سر اور باید مړ کړې. پخپله مرۍ دې راغلې ده، هر چېرې چې ولاړو له هغې ځایه به بیا پته لګوو.

هغوی دواړه ووتل او خپل کور ته لاړل. ډېر ساعت وروسته یوه سړي ډوډۍ راوړه او بېرته زر کورته لاړ. ما بوډۍ ته وویل: ادې راځه یوه مړۍ ډوډۍ وخوره، له خېټې نه خو نه رغېږې. ما ورته ډوډۍ تیاره کړه مونږ دواړو ډوډۍ وخوړه، بیا څو تنه سړي راغلل، بوډۍ ته یې فاتحه وکړه، ورپسې دوه ښځې او یو سړی راغلل، هغوی هم لاس پورته کړل او بوډۍ ته یې ډاډ ورکړو. د شپې تر ناوخته پورې خلک د بوډۍ کره راتلل او فاتحه یې کوله. ورپسې یو بل سپین ږیری او درې د پاخه عمر ښځې راننوتې، له یوې ښځې سره په لاس کې څه دیګ او ډوډۍ وه، بوډۍ ته یې ورکړه. هغوی هم دوعا وکړه، سپین ږیري بوډۍ ته وویل:

خورې خدای دې د زړه صبر درکړي، زمونږ په کور کې هم یوه ښځه لګېدلې وه، خو مړه نه شوه، هغه بل کلي ته مو یووړه ډاکټر یې زخمونه ورتړلي دي، هملتته پرته ده. نور نو په کلي ې داسې کور نه شته دیو چې مړه او زخمي ونه لري. دا کوم کسان چې پاتې دي، ښځې دي او که ماشومان، سبا سهار وختي به کلی پرېږدي او ځي به، ځکه چې روسان بیا هم بمباري کوي.

هغوی هم لاړل، مخکې سړي په کاسه کې څه اچولي و او ډوډۍ ورسره وه. د زړې ادې کره یې راوړه او بېرته ولاړ. ماښام خړه په لګېدو شوه، بوډۍ راته وویل: لورې ته دننه دا ډوډۍ درسره کېده، لاټین ولګوه، بس دی په ژړا خو څه نه کېږي، خدای دې مورې ته صبر راکړي. زه به لمونځ وکړم بیا به دواړه دننه کېنو.

ما وې ډېره ښه ده مورې. د حویلۍ له انګړ نه دننه کوټې ته ننوتلم، لاټین مې ولګاوه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نغري پـه غـاړه زړه سـترنجۍ پرتـه وه، خـاورې او خزلـې پـرې پرتـې وې، لاټـين مـې چـې کـوټې تـه رڼـا کـړو، کوټـه لـه کـاليو وچـه ډکـه وه. د مـودو مـودو زاړه شـيان بـسترې او کټونـه پکـې پراتـه وو. دو مـره لويـه کوټـه وه، چـې کونجونـه يـې نـه ښـکارېدل. پـه څنـګ کـې يـې يـوه بلـه کوټـه هـم وه، لـه دروازې سـره پـه څنـګ کـې وړوکـې کوټـه وه، چـې هغـوی بـه پکـې اودسـونه کـول او داسـې معلومېده، چې د لمبا ځای هم و.

بـوډۍ لـه لمانځـه نـه راوګرځېده، کـوټې تـه راننوتلـه، پـه هغـې بېچـاره ګـۍ سـخته وه، لـه يـوې خـوا پـه زاړه عمـروه، لـه بلـې خـوا پـرې څلـور مـړي راغلـل، خـو سـره لـه هغـې يـوه کلکـه ښـځه وه، لـه پـښو نـه چالاکـه وه، پـه نغـري کـې يـې اور بـل کـړ، چـای يـې پخـې کـړې، زمـا مخـې تـه يـې پيالـه کيښوده، رښتيا هم ډېر وخت مې چای نه و څښلی، ډېر ښه راباندې لګېده.

له بوډۍ نه مې پوښتنه وکړه، ما وې: ادې په دې کلي باندې مخکې کله بمباري شوې وه؟

هغـې وويـل: يـوه مياشـت مخکـې روسـانو پـه دې کلـي بمونـه راغورځـولي وو، دولـس تنـه پـه هغې کې مړه شوي وو.

ما وې: مورجانې ددې کلي خلک ټول مجاهد دي. هغې وويل:

هـو لـورې دا ټـول مجاهـد دي. شـپه او ورځ بېچـاره ګـان پـه دې غرونـو کـې جنګېـږي، هـره ورځ دې کلي ته جنازې راروانې وي، خلک تباه شول.

بوډۍ له مانه پوښتنه وکړه، ويل يې: لورې ته دې کلي ته څنګه راغلې يې؟

مخکـې هغـه زمـا لـه حالـه خبـره نـه وه، اګرچـې ماښـام مـې خپلـه کيـسه سـړي او ښـځې تـه کـړې وه، دا هـم ناسـته وه خـو داسـې معلومېـده، چـې بېچـاره ګـۍ هـر څـه لـه لاسـه ورکـړي وي، حافظـه څـه چې خبرې يـې سمې نـشوای کـولای. مـا ورتـه پـه کـرار کـرار خپلـه کيـسه لـه سـره تېـره کـړه، غـوږ يـې نيـولی و. مـا چـې خبـره دې کلـي پـورې راورسـوله، بـوډۍ بيـا خولـه ورانـه کـړه، مـا هـم ورسـره ښـه شـېبه ويـر وکـړو. بيـا هغـې راتـه تـسلي او ډاډ راکـاوه، نـوره مـې ونـه ګـړولـه، ځکـه چـې بـوډۍ د خبـرو تـوان نـه درلـود، کمـزورې وه او هـم يـې ټولـه کـورنۍ مـړه وه. زه هـم لـه هغـې بـدتره هـره شـېبه او لحظـه مـې لـه سـترګو اوښـکې روانـې وې. پـه کـوم ځـای چـې طيـارې بمونـه راغورځـولي وو، لويـه کنـده يـې پـه کـور کـې جـوړه کـړې وه. د نـورو کوټـو دېوالونـه او دروازې يـې مـاتې کـړې وې، يـوازې همـدا کوټـه چـې مـوږ پکـې ناسـت وو، لـږ څـه ودانـه پـاتې وه. د شـپې لـه خـوا پـه کلي کـې يـو نـيم سـپي غپـا کولـه، يـوه لـه ډار او هيبتـه ډکـه شـپه وه، د کلـي ټـول خلـک چـې پـاتې وو، پخپـل غـم اختـه و او زه پخپـل غـم اختـه وم. زمـا فکـر او خيـال همغـې جـالې او سـيند تـه و او پـه تمـه وم، چـې بـادر او سـهار بـه خامخـا د سـيند غـاړې تـه وتلـي وي، ژونـدي بـه وي او کـه مـړه؟ چېرتـه د سـيند پـه مـنځ کـې ډوب شـوي نـه وي؟ څـومره خـوني سـيند دی، کېـدای شـي چـې پـه جـالې پـورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښتې وې او د ورځې له خوا يې ځان وچې ته راوېستلی وې. په دې سوچونو سوچونو کې به مې له خولې نه چيغه ووتله، بوډۍ به وويل: ولې لورې؟ خير دی بچې خدای ته صبر وکړه، الله راوستې ده نو. بېګاه شپه راسره ټوله کورنۍ يوځای په همدې کوټه کې ناسته وه، او دا دی اوس.....

بوډۍ خپل ټيکري باندې پوزه پاکه کړه، ويلې توبه خدايه توبه ! دا به هم د چا خور او لور وې، ښکلې ځوانه جانه جينۍ په دې حال شوې ده. ښېرا يې خولې ته راغله ويې ويل:

یاالله هر چا چې دا اور دې وطن ته راوړی دی، پخپله يې پکې وسوځوې.

ما وې امين. له ځايه پورته شوم او بوډۍ ته مې د پرېوتلو ځای برابر کړ، ما وې موږې لږه ډډه ولګوه، چې سهار ته بيا ډېره په عذابېږې.

ماته يې کړه: هو لورې ته هم کټ کې څمله، ستړګه پټه کړه. بوډۍ کټ کېګ بالښتت ته سر کېښود ، غلې شوه. د لالټين رڼا مې لږه کمه کړه او بيا مې کټ کې ډډه ولګوله، په ځای مې سترګې ورغلې. يو وخت دروازه وټکېده، بوډۍ له مانه مخکې پاڅېدلې وه، دروازې ته ورغلې وه، دروازه يې چې بېرته کړه همغه سړی او ښځه راننوتل. ويل يې:

هله ادې بسم الله کړئ، چې ځو له خيره، د ورځې په رڼا کې راباندې ډزې کېګږې، ترڅو چې رڼايي لګي او له کنډو نه اوښتي يو.

بوډۍ لږه ډوډۍ له ځان سره راواخيسته، يو وړوکی پنډکی يې په تخرګ کې ونيوه، ويلې نور څه خو نشو وړلای. دروازه يې قلف کړه او روان شو. له کلي نه چې ووتلو، د لارې په سر د کل خلک ځای پر ځای ولاړ وو، څوک روان وو، چا په خرو بسترې بار کړې وې او ځينو پېټې په شا کړې و او روان وو. لا تورتم و، څه نه ليدل کېدل، يوازې مو لارې ته کتل او له کلي نه مخ پورته روان وو.

د سهار رڼايي چې ولګېده، د غره په لمن کې يو کلي ته ورسېدو، ترڅو چې موږه کلي ته ورنږدې کېدو، لمر راوخوت. د کلي مخې ته د غز لويه ونه ولاړه وه، شاوخوا يې پلنې تېږې د څوکيو په شان ايښې وې. هسګې ښکارېده لکه د لارويو د سترو دمه ځای و. ورانډې د يوه کور مخې ته څو تنه وسله وال ولاړ وو. مونږه دمه وکړه سيوري ته کېناستو. شاوخوا ډېر خلک کېناستل، ښځې او نر ستړي شوي وو، لږه شېبه وروسته څلور تنه ټوپک والا راغلل، ټولو خلکو ته يې سترې مشي وويله. ورپسې يو تن زېړور سړی مخکې او دوه ورپسې تند راروان وو، زموږ خوا ته راغلل. زېړور سړي چې جګه ونه، تنګې سترګې، سپيني جامې يې اغوستې وې، ټولو خلکو ته يې وويل:

خوېندو او ورونو تاسې دلته ټول رانږدې شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک نږدې راغلل، څوک لا د خپلو پیټو او بار کړو خرو سره ورانديې ناست وو او څوک ناست وو ډوډۍ یې خوړله. چا د پیازو له غوټې سره ډودۍ خوړه او ځینو لا په چای جوشونو کې له ځان سره چای راوړی و. قوماندان له هر یوه نه پوښتنه کوله، کله چې زما وار راغی، قوماندان خوا ته راغی رانه ویې پوښتل:

ته څوک یې او چېرې ځې؟

ما وې زه دغې بوډۍ سره ملګرې یم، دا چې چېرې ځي، زه هم ورسره یم.

بیا یې رانه پوښتنه وکړه ویل یې:

اصلي کیسه دې راته وکړه، چې د کوم ځای یې؟ د چا څوک یې او چېرې ځې؟

زه یې مجبوره کړم، چې خپله کیسه ورته وکړم، ما چې خپله کیسه ورته نیمې ته ورسوله، په ژړا شوم. قوماندان وویل:

بې بې مه ژاړه، خپل کور او کلي ته به دې ولېږم، د نورو خلکو له خاطره یې وویل: مه خپه کېږه، تا به خپل کورته واپس ولېږم. خپلو وسله والو ته یې وویل: دا درسره بوځئ، زه درځمه. ناست او ولاړ خلک ښځې او نر یوه شول، چې دا به رښتیا هم خپل کور او کلي ته بیایي. قوماندان خلکو ته وویل: ورونو ډېر مه کېنئ، روان شئ، کېدای شي چې روسان بیا دلته بمبار وکړي. ښه به دا وي، چې حرکت وکړئ او له غره نه واوړئ.

خلکو حرکت وکړو، زه خوشاله شوم، چې ما وې دوباره به خپل کور ته ستنه شم، دوی به مې ورسوي، ترڅو زر تر زره د بادر او سهار پته ولګوم. بوډۍ ته مې وویل:

موري ورځه د خدای په امان دوی به ما کور ته ورسوي. د کلي خلک له دمه ځای نه پورته شول او د کاروان په شکل په نرۍ لار روان شول. زه ټوپک والاو روانه کړم، قوماندان ټوپک والاو ته له مانه جدا ډېر څه وویل او بیا یې ماته مخ راواړاوه، ویې ویل:

تا به دا زما کسان خپل کور ته ورسوي، هېڅ تشویش او خپګان چې ونه کړې. قوماندان جېب ته لاس کړ، پیسې یې ټوپک والاو ته ورکړې، څه پیسې یې ماته هم راکړې. ما سره بې څلور تنه راسره کړل او روانه یې کړم. څو ګامه چې ورانديې ولاړو، قوماندان بیا یوه تن ته په غوږ کې څه وویل او په چالاکۍ سره په مونږ پسې وروسته راروان شو.

لمر ورو ورو تودېده، مونږه په یوه بله لاره روان شو، د کلي نه ووتلو، د غره په لمن کې په یوه نرۍ لار مو ډېر مزل وکړو. له کلیو نه ووتلو، په شاړ غره کې د ښېرېو په منځ کې هغوی مخکې او زه ورپسې وم، زما له خاطره هغو هم ورو ورو روان وو. کله خو به یې راپسې غږ کړ، هله شابه زر راځه. ډېر مزل مو په غره کې وکړ، اخر زه ستړې شوم، نوره د تګ نه وم، کېناستم. یو د هغوی نه راپسې راغی له لاسه یې ونیولم، ویلې راځه لږه لاره پاتې ده، هلته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبو چینه ده، چې ځان وروررسوو، پوره دمه به پکې وکړو. ما وې وروره لاس مې پرېږده، پخپله تلای شم. هغه وې زه به درسره مرسته وکړم. لاره بېخي سخته وه، لاره خو اخر ورکه شوه، په شاړ غره کې روان وو. ما وې: وروره څه وخت به زموږ کلي ته ورسېږو.؟

هغې ویل: یو څه لاره لا پرته ده. دغه سړي، چې خړه جامه یې په ځان کې وه، د پښځه وېشتو کالو زلمی و. د کمیس غاړه یې خیرو توره کړې وه، خړ پکول یې په سر کړی و، لاسونه یې هم تور خیرې نیولي وو، خړې څپلۍ یې پښو وې، زما لاس یې کلک نیولی و. په تلو کې به یې راته په لاس زور وکړو. ما ترې لاس راکش کړو، ما وې پرېږده پخپله تلای شم. څو ګامه ترې وروسته شوم، درې تنه مخکې روان وو، هغوی هم ځوانان وو، ورته کتل مې چې د بوټو په منځ کې د یوه لوی کمر ترڅنګه یو ژور خوړ مخې ته راغی. سخته ستړې وم او تږې هم، پام مې کاوه چې د بوټو منځ کې په یوه ژور ځای کې د اوبو چینه ده. هغوی درې واړه ناست وو، مخ او لاس یې پرېمنځل او اوبه یې څښلې وې. موږ هم وررسېدو، هغوی ټول ماته کتل او خندل به یې. په چینه کې مې لومړی اوبه وڅښلې او بیا مې خپل لاسونه او مخ ومینځل. له هغوی نه وړاندې کېناستم، خپل ټیکری مې په مخ راخور کړو، هغوی درې تنه پاڅېدل، دې بل ته یې څه اشارې وکړې، ما د سترګو لاندې ورکتل. پرې پوه شومه، چې څه اشارې یې ورته وکړې. هغوی روان شول، زه او هغه ما سره چې یوځای روان وو، پاتې شو. لږه شېبه وروسته سړي مې خوا ته راغی، زړه یې راته بل ډول شو، لومړی یې لاس رانه چاپېر کړو، کلکه یې غېږ کې ونیولم، ویل یې: که غږ دې له خولې نه ووېست، ژوندۍ دې نه پرېږدم.

ما شور او غالمغال پیل کړوو ما وې تاسې خو مجاهد یاست، مسلماني او پښتو.... خو هغه لکه د لېوه غوندې راباندې حملې کولې، ما وې که مې مړه کړې هم پخپل مطلب به کامیاب نه شې. هغو نورو ته مې ورغږ کړل، ما وې ای ورونو ! ای مجاهدو ورنو ! ځمکه وچاوده او هغوی پکې ننوتل، هېچا راته ځواب نه راکاوه، په ځان پوه شومه، چې کومه د سیسه خو راته جوړه شوه. دغه وحشي مجاهد راباندې په سینه زور وکړو، خپلې سترګې یې راباندې رابټې کړې، بدن یې لړزې نیولی و، یو لاس یې زما په خوله کلک کېښود، ساه یې راته بنده کړه، بل لاس یې پرتوګ ابن ته راتېر کړو، خو ما کله ورته ځان نیوه، دومره ډېر ساعت مو خور لوټ سره وکړو (یاني غېږ په غېږ مقابله) اخر دومره ستړې شوم، چې له حرکته وو تلم. هغه ځناور راباندې پرتوګ وشلاوه، بې حجابه شوم، بده بده یې ووهلم، بې هوښه شوم، مجاهد وحشي راباندې خپله خوا یخه کړه، ما چې ځان جوړ اوه، چې راپاڅېږم، یو بل یې راغی، راباندې راپرېوتلو. په دغه ترتیب سره څلورو واړو زما پت او عزت لوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو. داسې حد ته یې ورسولم، چې نوره له حرکته ووتلم، خپلې پښې مې نشوای راټولولی، ځای پر ځای پرته وم. خدا یزده چې څو ځلې هغوی هر یوه زما عزت لوټ کړو.

یو وخت مې په مخ اوبه راوشېندل شوې، سترګې مې وغړېدې، ورو راپورته شوم، چې ځان ته مې پام شو، په چیغو چیغو مې وژړل. سلګو نیولې وم، پرتوګ مې واغوست، یوه شېبه ناسته وم، بیا راپسې یو راغی ویلې پاڅه چې ځو.

ما وې ما پرېږدئ، زه یو قدم نشم تلای، هر څو چې هغوی وویل، زه ورسره نه تلم. ما وې همدلته مې په ټوپک وولئ، زه نور ژوند نه غواړم. زه نه غواړم، چې کور ته لاړه شم، ما دلته پرېږدئ. هغو دوه تنو له لاسه ونیولم او له مخکې نه یې پورته کړم. زه خو له تلو نه وتې وم، پښې مې نشوای لګولی، په راښکدو راښکدو یې روانه کړم، ما په چیغو چیغو ژړل او هغوی په غره کې رکښولم اخر ستونی مې وچ کلک شو، له ژړا نه زیاتې ودرېدم، هغوی سره پتکې کې اوبه وې، په خوله کې یې راتویې کړې، ساه مې سمه شوه. بیا یې په راښکدو راښکتدو روانه کړم.

ماښام خوړه لګېدله، چې له غره نه سمې ته ښکته شو، په یو شاړ ډاګ کې مو مزل پیل کړو، لږه شېبه وروسته د سړک غاړې ته ورسېدو، کلې او کورونه نه لیدل کېدل، تورتم شو، یو سرویس موټر راغی، هغوی موټر ودراوه او موټر ته ورپورته شو. ما ټیکری په سر راخور کړو، په یوه څوکۍ راسره یو د هغوی نه کېناست، یو ځل مې زړه رالوی کړو، ما وې چې په موټر کې ناستو کسانو ته ووایم، بیا مې له ځان سره وویل، چې کېدی شي لږ ساعت وروسته مې دوی خپل کور ته ورسوي. هېڅ مې ونه ویل او غلې کېناستم.

موټر روان و، روان و، تر نیمې شپې یې مزل وکړو، چې بیا ودرېد. پام مې چې وکړو، څو دوکانونه معلومېدل، د سړک په غاړه دوه درې نورې موټرې ولاړې وې. له سرویس نه یې ښکته کړم، سمد ستي یې بل موټر دربست ونیو او وروختلو. یو تن یې ولېږه، له کوم سماوات (هوټل) نه یې ډوډۍ راوړه. ماته یې هم یوه مړۍ ډوډۍ ونیوه، مانه خوړه خو هغوی راته په قهر وویل: ستا پلار به یې خوري، زر شه ډوډۍ وخوره.

له ډاره مې له ډوډۍ نه لږه وخوړه، اوبه یې راکړې، بیا یې موټروان ته وویل: استاده ځه له خیره.

د موټروان او کلینر خبرې مې چې واورېدې، پوه شومه چې دا خو پاکستان دی. د موټر حرکت ته مې پام کړو، په چټه خوا روان و. زړه کې مې ټکه شوه، ما وې پاکستان ته یې لکه چې راوستم. موټروان ته مې ورغږ کړو: وروره ای موټروانه وروره دا کوم ځای دی؟

هغه زر ځواب راکړو، ویل یې: دا خو باجوړ دی خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سره په څوکۍ ناست ځناور په نوم مجاهد په خوله يې راته لاس کېښود ، نېغه يې په تشي کې ووهلم، ويل يې: که بل غږ دې له خولې نه ووېست، خوله به دې درماته کړم. په همدې لاره کلي ته ځو ، ته د خبرو کولو حق نه لرې.

هغه بې ناموسه په څوکۍ کې ارامه نه پرېښودمه، تورتم تياره وه، موټر ګړندی روان و ، زه له خپګان، ژړا او ستومانۍ نه دومره ستړې ستومانه شوې وم، چې په څوکۍ باندې مې سترګې ورغلې وې. يو وخت موټر ودرېد او مونږه له موټره ښکته شو. تورتم و ، څه نه ښکارېدل، شا وخوا ته مې سترګې واړولې راواړولې، خالي څو کورونه او کلاګانې ښکارېدې. زه نه پوهېدمه، چې کوم ځای و ، زه يې روانه کړم، له سړک نه يوه لاره بېله شوې وه. په هغې لاره لږه وړاندې لاړو. د سپو غپا غوږ ته راغله، په زړه کې مې تېرېده، چې ګنې دا به زموږه کلی وي. يوه شېبه چې نور هم وړاندې لاړو ، ما سره دوه تنه پاتې شول او دوه تنه يې روان شول. لس دقيقې وروسته هغوی بېرته راغلل، ويل يې: راځئ.

تلو تلو د يوې کلا دروازې ته ورسېدو ، په دروازه کې يوه ښځه ولاړه وه او دوه تنه سړي. ماته دوی وويل ته نن شپه له دوی سره کوې، سبا به دې خپل کلي ته ورسوي. مونږ درنه لاړو.

ما ورته داسې وويل:

ځئ بې ناموسانو ، بې غېرتو ، کافرو ، بې پښتو او د بې حيا زامنو ، خدای او د خدای مخلوق غولوئ، د جهاد نوم مو بد کړو. الله مو په دواړو جهانونو وشرموه. په دروازه کې ولاړو ، دوه تنو سړو او ښځې وويل:

راځه راځه شور مه کوه، يو ځل دننه راننوځه.

له دروازې ننوتلم او په ژړا شوم. هغوی ډاډ راکاوه، ويلې خور مه ژاړه، دننه راځه، خدای به خير کړي.

دننه کلا ته ننوتلو و په يوه کوټه يې ننوېستم. لويه کوټه وه، ټغرې پکې غوړېدلې وې، د کوټې ديوالونو نه کټونه پراته وو ، يو کټ کې يې کېنولم. په مېز لګېدلی لاټين ايښی و ، خو لاټين يې ايسته کړو ، د کور سړي د برېښنا يو ګروپ راواړو او له چته په راځړېدلي برېښنا په ساکټ پورې يې کلک کړو. برېښنا ولګېده او رڼا شوه. نيم زالې غونډې ښځه وه، خوا ته رانژدې شوه، ويل يې:

خورې پښې کټ ته پورته کړه. دواړو سړو هغه ښځې ته وويل: ښو ته يې خدمت وکړه، مونږه حجرې ته لاړو.

هغوی ووتل او زه يوازې په کوټه کې پاتې شوم، ښځه بلې خوا ته لاړه، زه په کټ کې ولوېدم، زرې زرې شوې وم، سر مې بالښته ته ولګاوه، خپل ټيکری مې په مخ راخور کړو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای پر ځای مې سترګې ورغلې او ویده شوم. یو وخت هغې ښځې راوخوزولم، ویلې: پاڅه، پاڅه خورې لومړی لږه ډوډۍ وخوره، بیا به ویده شې.

زه په کټ کې راپاڅېدم، ښځې ته مې وویل:

خورې تشناب شته، چې مخ او لاس مې ومینځم؟ ویل یې: هله راځه.

تشناب ته یې بوتلم، مخ او لاس مې ومینځل، کوټې ته چې لاړم، ښځې دوډۍ په دسترخوان ایښې وه. دوه درې ډوله سابه یې پاخه کړي وو، ویل یې: هله خورې جانې ډوډۍ وخوره، نیمه شپه ده، نور خلک ویده دي. دا کلا له خلکو ډکه ده، ته دې ډوډۍ وخوره بیا به خبرې کوو. زه ډوډۍ ته کېناستم، بیخي ډېره وږې شوې وم، ډوډۍ مې وخوړه. ایله بیله مې ساه په مرۍ کې وچلېده. پرتوګ مې ډېر زیات خیرې شوی و، ستن او تار مې له ښځې نه وغوښتل، ویل یې: ولې دا څنګه ډېر خیرې شوی دی؟ زه به خپل پرتوګ درته راوړم او دا به درته وګنډم. هغه په منډه لاړه او خپل پرتوګ یې راوړو. هغې راته په ماشین پرتوګ ګنډلی و او هغه چې راغله، د چای چاینک یې ورسره راوړو. په پیاله کې یې راته د شېدو چای راواچولې.

ما چې دوه درې ورځې څه نه و خوړلي، په ښه مېل مې چای وڅګشلو، بیا راته ښځه رانژدې شوه او داسې پوښتنه یې رانه وکړه:

خورې! اوس نو که راته خپله کیسه وکړې، نوم دې څه دی؟کور او کلی دې چېرې دي؟

ما ورته له سره کیسه تېره کړه، د هغې ښځې په مخ اوښکې راماتې شوې، ما هم پوره په هټکو هټکو ورسره وژړل. په اخر کې یې وویل:

نو دلته یې څنګه راوستې؟

ـ نوره نه پوهېږم، هغه قوماندان ورته وویل دا بوځئ، هغوی ته یې پټې خبرې وکړې، خو ماته یې وویل تا به دوی خپل کلي ته ورسوي. نور نو زه نه پوهېږم، چې دا کوم ځای دی او دا د چا کور دی، چې زه یې ورته راوستم؟ ماته خو یې دا وویل، چې دلته به شپه تېره کړې او سبا ته به دې دوی خپل کور ته بوځي، نور نو تاسې پوهېږئ.

هغې وویل: خورې بلا دې واخلم دا بونیر دی، دا کلا د همغې قوماندان ده، چې ته یې دلته رالېږلې یې.

ـ اخ دا څه وایې؟

ـ هو همداسې ده.

ـ نو ته یې څه کېږې؟

ـ زه یې خور یم، مېړه مې دوه میاشتې کېږي، چې جبهه کې شهید شوی دی، یو زوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـور لـرم، دې وروور کـره او سـېږم. همـدا يـو وروور مـې دی، ښـځه يې پـه وطـن کـې پـه راکـټ لګېـدلې وه، مړه شوې ده. يوه وړوکې لور لري، پخپله هملته قوماندان دی.

مـا ويـل: نـو زه يـې دلتـه څنګـه راولېـږلم او پـه دا وحـشي ځنـاورو بـې بـې پتـه کـړم دا ستاسې څنګه قوماندانې او جهاد دی؟

هغې راته وويل: خورې ! ورور مې راځي، دا ټولې خبرې ورته خپله بيا وکړه.

شـپه اخـر پـه وتـو وه، ښـځې وې خـورې اوس بـه دواړه ويـدې شـو. سـهار بـه نـورې خبـرې بيـا کـوو. ماتـه يـې کـټ جـوړ کـړو او پرېوتـو. تـر سـهاره مې ښـه خـوب وکـړو، لمـر پـه تـود بـدو و، چې لـه خوبـه راپورتـه شـوم. چـای تيـار و، د چـای نـه مخکـې مـې پـه تـشناب کـې ځـان وينځلـو. ښـځې راتـه خپلـې جـامې راوړې، د جـامو لـه بدلېـدو وروسـته مـو چـای وڅښـلې، پـام مـې کـاوه چـې کـوټې تـه دوه ښـځې او ماشـومان راننوتـل. سـتړي مـشي يـې راسـره وکـړه، هغـوی زمـا لـه حالـه بـې خبـره وې، يـوازې يـوه ښـځه زمـا پـه حـال خبـره وه، خـو هغـې ورتـه زه يـوه لاروی، ورپېـژنـدلې وم. نـور څـه يـې ورته نه و ويلي او نه يې سرې په ما خبر کړې و.

زمـا د ژونـد راز يـوازې د قومانـدان لـه خـور سـره و، هغـې زمـا ډېـر خيـال سـاتلو، مـا سـره پـه جيـب کـې ډېـرې پيـسې وې او هـم مـې پـه لاسـي بکـس کـې پيـسې ايـښې وې. لـه ماسپـښين نـه وروسته مې د قوماندان خور ته وويل:

خورې تاسې ما څه وخت خپل کلي ته بيايئ؟

هغې وخندل او بيا يې وويل:

دا د نارينه و کار دی خورې ! ته زر مه خپه کېږه، ستا هر مطلب به ترسره شي.

مـازيګر نـږدې و، چـې ښـځې راتـه وويـل: سـتا کـار بـه زر معلـوم شـي. قومانـدان ورور مـې راغی.

مـا وې آخـر راغـی، ښـه شـوه زمـا کـار بـه وشـي. هغـې وې هـو سـتا کـار اوس اسـان دی. هغـه پـه حجـره کـې دی، ډوډۍ خـورې نـور زمـوږه ترونـه او ورېرونـه ورسـره دي. لـس تنـه وسـله وال ورسـره راغلي دي.

ما وې خورجانې زما ورته ووايه، چې له چا سره مې خپل کلي ته بوځي.

هغې وويل: ښه خورې اوس به راننوځي دا خبره به ورته وکړم.

پـه دې کـې يـو هلـک راننـوت، ويـل تـرور قومـدان کاکـا دې غـواړي. د قومانـدان خـور ورووتلـه. ډېـر سـاعت وروسـته راغلـه، وضـعه يـې د پخـوا پـه شـان نـه معلومېـده، پوښـتنه مـې ترې وکړه:

خورې څنګه لږه خپه غوندې يې، خيريت خو به وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل يې: خيريت دی څه نشته هسې ما وې چې....

ـ ځنګه ځنګه، څه چل خو نه دی شوی؟

ـ نه کراري ده، له کوټې ووتله. ما له کړکۍ نه بهر پام وکړو، د کلا په منځ کې درې ځلورو سړو پسه حلال کړو، ما وې مېلمانه يې دي. قوماندان سړی دی، خود به پسونه حلالوي. په کلا کې درې ځلور ښځې او شپږ اووه ماشومان او نارينه هم درې ځلور تنه وتل او ننوتل. ماشومانو به منډې رامنډې وهلې، ولې زه چې په کومه کوټه کې وم، په غبر د هغې يوې ښځې نه بل هم نه راتله، چې هغه د هماغه قوماندان خور و. ما ته هغې دم په دم چای راوړو، تازه مېوه يې راته راوړه. کله به يې له ځان سره وخندل او موسکۍ به شوه. په دغه ورځ يې له ما سره بل شانه ښه سلوک پيل کړو، ما به ترې ساعت په ساعت پوښتل، چې قوماندان صيب ته دې زما په باب څه ويلي دي که نه؟

هغې به زر ځواب راکړ: ته مه وارخطا کېږه، هر څه به خدای وکړي.

ماسپښني قضا و، چې قوماندان د تنه کلا ته راننوت، سپينې جامې او تور واسکټ يې اغوستي وو، پکول يې په سر و، نری لوړ سړی و، وړې سترګې يې په اوږده مخ کې ګردې ګردې اړولې. توره ببره ږيره يې نيولې وه، زه چې پکې وم هغې کوټې ته به يې راکتلې. وړاندې يې د خپلې خور او درې تنو ښځو سره څه خبرې کولې. نورو کسانو د پسه غوښې په ديګونو کې وراچولې او لرګي يې ترې دلاندې بل کړل. د کلا په منځ کې لوګي پورته شول، ما همدا انتظار کاوه، چې قوماندان راشي او زما حال واخلي او کور ته مې له چا سره ولېږي.

مازيګر شو، هغه رانغی، زما په باب هېڅ خبره نه وه. ډېر ساعت وروسته چې تقريباً ماښام رانږدې شو، د قوماندان خور راغله. په خندا يې وويل:

خورې ستا په باب مې ورسره خبرې وکړې، قوماندان وويل: مېلمنه سنبال کړئ، چې خپل کلي ته لاړه شي. ويل يې راځه خورجانې په تشناب کې به ځان پاک کړې، جامې به دې بدلې کړې.

ما ويل: خورې ځان مې پاک کړی دی، يوازې زما خپلې جامې راته راوړه، وچې شوې به وي.

هغه بيا وموسکله: راځه راپاڅه کور و کلي ته روانه يې، چې لوټکي ځان خو دې ساز کړې.

ما وې خورې زما زړه خوړين دی، د ډول وخت مې نه دی.

هغې بيا ټينګار کاوه، ويلې راځه ته خو راپاڅه يو وار به تشناب ته لاړ شو.

ورسره روانه شوم، په تشناب کې يې راته نوې جامې ايښې وې، په يوه وړوکې مېز د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینګار سامان پروت دی، یخې او تودې اوبه په سطلونو کې پرتې دي. ما لومړی ځان ښه پاک پرېمینځلو او خپلې جامې مې واغوستې. د قوماندان خور راپسې تشناب ته راننوتله، نوې جامې یې راته واغوستلې، سمه یې سینګار کړم، ویل یې:

بده ده چې زموږ له کوره خړه پړه خپل کلي ته لاړه شې.

داسې یې سینګار کړم لکه ناوې. همغې کوټې ته یې بوتلم، هغه نورې ښځې هم راغلې، ماشومان راننوتل. هر یوه به راته کتل، ښځو راپکې سترګې ښخې کړې وې، خندل به یې او خپلو کې به یې څه پس پس کول. زه هم حېرانه وم، چې دا خلک څنګه له مانه ګرد ګرد ګرځي او ټول خوشاله معلومېږي؟

د ماښام ډوډۍ وخوړل شوه، وریجې، غوښې، پلاونه حجرې ته ووتل، ماته یې هم ډوډۍ راوړه. د قوماندان خور راسره ګډه ډوډۍ وخوړه، زما خو له خپګان نه خوله نه برسېره کېده، هره شېبه راته بادر او سهار سترګو ته کېدل، ناڅاپه به مې اوښکې په مخ روانې شوې.

وایي "انسان له ګله نازک او د اوسپنې نه کلک دی" هر څومره به چې د قوماندان خور راته د خوشالۍ خبرې کولې، په ما یې تاثیر نه کاوه.

د ماښام ډوډۍ مو وخوړه، د شپې ناوخته و، چې د قوماندان خور راته وویل:

خورې راځه چې ورور مې تا غواړي.

ما ویل: قوماندان صیب مې غواړي.

هغې ویل: هو.

ورسره روانه شوم، د کلا له منځه ورتېر شو، د یوې برنډې مخې ته مخامخ دوه کوټې وې، په یوه کوټه کې ښځې ناستې وې او په بله کې نارینه ناست وو. زه یې د ښځو کوټې ته ننویستلم، څلور ښځې او څه ماشومان سره ناست وو. زه یې د یوه کټ په منځ کې، چې ښه سم یې سنبال کړی و، کېنولم. حېرانه پاتې وم، چې دا خلک مې څومره قدر کوي.

لږه شېبه وروسته دوه تنه سړي راغلل، د ښځو کوټې ته راننوتل. ماته مخامخ په کټ کې کېناستل، ټول سره موسکي موسکي کېدل، ما سترګې اړولې وې، چې قوماندان به کله راځي، چې زما د تګ خبره وکړي. په دې وخت کې یوه سړي داسې وویل:

خورې ستا څه نوم دی؟

ـ زما نوم هوسۍ دی.

هغه وویل: هوسۍ موږ د قوماندان له طرفه راغلي یو، چې د خپل طرفه د خپلې خولې اقرار وکړې او قوماندان صیب پخپله نکاح کې قبول کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې: آخر دا دې څه وویل؟ ستاسې پښتو او غېرت، ستاسې جهاد او اسلام همدا و، چې په یوې پردی نکاح شوې ښځې په زوره نکاح تړئ؟ تاسې ته د جنوبي خلک نه دي معلوم، زه خو د قام نسب خاونده یم، مېړه، زوی، پلار او مور هرڅه لرم، خو بدبختانه چې د بدبخت او بدې ورځې له کبله را باندې دا سې وشو.

ای ورونو! له تاسې نه هیله لرم، چې هغه نورې ښځې هم دې کوټې ته راشي، زه به درته بیا اصلي خبره وکړم.

ښځې هم راغلې، ما په داسې حال کې چې له سترګو مې اوښکې روانې وې، بدن مې رېږدېده، په ژړغوني اواز مې له ناستو ښځو نرو نه اجازت وغوښت او هم مې له قوماندان نه اجازت وغوښت، ټولو په یوه غږ وویل: خورې ژاړه مه خبرې کوه. ژړا مې بس کړه زړه مې رالوی کړو، پخپلو خبرو مې هسې پیل وکړو:

زه هوسۍ نومېږم، پلار مې د جنوبي دی، له ظاهر شاه سره یې نږدې کار کاوه. لویې لویې څوکۍ یې چلولي دي، د هغې وخت له ټولو وزیرانو سره یې پېژندل. په کابل کې مو کورونه دي، بې حده دولت او پیسې مو درلودلې، ما د ظاهر شاه د پاچاهۍ په وخت کې د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځ لوستی دی. مېړه مې په مطبعه کې رئیس و، نوم یې سهار و. هغه سړی و، چې هره جمعې شپه به په کابل راډیو کې د هغه ډرامه نشرېدله. د هېواد یو نامي لیکوال و، د کابل په وزیر اکبر خان مېنه کې مو پوخ دوه منزله کور درلود. مېړه مې پخپل کلي کې کلا او باغ درلود. زموږ د شتو او پیسو څه کمی نه و، په کابل کې حالات خراب شول، خلقي دولت راغی، ورپسې روسان راغلل. موږ مجبور شولو، چې له کابل نه خپل کلي ته ولاړ شو. پلار یې راته ونیو او له کوره یې لاس تړلی یووړو تراوسه یې مړی او ژوندی ورک دی. ټوله کیسه مې ناستو خلکو ته وکړه. مخامخ مې قوماندان ته وروکتل، ورته و مې ویل:

قوماندانه! ځانته مسلمان وایې، مجاهد ځانته وایې او قوماندان هم یې. ستا هغو څلورو تنو مجاهدو له ما سره څه وکړل؟ هغو وحشي ځناورو سره دې راولېږلم، په ځنګله کې یې لومړی په وهلو او ټکولو تر مرګه وروستم، کله مې چې ضعف وکړو او له خوده ووتم، هغو څلورو واړو وحشیانو بې عزته کړم او دومره یې بې پته کړم، چې په لاره د تللو نه وم. په راکښلو راکښلو یې تر سړکه ورسولم، پرتوګ یې را باندې څیرې کړی و. د قوماندان خور ته مې لاس ونیو، دغې خور زما حال لیدلی دی. ای ناستو ورونو، خوېندو او مېندو! اوس تاسو قضاوت وکړئ.

په دې خبره قوماندان سپک له ځایه پورته شو، نورو ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلکو راځئ راپسې، زه به هغوی ژوندي پرې نه ږدم.

ما بیا په ژړا پیل وکړ، زما د ژړا له سوقهارې سره ناستې ښځې ټولې په ژړا شوې، نارینه ټول سپک پاڅېدل، زما له ژړا او چیغو سره د کور ښځو هم په زوره زوره وژړل، سړو هم ځوق ځوق کول او په دروازه ووتل. د کلا په منځ کې یو ځل بیا قوماندان په زوره وویل:

زه به هغوی ژوندي پرې نه ږدم.

نارینه ټول ووتل، یوازې ښځې پاتې شوې. ما د قوماندان خور ته وویل: خورجانې ما هغه بلې کوټې ته بوځه، چې ارام وکړم. هغې ژړل، د کور ښځو د نارینه و په وتلو سره زما سره سم ویر جوړ کړو. یو ساعت وروسته مو ژړا بس کړه. هغو ماته ډاډ راکاوه، ما به یوازې هغوی ته دا ویل:

خوېندو د خدای لپاره قوماندان صیب ته ووایئ، چې ما خوشې کړي او خپل کلي ته ځان ورسوم، ترڅو ماشوم زوی او سهار مې له سینده وغواړم.

په دې خبره یې بیا راسره وژړل. پخوانۍ کوټې ته یې بوتلم، شپه په تېرېدو وه. له ځان سره مې د تېښتې پلان پټ په زړه کې جوړ کړوو ما وې بې له هغې ټول نارینه یې له قوماندان سره تللي دي، همدا نن شپه دې د وتلو وخت دی. په دغه کوټه کې یو پکول دیواله ته ځوړند و او د نارینه و جامې د کوټې د یوې ستنې مېخ ته ځوړندې وې. د کوټې په دروازه کې یوه جوړه د نارینه و څپلۍ پرتې وې، په زړه کې مې له ځان سره جوړه کړه، چې همدا د نارینه و جامې به واغوندم، پکول به په سر کړم، څپلۍ به په پښو کړم، یو زوړ څادر د یوه کټ لنګې ته پروت و، ما وې دا څادر به په ځان راخور کړم او له کلا دروازې نه به ووځم. په یو ترتیب به ځان پېښور ته او بیا له هغې ځای نه جلال آباد ته ورسوم.

ما سره د قوماندان خور پرېوته. د شپې کله چې په کټ کې راپاڅېدم، هغه ویده وه، لومړی مې خپلې پخوانۍ جامې واغوستې او بیا مې پرې د پاسه د نارینه و جامې واغوستې، پکول مې په سر جوخت کړو، څادر او څپلۍ مې په لاس کې ورسره راواخیستل. خپل بکس او بوټان مې هم له ځان سره راواخیستل، په کرار مې دروازه رابېرته کړه او د کلا لويې درلوازې ته ورغلم. ورو مې د دروازې زنځیر خلاص کړو او دروازه مې رابېرته کړه. لومړی مې ښه پام وکړو، هېڅوک نه و، له کلا نه ووتلم او پښو ته مې زور ورکړو. د خدای فضل و، مخې ته مې سړک راغی. ما وې په دې سړک به ځم کېدای شي، کوم موټر راشي. لږه شېبه مزل مې چې وکړ، لوی کلی و، دوکانونه وو، درې څلور موټري ولاړې وې. د یوه موټر خوا ته ورنږدې شوم، چې په سیټ کې یې کلینر پروت و. دروازه مې ورو ټکوله راویښ شو، ویل یې: څوک یې؟ څوک یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته په کرار وویل: وروره که د ربست راسره پېښور ته ځې، مړی شوی دی. استازګری ته ځمه.

هغه وویل: وروره دا خو نیمه شپه ده.

ما ویل: استاده کرایه رانه دوه چنده واخله، خو که راسره لاړ شې.

هغه له موټره راښکته شو او کوم سماوار ته ورغی، هلته یې ډرېور ویده و. پام مې کاوه، دواړه راغلل، د موټر خوا ته چې راغلل، ویل یې: وروره په دې وخت درسره په دوه زره ځمه.

ما ویل: ډېره ښه ده استاده، ضرورت مې دی، حرکت کوه. موټر یې چالان کړو او د موټر په دویم سیټ کې ورسره کېناستم. ما وې، چې ومې نه پېژني. موټر د پېښور په لور روان شو.

ښه و، په لاره هېڅ موټرې نه وې، موټروان په پوره سرعت ګاډی چلاوه. سهار لا رڼا یي نه وه لګېدلې، چې د پېښور د موټرو په اډه یې ودرلوم. کرایه مې ورکړه او ه ترې روان شوم. وړاندې د موټر اډه کې ناري وهل کېدې لواړګی، لواړګی، له یوه نه مې پوښتنه وکړه، ما ویل: وروره تورخم ته ځمه، چې په کوم ګاډي کې کېنم. هغې ویل: وروره هغه ګاډی لواړګي ته ځي، بیا د لواړګي نه مزي ته په بل ګاډي کې تلی شې. سمد ستي همغې ګاډي ته وختلم. په لږه شېبه کې ګاډی ډک شو ا د لواړګي په لور روان شو. زه د ګاډي په اخر سیټ کې ناسته وم، پکول مې په سر راجوخت کړی و، ځادر مې هم له ځانه تاو کړی و. کله چې لواړګي ته ورسېدو، له ګاډي نه ښکته شوم. په یوه دوکان کې مې پیسې ماتې کړې، څو کسانو راته کتل، د یوه سړي مشدی لونګۍ په سر وه، د عمر نه پوخ سړی و، د کلیوالي سړي مینه په کېده. له لواړګي نه د تورخم سرحد موټر کې کېناستم. همغه د مشدی لونګې سړي مې په څنګ کې راسره کېناست. ما ته یې تر یوې شېبې پورې هېڅ نه کتل، خو چې کله موټر لس کیلومتره لاره لا وهلې نه وه، چې د څنګ سړي راته ورو او په احتیاط سره وویل: انډیواله چېرې ځې؟

ما ویل: جلال آباد ته ځمه. د خبرو په وخت کې یې راته سترګې راواړولې، لاندې باندې یې راته وکتل. ما هغه ته هېڅ نه کتل، له کړکۍ نه مې بهر پام کاوه.

کله چې په مزي کې له موټره ښکته شوم، سمد ستي د سرحد دروازې پلو روانه شوم. هغه سړی په چالاکۍ سره کوم ځای ته ورغی، سمد ستي راپسې غږ وشو:

د ګرمې ټوپۍ والا ودرېږه !

ما ځان پرې ناګاره کړو، روانه وم. د دواړو سرحدونو مزی په منځ شاته یو تن په شدیده لهجه وویل:

والکه ته ودرېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ورته ودرېدم، هغه وویل: ته څوک یې او چېرته ځې؟

ما ویل: د جلال آباد یم وروره پېښور ته راغلی وم، د خپلوانو کره اوس بېرته ځم.

ویل یې: ته راځه یو ځل د صیب نه اجازت واخله، بیا به ځې.

ورسره راوګرځېدمه، هغه راته پښه نیولی شو، ویل یې: مونږ د څه لپاره ولاړ یو؟ هسې خوشې مفته خو را نه څوک تېرېدی نه شي.

زه څه پوهېدم، چې دا روپۍ اخلي، ګنې پیسې به مې ورته ورکړې وای، په خپله مخه به تلمه. همغه و، چې صیب ته یې بوتلم. پام مې کاوه، د صیب خوا ته همغه د مشدۍ لونګۍ سړی ناست و، هغه اصلاً سیدې یانې جاسوس و. هغه سړی له صیب نه پاڅېد لاړ، صیب راته وویل:

ته څوک یې؟ او څنګه پېښور ته راغلی یې؟

ـ زه د جلال آباد یم، پېښور ته د خپلوان کره راغلی وم، اوس بېرته کور ته ځمه.

ویل یې: اسناد (پاسپورټ) دې راکړه.

ما سره خو هېڅ اسناد نه و، ما وې اسناد مې په کور کې پاتې شوي دي. د هغه راباندې ښه شک راغی.

ما ورته وویل: صیب دا ټول افغانان په دې سرحد ځي او راځي، مونږ خو مجاهد خلک یو مهاجر، مونږ همېشه بې کاغذونو ځو راځو.

هغه دستي په دستي یوه ته امر وکړ، ویل یې هله دا تلاشي کړه. زړه کې مې ټکه شوه ما وې څه اوس خو ګیر شوې. په بله کوټه کې یې تلاشي کړمه، د تلاشۍ سړي چې رانه پکول له سره ابسته کړو او وېښتان مې په مخ راخواره شول، چې سینې یې زما ولیدې، هغه دومره وویل:

سړی درسره نشته او ښځه ئې. په زوره دې خپل ځان په شک کې اچولی دی، نور یې څه ونه ویل، صیب ته ورغی، ورته وې ویل:

صیب هغه خو ښځه ده، سړی نه دی. د صیب خوا ته چې ورغلم د هغه راباندې د کوم جاسوس ګمان وشو. نور یې څه ونه ویل، خو یوازې نوم او د پلار نوم او پته یې زما ولیکله او بیا یې زما عکاسي وکړه. د دوه تنو سره یې روانه کړم، وړاندې یې یوې ودانۍ ته ننوېستم. په یوه وړوکې کوټه کې یې بندي کړم، په کوټه کې یوه کړکۍ وه، چې د کړکۍ د شیشې په مقابل کې د اوسپنو لښتې ښکته پورته کلکې شوې وې. له کړکۍ نه مې پام کاوه، وړاندې یو تن پولیس په پهره ولاړ و. زه تر مازیګره په دغه کوټه کې ناسته وم، یوه چپاتۍ او دال یې په یوه نالبکۍ کې راته راوړل. هغه مې چې وخوړل دومره مرچ پکې و، چې خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې ترخه شوه او له خوراکه ولوېدم. مازيګر ناوخته يې له کوټې نه وېستلم، په يوه وړوکي موټر کې يې کېنولم، دوه تنه يې راسره په موټر کې کېنول او موټر روان شو. له جم نه تېر شو، پېښور ته ورسېدو، لومړۍ يې د سيډو دفتر ته بوتلم. هغو يوه سره زما په باب څه کاغذونه ورسره و، د سيډي د دفتر مشر ته يې ورکړل. د سيډو مشر راته ښکته پورته وکتل، ما ته يې وويل:

پکول اېسته کړه، څادر هم له ځانه ليرې کړه. ما چې پکول له اېسته او څادر مې په مځکه کېښود او چته ښکاره شوم. هغه خپل سر وخوځاوه، يوه بل ته يې وويل: دا بوځه او لومړنۍ پوښتنې ترې وکړه. له هغه دفتره بوتلم او په بله کوټه کې يې کېنولم، په استعلام کې يې رانه نوم، د پلار نوم، استوګنه، ولايت، وظيفه، تحصيل او د عمر پوښتنه کړې وه، هغه مې ورجواب کړل. همداسې نورې ډېرې پوښتنې يې رانه وکړې، هره پوښتنه مې ورته ښه منطقي ځوابوله. کوم پنځه شپږ استعلامونه يې رانه وکړل، بيا يې يوځای ته بوتلم په يوه کوټه يې ننوېستلم، چې پام مې وکړو په کوټه کې څلور ښځې نورې هم ناستې دي. په کوټه کې بدبوی، غول او متيازې د ټټۍ نه بهر راوتلې وې. په دغه وړوکي کوټه کې تشناب او د متيازو ځای هم و. د کوټې دروازې ته لوی مضبوط قلپ پروت و. هغه نورې ښځې زما په ورتګ حېرانې شوې، چې دا خو سړی دی او زموږ کوټې ته يې راننوېست. سمدستي رانه يوې ښځې پوښتنه وکړه:

وروره ته يې دلته څنګه راوستې؟

ما وې زه ښځه يم سړی نه يم، په کوټه کې مې ځای پر ځای د نارينه جامې ويستلې لاندې مې خپلې جامې په تن کې وې. هغوی راته هک پک حېرانې شوې، ما وې خوېندو ما د مجبورۍ نه د نارينه و جامې اغوستې وې. تاسې به څه فکر کوئ، خو زما کيسه بل ډول ده. خدای مو زما د حاله مه خبروه، هغوی راته ويل: خورې مهاجره يې؟

ما وې هو اوس خو مهاجره يم. زه د برې خوا پښتنه يم، بدو حالاتو تر دې ځايه رارسولې يم، چې نور به رابانديې څه کېږي. ما هغوی ته اصلي کيسه ونه کړه، پوهېدمه چې څه ګټه راته نه لري. ضرور نه وه چې هر چا ته مې خپل حال وايه. يوازې مې د سيډي د دفتر کيسه ورته وکړه، خو هغه راته په ځواب کې وويل، چې دا سې خبرې او کيسې ډېرې شوې دي، خو اصلي خبره او مطلب بل شی کېږي. ما له ښځو نه پوښتنه وکړه، هغوی څوک په جنايي پېښو کې راغلې وې، ځينې د جاسوسۍ په کيس کې وې، يوې ښځې چې د عمر نه پخه وه، تکه توره بدشکله وه، هغې يو ماشوم وژلی و او په خېټه کې يې ورته اپيم اچولي و. پښتو يې نه شوای ويلې، څه بله ژبه يې ويلې. د ماښام ډوډۍ يې دال او چپاتۍ راوړه، له يوې خوا ورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم، له بلې خوا په کوټه کې بد بوی او چټلي پرته وه، د ناستې ځای په کوټه کې نه و. هغو نورو ښځو به په مزه مزه دال او چپاتۍ خوړل، ماته یې ویلې خورې ډوډۍ خوره، مجبوري ده چاره څه ده. وږي ځان مه پرېږده. په سختۍ سره مې لږې مړۍ وخوړه. بیا مې له هرې یوې پوښتنه وکړه، هغوی هرې یوې دوه شپې او درې شپې په دغه کوټه کې تېرې کړې وې. له یوې خوا ګرمي وه او له بلې خوا د کوټې بدبوی دومره په عذاب کړم، چې څو ځلې مې په بدن بې هوښي راغله. هر څومره مې چې ځان ټینګ کړ، نه کېده، اوښکې مې روانې وې، د هغو نورو ښځو دومره پروا نه وه، د کوټې په بدو شرایطو کې هغوی له ډوډۍ نه خرپا اېستله. خپلو کې به یې خندل او په ما پورې به یې هم مسخرې کولې. شپه شوه، ناوخته د شپې یوه بجه وه، چې یو پولیس راغی، دروازه یې خلاصه کړه. ماته او یوې بلې ښځې ته یې وویل: تاسې راځئ.

له کوټې نه یې وویستلو او په یوه موټر کې یې د سیده‌و دفتر ته یوووړو. په دفتر کې یوه پنجابي افسر ته یې بوتلم. یو پګښتون ترجمان یې راسره کېنولی و. ډېر استعلامونه یې رانه وکړل. ما به ورته ځوابول، پیا یې په موټر کې ځانته یوړم. په یوه وړوکې کوټه کې یې ورننوېستم، ترجمان رانه ولاړ. کوټه ډېره وړه وه، یوازې زه پکې ځاېدلم. ډېره ګرمي وه، په کوټه کې وړوکې کړکۍ وه، چې د چت لاندې وه، د ګرمۍ نه مې ضعف وکړو. بیرون وړاندې پوځي عسکر لر بر کېدل، دروازه مې په لاسونو ودربوله، کتل مې چې یو پوځي راغی، ما ورته وویل: اوبه راته راوړه. هغه پنجابی و، اوبه یې نه پېژندلې. بیا مې ورته په انګلیسي کې وویل. لږه شېبه وروسته یې راته اوبه راوړې. اوبه مې چې وڅښلې، ایله بېله مې ساه سازه شوه. سمټي ځمکه باندې پرېوتم، یوازې هغه د نارینه جامې او څادر مې سرته کېښود. ځای پرځای مې سترګې ورغلې وې.

یو وخت راته دروازه وټکول شوه، سر مې راپورته کړو ومې لیدل، چې یوه عسکر دروازه بېرته کړه. همغه موټر چې زه یې پکې راوړې وم، ولاړ و او همغه ترجمان او یو تن بل موټروانز موټر کې یې کېنولم، دفتر ته یې یووړم. لومړۍ یې چای راکړل، چې کله د چای څښلو نه وزګاره شوم، دفتر ته یې بوتلم. پوښتنې یې رانه بیا پیل کړې ان تر ماسپښینه پورې یې رانه پوښتنې وکړې. عکسونه یې راته واخیستل، په همدغه ورځ تر مازیګره پې دفتر کې کېنولې وم، بدن مې له خیرنتیا نه خارګشت کاوه، جامې زما بیخي نورې د اغوستلو نه وې. د دفتر صیب ته مې همدا مشکل وواېه. هغه ترجمان ته وویل:

دا بوځه، چې ځان ومینځي.

تشناب ته یې بوتلم، ځان مې ومینځو، خو جامې مې خېرنې وې. د دفتر صیب راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامي به درته سهار ته راوړي. د شپې له خوا يې بيا همغه جېل ته بوتلم. شپه مې پکې تېره کړه. سهار يې بيا دفتر ته راوستلم، په موټر کې يې کېنولم او مرکزي (سنټرل جېل) ته يې يووړم. مرکزي جېل ډېر لوی جېل و، د نارينه و زندان بېل او د ښځو زندان يې په څنګ کې و. زه يې د ښځو زندان کې يوې کوټې ته بوتلم، چې درې تنه ښځې پکې نورې هم وې. کوټه خو نورمال لويه کوټه وه، په کوټه کې د هرې ښځې ځای معلوم و. هرې ښځې الماری معلومه وه، د هغو نورو ښځو بسترې وې، زما په ځای کې بستره نه وه. يوه ښځه په پښتو پوهېده، مګر هغه نورې دوه تنه په پښتو نه پوهېدې، اردو کې يې خبرې کولې. هغوی هره يوه له دېرشو کالو نه پورته وه. يوه ښځه بيخي زړه وه. په پښتو چې پوهېدله، هغه به د څلوېښتو کالو وه. هغه يې د قتل په موضوع کې بندي کړې وه او هغه دوه نورې يې په کومه بله موضوع کې بنديانې کړې وې. په دغه مرکزي جېل کې مو شپې ورځې شوې. پښتنې ښځې ځان د مردان د علاقې ښوده. هغې څلور کاله بند تېر کړی و، يو کال ورته پاتې و. د خوی او اخلاقو نه ډېره ښه ښځه وه، خو خدای خبر چې اصلي ګناه يې څه وه. له ما سره يې لکه د خور غوندې چلند او ګوزاره پيل کړه، هغه نورې دواړه هم بدې ښځې نه وې، خو زه يې په ژبه نه پوهېدم. ولې وروسته مې ترې ښه اردو زده کړه، چې په لوستلو او ليکلو کې مې ترې اردو ياده کړه. هغه کومه چې لږه ځوانه وه، هغې تر لسمه پاس کړی و او هغه زړه ښځه چې وه په ليک او لوست ډېره کمه پوهېده. په پښتو چې پوهېده، هغې هم تر لسمه ښوونځی لوستی و.

په محبس کې يې راته له نورو سره سمه ډوډۍ حواله کړه. يو ډول د بنديانو جامې يې راکړې، چې د اغوستلو نه وې، بيا مې هغې پښتنې ښځې ته وويل، چې جامې راته پيدا کړه. هغې راته له خپل کوره جامې راوغوښتلې. خپلې جامې مې وويستلې، نورې نو د اغوستلو نه وې. په جېب کې راسره ښې ډېرې پيسې پاتې وې، چې وروسته مې پرې د همدغو ښځو په واسطه ځينې ضروري شيان له بيرون نه راوغوښتل. بس همدغه زندان مې کور شو. لا نه پوهېدم، چې څومره به په دغه زندان کې پاتې کېږم؟ هېچا مې پوښتنه نه کوله، چې زما قيد د زندان وخت او ګناه معلومول هېڅ پته نه وه. بس مياشتې، کلونه تېرېدل، ترڅو چې لس کاله مې په مرکزي جېل کې تېر کړل. هر څه مې له لاسه ورکړي وو، نه د مور و پلار نه خبره يم، سهار او زوی خو مې سين يووړل. کور او کلی، خوانبې هرڅه مې له منځه تللي دي. اوس دا څو ورځې کېږي، چې د طالبانو په وخت کې له بنده راخوشې شوې يم، څو شپې مې د جلوزو په کمپ کې تېرې کړې، له هغې ځايه راته چا د صابر ډګروال نوم راښودلی دی، چې هغه زموږ د کلي و. ما وې چې لومړی به دا پيدا کړم او بيا به دده په واسطه سره د کور او کلي او خوانبې پته ولګوم او ورپسې به د قوماندان حضرت پته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولګوم، چې هغه مې په پوهنتون کې همصنفي و.

ما چې خپلې خبرې تر دې ځایه راورسولې، د سړي په مخ اوښکې روانې وې، خپل سر يې خوځاوه، خوله ترې ورانه پاتې وه. له خولې نه يې په ژړغوني اواز وويل:

هوسۍ، خورې زه ډګروال صابر يم، ستاسې کليوال.

ـ آخ ته ډګروال صابر يې؟ مور دواړو ژړا غبرګه کړه. په دې کې د هغه مېرمن رانه‌وتله، حېرانه پاتې شوه، ويل: ولې؟ څه پېښ شوي؟ هله ما خبر کړئ، څه چل دی؟

مېړه يې خپلې سترګې له اوښکو نه وچې کړې، ويې ويل:

دا خو د سهار صيب ښځه ده، هوسۍ !

ـ دا څه وايې؟ دا هوسۍ ده؟ هوسۍ ترور ته په دې حال؟ دا څنګه؟ خوا ته مې مخې ته کېناسته، ويې ويل:

کيسه څه ده؟ ژړغونې شوه، مېړه يې ورته زما کيسه زر زر تېره کړه او بيا تر ما راغاړې وته، په سلګو سلګو يې وژړل، ما هم ورسره اوښکې تويولې. مور دري واړو ژړل، يوه شېبه غلي پاتې شو. د صابر د ښځې لا سو قهارې ختل، صابر خان په ټيټ غږ وويل:

يو لاس به پورته کړو. مونږ دري واړو دوعا ته لاس پورته کړلو پس له دوعا نه صابر خان راته ډاډ او تسلي راکړه. مېرمن يې هم راته تسلي راکړه، ويې ويل:

ترور جانې ! راځه چې په تشناب کې دا ويښتان درته پريمينځم او جامې دې بدلې کړم. توبه توبه خدايه دا څومره سختې دې تېرې کړې دي. هغه پاڅېده او زه يې له لاسه ونيولم، له خپل ځايه يې پورته کړم. صابر خان وويل: خورې ته اوس جامې بدلې کړه، نورې خبرې به وروسته کوو.

تشناب ته يې ننوېستلم او نوې جامې يې راوړې. له تشناب کولو نه وروسته هغوی دواړه نږدې راسره کېناستل، ما ترې د خپلې خوانبې، کور او کلي پوښتنه وکړه. صابر خان راته وويل:

هوسۍ خور لکه څنګه چې په تا دومره سختې تېرې شوې دي، دغسې په هر افغان او بيا په تېره خو زمونږ د سيمې په خلکو باندې ډېر ظلم او تېری وشو. تا ته خو به پته وه، چې زه په هغې وخت کې د کابل په بالاحصار کې وم او د جګړو په ګرمو شپو ورځو کې سروبي ته زمونږ عسکري غونډ راغی. په دغه وخت کې چې تاسې له کلي نه وتلې وئ، په دويمه ورځ زمونږ په کلي لومړی هوايي بمبار شوی و او بيا افغان او روسي عسکر له ټانکونو او نورو درنو وسلو سره په کلي رانه‌وتلي وو. زمونږ او ستاسو د کلي خلکو ورسره سخته جګړه او مقاومت کړی و. بالاخره د کلي خلکو سره خو دومره قوت نه و، ټول کلی محاصره شوی و، روسي او دولتي عسکر په کلي ورختلي وو. وروسته چې خلکو مونږ ته وويل زيات د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسله وال خلک ستاسې په کلا او د بېرغ د ملک په کلا کې یې سنگرونه نیولي وو. کوم وخت چې په کلي ورننوتلي وو، ټول کلي ته یې اور راچولی و، ستاسې په کلا یې د راکټونو او توپونو ډزې کړې وې. بیا یې بمونه ورارتولي وو. وروسته یې د کلا دروازه ماته کړې وه او دننه په کوټو کې خلک پټ شوي وو. کوټو ته یې اور اچولی و، څه خلک چې په کوټو کې وو، ټول سوي وو. یو نیم سړی له کلي نه چې په وخت تښتېدلی و، هغه به ژوندی پاتې و، نور ټول یې وژلي وو. نو ستاسې په کلا کې ستا خوښې او د سهار صاحب تره او د تره زامن نور د کلي پېنځه دېرش تنه مجاهد په شهادت رسېدلي وو. په هغې جنگ کې زما دوه زامن او یوه تنگور، یو لمسی هم شهیدان شوي وو. دا ښځه او دا نور واړه مې له ما سره په کابل کې وو، دوی ژوندي پاتې شوي دي. نور کلی تباه شوی دی. په هر کور کې تصادفي یو او یا دوه تنه ژوندي پاتې شوي دي. ډېر داسې کورونه شته دی، چې ټوله کورنۍ یې تباه شوې ده.

د صابر خان د خبرو په پای کې ما بیا وژړل، دغه ورځ مو ټوله په ژړا تېره کړه. ماښام ډوډۍ نه وروسته راته ډگروال صابر خان ډاډگیرنه راکړه، ویلې هېڅ تشویش مه کوه، زما خور یې له موږ سره به اوسې، زموږ چې څه حال و، هغه به ستا هم وي. کله چې کراري شوه او ملک ازاد شو، بیا به په گډه یو ځای که ژوندي وو خپل کلي ته لاړ شو. نور نو چې ته هېڅ فکر ونه کړې، ته مې خور او زه دې ورور یم.

ما وې صابر خانه وروره! زما د پلار کورنۍ به څنگه شوې وي؟

هغه پخپله ډېره لاس تېر کړ، ویل یې: هوسۍ خورې الله به ترې خبر یې، داسې حالت راغلی او هغه څه په وطن کې وشول، چې د نړۍ په هېڅ ځای کې به نه وي شوي، پلار د زوی نه جدا او زوی له پلاره! زموږ د وطن هرڅه په پاکستان وپلورل شول، سوي ټانکونه، موټرې، الوتکې، اوسپنه، هرڅه کباړ شول او د پاکستان په کباړیانو خرڅ شول. هغه راته راوړاندې شو، په غلې اواز یې وویل: پاکستان زمونږه وطن سم لوټ کړ، اوس خو لا بیخي ددې طالبانو سره پنجابي عسکران په افغانستان کې اوسېږي او جنگېږي. هوسۍ خورې تور لینگیان مې په وطن کې ښکته پورته کېږي، زړه مې اوراخلي، خو.... !

د هغه زړه د پاکستان ناخوالو خوړین کړی و، په دغه شپه راته صابر خان ډېرې خبرې وکړې، له هرڅه نه یې خبره کړم. وروسته له ډېرو کلونو نه مې ایله په دې شپه ساه سمه شوه. په دې شپه مې خوب وکړو، بې له هغې راپکې څه نه وو پاتې، خوشې هډوکي پوټکي شوې وم، خوب مې بې له هغې درې ساعتو نه زیات نه و، د لسو کالو جېل بوډۍ کړې وم، دال او چپاتو مې د معدې زخم راپیدا کړی و، د ناصر باغ په کمپ کې مې د صابر خان ورور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې ورځې شوې، د هغې مېرمن ګل پرې هم بې اندازې ښه ښځه وه. زما يې ډېر خدمت کاوه. اګرچې هغه هم زړه شوې وه، لونې او زامن يې ورته مخې ته ګرځېدل، ژوند يې دومره بد نه و. له څو ورځو وروسته راته صابر د يوه قوماندان نوم واخيست، چې ګلشېر نامه يې وه. ما وې خو ښوک به يې، هر چېرې قوماندان موجود و. ما وې دا به هم ښوک وي نو، له ځان سره مې فکر وکړ دا هغه زموږه همصنفي ګلشېر نه وي. په ادبياتو پوهنځي کې مونږ سره يو هلک و، نوم يې ګلشير و. په درسونو کې يې هېڅ خوند نه و، خو هغه د ننګرهار د سيمې و.

ما ويل: صابر خانه وروره ! ددا ګلشير قوماندان د کوم ځای دی؟

ـ خورې دا هم د ننګرهار دی، خو ډېره دنيا يې پيدا کړې ده، مخکې په کوم بل تنظيم کې و، مګر اوس له طالبانو سره غټ سړی دی.

ـ صابر خانه کېدای شي همغه وي، که دلته چېرې نږدې اوسي خو يوه ورځ به دواړه ورشو، ګوندې زما د کور او کلي او د پلار ګنې په باب راته څه معلومات پيدا کړي.

صابر خان ويلې ښه ده خورې، خو په دې وختونو کې زيات په افغانستان کې وي، کله کله دلته خپل کور يې دی راځي. زه به يې پوښتنه وکړم، که چېرته راغلی وي، وربه شو.

ما وې ښه ده وروره ور به شو.

سبايي له چای نه وروسته مونږه دواړه د ګلشېر قوماندان کور ته ور روان شو. په لاره کې مو دوه درې ځای پوښتنه وکړه، يوه دوکاندار د هغه کور له ورايه راوښود. مونږه د هغه کور خوا ته ورو ورو روان وو، نږدې چې ورغلو مې ليدل، چې ډېر خلک له وسلو سره د قوماندان ځای ته ورځي او راوځي. نږدې دغې ځای کې نوره ودانۍ نه وه، له قوماندانۍ نه ګرد چاپېر په څو جريبه ځمکه کې ديوال راتاو شوی و. د کور مخې ته يې لوی پراخه باغ او ونې ولاړې وې. صابر خان راته وويل:

خورې زه به درته بيرون کېنم، ته دروازې ته ورشه يوه ته به خپل نوم ووايې، چې قوماندان خبر کړي او ځانته دې وغواړي.

د صابر ورو مې ومنله، هغه د يوه دوکان ترڅنګه کېناست او زه د قوماندان د کور دروازې ته ور روانه شوم. دروازې ته، چې ورغلم وسله وال کسان وتل او ننوتل. يوه د تورې ږيرې سړي ته مې وويل:

بچی ما تر قوماندان صيب پورې وروله.

هغه راته ښکته پورته وکتل، وې ويل:

بوډۍ ترور قوماندان صيب سره تيايم نشته دی. همدا خبره يې وکړه او ګړندی ننوت. يو بل ځوانکی هلک ايله يې د ږيرې خط راغلی و، په دروازه کې ننوت ورغږ مې کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زویه کـه تکلیـف درتـه نـه کېـږي قومانـدان صـیب تـه ووایـه یـوه ښـځه پـه دروازه کـې ولاړه ده، غواړي چې تا سره ملاقات وکړي.

هلک وې ښه موري ستا سوال ځواب به یوسم.

ډېـر سـاعت ولاړه وم، هغـه هلـک هـم ورپـسې ورک شـو، دریـم تـن یـو بـل د پاخـه عمـر سـړي تـه مې وویل: وروره قوماندان صیب ته به مې بو نه ځې، یو ضروري کار مې ورسره دی.

هغه راته راوړاندې شو، ویل یې: څه کار دې دی موري؟

ما وې: پټه ضروري خبره ورسره کوم.

پـه دې خبـره سـړی لـږ غلـی شـو، بیـا یـې وویـل: ښـه ده مـوري زه بـه سـتا خبـره هغـه تـه ورسـوم. یـو بـل وسـله وال راغـی ویلـې مـورې راځـه. لـه دروازې نـه یـې ننوېـستم، د ننـه ډېـر کـسان ښـکارېدل، څـوک تلـل او ځینـې بـه راتلـل. زه یـې د قومانـدان د کـوټې ترڅنګـه ودرولـم، ویـل یـې: مـورې قوماندان صیب به دې وغواړي.

ډېـره اوږده شـېبه تېـره شـوه، خـو قومانـدان ورونـه غوښـتلم. زه لـه دروازې ترڅنګـه پـه یـوه وړوکـي دیـوالګي پـورې مـې تکیـه وکـړه، مـا وې چـې دمـه برابـره کـړم. پـه دې کـې قومانـدان د خبـرو پـه حـال کـې راووت، څـو تنـه بـاډي ګـارډان ورپـسې وو، زه ورپاڅېـدم، غـږ مـې پـرې وکـړو خـو هغـه کلـه زمـا غـږ اورېـدو، منـډه مـې وروا خیـسته، هغـه مـوټر تـه خـوت، چـې وررسـېدم. مـا وې قوماندان صیب مرسته راسره وکړه. هغه دروازه نیولې وه ویې ویل:

د څـه شـي مرسـته د سـره وکـړم؟ بـوډۍ وخـت مـې مـه نیـسه مـوټروان تـه یـې وویـل: مـه دریـږه ځـه مـا پـه جـګ اواز ورغـږ کـړل: ګلـشیره هوسـۍ یمـه سـتا د ادبیـاتو د پـوهنځي همـصنفۍ. ویلـې څـه ځـه بـوډۍ وخت مې مه نیسه، تاته هېڅ وخت نه لرم.

مـوټر یـې روان کـړو دوړې پـه مـا راخـورې شـوې، خپلـې سـترګې مـې د ټیکـري پـه پیڅکـي پـاکولې او بېنـوا تـرې راروانـه شـوم. کتـل مـې چـې صـابر خـان زمـا خـوا تـه راروان و، مـا لـه ځـان سره ګلشېر ته ښېرا کولې، چې هغه راباندې غږ کړو: ولې خورې څه خبره ده؟

ــ وروره دا خـو هغـه ګلـشیر و، زمـا همـصنفي، لـومړی خـو یـې ځانتـه نـه ورغوښـتمه، خـو زه ورتـه د کـوټې دروازې سـره ولاړه وم. لـه د ننـه نـه چـې راووت، ماتـه یـې هـډو پـام هـم ونـه کـړو. مـوټر تـه چې ختـو ورمنـډه مـې کـړه، غـږ مـې پـرې وکـړ، مـا وې ګلـشیره زه هوسـۍ یمـه، سـتا همـصنفۍ ودریـږه کـار مـې دی درسـره. هغـه راتـه سـم د مخـامخ کتـل، یـوازې دومـره یـې وویـل: بـوډۍ پرېـږده، وخـت مـې مـه نیـسه پـه شـتاب سـره یـې مـوټر روان شـو. دوړې او خـاورې یـې راباندې راباد کـړې. کـه خدای دا بې غېرتـه وشـرموي، هـېڅ د انـسان پـه سـترګه یـې هـم راتـه ونـه کتـل. تـه ګـوره صـابر خانـه دا بـه پـه صنف کې داسې غلـی ناست و، چې لـه چا سره غږېدلی هم نشو. څلور کالـه فاکولتـه یې پـه یـو زوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتلون کې وویله، اوس په دغه حال کې دی.

صابر خان وویل: خوري راځه، چې ځو، هېڅ پسې زړه تړل نه دي په کار. ورو ورو به ځو، مشغولتیا به هم کوو. هو سی. خوري مونږ چې لومړی پاکستان ته رامهاجر شو په باجوړ کې یې زړې زړې خیمې راکړې، د خېمو کلی جوړ شو، راشن پاسونه یې په مهاجرو ووېشل. کله چې هوا مخ په تودېدو شوه او بیا چګي اوړی شو، په خېمو کې ګوزاره ګرانه شوه، له خېمو نه خلک پورته شول. په بېلابېلو ځایونو کې ورته کمپونه جوړ شول، ځینې خلک پېښور ته وکوچېدل. ګوزاره ګرانه شوه، ته باور وکړه، چې مونږه به سهار راووتلو مزدورو لپاره به ودرېدو، چا به له ځان سره کار ته بونه تلو بېرته به کور ته لاړو. څو ځلي پولیس زما وړوکی کراچی، چې مېوه مې پکې خرڅوله چپه کړې ده او رد بد یې راته ویلي دي. ښه به مو لیدل، چې د ډېر اب خلک به بې آبه شول. د افغانانو بې عزتي شوې ده، غریبي او بې وسي خو پرېږده. ډېر ماشومان بې دوا او بې درمله د پېښور په مېرو کې قتل شول.

صابر خان له مانه مخکې روان و، شاته به ورپسې خپلو څپلو دوړه کوله، زما سینه ونښته، ساه مې بنده بنده کېده، صابر خان ته مې ورغږ کړ: وروره لږه دمه به وکړو، ساه مې نښلي.

هغه زر مخ راواړاوه، ویلي ښه ده. زما خوا ته په ما پسې راوګرځېده، له لاسه یې ونیولم او د یوې ونې لاندې یې کېنولم. هغه شاوخوا پام وکړو، چې ګنې اوبه پیدا کړي. هلته وړاندې په یوه لږ. واټن کې د څاه ارهټ تاوېده. دی ورغی، چې اوبه راوړي. ما ونې ته تکیه ووهله، په زړه کې مې تېر شول، زه خو د ډېر عمر ښځه نه یم، د پاکستان جبل بوډۍ کړم، له خپل سهار او وړوکي زوی نه یې خلاصه کړم، له هر څه نه د پاکستان راتګ خلاصه کړم او لا اوس هم دلته پکې او سېږم. نه نه نوره به یوه شپه هم پاتې نه شم.

صابر خان راته غږ کړ: خوري اوبه مې راوړې، ښې یخې اوبه دي.

هغه لوټه د اوبو ډکه کړې وه، ماته یې ونیوه، ویل یې خوري دا اوبه وڅښه. ما له اوبو نه یو ګوټ وکړو، مری مې لمده شوه، مخ ته مې هم یوه لپه اوبه واچولې، دواړه پښې مې هم لمدې کړې. صابر خان ته مې دوعا وکړه، هغه پخپله سپینه ږیره لاس تېر کړو، د لوټې نه یې اوبه وڅښلې، غاړه یې تازه کړه، ویل یې:

خوري اوس خو لږه ښه شوې؟

ما وې هو وروره بیخي ښه شوم. ویل ښه نو زه به دا لوټه بېرته یوسم، بیا به په کرار کرار کور ته ځو. ما وې ښه ده وروره په عذاب شوې. هغه د اوبو لوټه ارهټ ته یووړه او پېرته راغی. موږه دواړه کور ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور تـه لا یـو ټوټـه مـزل پـاتې و ، مـا صـابر خـان تـه وویـل: وروره یـوه خبـره د سـره شـریکوم. سـتا نظر مې اخیست. صابر خان وویل:

مهرباني وکړه خورې ولې تا سې خو خبره وکړئ.

مـا وې وروره ! د الله تعـالی کارونـه خـو د الله دي، مګـر لـه مانـه زمـا ژونـد ، زمـا هرڅـه رانـه د پاکستان پـه راتـګ کې لـه لاسـه لاړل، بې موجبـه، بې ګناه یې لس کالـه رابانـدې پـه جېل کې تېر کـړل، بې وختـه بـوډۍ شـوم. نـور مـې دلتـه یـوه شـپه هـم زړه نـه غـواړي، چـې اوسـم. پـه هـر ترتیـب چې کېږي، خپل کور و کلي ته ځان رسوم.

هغـه وویـل: خـورې پـه کـور کـې بـه مـشوره وکـړو ، هـر څنګـه چـې دې خوښـه وه، هغـسې بـه وکړو.

ـ رښتیا صابر خانه ! اوس خو به جنګونه نه وي؟

ـ نـه نـه خـورې اوس خـو طالبـان پـه واک کـې دي، د مـلا عمـر اخونـد پاچـاهي ده، پـوره امنیـت یې راوستی دی، دا نورې تنظیمي ډلې ټپلې یې کونج ته کړي دي.

صـابر خـان پـښه ونیولـه، پخپـل ځـای ودرېـد ، خپلـې سـترګې یـې شـاوخوا وګرځـولې، بیـا ماته راواړاندې شو ، په ورو او غلي اواز یې وویل:

نـیم د پاکـستان پـوځ ورسـره دی، هـسې خبـره د طالـب ده، خـو دا تـور مخـي پنجـابي ورسـره دي. مـخ یـې ببرتـه سـتون کـړو د کـور پـه لـور یـې ګـام واخیـست. تـر کـوره یـې د پاکـستان لـه حکومتـه سـر ټکـاوه، کـور تـه ورسـېدو. د صـابر خـان مېـرمن ډوډۍ تیـاره کـړې وه، هغـې لـومړی لـه مانـه پوښـتنه وکړه، ویل یې:

هوسې ترور ! څنګه چل وشو ، قوماندان مو ولید.

ـ هـو خـورې ومـې لیـد ، خـو د هغـه زړه د تیـرې دی، هلـو یـې خبـرې هـم راسـره ونـه کـړې. اوس خو بدل دی، هرڅه بدل شوي دي، زړه پسې تړل په کار نه دي.

مـوږ ډوډۍ وخـوړه او چـای تـه سـره ناسـت وو ، مـا صـابر خـان تـه بیـا د خپـل تـګ پـه برخـه کـې ورته یاده کړه. هغه لږه شېبه غلی و ، بیا یې ځواب کې راته وویل:

خـورې ډېـره ښـه خبـره ده، خـو لـومړی بـه زه او تـه پـه دې بـاب ښـه ځـان پـوه کـړو ، بیـا همغـسې وکړو.

ـ وروره تـه پـه دې بـاب څـه فکـر کـوې؟ زمـا خـو فکـر او عقیـده خوځېـدلې ده، سـم سـوچ نـه شـم کولای، ته چې هرڅه راته وایې، همغسې به وکړو.

ـ هوسـې خـورې، زه خـو داسـې نظـر لـرم چـې لـومړی تـه کـوم ځـای تـه غـواړې، چـې لاړه شـې؟ او هم دا ووایه، چې هلته څه کول غواړې، چې ویې کړې؟ چې زه ستا په پلان پوه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د هغه دې پوښتنو ته په ځواب کې غلې پاتې شوم، هغه خپله پياله پورته کړه او غړپ يې ترې وکړو. د صابر خان مېرمن زموږ خوا ته کېناسته، ما ورته وويل:

زه غواړم چې لومړی خپل کلي ته لاړه شم، که څوک ژوندي پاتې شوي وي او د سهار څوک نږدې خپلوان په کلي کې موجود وي، پيدا يې کړم او بيا ترې د سهار او د خپل زوی په باب پوښتنه وکړم، چې يو ځل دومره څوک پيدا کړم پيا به نورې لارې چارې لټوو.

صابر خان وويل: ما خو اورېدلي دي، چې د کلي ځينې کسان له پېښوره تللي دي، په کلي کې دوباره څه ناڅه ژوند پيل شوی دی. ولې په دې پوه نه يم، چې څوک به تللي وي؟ خدا پېږو زه خو نشم تلای، ځکه چې له طالبانو سره نه يم، نو ځکه خو په ځان ډارېږم، خو زما يو دوست دی او هغه اړيکې له طالبانو سره لري. يو ځل به ورسره ستا د تګ خبره وکړم، کېدای شي ګوندې له ځان سره دې بوځي. د هغه دلته هم پوخ کور دی او هلته يې هم ښه واک شته دی. په کلي کې به درسره ستا په هر مشکل کې مرسته وکړي. په ځينو کارونو کې ما ازمېښت کړی دی، ښه سړی دی. مونجې وريجې ډېره ېې ده، تيار دلته راغلی دی زه به ورپسې همدا اوس ورشم خبرې به ورسره وکړم. ستا په باب به يې پوره پوه کړم. باور لرم، چې پوره مرسته به وکړي.

زه لمانځه ته پاڅېدم او هغه په هغې سړي پسې لاړو ويل زه به د ماز يګر جمه د هغوی په جومات کې وکړم، که په جومات کې مې وليد لا ښه ده.

زه چې له لمانځه نه وزګاره شوم، چرت کې لاړم (هغه زموږ کلا او هغه کلی به هغسې ودان وي او که؟ په لومړي ځل چې له سهار سره له کابل نه کلي ته راغلم، هغه خلک، هغه عزت او هغه خوشالي، له ما سره د سهار د خپلوانو مينه او محبت څومره خوږې شپې ورځې وې) له سترګو نه مې اوښکې جاري شوې، تر ډېره وخته ځای پرځای ناسته وم. د صابر خان مېرمن راپسې راغله، له ليرې يې راغږ کړو:

ترور جانې راځه دې پکي خوا ته رانږدې شه ګرمي ده. ما خپلې اوښکې وچې کړې، د هغې خوا ته ورغلم. مخامخ پکي ته کېناستم. د هغې زامن او لونه يو پر بل پسې راننوتل، ترڅو چې خره لګېده. د کور ماشومان او لويان ټول راننوتل. زه د صابر خان په تمه وم، د هغه د راتلو شېبې مې شمارلې. په دې کې د ماښام ډوډۍ تياره شوه، د صابر خان مېرمن وويل: موږ او تاسو به ډوډۍ وخورو، هغه معلوم نه دي چې کله راځي.

د ماخستن تر لمانځه وروسته صابر خان راغی، مېرمن يې ترې د ډوډۍ پوښتنه وکړه، هغه وويل: ډوډۍ مې خوړلې ده. د چای پياله يې ورته مخې ته کېښوده، زه لا د کوټې مخې ته په لمانځه ولاړه وم. لمونځ چې مې خلاص کړ، ورننوتلم، ستړي مشي مې ورته وويلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته یې اشاره وکړه، ویلې راځه خورې دلته چې نږدې په دغه توشکه کېنې. زه د هغه خوا ته په توشکه کېناستم. ماته د صابر خان مېرمن د چای پیاله مخې ته کېښوده، صابر خان بې له دې، چې ما ترې پوښتنه کړې وای، ویې ویل:

خورې ښه شوه سرې مې ولید له جومات نه یې له ځان سره کور ته بوتلم، ټولې خبرې مې ورسره وکړې. ما چې ستا د ژوند کیسه هغه ته وکړه، لومړی هک پک حېران پاتې شو، ډېر خپه او ستومانه شو، ډېره شېبه غلی و، بیا یې ماته داسې وویل:

داسې به وکړو، چې خدای یې کوي، زه به یې خپل کلي ته ورسوم او په کلي کې به چاته وظیفه ورکړم، چې کمک ورسره وکړي. دده چې هر ډول مشکلات و، هغه به ورسره مرسته کوي. زه پخپله ته پوهېږې، چې په جلال آباد کې ډېر مصروفیت لرم، له دې سره پخپله نشم ګرځېدلی. ولې یو تن به ورسره کړم، ددې خدمت به کوي.

ما وې خدای دې سرلوړې لره صابر خانه وروره! له ما سره دې ډېره نیکي وکړه، الله دې مه بدرنګوه. رښتیا وروره پوښتنه دې ترې ونه کړه، چې څه وخت ځي؟

ـ خورې سبا نه بل سبا ته ځي.

ما وې ښه شوه په لنډو ځي. صابر خان راته وویل:

هوسۍ خور! ته چې ځې په خیر څه خرڅ مرخ درته تیار کړم، خو تشویش مې درسره دا دی، چې ته به په کلي کې یوازې څه وکړې؟

ما وې صابره وروره! هلته خو پښتو ده، غیرت دی، دومره څوک به پیدا شي، چې مرسته راسره وکړي.

صابر خان زما خبره ونیوله ویې ویل: اګرچې دغه سړی، خو پوره لاپه راته وکړه، ویې ویل چې ته بې فکره اوسه، هېڅ مشکل به ورته پېښ نشي.

ـ صابر خانه وروره! ډېرې پیسې راسره وي، تصادف دا ښه و چې زما د لاس او غاړې بکس تر اخره راسره پاتې و او ښې پوره پیسې پکې وې. کیسه خو یې داسې ده، چې کوم وخت یې له مانه تحقیق کاوه، په هغو ورځو کې هغه زما ترجمان، چې یو پښتون هلک و، خو د پنجابي ژبې ترجماني یې ماته کوله، هغه راسره دا مرسته کړې وه، چې ځینې افغانۍ یې راته ډالر کړې وو او څه پیسې یې راته کلداري کړې وې. په جېل کې مې خپله ګوزاره کوله، یو څه پیسې راسره پاتې دي، تاسو ته تکلیف نه درکوم. دا چې زما دومره خدمت تاسې وکړو، تر قیامته به یې نه هېروم، الله دې ستاسو مددګار شي.

هغه خوشاله شو، ویلې د خور غوندې حق راباندې لرې، هر چېرې چې لاړه شې، زه به دې خامخا پوښتنه کوم، هېڅ تشویش مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه تېره شوه، سبايي وختي صابر خان او ښځه يې بازار ته لاړل، ماته يې جامې ګنډلې وې، يوه چادري يې راته واخيسته، نوې څپلۍ يې راته واخيستې، ما وې وروره دې نويو جامو او شيانو ته څه ضرورت و، زه خو بوډۍ ښځه يم او دا نوې جامې را سره ښې نه ښکاري.

د صابر خان مېرمن وويل:

ترور جانې! خرې جامې مې درته جوړې کړي دي، ستا د شان سره مو هرڅه درته برابر اخيستي دي.

ما وې کور مو ودان مهاجر خلک ياست، دومره تاوان مې درواړاوه. دواړو ويل: نه نه دا څه تاوان دی او ته په موږ ډېر حق لرې.

مازيګر صابر خان بيا د هغه دوست کره ورغی، چې د سبا تګ په باب ترې پوښتنه وکړي.

هغه د ماښام لمونځ کور ته راروساوه، د مانځه نه وروسته يې وويل: خورې سبايي وختي به د هغوی کره ورځو. هغه ويلې وختي حرکت کوو، چې په رسمياتو کې جلال آباد ته ورسېږو.

سبايي وختي مې د صابر له مېرمنې نه د تلو اجازت را واخيست، هغې بېچاره اوښکې توبې کړې، ما ترې ډېره ډېره مننه وکړه، صابر خان راسره د هغې دوست کره لاړ. مونږ چې وررسېدو، هغه دروازې ته راوتلی و. ويلې راغلئ صابر خان ويلې و. ماته يې وويل:

خورې سترې مشې. ما مخ پټ کړی و، خالي سترګې مې ښکارېدې. په جګ اواز يې وويل:

زما خور يې او زه دې ورور يم، هېڅ خپګان چې ونه کړې، ټول مشکل به دې الله اسانه کړي.

د صابر خان نه مې اجازت واخيست، لاس مې ورته موچي کړل، ډېر خپه او ستومانه ښکارېده، زما ستونی ژړا ونيو، د هغې په سترګو کې مې اوښکې ښکته پورته وځغلېدې، هغه رانه پاتې شو او زه د هغه دوست طالب ګل خان سره روانه شوم. د لواړګي د موټرو هډې ته ورسېدو، ما د ګل خان نه پوښتنه وکړه:

وروره په تورخم به ورځو که......

هغه وې هو خورې په تورخم به جلال آباد ته ځو.

په زړه کې مې تېر شول د تورخم سرحد خو راباندې لس کاله جېل تېر کړو، دا ځل.....

ګل خان بيا وويل: خورې ته زړه ښکته پورته نه کړې، زه درسره يم هلته زمونږ عسکر ولاړ دي، دېخوا کسان هم پېژنم راځه راځه هغه ګاډی د تورخم او لواړګي ناريوهي، تيار ډک دی.

موټر ته وختو او لږه شېبه پس يې حرکت وکړو. زما کرايې هم ګل خان ورکړه. کله چې په تورخم کې مزي ته ورسېدو، هغه ته مې د کرايې پيسې ونيوې، خو هغه وې خورې ته په ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق لري، پروا نه لري. له سرحده تېر شو، ولې زما زړه په سرحد کې رپېده، ما وې چې بيا مې غېر حق ونه نيسي. له سرحده وروا وښتو، د جلال آباد ګاډۍ ته وروختو، ګل خان لړه شېبه طالب عسکرو سره څه خبرې کولې، بيا موټر ته راوخوت. ماسپېښين تېر جلال اباد ته ورسېدو. له موټره چې ښکته شو، ګل خان راته کړه:

خورې راځه، چې ځو، دلته زمونږه کور دی. دلته مې ورور او کډه يې اويسګړي، زما زوی هم د خپلو وړو سره همدلته دی. راځه دلته به د هرڅه پوښتنه وکړو، په کرار به کلي ته لاړه شو.

د ګل خان کور ته لاړو، رښتيا چې کور کې ښځې وې، ما شومان وو، کله چې کور ته ورسېدو، هغه د کور لوی وړو ته وروپېژندم او دا خبره يې ورته وکړه: تاسو ټول به ددې خور پوره پوره خيال ساتئ، پام چې درنه خپه نشي.

ما وې مننه وروره خدای دې ژوندی لره. د کور ښځو ډوډۍ تياره کړه، ګل خان چې ډوډۍ وخوړه ماته يې وويل:

خورې زه ولايت پورې ځم، خپه نشې دا خپل کور وګڼه. يو څه معلوماتونه به هم درته د کلي راوړم.

ما وې وروره په مخه دې ښه شه. په کور کې ګڼه ګونه زياته وه، ټول په لمانځه باندې ښه ټينګ وو، هېڅ قضا يې پرې نه وه.

ماخستين تېر ګل خان او ورور يې کور ته راغلل، زه يې ورور ته وروپېژندم. د ګل خان ورور سيد خان نومېده، خو له ګل خان نه کشر و، مګر د دواړو يو شان سوچه اوږدې ږېرې وې. رښتيا چې ما وليدل، ځوانانو او سپين ږيرو يو شان اوږدې ږيرې پرېښې وې. په تورخم چې راتېرېدو طالبانو د خلکو ږيرې ورمېچ کولې، که د چا به ږيره لنډه وه، ږد بد به يې ورته ويل.

ګل خان ماته وويل: ترور خپه شوې خو نه يې؟

ما وې نه وروره دې خوښندو زما ډېر قدر وکړو. خپل کور يې ګڼم، تاسې خو زما ورونه ياست. ګل خان ويل ترور زموږ ډېر کارونه دي، دا ورور مې په ولايت کې اداري مدير دی. له والي صيب سره وځنډېدم، نور څوک مې لا نه دي ليدلي. اوس به ځينې معلوماتونه سيد خان راکړي. سيد خانه د سيند نه پورې کليو کې څه حال دی؟

ـ کراري ده لالا هېڅ مشکل نشته دی. په دغو کليو کې يوازې نه، بلکې په ګرد مشرقي کې ارامي ده. ټول خلک د شپې او ورځې له يو ځای نه بل ځای ته ځي راځي، خالي په پنجشېر او شمالي کې ځای ځای ډزې مزې کله ناکله کېږي. درته ويلی شم، چې په ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې امنیت دی، تر ننه پورې کومه خبره نشته دی.

ـ ورورە ما خو درته په لاره ددې ترور د کلي نوم واخیست، ربښتیا چې هلته زموږ طالبان ستاسې په نظر داسې څوک به پیدا شي، چې دې ترور سره مرسته وکړي؟

سید خان لومړی لږ غلی شو، د چای پیاله یې کېښوده، خپله ږیره یې په موټي کې ونیوله، ویې ویل:

ولسوال ته به ووایو، چې د دوی د کلي یو تن طالب راولېږي. سهار به ورته ټیلفون وکړم، څوک به راولېږي.

ګل خان دستي ماته وویل:

ترور جانې سبا ته به په خیر سره ستا کار وشي، اوس به ارام وکړې، ستړې یې کرار ویده شه.

سید خان خپلې مېرمنې ته وویل: هله دې ترور ته ځای برابر کړه، چې ارام وکړي، بېچاره ګی ستړې ده، چې بیده شي.

زه د ګل خان دوی په اجازه سره بلې کوټې ته د خوب لپاره لاړم، په بستره کې مې چې په بالښته سر کېښود، سمدستي خوب وړې وم. سهار وختي لمانځه ته پاڅېدم، ګل خان دوی جومات ته جمعې ته تللي وو. لمر په غرونو ختلی و، چې کور ته راغلل. زه یې هم د سالون کوټې ته وروغوښتم. د سید خان مېرمنې چای راوړو، ټولو په ګډه سره چای وڅښلې. له چای نه وروسته هغوی دواړه له کوره ووتل. ګل خان چې وتلو ماته یې وویل:

ترور ستا په اجازه مونږ لاړو، ته چې قید نه شې، هر کله چې خسته شوې نسیمه به دې بیرون ته وباسي.

ما وې نه نه ورورە ولې قید شم، ځئ په مخه مو ښه شه. هغوی لاړل او زه په کور کې له ښځو سره پاتې شوم. د غرمې لس بجې وې د سید خان مېرمنې د کور کارونه سرته رسولي وو. زما خوا ته راغله، په سالون کې راسره خوا ته کېناسته، ویې ویل:

ترور چې خپه نه شې، زمونږ ددې کور کارونه هېڅ غوڅون نه لري، تراوسه مې ستا سره هېڅ د زړه خواله ونه کړه. له پرون راهیسې مې درسره څه خبرې نه دي کړي. خیر دی اوس به درسره خبرې وکړم. ربښتیا ترور جانې ستا دا خبرې خو ددې ځای د خلکو په شان نه دي کنه؟

ـ هو لورې زه خو په اصل کې د پکتیا یمه، خو دلته ستاسې دې سیمې ته نصیب قسمت راوستې وم.

ـ هغه څنګه ترور.

مجبوره وم، چې خپله تېره کیسه مې ورته کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــ لوري زما د ژوند کیسه مه اوره، ستومانه کېږې. د هغې لا سودا زیاته شوه، خوا ته مې ښه راوړاندې شوه، ویلې ترورجانې زه دې هم لور یم که...؟

په زړه کې مې تېر شول (ما وې پرېږده، چې زما په کیسه هر څوک خبر شي. ) هغې ته مې د خپل ژوند تېر سرګذشت بیان کړو، لا ټوله کیسه مې خلاصه نه وه، چې د هغې په مخ اوښکې راماتې شوې. زما هم ستوني راډک شو، ولې کیسه مې ورته تر پایه تېره کړه. هغې راته کتل، سترګې یې رانه ویستلې، یوه یوه اوښکه به یې راوڅڅېده. زما له خوا پاڅېده، ویل توبه خدایه دا څنګه مسلماني شوه؟ غږ یې کړ: ترور زه به درته چای راوړم. ما پخپلو سترګو لاس تېر کړو، په شونډو مې ژبه ووهله، خو مرۍ مې وچه وچه کېده. د ګل خان مېرمن چای راوړو، پیاله یې راته په مخکې کېښوده. نسیمه له بیرون نه راغله، خپل وړوکی ورور یې له لاسه نیولی و، مور یې ورته وویل:

نسیمې لوري ! ا ترور به بیرون ته وباسې، چې لږه وګرځي، زه به ډوډۍ تیاره کړم. هغې ویل ښه مورجانې ان تر ډنډ غاړې پورې به لاړ شو. له چای نه وروسته له نسیمې سره بهر ته ووتلم، نسیمې ویلې: ترور د ډنډ غاړې پورې به چکر ووهو.

ــ بچې ډېر لیرې مې مه بیایه، چې زه دومره شیمه نه لرم. نسیمه چې ایله به د یارلسو کالو وه، غوښنه مسته جلکۍ ښکارېده. سپینه ښکلې جینۍ وه، ودرېده ویلې ترورجانې د ډنډ غاړه نږدې ده. لاس یې ونیوه، ویلې هاغه د پیپل ونې، چې ښکاري هلته د ډنډ غاړې بازار دی.

ما وې لورکۍ راځه دلته به وګرځو، بېرته به کور ته ځو. د ماسپښین د لمانځه وخت رانږدې دی، چې مونځ رانه قضا نه شي. هغې د ډنډ بازار سره علاقه وه، غلې یې وویل: ښه ده چې ته وایې نو....

یوه شېبه وګرځېدو، نږدې دوکانونه او بازار مو له سترګو تېر کړل( په زړه مې پخوانی وخت چې کوم وخت به له سهار سره جلال آباد ته راغلم، نو څومره به په دې بازار کې سره وګرځېدو. ) تیر شول. نسیمې راته راوکتل، ویلې یې ترور څنګه ورو شوې؟ ستړې خو نه شوې؟

ــ نه نه لوري، هسې دا بازار راته نا اشنا ښکاري. په تلو تلو کې د کور دروازې ته ورسېدو د نسیمې مور چې په اشپزخانې کې یې پخلی کاوه، راغله ویې ویل:

ترور جانې راغلې؟

ــ هو لوري راغلو، وخت د لمانځه دی. دغه ورځ مې تر بېګاه پورې په سوچونو کې تېره کړه، ما وې چې د کلي شرایط به څنګه وي؟ څوک به راسره مرسته وکړي او که نه؟ همدا سې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوري ډېرې پوښتنې به مې په زړه کې ګرځېدې. ماخستن تېر سيد خان او ګل خان دوی دواړه کور ته رانغوتل، مونږه د سالون په کوټه کې سره ناست وو، چې هغوی راغلل. سيد خان راته وويل:

ترور خپه شوې خو به نه يې؟

ما وې نه نه وروره زما خو دومره خيال ساتل کېږي، چې څه درته ووايم. د ګل خان مېرمن دې رب ښاده لري، پوره پوره خيال مې ساتي.

سيد خان او ګل خان ته د ګل خان مېرمن ډوډۍ تياره کړه، دواړه په ډوډۍ کېناستل، زه د ماخستن لمانځه ته پاځېدم. ما چې تر څو لمونځ خلاصاوه، د ګل خان مېرمن راغږ کړ:

ترور که مونځ دې خلاص کړی وي، راځه چې سيد خان لالا دې غواړي.

له دوعا کولو نه وروسته د سالون کوټې ته ورغلم، هغوی ته يې د چای پيالې ډکې کړې. ماته يې هم پياله مخې ته کېښوده، سيد خان وويل:

ترور سبا سهار ته به ستاسې د کلي يو تن راشي، وبه ګورو چې هغه څه کولی شي؟ خبرې به ورسره وکړو، معلوماتونه به ترې واخلو. که ستا زړه ومنله او مشکل دې حل کېدی شو، ورسره لاړه به شې او که څه ستونزې موجودې وې، بيا به بله چاره ګورو، ته هېڅ تشويش مه کوه.

ـ نه وروره تشويش ولې وکړم، خو هسې وايم چې زمونږ په کلي کې به څوک وي که نه؟ زمونږ د نږدې خپلوانو نه به څوک پاتې وي او که نه؟ نور خو شکر دی جنګ کړی نشته دي، داسې راته ښکاري چې ارامي ده.

ګل خان وويل: ترور د امنيت په باب خو هېڅ فکر مه کوه، طالبانو په ټول ملک کې امنيت راوستی دی، هغه خبرې لاړې انشاء الله چې ټول کارونه به دې سم شي.

سيد خان وويل: توکل په خدای دی، سبا ته به معلوم شي. ترور جانې که خوب درځي ځه لاړه شه، بې غمه ويده شه. د ګل خان مېرمن راته وويل: راځه ترور جانې ځای مې درته جوړ کړی دی، چې بيده شې.

له دواړو مې اجازه واخيسته او په بله وټه کې په بستره کې پرېوتم.

خوب نه راتلو، اوښتم راواوښتم، په زړه کې مې ګرځېدل (سبا ته به څنګه سړی راځي او څه به وايي؟ او هغه زمونږ کلا به ودانه وي؟ څوک به پکې وي او که....؟) رښتيا چې کلي ته ورسېدم، لومړی به د سهار د تره او ماما پوښتنه کوم، بيا به خپل کور ته ورشم، عجبه ده زه به ګنې بيا خپله کلا او کلی ووينم، خو چې سهار....؟ اوښکې مې وڅڅېدې، دغه شپه مې شوګير کړه، تر سهاره مې سترګه ورنغله. سبايي وختي ټول ويده وو، چې زه پاځېدم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمانځـه تـه پورتـه شـوم. لـه کـوټې نـه ووتلم، رڼـايي لګېـدلې وه، مـالا اودس کـاوه، چـې ليـرې لـه کـوم جومـات نـه د مـلا اذان غـوږ تـه راورسـېد. سـيد خـان او ګـل خـان دواړه کـوم جومـات تـه جمعـې تـه لاړل، د ګـل خـان مېـرمن هـم راپورتـه شـوه، هغـې هـم د لمانځـه بنـدوبس کـاوه. مـا چـې لمـونځ وکـړو، د خپـل خـوب پـه ځـای کـې مـې ډېره ووهلـه، پـه ځـای مـې سـترګې ورغلـې وې. يـو وخت راته د ګل خان مېرمن اواز کړ:

تـرور جـانې! پاځـه چـای تيـار ادی. زه چـې سـالون تـه ورغلـم، سـيد خـان او ګـل خـان دوی سـره د ورو په چايو ناست وو. دواړو وويل:

راځـه تـرور جـانې دې بـرې غـاړې تـه راشـه، دغـې توشـک بانـدې کېنـه. مـوږ لا پـه چـايو ناسـت وو، چـې بيـرون دروازه وټکـول شـوه، د ګـل خـان يـو وړوکـی زوی ورغـی، کتـل مـو چـې پـه منـډه بېرته راغی، خپل پلار ته يې وويل:

دادا څوک سرې راغلي دي، تا غواړي.

هغـه پـه چـالاکۍ دروازې تـه ورغـی، لـږه شـېبه پـس چـې راغـی، ويـې ويـل: د تـرور د کلـي نـه يـو سړی راغلی دی، په حجره کې مې کېناوه، هله چای ورته تيارې کړئ.

ګل خان وويل: زه به له هغه سره په حجره کې کېنم.

سيد خان وويل: تاسو هغه ته چای مايي ورورئ، موږ به هم درشو.

لـږه شـېبه وروسـته سـيد خـان لـه خپـل ځايـه پاڅېـد، ويـې ويـل: تـرور جـانې زه بـه ورشـم او پوښتنې به ترې وکړم، ته به بيا وروسته ورسره وګورې.

پـه دې کـې زه او د ګـل خـان مېـرمن سـره پـه خبـرو کـې وو، چـې سـيد خـان راغـی. ويـل يـې تـرور جـانې دا زلمـی، چـې راغلـی دی دا زمـوږ ملګـری دی، مـا تـرې ستاسـې د کلـي پـه بـاب پوښـتنې وکـړې، ويـې ويـل، چـې کلـی لـه خلکـو ډک شـوی دی، خـو دا زلمـی دی، د کلـي هغـه پخـواني خلـک نـه پېژنـي. خـو دی وايـي، چـې پـه کلـي کـې هـېڅ ډول مـشکل نـشته دی. مـا ورتـه سـتا د بيولـو او پـه کلـي کـې سـتا د خـدمت کولـو ويلـي دي، د هـر ډول منـډې رامنـډې خـدمتګار دی. يوازې دا نه، بلکې په کلي کې به دده غوندې نور هم ستا په خدمت کې وي.

ما وې ښه ده، چې داسې وي، نو ستا په اجازه به ورسره لاړه شم. سيد خان وويل:

هـو تـرور لـه ده سـره بـه لاړه شـې، زه بـه دې څـو ورځـې وروسـته پوښـتنه وکـړم، هـېڅ فکـر ونـه کړې، چې ګنې پوښتنه دې نه کوم.

خپـل پنـډکی مـې راواخيـست، د ګـل خـان مېـرمن نـه مـې د تلـو اجـازت واخيـست، هغـه خـواره کـې بيـا راغـاړې وتـه، اوښـکې يـې تـويې شـوې، مـا يـې بچـې ښـکل کـړل او هغـه مـې هـم پـه سـترګو سـترګو ښـکل کـړه، د حجـرې دروازې پـورې يـې راسـره مخـه ښـه وکـړه، حجـرې تـه ورننـوتم. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورې ږیرې نرۍ لوړ زلمی راپاڅېد، سترې مشې یې راسره وکړه، هغه لاس نه راکاوه، خالي د خولې د سر سترې مشې بې وکړه. کټ ته کېناستم، سید خان هغه ته وویل:

وروره دا ترور به خپل کلي ته رسوې، هر خدمت چې یې و، مرسته به ورسره کوې.

طالب زلمي وویل: څه چې د الله رضا وه، هغسې به کیږي. تاسې ډاډه اوسئ. دې ادې ټول خدمت په وشي. په دې وخت کې سید خان او ګل خان دواړو جېب ته لاس تېر کړ، پیسې یې راوویستې، ویلې هن دا کرایه د موټر درسره واخله.

ما وې شته راسره تاسو ځان مه په عذابوئ، هر څو مې چې ورته وویل، هغوی راته په جېب کې پیسې کېښودې. تر دروازې راسره راووتل او مخه ښه یې راسره وکړه.

زه او هغه زلمی روان شو، هغه رانه مخکې شو یوازې دومره یې وویل: ادې ما پسې راځه، چې د موټرو ځای ته ځان ورسوو. هغه مخکې او زه ورپسې وم، په بازار کې روان شو. په بازار کې تلو تلو په یوه ګڼ بازار ورغلو، هرڅه راته نااشنا ښکارېدل، یو ځای ته چې ورسېدو، د میوو ډک ډک دوکانونه، په دوکانونو کې د انګور وانبکي په تارونو کې راځړېدلي وو. هر ډول وچې او تازه میوې په دوکانونو کې لکه خرواروڼه ډېرې ډېرې پرتې وې، سمدستي مې زړه کې تېر شول، دا خو به هغه دوکانونه وي، چې کله به زه او سهار له کابله راغلو، نو خامخا به مو پکې مالتې او سنترې رانیولې او بیا به د کلي په لور روان شو. په دې وخت کې لږه پیسنبه نیولې شوم، د کلي نه راغلی زلمی رانه مخکې لاړ، مخ یې راواړاوه، ودرېد او ماته یې کتل، زما زړه راډک شو، ستوني مې ونیول شو، ټیکری مې په سر راخور کړو، ورو ورو مې ګامونه واخستل، هغه راته هم پښه نیولی شو. زه چې ورنږدې شوم، وې ویل:

ادې څنګه په تکلیف خو به نه یې؟

ـ نه نه بچې هسې ددې بازار یوه پخوانۍ خاطره مې زړه کې راوګرځېده، ځکه ورته ودرېدم.

هغه زما له حاله څه خبر و، ویلې ادې په کرار کرار راځه لږه لاره تر هدېې پاتې ده. زما په زړه همغسې د غم څپه زیاتېدله.

د جلال آباد ښار لیدل نه و، پخوانې یادونه مې قدم په قدم یادېدل. په تېره بیا هغه د لومړي ځل له سهار سره یو ځای دې ښار ته راغلم. هغه شېبې مې رایادې شوې، ګامونه مې ورو ورو اخیستل، راغږ شو: ادې و ادې، هله زر راځه، چې موټر تیار دی. هغه له لاسه ونیولم او موټر ته یې ورپورته کړم. کلینر په جګ اواز ویل: ځه له خیره.

ګاډی روان شو، د ښار او بازار دوکانونه یو پر بل پسې پاتې کېدل، ترڅو موټر له بازاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووت. ښه شپېه وروسته کچه سړک مخې له راغی. کله به موټر په خاورو او دوړو کې پټ شو، خپل مخ او سترګې مې په ټيکري پټې کړې، موټر روان و، اوږده شپېه وروسته موټر ودرېد، خلک ترې ښکته شول. ما ته طالب زلمي وويل:

ادې راځه کلي ته راورسېدو. زما تلوسه وه ان له موټره مې پام وکړو، ما وې چې هماغه زموږ کلی دی او که...؟ هغه راسره مرسته وکړه، له لاسه يې ونيولم، له موټره ښکته شوم. خپل ټيکری او جامې مې له دوړو او خاورو نه وڅنډلې، خپله غوټه مې تخرګ کې ونيوله، سترګې مې وغړولې، وړاندې کلی ښکاره شو. موټر ودرېد، دوه موټرې نورې هم ولاړې وې، کلي ته راغلي خلک د کلي په لور وخوځېدل، زلمي راته کړه: ادې دغه کلی دی، اوس به نژدې ورشو. خپل کور به دې وپېژنې.

د هغه له دې خبرې سره، چې خپل کور به دې پکې وپېژنې، نېغ مې زړه ته سهار او د هغې مور (خوابنې مې) سترګو ته ودرېدل، په سوچ کې شوم، هغوی به په کلا کې....؟ ګمان کوم چې کلا به شاړه وي، هېڅوک به ورکې نه وي، د هغې وخت د کلا د ننه دالان کوټې او د کلا برج رایاد شو. پښې مې لنډې ګنډې شوې، طالب زلمی راته ودرېد، پوه شو، چې زه نشوم تلای، راوګرځېد او خوا ته مې راغی، ويې ويل: ادې څنګه تکليف خو به نه لرې؟

ـ نه نه بچی هسې پخوانی وخت مې رایاد شو، رښتيا قربان دې شم ستا نامه څه ده؟

ـ ادې زما نوم ګل نور دی، ددې کلي د پېروز خان زوی يم، پلار مې روسانو وژلی دی، پخوا چې روسانو په دې کلي بمبار کړی و، ددې کلي ډېر خلک پکې شهيدان شوي وو، ما ته د هغې وخت جنګونه، نه دي معلوم، خو مشران وايي چې د کلي ډېر اوسېدونکي په هغې وخت کې له منځه تللي دي.

په خبرو خبرو کې د کلي مخې ته راورسېدو، د ماسپښين دوه بجې وې، چې مونږ د کلي مخې ته ورسېدو. ګل نور راته وويل:

ادې پام وکړه دا کلي دې وپېژانده؟

ما ټول کلی له نظره تېر کړ، هغه زموږه کلا او د کلا لوړ بورج مې په نظر رانغی، د کلي د هر کور د يوالونه نړېدلي وو.

ـ ګل نوره بچی زموږ د کلا هغه لوړ بورج کوم دی؟

ـ ادې زه چې د کوم وخت نه دې کلي ته راغلی يم، دا کلی مې همدغسې وران ليدلی دی، ما پکې لوړ بورج هېڅ نه دی ليدلی. له خلکو مې ځينې کيسې اورېدلي دي. په دې وخت کې د کلي په يوه کوڅه ورسم شو، خو ما پکې خپله کلا ونه ليده. ګل نور وويل:

ادې جانې کېدای شي ستاسې کلا به د کلي هغه بل اړخ ته وي. دا سړک نوی دی کلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتېر شوی دی، پخوانی سړک د کلي ښي اړخ ته و. ته راځه راځه زما د بابا نه به د هر څه حال احوال واخلو.

ـ ستا بابا؟

هو زما بابا دد ې کلي یوازینی پخوانی سپین ږیری پاتې دی، هغه ته به هرڅه معلوم وي.

مور دواړه په خبرو خبرو کې د کلي په کوڅه کې وړاندې تللي وو. هغه یوې دروازې ته ودرېد او دروازه یې وټکوله. لږه شېبه کې دروازه خلاصه شوه، په دروازه کې یوه پېغلوټې جینۍ راووتله، مونږ ته یې پام وکړو، ویلې لالا ستړی مشې. یوه شوم چې د ګل نور خور ده. ماته یې غلي شان وویل: ستړې مشې ادې! هغې دروازه ښه راخلاصه کړه، ګل نور وې راځه ادې دا زمونږ کور دی. دننه چې ننوتلو د کور په برنډه کې یو بوډا سړی په کټ کې ناست و، بالښت ته یې تکیه وهلې وه، امسا یې د کټ سرته درولې وه. یو د پاخه عمر سړی، چې ببره ږیره، خړ پکول یې په سر و، د ږیرې زیات ویښتان یې سپین ښکارېدل. ښه چارشانه سړی و، لګیا و څرخکې یې تاواوه. د وړیو نه یې موټې ډک نیولی و. یوازې یې څرخکې په لاس کې ونیو، ویل: ګل نوره ستړی مشې. ماته یې کړه، تر ور ستړې مشې، په خیر راغلې. یوه د عمر نه زړه ښځه د کوټې نه راووتله، زما خوا ته راغله، لومړی یې ګل نور ته ستړي مشي وویله، بیا یې ماته لاس رااوږد کړو، ویې ویل:

ترور ستړې مشې، په خیر راغلې. نوره ښه ګړه بړه یې راسره وکړه. بوډا چې په کټ کې ناست و، یو لاس یې په تندي کېښود، ماته یې راوکتل، په ګینګړو اواز یې وویل:

خورې ستړې مشې. ما ویل خدای دې ژوندی لره کاکا څنګه یې؟ نور ګل ټولو ته وروپېژندلم، یوازې دومره یې ورته وویل:

د خیر ګل اکا له کوره مې دا ادې راوستله، دی وایې چې دا زمونږ کلی دی، ما ترې پوښتنه نه ده کړې، تاسې به ترې پوښتنه وکړئ، که کوم خدمت و، مونږ به ورسره مرسته کوو. نور ګل خپل پلار ته، چې هغه لا همغسې څرخکی تاواوه، وویل. پلار یې د څرخکې تاوول پرېښودل، زما خوا ته رانږدې شو، نور ګل وویل:

ادې دا دی خپل کور دی، چې خپه نه شې. مور ته یې ورغږ کړو مور دې ادې ته ډوډۍ تیاره کړه، زه بیرون ته وځم.

مور یې ویل ترور دې بالښت ته ډډه ولګوه، چې دمه شې. زه به درته ډوډۍ تیاره کړم، چې خپه نشې. د نور ګل پلار په یوه بل کټ کېګ مخامخ راته کېناست، ویې ویل:

ترور خپه نشې په دې کلي کې د چا څوک یې؟

ما وې وروره زه د سهار صاحب مېرمن یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغــه تــورې ګڼـې ورېځـې پورتــه وارتــولې، ورو يــې لــه ځــان سـره وويــل: سـهار صـاحب؟ کـوم هغــه ســهار چــې پــه کابــل کــې مــامور و د برجــورې کــلا؟ پــه راډيــو کــې بــه يــې د جمعــې پــه شــپه داستانونه ويل؟

ـ هو هو هماغه سهار.

هغه بوډا ته مخ ورواړاوه، ويې ويل:

دادا ! ستا ورته فکر دی؟ بوډا خپلې تسپې اړولې، ويې ويل: بچی ته څوک يادوې؟

ـ هغــه د کونــډې زوی، چــې پــه کابــل کــې مــامور و، وروســته يــې چــې پــه کلــي کــې هغــه لويــه برجـوره کـلا جـوړه کـړه. دادا هغــه نــه و، چــې د هــرې جمعــې پــه شــپه بــه يــې راډيــو کــې داســتانونه ويل کېدل او موږ به ورته ناست وو.

بوډا وويل: ومې پېژاند بچی، هغه خو.... !

تــه ودرېــږه دادا. ددې لپــاره چــې بــوډا د ســهار صــيب تېــره کيــسه کولــه، خــو زوی يــې ورتــه پــه خبـره کـې ورودانګـل، لـه دې وجـې چـې زه پـوه نـشم او لـومړی زمـا پـه حـال ځـان پـوه کـړي. بـوډا ماته کتل، خو سم نظر يې نه لګېد، زوی يې وويل:

ترور ته د هغې کورودانه يې.؟

مــا وې هــو هغــه زمــا خاونــد و. بــوډا او زوی يــې دواړه پــه تعجــب کــې پــاتې شــول، پــه دې وخــت کــې ښــځې لوښــه او چيلمچــي راوړل، ويلــې تــرور لاس وينځــه چــې ډوډۍ وخــورې، ښــځې ښتــن يــې هــم راته کړه. ترور ته لومړی ډوډۍ وخوره بيا به نورې خبرې سره کوو.

زه د هغــې لــه مېــرمن سـره لاړم، پــه ډوډۍ کېناســتم بــوډا او زوی يــې خپــل مــنځ کــې ســره څــه خبرې کولې، هغوی ډېر څه وويل، زه ورته متوجې وم. وروسته له ډوډۍ نه يې راته وويل:

ترور ستا به سودا وي، راځه چې ستاسې کلا ته ورشو، هرڅه به پخپله وګورې.

د کــور ښــځه او مېــړه بــې دواړه راســره شــول، د هغــوی لــه کــوره ووتلــو او پــه کلــي کــې پــه يــوه اوږده کوڅه کـې ورسـم شـو. لـه کـوڅې نـه چـې ووتـو، د کلـي بـل اړخ تـه ورسـېدو. مـا بـه د کلـي هـرې کــوڅې او هــر کــور تــه کتــل، د خپــل کــور ليــدو تــه مــې تلوســه وه، تلــو تلــو چــې پــه يــوه ګــوټ ورواوښــتو. ســړي وويــل: تــرور هغــه مخــامخ ستاســو کــلا ده، هغــه بــورج بــې پخــوا پــه ډزو کــې نړېدلی دی.

پــه زړه کـې مـې تېرېـدل، چـې پـه کـلا کـې خـو بـه سـهار او زوی مـې نـه وي؟ کېـدای شـي چـې پـه هغـې وخـت کـې چـا ژونـدي لـه سـينده راوېـستلي وي. نـه پـوهېږم، چـې پـه کـلا کـې بـه څـوک وي نـو؟ خو ګامـه لا کـلا تـه پـاتې و، ودرېدم ښـه مـې شـاوخوا تـه وکتـل، بيـا مـې مخـامخ کـلا تـه ورپـام کړو، هېڅ باور مې نه راتلو، چې ګنې دا به هماغه کلی او زموږ کلا وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سړي مېړمن هم راسره وه، هغې وویل:

ترور ځنګه ودرېدې؟

ـ هسې لورې دا هرڅه راته نااشنا ښکاري.

ـ ترور د کلا دروازې ته چې ورسېدو، بیا درته پته لګېږي.

د کلا دروازې ته چې ورسېدو، مخامخ ودرېدم د کلا دروازې او دیوالونو ته مې پام وکړو ومې پېژندله. د کلا بورج نړېدلی و، دروازه یې ماته وه، د کلا د مخې بڼ نه و. پخواني خیال کې لاړم، بدن مې ورپېده، ځای په ځای کېناستم. د کلا دیوال ته مې تکیه ووهله، سړي دروازه وټکوله، ښځې زما سر ونیو، ویلې ترور جانې ولې؟ زما له خولې غږ نه خوت، اندامونه مې له کاره ولوېدل، بې هوښه شوم، هېڅ په ځان نه وم پوه شوې. یو وخت مې سترګې وغړولې څه ډېر کسان ښځې واړه سړي ناست دي، دوه ښځو په کراره سره په کټ کې کېنولم، دوه بالښتونه یې راته شاته کېښودل، یوې ښځې په ګیلاس کې اوبه راکړې، سترګې مې شاوخوا ته واړولې،د همغې ښځې مېړه راته وویل:

ترور دا ستاسې کلا ده. یو زلمي ته یې لاس ونیو، چې توره ږیره لوړ سړی و، ویلې دا ستا د خاوند د تره زوی دی. هغه راغی په ما راښکته شو، له خولې یې ووتل: اخ تندار ته؟

ما په غېږ کې ونیوله، له غړه لوېدلې وم، خالي اوښکې مې روانې وې. بیا د هغې مېرمن راغله راغاړې وته، د سترګو په رپ کې د چم ګاونډ ښځې او سړي کلا ته راننوتل. کلا له خلکو ډکه شوه، په یوه پښه لوی واړه کلا ته راننوتل. لکه د خوب غونډې پرېشانۍ یووړم، څه مې نه لیدل، خو دومره مې اورېدل چې هر چا به یو بل ته ویلې: د سهار صیب مېرمن راپیدا شوې ده. د سهار د نوم په اورېدو به مې په زړه چړې منډل کېدې. د خلکو شور او زوږ دومره زیات شو، چې چا د چا خبره نه اورېده. له یوې خوا هوا ګرمه وه او د خلکو ګڼه ګوڼه هم زیاته وه. یو وخت چې مې سترګې وغړولې، یو چا په ګیلاس کې اوبه راته ونیوې. مرۍ مې لمده شوه، پخپل ځای کېناستم. پام مې کاوه د خدای مخلوق په کلا کې راټول شوی و. په کټ کې راسره ناستې ښځې راته په سر ټیکری ساز کړو، ټولو ماته کتل او یو ډول د خپګان په حالت کې لیدل کېدل. یوه سړي په جګ اواز وویل:

خوېندو وروڼو ښه به دا وي، چې دا بیروبار کم کړو، دا بېچاره ګۍ به لړه دمه شي، په کرار او نوبت سره به ورسره وګورئ، اوس همدومره بس دي، راځئ چې ځو.

دوې وویل: سمه ده. خلک په کرار سره له کلا نه ووتل، ښځې هم لاړې، یوازې د کلا اوسېدونکي کسان پاتې شول.

د نور ګل پلار او مور چې دواړه راته نږدې ناست وو، زما خوا ته نور هم نږدې شول، ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل: ترور ښه شو، چې ستا د خاوند د تره زوی شته دی، دا مېنه پرې ټینګه ده. نور دې له خیره تکلیف نشته دی. اوس به ستا په اجازت سره درنه لاړ شو، بیا به دې احوال واخلو. والکه وراره مونږ به درنه ولاړ شو، ښه شوه زما زوی نور ګل دا ترور کلي ته راورسوله، بیا به سره ګورو.

_ نه نه کاکا جانه ډوډۍ به راسره وخورئ بیا به ځئ.

_ خیر یوسې دا زموږ خپل کور دیو بیا به شي. پاڅېدل له ما یې اجازت وغوښت او له کلا نه ووتل، د کلا لویو وړو ورسره مخه ښه وکړه، د کور ښځه او سړی، بچیان یې ټول رانه راتاو شول. د سهار د کاکا زوی شیر خان او مېرمن یې دواړه راسره په څنګ کې کېناستل، شیر خان وویل:

تندار کسم په خدای چې ستاسې د ټولو فاتحه موږ ته په همغه وخت کې شوې وه او دا دی، چې ته الله ناڅاپه په موږه رانوبستې. دواړو خپل لاسونه غوږونو ته یوړل، خدایه توبه توبه مې ده، دا څنګه چل وشو. ای تندار دا دومره وخت نو ته چېرې ته وې، هله کیسه کوه، چې....

د شېر خان دوه پېغلې لوڼه او درې زامن هم په یوه ځای راتاو وو، ما ورته خپله کیسه تېره کړه، ولې ماشومان ناست وو، هغه ځینې زیاتې چې راسره شوي وو، په اصل شکل مې ورته ونه ویلې، خو نوره ټوله کیسه مې ورته بیان کړه، ټولو لویو وړو سم په سلګو سلګو وژړل، هر یوه ماته کتل او له سترګو یې اوښکو دارې وهلې، ټول مې له ځان سره ښه په ژړا ستړي کړل. هغوی راته هم د روسانو د وخت جګړې او په کلي د بمبارۍ راته ټولې کیسې وکړې. د کلا د برج په توپونو وېشتل، د خپل پلار او د سهار د مور وژل او هم یې د کلي د هر کاله د مرګونو راته بېلا بېلې کیسې وکړې. بیا یې راته وویل:

تندار راځه، چې د کلا په کوټو دې وګرځوم، هر دېوال د توپونو او راکټونو مرمۍ خوړلي دي، کلا هغه ډول نه ده پاتې، ګرچې ما یې ځینې برخې دوباره جوړې کړي دي. د کلا بورج رانه نیمګړی پاتې دی، که ژوند و په خیر سره سږکال مې ورته نیت دیو چې ودان یې کړم.

شېر خان له لاسه ونیولم ورو ورو یې د کلا په بېلا بېلو کوټو وګرځولم، زموږ د خوب کوټې ته چې ننوتلم ستوني مې راډک شو، په دواړو تشو مې لاس کېښود، اوښکې مې وڅڅېدې، هغوی هم راسره اوښکې تویولې. د کوټې دیوالونه لا هماغسې لړ لړ سپین و. شېر خان په ژړغوني غږ وویل:

تندار په دې کوټه کې اوس مونږه ویده کیږو. ورمنډه یې کړل دیواله ته د سهار عکس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوړند و، ویلې تندار دا مې د سهار لالا عکس دی، ماته یې ونیو. ما چې عکس د کوټې په دروازه کې رڼا ته ونیو، د چوکاټ په شیشه مې اوښکې ډنډ شوې، هغه رانه عکس بېرته واخیست ماته یې وې تندار راځه چې په نورو کوټو کې وګرځو، د کلا په کوټو او بامونو وګرځېدو، د کلا هغه لوړ بورج نیمایي راکټونو غورزولی و. د دویم پوړ په کوټو کې هم وګرځېدو، زمونږ د وخت سامانونه د هغې وخت جهادي غلو لوټ کړي وو، د کلا ترڅنګ بڼ و چې اوس پکې یوازې د سیترون ونه جګه ختلې وه او یوه ونه د نارنج ولاړه وه، چې ډېره زړه شوې وه. د لاندې ترې چرګان ګرځېدل. د کلي د وستل چینارا ن نه وو، زیات کورونه هماغسې لا وران پراته وو.

دغه ورځ ټوله په ژړا انګولا تېره شوه، ماخستن له ډوډۍ نه وروسته چای ته ناست و، ما ویل:

شېر خانه بچی! لومړی دا خپله مېرمن دې راته راوپېژنه، دا بچیان دې بېل بېل په نومونو یاد کړه، بیا به نورې خبرې کوو.

هغه راته خپله ښځه یاده کړه، ویې ویل: دا د کلي حیدر خان لور ده ګلابه نومېږي. دا مې میرخان مشر زوی دی او هغه خیرو دی او دا وړوکی افضل دی. دا مشره لور مې غوټۍ نومیږي او دا بله پاڼه نومېږي.

ـ ډېر شکر دی زویه په تا او په دې اولادونو دې ډېره خوشحاله شومه، زړه نازړه د نورګل د پلار و مور سره راتلمه ما وې چې په دې کلي کې به زما څوک پاتې وي او که نه؟ بچی په دې ساعت هم شکر دی.

شېر خانه زویه! بلا دې واخلم زه نور د ډېرو خبرو طاقت نه لرم، خو که ته راته د سهار او زما د زوی په باب یو څه ووایې... نوره پاتې کیسه او د سهار په باب شېرخان داسې پیل وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلورم څپرکی

ـ تندار ! تاته خو به معلومه وي، چې زه په هغې وخت کې ایله وخت رسینده وم، کوم وخت چې تاسو له کلي نه د تلو نیت کړی و او په جاله کې د شپې په سیند پورې وتلئ. په همغه شپه له پلار سره دلته ستاسې کور ته راغلو. زړه ادې دې خدای وبښي (ستا خوابښې) ځانله ناسته وه، ژړل یې. پلار مې ورته خبرې وکړې، ژړا یې بس کړه. د شپې تر ناوخته پورې هغوی دواړه مشغولېدل او زه ورته ناست وم. پلار مې ورته وویل:

سبا ته یا بل سبا ته په دې کلي روسان حمله کوي، ښه شوه چې سهار دوی ځانونه ووېستل. مونږ به چې د کلي خلکو څه حال و ، هغه به زمونږه وي.

تر نیمې شپې پورې دواړه په همدې خبرو سره ګړېدل، پلار مې بیا کور ته لاړ او زه له زړې ادې سره پاتې شوم. سهار وختي یې راویښ کړم، ویل یې بچی پاڅېږه نن څه بل شان درنې ډزې کېږي. له بام نه مې پام کاوه، څو توپونه د کلي بر سر کې ولګېدل. له ځان سره مې وویل:

والکه ! ته یو ځل پلار پسې دې ورشه، چې په احوال ځان پوه کړې. ماته به زر بېرته معلومات راوړې. ما خپلې سترګې موښلې او پلار پسې کور ته لاړم. د کلي په وستل کې هېڅوک نه و ، د خپل کور په کوڅه چې ورسم شوم، پلار مې د څو تنو کلیوالو سره ولاړ و. زه چې ورنـزدې شوم، هغوی خپلو کې همدا خبرې کولې، چې د کلي بر سر یې ووېشتو ، پلار مې هغوی ته وویل:

ځئ خپلو کورونو کې کېنئ، بیرون مه ګرځئ. ماته یې وویل: کور ته ننوزه هېڅوک باید له کوره راونه وځي. زه به د سهار دوی کره ورښکاره شم. زه چې کور ته ننوتلم، په تشناب کې خپل مخ او لاسونه مې پریمینځل، له نورو وړو سره چای ته کېناستم، مونږ لا چای نه و خلاص کړی، چې پلار مې وارخطا غوندې رانننوت، ویلې هله زر کوئ، چې د سهار دوی کور ته لاړ شو ، هغه لویه کلا ده دیوالونه جګ دي، که روسان حمله وکړي، کېدای شي چې بچ پاتې شو. ویل یې هله پاڅېږئ، چې کلي کې څو د هوان ګلۍ ولګېدې، خدای دې خیر کړي، وضعه خرابه راته ښکاري. ماته یې وویل: ته او خور دې په کور کې پاتې شئ، وروسته به بیا احوال سره واخلو. مور مې او پلار مې له نورو وړو سره دلته راغلل.

شېبه په شېبه ډزې زیاتېدلې، یو میزایل د کلي په منځ کې ولګېد ، زه په منډه بلۍ ته وختم، ما وې چې پام وکړم. زه چې بام ته وختم، په کلي کې دوړې پورته شوې، شور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غالمغال ورسره سم پورته شو، چې غږ شو څو مېزايل غبرګ په کلي ولوېدل. په هوا کې جنګي الوتکې تېرې شوې، په کلي يې بمباري وکړه. ښه مې ورته کتل، چې د کلي په سر تېرې شوې. نورې ډزې د توپونو په کلي راډېرې شوې، اخر زه وډار شوم خور مې راغږ کړل: راکوز شه شپږ خانه وبه لګېږي. زه له بامه راښکته شوم، زه او خور مې د کور په برنډه کې غلي کېناستو، غوږ مو وينو چې له کلي نه ژړاګانې پورته کېدې. ډزې دومره زياتې شوې، چې ما او خور مې خبرې سره نه اورېدلې. زموږ د کور شاوخوا ته توپونه ولګېدل، زه او خور مې وارخطا شو، په کوټه کې د دوو کندوانو په منځ کې ورننوتلو او غلي کېناستو. په هوا کې د الوتکو کړنګا او بمبارۍ او د توپونو او راکټونو ډزو دومره وارخطا کړو، چې زه او خور مې دواړو سره يو بل په غېږ کې ونيول او رپږدېدلو.

په کلي کې وړې ډزې هم پيل شوې. موږ دا فکر کاوه، چې ګنې د کلي خلک به ډزې کوي، حال دا چې په کلي روسان راوښتي وو. زموږ کور د کلي په منځ کې و، د کور ديوالونه خو لوړ و، د دروازې زنځير مې اچولی و، په دروازه کې د اوسپنې پټې اوښتې وه. ډېره کلکه دروازه وه. يوه شېبه وروسته دروازه وټکول شوه، ما وې چې ګنې پلار مې راغلی دی، زه ورو ورو دروازې ته ورغلم، غوږ مې ونيو، چې بدلې خبرې کېدې، له دروازې راستون شوم، بېرته مې د کندوانو منځ خاليګاه ته ځان خواته ورنږدې کړو، هغې ويل څوک و، ما وې بل څوک دي، کېدای شي روسان راغلي وي.

مونږ دواړو له وېرې سپوږ نه کاوه، غلي او درنې ډزې غلې شوې، خو يوازې د کلاشينکوف وړې ډزې ډېرې کېدې. په هوا کې الوتکې تېرېدلې، خو بمباري يې نه کوله. دروازه په زوره ټک ټک شوه، مونږ ځان غلی نيولی و، په کلي کې ګڼې ډزې روانې وې. زمونږ له دروازې نه راغلي کسان لاړل، مونږه د کندوانو ترمنځ په ناسته ستړي شو، کوټې نه راووتلو، چې غوږ مو ونيو په کلي کې همغسې شور او زوږ پورته کېده، ولې ډزې کمې شوې. له ځينو کورونو نه د ژړا غږونه راتلل. شېبه په شېبه وير ژړا زياتېدله. ورځ زياتي په وتو وه، زه ورو شاني بام ته ورپورته شوم، ټول کلی وير ژړا پسې اخيستی و. د کلي ځينو کورونو نه لوګي او لمبې پورته کېدې، وړاندې په سړک خړې عسکري موټرې روانې وې. په هوا کې يوه نيمه الوتکه او څرخي الوتکې هم ګرځېدلې. زموږ د کور شاوخوا ګاونډيان هېڅوک نه ښکارېدل، يوازې د ښځو ژړاګانې زياتې وې، چې د کلي په هر کور کې اورېدل کېدې.

د کور د دروازې زنځير مې خلاص کړ، دروازه مګې رابېرته کړه، په کوڅه کې مې شاوخوا ته وکتل، وړاندې يو نيم سړی په منډه تېرېده، زه دوباره کور ته ننوتلم. خور ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل:

په کلي نوره جګړه غلې ده، خلک ګرځي راګرځي، راځه چې دواړه په منډه د زړې ادې کلا ته لاړ شو، چې د هغوی احوال واخلو.

له کوره ووتلو او په یره یره په کوڅه کې راروان شو. د کلي په هر کور کې ژړا وه، په ځینو کورونو کې لا همغسې لمبې وې، ټول کلی لوګو او بوی نیولی و. ډېر کم کسان په کوڅو کې وارخطا وارخطا ګرځېدل. مور له ویرې په یوه منډه تر کلا ورسېدو. د کلا بورج نیمایي راکنډونو غورځولی و، د کلا لویه دروازه ماته وه، دیوالونو مرمۍ خوړلې وې. په دروازه چې ورننوتلو د کلا په دالانه کې زما پلار مړ پروت و. مور او زړه ادې مې په برنډه کې مړې پرتې وې. د کلا کوټې ورانې ویجاړې شوې وې، ټول سامانونه یې خراب کړي وو، بکسونه مات پراته وو، مور دواړو چیغې کړې، په ژړا مو پیل وکړ. د کلا دروازه کې ودرېدو او چیغې مو وهلې، ښه شېبه وروسته دري تنه د کلي سړي راغلل، ویل یې مه ژاړئ، کلا ته ننوتل زما پلار او مور یې ولیدل او زړه ادې یې ولیده، چې ټول مړه دي. ځوق ځوق یې وکړ، لاس یې ورته پورته کړ، مور ته یې وویل:

تاسو چیغې مه وهئ، صبر وکړئ. هغوی یوازې مړي په کټونو کې پرېستل او سپینې روجایي ګانې یې پرې خورې کړې. مونږ ته یې وویل:

په دې خبره د تندار (هوسۍ) له سترګو اوښکې روانې شوې، خپل ټیکری یې سترګو ته ونیو، اوښکې یې پاکې کړې، ما ویل تندار نو بیا ډېر ساعت وروسته زمونږ نزدې خپلوان او د کلي څو تنه، چې ژوندي پاتې وو، کلا ته راننوتل، څو د چم ګاونډ ځینې ښځې هم راغلې، مونږ ته یې وویل: دا غم په ټول کلي دی، په هر کور کې دري او څلور وژل شوي دي، مونږ نورو ورانو کلیو ته استازي لېږلي دي، چې خلک راشي او د شپې د دې کلي ټول مړي ښخ کړي، ځکه چې د ورځې کېدای شي بیا بمباري وشي باید چې مړي د شپې ښخ شي. ملا وایي چې غسل مړو ته مه ورکوئ، ټول شهیدان دي، له خپلو جامو سره یې ښخ کړئ. دري ښځې او څو تنه سړي مونږ سره پاتې شول، زمونږ له خپلوانو سره یې یوځای مړي په اب و تاب کړل، وینې یې پاکې کړې.

د ماښام خوره په لګېدو وه، د کلا په برنډه کې دري جنازې د لاټین رڼا ته کېښودل شوې، مونږ ورته په ویر اخته وو. د شپې ناوخته خدا بزده، چې څو بجې وې کلا ته خلک راننوتل او زر زر یې دري واړه جنازې پورته کړې او هدیرې ته یې یوړې. مونږ په جنازو پسې وروسته په چیغو چیغو ژړل او روان وو. خور مې خلکو راستنه کړه او زه ان تر هدیرې پورې ورسره لاړم. په هدیره کې خلکو نور مړي ښخول. تر نیمې شپې پورې ټول مړي ښخ شول، په پای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا دوعایه ولوستله. د کلي خلکو او د نورو کلیو خلکو عمومي دوعا وکړه او بیا یوه تن سپین ږیري په جګ اواز وویل:

ددې کلي پاتې خلکو ته دا اعلان کوم، چې سهار وختي په خړه کې له کلي نه ووځي او نورو کلیو ته ولاړ شي، ځکه چې امکان شته چې روسان بیا بمبار وکړي، خدای ناخواسته پاتې خلک مړه نه شي.

ټول خلک له هدیرې نه خواره شول، د نورو کلیو خلک خپلو کلیو ته لاړل، زموږ د کلي پاتې کسان خپل کلي ته راستانه شول. زه چې کلا ته راغلم، خور او نور خپلوان مې ویده وو، یوازې زما د پلار خور چې زما ترور کېده، د لاټین رڼا ته ناسته وه او ژړل یې. زما په لیدو راپاڅېده، ویل یې: شېرخانه زویه څنګه چل شو؟

ما وې عمه جانې ټول مړي ښخ شول، خلک خواره شول، خو خلکو وویل، چې سبا ته وختي به کلی خالي کېږي او پاتې خلک به نورو کلیو ته ورځي. په دې وخت کې زما د ترور خاوند هم راننوت، ډېر خپه او ستومانه و. هغه وویل:

ځینې ضروري سامانونه چې له ځان سره بې وړی شو، سر له اوس نه باید برابر شي. نور سامانونه به په کوټو کې پرېږدو، دروازې به ورپسې راپورې کړو، د کلا دروازه به هم کلکه کړو، سهار وختي به له کلي نه وځو.

لږه شېبه مو ستړګې لا ورغلې نه وې، چې راپای ځولو، ویل یې هلئ روانېږئ. سهار وختي تورتم کې له کلا نه ووتلو او د درې لاره مو ونیوله. ترڅو چې لمر راختو، د درې برسر کلي ته ورسېدو. هلته زما د پلار خپلوان و، د هغوی کره مو پوره لس ورځې تېرې کړې. بیا خبر راغی، چې کلي ته راشئ، امنیت دی. دوباره کلي ته لاړو، په مړو پسې مو خیرات وکړ، مګر په کلي کې دومره څوک نه وو، ځوانان خو بیخي نه وو، ځینې د پاخه عمر خلک او سپین ږیري یو نیم چېرې په کومه کوڅه کې اوسېدل، د لویو ښارونو نه په غیر نور ټول کلي له مجاهدینو سره و.

تندار ! زه خو په هغې وخت کې وړوکی وم، دا ټول غمونه ماته راپه غاړه شول. خپلوانو راسره لاس اړاوه، ولې دا ټولې ستونزې زما په سر وې. تاسې مې بیخي له یاده وتلي وئ، یوازې دومره خبر وم، چې په جاله کې له سینده پورې وتلئ او پاکستان ته تلئ، خو له هغې پېښې نه چې ستاسې په جاله یې ډزې کړې وې او دغه پېښه شوې وه، هېڅ معلومات مو نه درلود. ډېرې ورځې وروسته یو تن، چې په جاله کې له تاسې سره ملګری و، هغه کلي ته راغلی و. موږ ته هغه دا خبر راوړ، چې ستاسې په جاله باندې حکومتي پوستو ډزې کړې وې. هغه داسې کیسه کوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په جاله ډزې پیل شوې، ما د ستي سیند ته ځان وغورځاوه او د جالې پړی مې کلک ونیو، نور بدن مې په اوبو کې و، خالي سر مې خیګانو پورې نیولی و، چې ډزې به زیاتې شوې، ځان به مې په سیند کې غوپه کړو. په لومړي ځل ډزو کې سهار ولګېد او بیا ورپسې یو یو لګېده او اوبو ته به لوېدل. یوازې یو تن په جاله کې مړ پروت و، خو څه وخت چې جاله وان مرمۍ وخوړه، له خولې یې آخ وخوت، نوره نو هغه بیا لامبو نشوای وهلی، تر یو وخته پورې یې پښې خوځولې، تورتم تیاره و، څه نه لیدل کېده، د جالې نه هم د چا غږ یا کوم فریاد نه پورته کېده. ما فکر کاوه، چې یوازې همدا زه ژوندی یم، نور ټول مړه دي. جاله مې ورو ورو کښوله، ترڅو د سیند غاړې لوخو ته ونښته. څنګه چې جاله ودرېده، ما په چالاکۍ سره د سترګو په رپ کې ځان وچې ته ورساوه، څپلۍ او څادر مې رانه سیند وړي وو. څنګه چې وچې ته شوم بیا مې جالې ته نه دي کتلي، تورتم و څه نه لیدل کېده، په یوه خوا مې منډه واخیسته، له کمیس او پرتوګ نه مې اوبه څڅېدلې او روان وم. هېڅ نه پوهېدم، چې په کومه ځم؟ یبلې پښې وم، په پښو کې مې غنې لاړې، زیږو تیږو مې پښې راته وینې کړې وې. زه له وېرې نه په ځان نه پوهېدم، دومره ډېر مزل مې وکړ، چې د اوبو ډکې لمدې جامې رابانډې وچې شوې وې، نیمه شپه وه چې په یوه کلي ورپېښ شوم، هغه څنګه چې له لیرې مې د سپو غپا واورېده. په همغه د سپو غپا پسې تلمه تلمه چې یوه کلي ته ورسګېدم. کلی د غره په لمن کې اباد و، دومره لوی کلی هم نه ښکارېده، د کلي مخې ته څو ګورې ونې ولاړې وې، ما ځان ونو ته ورساوه. د ونو لاندې بیخي تورتم و، ډېر ستړی شوی وم، ومې پتېیله چې دمه وکړم. یوې تیږې ته کېناستم، د تیږې سر هوار و، خوا ته یې هماغسې نورې هوارې تېږې پرتې وې. پوه شوم، چې دا وستل دی، غلی کېناستم، کلي ته ځکه نه ورتلمه، چې ما وې نیمه شپه ده خلک ویده دي، څوک نه پېژني. وخت خراب دی ما وې چې هسې بو سو کې لاړ نه شم. د ونو لاندې وستل کې ناست وم، ترڅو چې د سهار سپیدې وچاودې او رڼایي ولګېده. له کلي نه څه کسان په بېلابېلو کوڅو کې راوتل او پخپل کار پسې تلل. زه له ځایه پورته شوم او وړاندې په لاره یو تن سړی روان و، زه د هغه خوا ته ورغلم. د جومات پوښتنه مې ترې وکړه، هغه جومات راوښود، ویلې په دغه کوڅه سم مخامخ لاړ شه. جومات د کلي په منځ کې دی، هلته بیا له چانه پوښتنه وکړه در وبه یې ښايي.

زه لکه د لېوني غوندې چې نه مې خولۍ په سر پاتې وه او نه مې څادر درلود. د کلي منځ ته ور روان شوم، جومات مې پیدا کړو، زر زر مې اودس وکړو، د سهار جمعه تیاره وه، درې صفه خلک په امام پسې ودرېدل، زه په اخر صف کې ولاړ وم. کله چې لمونځ خلاص شو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا دوعا وکړه، زه جګ شوم، ملا صیب ته مې وویل:

استاذه! زه یو مسافر یم، نه پوهېږم چې دا کوم کلی دی؟ ما غزه مې لا په ځای نه دي، په جالا راپورې وتلو، حکومتي پوستې رابانديې ډزې وکړې، شپږ اووه تنه په جاله کې وو، ټول بېچاره ګان ولګېدل، سیند ته ولوېدل، یوازې زه ژوندی پاتې شوم. خولۍ او څادر رانه سیند وړي دي، چې تاسې ته بل شان ښکاره نه شم، که څه کمک را سره وکړئ.

ملا وویل: وروره ته د کوم ځای یې؟

خپل نوم مې ورته یاد کړ او د خپل کلي نوم مې هم ورته وښود. په جومات کې ناستو خلکو ټولو وویل:

وروره ستړی مشې هر یوه راته په اخلاص سره ستړي مشي وویله. په لومړي صف کې یوه تن، بلکې درې څلورو کسانو غبرګ وویل: ستاسې کلی روسانو پرون بمباري کړی دی، طالع دې ښه ده، چې ژوندی پاتې شوی یې. یوه سپین ږیري ملا صاحب ته غږ کړ، ویې ویل: استاده لاس پورته کړئ، چې ټول شهیدان الله وبښي. د جومات خلکو په ګډه دوعا او فاتحه وکړه، یو تن وویل:

مېلمه راځه ما سره چې کور ته لاړ شو، هرڅه به خدای وکړي، ته مه وارخطا کېږه.

سړی مخکې او زه ورپسې وم، د لمر وړانګې راختلې وې، چې د سړي کور ته ورننوتو. په حجره کې یې کېنولم، هغه چای راوړو، لومړی مو چای وڅښلې، بیا هغه کور ته ننوت، یو پکول او خپل زوړ غوندې څادر یې راته راوړو، ما ترې مننه وکړه. بیا راته هغه زموږ د کلي لاره راوښوده او خپل کلي ته راورسېدم. د کلي نور خلک خو پرېږده، چې زما پلار او دوه ورونه هم شهیدان شوي وو. درې ورځې په خپل غم اخته وم، په څلورمه ورځ مې د کلي پاتې خلکو ته د جالې کیسه وکړه.

تندار زه د کلي د خلکو له خولې چې خبر شوم، دستي په دستي په دغه سړي پسې لاړم. هغه راته ټوله کیسه وکړه، ولې ستا د ژوندي پاتې کېدو او لیدلو یې څه ونه ویل، نو پس له هغې زه پوه شوم، چې تاسې ټول به سیند وړي یاست. له هغې ورځې نه وروسته زه او زموږ نور خپلوان څو کسان د جالې له ځایه ښکته د سیند د غاړې په لټولو کلي په کلي او بېله په بېله د سیند دواړه غاړې لټول پیل کړل. د سیند په دواړو غاړو به روان وو، ټوله ورځ به مو د سیند منځ بېلې او غاړې کتلې او هم به دوه تنو په کلیو کې د مړو د پیدا کېدو او ښخېدلو پوښتنه کوله. شپې به مو د کلیو په جوماتونو کې تېرولې، څلورمه شپه مو د سیند د غاړې په یوه وړوکې کلي کې، چې د کلي مخې ته بېله وه او په بېله کې رنګې رنګې او به بهېدلې، تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ په دغه ورځ ډېر ستړي شوي وو، ځکه چې مونږ سره دوه خيګان (شنازونه) هم موجود وو، بېله به چې مخې ته راغله په خيګانو به ېبلې ته ورپورې وتلو او مړي به مو کتل. دوه تنه لامبوزن راسره و، هره شیله، د سیند د منځ ټاپوګان او ېبلې يې ښې سمې لټولې. کله چې په دغه شپه مونږ دغې واړه کلي ته شپه راوړه، د ماښام لمونځونه قضا شوي وو. له جومات نه خلک وتلي وو، جومات کې مرغکۍ غوړېدلې وه، د ملا په ممبر کې پوزی پروت و، په تاق کې د تیلو ډیوه پرته وه. مونږ ټول ځلور سره پوره وږي شوي وو، یو بل ته مو سره د لوږې په باب یاده کړه. فیصله په دې وشوه، چې دوه تنه به په کلي کې خیرات راټولوي او دوه تنه به په جومات کې پاتې کېږي. همغه و، چې زه او تروږزی مې (نواز خان) کلي ته د خیرات راټولولو لپاره په یوه کوڅه ورسم شو، په کلي کې مونږه ښه ډېر خیرات راټول کړو. جومات ته چې راغلو، هغو نورو دوو له کوم کور نه په چای جوش کې چای راوړی و، ګوره ورسره وه. له چای او ډوډۍ نه وروسته په جومات کې ځملاستو. سهار وختي پاڅېدو، لومړی مو اودسونه وکړل، ملا اذان وکړو، د کلي خلک جومات ته راغلل. ټول به دوولس تنه وو، په جمعه ودرېدل. د جمعې نه وروسته کله چې ملا دوعا وکړه، زه پاڅېدم او د کلي خلکو ته مې د خپلو مړو د پیدا کېدو او ښخېدو وویل. له خلکو د جملې نه سمدستي یوه تن وویل:

وروره لومړی خو ځان دې مونږ ته راوپېژنه، چې د کوم ځای نه راغلی يې؟

خپل ځان مې ورته وروپېژاند، بیا مې ورته د خپلو مړو د نښو نښانو وویل، نوم او پته مې ورته وویله. ټولو خلکو وویل:

وروره یو مړی موږ په ېبله کې موندلی او په هدیره کې مو ښخ کړی دی او د ماشوم په باب معلومات نه لرو. په دې وخت کې ورینداري وویل:

ښه بچی نو بیا څه وشول؟

ما د جومات خلکو ته په ډېره چټکۍ سره وویل:

وروره کله مو دغه مړی ښخ کړی دی؟

یوه د پاخه عمر سړي وویل:

دا یوه جمعه به کېږي.

بل تن وویل: یره پنځه شپږ ورځې کېږي.

ـ وروره دغه مړي څه نښې درلودې؟

یو زلمي په داسې حال کې، چې نوی يې سلام وګرځاوه، لمونځ يې خلاص کړو، داسې يې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

انډيوالـه پـه هغـې ورځ زه سـهار وختـي لـه کـوره ووتلـم، د ببلـې غـاړې تـه ورغلـم، غوښـتل مـې چې پـه اوبـو کـې د سـيند غـاړې تـه ولامبم. مـا چـې جـامې ووېستې، اوبـو تـه روان شـوم، وړانـدې د ببلـې پـه سـر کـې مـړی نـښتـی و، ولـي او سـر يـې ښـکارېده، نـور پـه اوبـو کـې پټ و. زه دوبـاره د خپلـو جـامو خـوا تـه راغلـم، خپـل څـادر مـې لنـګ کـړو، پـه شـيله ورپـوې وتلم. د ببلـې سـر تـه ورغلـم، د مـړي خـوا تـه ورو ورو ورتلمـه، ترڅـو چـې ورور رسـېدم. يـوازې کمـيس او پرتـوګ يـې پـه تـن کـې وه، نـسکور پـروت و. لـه اوبـو نـه مـې راووېست، پـه ببلـه کـې مـې پـه کبلـو واچـاوه، ددې کلـي نـسيم اکـا چـې اوس بـه هـم موجـود وي، هغـه لـه نغـري غـاړې نـه غـږ کـړو: هـو زه وم. ده تـه مـې لـه ببلـې نـه ورغـږ کـړل، مـا وې چـې د کلـي نـه يـو څـو تنـه راولېـږه، چـې يـو کټ هـم راوړي، چـې دا مـړی را سـره لـه ببلـې نـه پـورې باسـي. همغـه و، چـې پېنځـه شـپږ تنـه هلکـان راغلـل او مـړی مـو راپـورې وېست او د کلـي جومـات تـه مـو راوړو. بيـا مـو چـې وکـوت راوکـوت، داسـې خاصـې نـښې يـې نـه معلومېـدې، خـو ځـوان و مـخ يـې روغ و. د سـينې پـه سـر يـې دوه سـوري و او يـو وړوکـی سـوری يـې پـه تـشي کـې و. ټـول و ويـل چـې حتمـي پـه ټوپـک ويـشتل شـوی دی. ولـې مـړی پـه هغـې ورځ تازه ښکارېده، ډېرې ورځې پکې نه وې تېرې شوې.

يوه سړي د جومات له بل کونجه غږ کړ، ويې ويل:

ورور ه دا څوک و؟ د کوم کلي و؟

تندار په چټکۍ سره وويل:

تا ورته څه وويل، چې څوک دی؟

مـا وې هغـه زمـا د کاکـا زوی و سـهار نومېـده. کاکـا جانـه دا هغـه سـړی و، چـې د هـرې جمعـې پـه شـپه بـه يـې راډيـويي داسـتان پـه کابـل راډيـو کـې خپرېده. ټولـو پـه جومـات کـې ناسـتو کسـانو وويل: آخ دا څه وايې؟ هغه سهار خو په کابل کې و، دلته يې څه کول؟

يـوه تـن داسـې پوښـتنه وکـړه. د تنـدار فکـر لـه سـهار سـره چـې لـه کابـل نـه کلـي تـه راتلـل شـو او پـه چـرت کـې ډوبـه لاړه. مـا خلکـو تـه د هغـه کيـسه وکـړه او د جـالې مـې ورتـه وويـل. ټـول پـه جومـات کـې ناسـت د کلـي خلـک خپـه شـول، يـوه سـپين ږيـري وويـل: ورونـو ښـه بـه دا وي، چـې ددې قبر معلومات وشي. قبر وسپړل شي، لومړی وکتل شي، دوی به يې پېژني.

ټولـو پـه همـدې خبـره سـلا وکـړه، د کلـي خلکـو چـارۍ او بېلونـه راواخيـستل او لـه مـوږه سـره يوځای د قبر راسپړلو ته لاړل. تندار فکر دې دی؟ هغې مخامخ رراوکتل ويې ويل:

هو نو بيا څنګه چل وشو؟

ـ قبـر چـې مـو رابرسـېره کـړ، لومړی مـو تـرې د سـر تختـه واړولـه او کفـن يـې نـه و، خلکـو ويلـې لـه يـوې خـوا شـهيد دی او لـه بلـه خـوا د جـامو سـره مـو ځکـه ښـخ کـړی و، چـې مـوږ ويلـې کـه څـوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلوان يې راشي او ويې پېژني، نو کله چې مې د قبر نه د سر تخته راپورته کړه او ومې ليد، سمدستي مې وپېژانده. نور زياتې ټينګ نه شوم، سلګو ونيولم، تخته مې پرې دوباره سمه کړه، خلکو له قبره راپورته کړم، ښه شېبه له ځانه خبر نه وم. خلکو راته تسلي او ډاډ راکاوه، يو وخت کې مې چې اوسون پرځای شو، د کلي خلکو او په تېره ملا وويل:

وروره ټوله يو شان د خدای خاوره ده، څه دا کلی او څه ستاسې کلی، يو شان هديره ده، همدلته يې پرېږده، اوس خو بې له هغې وپېژندل شو. جنګ جګړه او نښته په زور کې ده، هرې خوا ته ډزې دي، توپونه ويشتل کېږي، د وړلو چاره يې ګرانه ده. يوازې همدا کلی د حکومت او روسانو د بمبارۍ نه په امن دی، ځکه چې دومره غټ کلی نه دی، دا څو کورونه دي د چا ورته هډو پام هم نشته دی. که ژوند باقي و او په راتلونکي وخت کې شرايط برابر شول، بيا يې يوسئ. اوس يې همدلته پرېږدئ.

ما چې فکر وکړو تندار! رښتيا چې هرې خوا ته جګړه وه، د وړلو چاره يې نه کېده. د کلي خلکو يو بېرغ د هغه په قبر ودرولو، ټولو په ګډه دوعا ورته وکړه او مونږ ترې کور ته راغلو. وروسته مې هم بيا څو ځلي د هغه د مړي د راوړلو نيت وکړو خو هر چا راته ويلې: ټوله يو شان خاوره ده، همله دې وي. بس تر ننه لا پاتې دی او د وړوکي هلک په هکله هم ډېر د سيند په غاړو وګرځېدم ان تر اخره پورې لاړم، کلي په کلي مو پوښتنه وکړه، د سيند دواړو غاړو کلي او بېلې مې چاڼ کړې، مګر هېڅ پته ونه لګېده. درې مړي نور هم پيدا شول، خو ستا د زوی هېڅ پته ونه لګېده.

له دې خبرې سره هوسۍ تندار خپل سر په بالښت ولګاوه، يوازې يې له ستوني نه ژړغونی فرياد راوخوت، ډېره شېبه يې وسوقلې، مېرمن مې او زه هم ورسره په ژړا شو. دغه ورځ مو ټوله په ژړا او خپګان ووتله، په سبا ته هم د کلي ځينې ښځې او سړي مونږ کره د هوسۍ تندار ليدو ته راتلل. د هغې وخت همزولي کليوال يې ټول زاړه شوي وو، په دربمه ورځ راته هغې وويل:

زما د پلارګنۍ معلومات به خو نه لرې؟.

_نه تندر خدايږو دا يو کال کېږي، چې طالبان راپيدا شوي دي، په ملک کې لږه ارامي راغلې ده، له دينه پخوا دا کلی شاړ و. موږ د باجوړ په کمپونو کې اوسېدلو، له پروسږ کال راهيسې راغلي يو. زموږ او ستاسو ټولې ځمکې شاړې پرتې وې، دا ستاسې باغ وچ پروت و. يوازې دا څو ناجوګان او توتان پکې پاتې دي، نورې ټولې ونې او مېوه دار بوټي له منځه تللي دي. د کلي ويالې وچې وه، کلی بيخي کنډوالې پروت و. سږکال په کې ايله بېله لږ لږ خلک راپيدا شوي دي. ستا د پلارګنۍ نه هېڅ معلومات نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې سوړ اسويلي ويوست، ويل يې: بچې زما مور او پلار به حتمي مړه وي، خپل ورور نه لرم، چې پوښتنه يې زما کړې واى، پوهېږم چې کاکا به مې هم مړ وي، په هغې وخت کې لا سپين ږيرى و. د کاکا زامن مې خو وو، هغوى بې غېرتو هم زما پوښتنه ونه کړه.

ـ که رښتيا راباندې وايې تندار! نو هغوى بې چاره ګان به چېرې ستا پوښتنه کړې واى؟ ستا د مرګ او ژوند نه هغوى څه خبر دي؟

ـ داسې مه وايه زويه! سړى په پوښتنه مکې ته رسګېداى شي، په ما له هره طرفه راټيټه ده، هر څه مې له لاسه ورکړل، حالاتو رانه هرڅه واخيستل.

زما مېرمن سبرو ورته وويل: تنداره خداى دې تا ته د زړه صبر درکړي، الله ته توبه اوباسه، ښه دى، چې ته په سر ژوندى يې.

ـ لورې زه به په دې ژوند څه وکړم، چې رب زه هم له سهار سره ملګرې کړې واى.

ـ داسې مه وايه تندار الله به درنه ناراضه شي، خداى ته صبر وکړه.

هغې ماته مخ راواړاوه ويې ويل:

د سهار قبر ته به مې کله بوځې؟

ـ سبا سهار وختي به زه د ترور او ماما زامن خبر کړم، چې هغوى هم را سره يوځاى لاړ شي. ښېرته چې روګرځېدو يو خيرات به وکړو. د هغې په مړى کې لاړې تېرې شوې ويې ويل:

خداى دې سر لوړى لره بچې! همدغسې به وکړو، خو ارمان چې.... ! هغه بيا ژړا ونيوله، ما وې تندار څنګه ارمان چې؟

هغه غلې وه، ښه شېبه يې اوښکې تويې کړې، وروسته يې په کراره وويل: د زوى مې څه پته ونه لګېده، د خاوند خو مې قبر معلوم شو. کله کله به دوعا ته ورځم، خو له زوى سره به څه وکړم.؟

په خپلو وچو شونډو يې ژبه وګرځوله، زما مېرمن سبرو ته يې غږ کړ، سبر ولورې يو ګوټ اوبه راکړه، خوله مې وچه شوه. سبرو ورته د اوبو ګيلاس ونيو، هغې د اوبو ګيلاس تړې واخيست، مننه يې ترې وکړه، اوبه يې په کرار کرار يو يو ګوټ څښلې، سبرو ته يې وويل: لورې خداى دې زما له حاله وساته. سبرو چې مخامخ ورته لکه د (نفر خدمت) غوندې تيارسى ولاړه وه، ويې ويل:

تندار دا ټول غمونه زمونږ شريک دي، زما د زړه نه هم يو الله خبر دى. دا ته چې څومره خپه ستومانه يې، دغسې مونږه هم يو او بيا خو ستا له حاله مونږ هډو خبر نه وو، چې ګنې ته ژوندۍ يې، ټولو داسې ګڼله چې درې واړه تاسو سيند وړي ياست. مونږ ته يوازې نه، بلکې دې ټول کلي ته ستا ژوند او راپيدا کېدل د تعجب خبره ده. مونږ هم خپه يو او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشاله خپه خو په دې يو، چې تولـه کورنۍ مو تباه شوې ده او خوشاله ځکه يو، چې ته ژوندۍ راپيدا شوې.

تندار د سبرو په خبرو لږ څه په کټ کې وخوځېده، غاړه يې تازه کړه، ويې ويل:

د ځينـې ژونـد نـه مـرګ بهتـر دی او بيـا لکـه پـه مـا چـې تېـر شـو، خپلـې سـپينې څنې يـې راونيـوې ويـې ويـل: دا ويـښان مـې چـې ګـورئ، لـه سـختۍ نـه سـپين شـوي دي. زمـا خـو دومـره عمر نه دی شوی، انسان له ګل نه نازک او له او سپنې نه کلک دی.

پـه دې وخـت کـې د کلـي نـه درې ښـځې پـه دروازه کـې راننـوتلې، سـبرو يـې مخـې تـه ورغلـه، سـترې مـشې يـې ورتـه وويلـې، مـا هـم هغـوی سـره سـترې مـشې وکـړه. درې واړو د تنـدار لاسـونه ورمـوچې کـړل، زه تـرې بهـرون ووتلم او هغـوی پـه خبـرو اتـرو بـوختې وې. د کلـي پـه مـنځ کـې څـو دوکانونـه و، ورچکـر شـوم. پـه دوکـانونو کـې د کلـي خلـک ملـک خوځېـدل، هغـه پخـوانی کلـی خـو نـه و، خـو بيـا هـم د کلـي پـه هـره کوځـه کـې ځينـې کـډې دېـره شـوې وې. پـه جومـات کـې بـه د لمانځـه پـر مهـال شـل دېـرش کـسان ښـکارېدل. د کلـي دوکـانونو پـه مخـه سـړک تېـر شـوی و، د صـفدر مـوټروان مـوټر ولاړ و. هغـه سـره مـې قبـر تـه د تلـو دربـست خبـره وکـړه. هغـې ځـای تـه شـل کيلـومتره لاره وه، پخـوا بـه همدغـه لاره خلکـو پـه پـښو وهلـه، زه چـې د دوکـانونو پـه مخـه راتېرېدمـه، هـر چـا بـه رانـه د تنـدار پوښـتنه کولـه او ويـل بـه يـې چـې تـرور څنګـه ده؟ او پـه خبـرو کـې بـه هـر يـوه تعجب کـاوه او پـه ټينګـار سـره بـه د کلـي ښـځو، نـرو راتـه ويلـې، چـې د تنـدار خيـال ساته او دا به يې ويل، چې په مونږ ټولو يې د خدمت کولو حق شته دی.

درې څلـور ورځـې تنـدار پـه ژړا تېـرې کـړې، د کـور لويـو وړو ورسـره ژړل. د قبـر ليـدو او تللـو نـه مخکـې يـوه شـپه مـو د مامـا او تـرور زامـن خپـل کـور تـه راوسـتل، سبايي وختـي صـفدر خـان مـوټر زمـوږه د کـلا خـوا تـه رانـژدې کـړی و، دروازه يـې وټکولـه، تـرورزی دروازې تـه ورغـی، صـفدر يـې حجـرې تـه راوسـت. د چـای څـښلو نـه وروسـته تنـدار سـبرو لـه لاسـه ونيولـه او مـوټر تـه يـې بوتلـه، مـوږ هـم لـه حجـرې نـه وروو تلـو. تنـدار مـې پـه مخکـې سـيټ کـې کېنولـه سـبرو هـم ورسـره خـوا کـې کېناسـته. مونږ ټـول پـه مـوټر کـې کېناسـتو. صـفدر مـوټر تـه حرکـت ورکـړ. سـړک خامـه و، کنـدې کونـدې يـې ډېـرې درلـودې، پـه کـوم ځـای کـې بـه چـې مـوټر پـه کـرار شـو، دوړې بـه دننـه مـوټر تـه راننـوتې، هـر چـا خپلـې سـترګې او مخونـه پـټ کـړي وو، مـا خپـل څـادر لـه تنـدار نـه تاو کړ او سترګې مې يې د څادر په پيڅکله له دوړو او ګردونو نه پټ کړي وو.

کلـه چـې هلتـه ورسـېدو، هـديره لـه سـړک نـه ليـرې وه، مـوټر مـو ودرولـو او د هـديرې پـه لـوري روان شـو. صـفدر مـوټروان هـم راسـره روان شـو، هغـه زمـونږه کليـوال و. د هـديرې پـه لـور نـرۍ لاره پـه کـږ کـې ورغلـې وه، د کـږ پـه مـنځ کـې مـو د تنـدار پـه خـاطر، چـې هغـه سـترې شـوې وه، دمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه. پوره یو ساعت لاره وه، ځای پر ځای په لاره کې د انځر او توت ونې ولاړې وې، موږ مخکې و، سبرو او تندار دوی ورو ورو راپسې راتلې. له کڅ نه ووتلو، وړاندې درې کیلومتره لیرې کلی پروت و. د غره له یوې تپې څنګ کې په هوا مخکه هدیره ښکاره شوه. د هدیرې ښه نښه دا وه، چې په هدیره کې د شهیدانو بېرغونه له ورایه رپېدل. ځینې جګې جګې شناختې هم له وړاندې ښکارېدې. له کلي نه یوه لاره هدیرې ته راغلې وه، مونږ د هدیرې څنګ لاره ونیوله او ځان مو د سهار قبر ته ورساوه.

هدیره دومره لویه نه وه، ځینې بوټي او ترخې په هدیره کې ولاړ وې. یو نیم قبر پکې پوخ د سمنټو هم معلومېده. وړاندې د هدیرې څنګ ته د غره لمنې ته ګډې او بزې په څر لګیا وې، څو خره هم د هدیرې په یوه ګوټ کې خولې ښخې کړې وې، د یوه خره په شا خړه مرغۍ ناسته وه. تقریباً پنځوس ګامه مونږ له تندار دوی نه مخکې روان وو. د هدیرې نه لاندې پټو کې ښځو واښه کول، یو نیم سړی د پټیو په پولو ګرځېده. غرمه لا توده شوې نه وه، خو ګرمي په زور کې وه. هر چا به د تندي خوله پاکوله، څو ځلې د ترور زوی په لښتي کې مخ ته اوبه واچولې. پام مې کاوه چې له کلي نه څو تنه سړي مخ په هدیره راروان وو، کتل مې چې د هدیرې په بر سر کې د سهار د قبر په بېرغ مو سترګې ولګېدې. بیا مې زړه کې د هغه ځواني او ښکلا او د ژوند کړه وړه راپه یاد شول، سوړ اسویلی مې خولې ته راغی. سبرو دوی ته مې لاس اشاره کړو، ما وې راځئ، موږ درته ماتل یو.

هغوی چې موږ ته رانږدې شول، بیا روان شو د سهار قبر ته ورنږدې شو، هغوی ته مې څه نه ویل تلو تلو چې زه د سهار قبر ته ودرېدم. تندار دوی هم راورسېدې، موږ قبر ته ولاړ وو. هغې وویل:

دا د سهار قبر دی؟

رنګ یې زېړ واوښت، لومړی یې د قبر په شناختو خپل لاسونه وتپول، دوه ځلې هوسۍ تندار ګرده له قبره وګرځېده، بیا مخامخ قبر ته ودرېده، لاندینۍ شونډه یې ورپېده، ټول بدن یې ولړزېده، ټیکری یې له سره ولوېد، په رپېدو او لړزېدو شوه، نسکوره په قبر ولوېده. مونږ ټول په داسې حال کې چې لاسونه مو دوعا ته نیولي وو، د هر یوه له سترګو نه اوښکې روانې وې. سبرو هم په قبر غوړېدلې وه، د تندار د ژړا غږ نه پورته کېده، خو د سبرو د ژړا چیغې پورته شوې. د قبر په سر ویر ګډ و، هغه څو کسان چې له کلي نه هدیرې ته راتلل، هغوی هم زمونږ خوا ته راغلل، لاسونه یې قبر ته پورته کړل، یو پکې ملا غوندې و. هغه لومړی د قرآن شریف سورت قرات کړو، دوعا یې وکړه، سبرو همغسې چیغې وهلې او ژړل یې. ملا وویل: دغه ترور راپوته کړئ، چې په قبر نسکوره پرته ده. ما چې د هغې سر راپورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو، وینې یې له خولې نه تللې وې او د قبر په سر پرتې وې، سبرو یې خوله ورپاکه کړه، رنګ یې بیخي لکه د مړي هسې شوی و. سبرو یې سر په خپله غېږ کې کېښود، ورغږ یې کړل:

تندار ای تندار!

هغې غږ نه کاوه، سترګې یې پټې وې، مونږ وارخطا شو، ملا یې لاس ونیو او رګ یې ورله وکوت، ویې ویل:

هله دا ډېر زر ددغې کلې ډاکټر ته یوسئ، چې له هوښه وتلې ده.

زما د ترور زوی، چې تکړه زلمی و، هغه په شاه کړه او له قبر راروان شو.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه

لـه خپـل ګـران دوسـت بـصير بيـدار څخـه ډېـره ډېـره مننـه کـوم، چـې زمـا د کتـابونو پـه چاپ او چاپ ته د سنبالولو په چارو کې يې خپلې هلې ځلې نه دي سپمولي.

د ښـه شـعر پېژنـدونکي او وتلـي ليکـوال ښـاغلي زريـن انځـور سـره دې خـدای ډېـر ښـه وکـړي، چـې لـه مـا نـه يـې پـه ليکنـو او د ليکـوالۍ پـه سـمونو کـې خپـل نظـر او همکـاري نـه ده دريغ کړې.

د ذبيح "شفق" نه ډېره مننه، چې د کتاب د ټاېپ او کمپوز چارې يې پرمخ يوورې.

په ادب

محمدا جان يار


## د محمدا جان يار ليکلي اثار:

1_ کوکارې شعري ټولګه
2_ سره ډولۍ د لنډو کيسو ټولګه
3_ د کونړ تاترې تحقيقي او تاريخي کتاب
4_ وير شعري ټولګه
5_ تړلې کڅوړه د لنډو کيسو مجموعه
6_ ځانګه ناول
7_ د ليلې دښته ناول
8_ هوسۍ ناول (همدا اثر)

## ناچاپ آثار:

1_ شعري ټولګه
2_ ناول
3_ غرونه او ساحلونه سفر نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدا جان یار د عبدالله جان زوی، د کونړ ولایت د وټه پور په کلي کې په ۱۳۲۸هـ ش کال کې زېږېدلی دی. په خټه د ماموندو میرجانخېل پښتون دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړه یې په کونړ کې او لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د تاریخ او فلسفې په پوهنځي کې کړې دي. لس کاله یې په بېلابېلو ولایتونو کې د هېواد د زامنو پر ښوونه او روزنه تېر کړي دي. د ماموریت دولس کلنه دوره یې په کابل پوهنتون، فواید عامې او قبایلو وزارت کې تېره کړې ده. په ماموریت کې دویمې رتبې ته رسېدلی و، چې ماموریت یې پرېښود او المان ته یې سیاسي پناه راوړه.

له زلمیتوبه یې په شعر ویلو لاس پورې کړی دی او د شعر سره سره یې په نثر، لنډې کیسې او ناول لیکلو هم خپل ازمېښت کړی دی.

خپرندوی: د پښتونخوا د پوهنې دېره ـ پېښور

چاپچارې: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي خانګه ـ پېښور
Tel/Fax:+92-91-2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com

Designed by Shafiq

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**